
# د تحول او تداوم

# منشور

## د سولې او امنیت، اغېزمنې دولتدارۍ، متحرک اقتصاد، ټولنیزې پراختیا، نړیوالې همکارۍ، عدالت او مشارکت او ملي ثبات لپاره اډانه



د ډاکتر اشرف غني احمدزي ټاکنيز کمپاین

۱۳۹۲-کب

تحول او دوام

www.ashrafghani.af www.tahawol.af ۰۷۷۰ ۱۱۱ ۵۵۵

# د تحول او تداوم منشور

د سولې او امنیت، اغېزمنې دولتدارۍ، متحرک اقتصاد، ټولنیزې پراختیا،

نړۍ والې همکارۍ، عدالت او مشارکت او ملي ثبات اډانه

## لړلیک

لړلیک.......................................................................................١
سریزه ........................................................................................١٠
دتحول اوتداوم طرحه:........................................................................١٢
بدلون(تحول) په کومه برخه کې؟ ............................................................١٢
دوام په کومه برخه کې؟......................................................................١٤
لومړۍ برخه: سوله اوامنیت.....................................................................١٧
پایداره سوله: ..................................................................................١٧
د پایداري سولې بنسټونه: ....................................................................١٧
د پایداري سولې لپاره فکري لارې چارې: ......................................................١٧
د پایداره سولې عملي میکانیزم: ..............................................................١٨
امنیت.........................................................................................٢٤
په امنیتي ادارو کې د مراتبو سلسله...........................................................٢٤
د وسله وال پوځ اعلی سرقوماندانې ..........................................................٢٥
دملي امنیت شورا.............................................................................٢٦
پولیس ........................................................................................٢٧
ملی اردو:.....................................................................................٢٧
د ملي امنیت اداره ............................................................................٢٩
د ټولنې لخوا د امنیتي ځواکونو ملاتړ ..........................................................٣٠
د امنیتي ځواکونو تعلیم، تجهیز او په وسلو سمبالول ............................................٣١
دوهمه برخه: دولت جوړونه او ښه حکومتولي...................................................٣٣
د ښې حکومتولی ځانګړنې.....................................................................٣٣

اجرائیه قوه........................................................................ ۳۶
د ولسمشرۍ د صلاحیتونو بنسټې کول................................................ ۳۶
د ولسمشري بنسټ ځواب ویونکی مېکانیزم.............................................. ۳۷
په اساسي توګه د حکومت پیاوړي کول ................................................ ۳۸
د وزارتونو تر منځ د کاري تداخل له منځه وړل ....................................... ۳۸
د موازې ادارو مخنیوی................................................................... ۴۰
د حکومت کدري ظرفیت لوړول......................................................... ۴۰
د اداري اصلاحاتو کمیسیون............................................................. ۴۱
برېښنايي دولتداري ...................................................................... ۴۲
د قانون حاکمیت، عدلي او قضايي اصلاحات ......................................... ۴۳
په عدلي او قضايي او نافذوونکیو بنسټونو کې اصلاحات.............................. ۴۶
۱- د عدلیې وزارت........................................................................ ۴۶
۲- پولیس ................................................................................... ۴۷
۳- لوی څارنوالي........................................................................... ۴۷
٤- محاکم .................................................................................... ۴۷
مالي مدیریت ............................................................................... ۵۰
ملي عواید.................................................................................. ۵۲
مالیات....................................................................................... ۵٤
نوې عایداتی چینې ........................................................................ ۵۵
د مالي مدیریت په شفافیت کې د مدني ټولنې رول.................................. ۶۰
سیمه ییزه حکومتولي ...................................................................... ۶۱
ولایت ....................................................................................... ۶۲
ښاروالی او ښاري ژوند نظام: ............................................................ ۶۵
د ولسوالیو او کلیو بانډو وضعیت ته رسیدګي کول:..................................... ۶۷
د ملکیتونو، جایدادو او د ځایونو د لانجو حل ........................................... ۶۸

په سیمه ییزه کچه د کوچنیو شخړو حل ........................................ ۷۰

دریيمه برخه: ښځې، ځوانان او بې وزله وګړي........................................ ۷۲

ښځې.................................................................................. ۷۳

لومړی- سیاسي ګډون............................................................ ۷۳

دویم- عامه روغتیا ................................................................ ۷٤

دریيم: ښوونه او روزنه او لوړې زده کړې........................................ ۷٦

ځوانان: ............................................................................ ۸٥

معلولیت لرونکي وګړي ............................................................ ۸۹

څلورمه برخه:عدالت او مشارکت................................................ ۹۱

لومړی: مدني حقوق او وجایب ..................................................... ۹۳

د تابعیت حق ......................................................................... ۹٤

عدالت ته لاسرسي حق ............................................................ ۹٤

د ځان د مصؤنیت حق .............................................................. ۹٤

د مالکیت حق......................................................................... ۹٤

د قرارداد حق ........................................................................ ۹٥

دویم، سیاسي حقوق او وجایب .................................................... ۹٥

د دولت پر وړاندې د اتباعو حقوق.................................................. ۹٦

۱- د ښې حکومتولی حق ............................................................ ۹٦

۲- د بیان د ازادی حق.............................................................. ۹٦

۳- د مدني بنسټونو او ټولنو جوړولو حق ........................................ ۹۷

۴- د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق .............................................. ۹۷

۵- د انتخابولو او انتخابېدو حق..................................................... ۹۸

٦- د سوله ییزو غونډو جوړلو حق ................................................ ۹۸

۷- له دولته د پوښتنې حق ........................................................۹۹
۸- معلوماتو ته د لاسرسي حق........................................................۹۹
۹- د خسارو د جبران حق ........................................................۹۹
۱۰- د روغتيا حق ........................................................۹۹
د اتباعو په وړاندې د دولت وجايب ........................................................ ۱۰۰
د اتباعو وجايب د دولت او ټولنې په وړاندې ........................................................ ۱۰۰
۱- ملي وحدت ته ژمنتيا ........................................................ ۱۰۰
۲- د اتباعو مشارکت ........................................................ ۱۰۱
۳- مالياتي ژمنتيا........................................................ ۱۰۱
۴- په بنسټ جوړولو کې مشارکت........................................................ ۱۰۲
۵- په انتخاباتو کې مشارکت ........................................................ ۱۰۲
٦- د قانون په حاکميت کې مشارکت........................................................ ۱۰۲
دريیم، ټولنيز حقوق او وجايب ........................................................ ۱۰۳
الف، د اتباعو فردي حقوق ........................................................ ۱۰۳
ب، د روحانيونو او ديني علماوو حقوق ........................................................ ۱۰٤
ج: د جگړو ځپليو حقوق ........................................................ ۱۰۵
د: د هغو وطنوالو حقوقو چې په سختو جغرافيايي سيمو کې ژوند کوي ........................................................ ۱۰۵
هـ، د ښځو حقوق........................................................ ۱۰٦
د ملي منابعو په توليد کې د اتباعو د ونډې د فرهنگ جوړول ........................................................ ۱۰۷
لومړی: د اوبه خور سېستم........................................................ ۱۰۸
دوم: د حوالې سېستم ........................................................ ۱۰۸
دريیم: ټولنيز حشر ........................................................ ۱۰۸
څلورم:د رضاکارۍ فرهنگ ........................................................ ۱۰۹
ټولنيزه بيمه ........................................................ ۱۱۰
کورنۍ، د اقتصادي ودې اساس........................................................ ۱۱۰

د ملي فرهنګ په جوړولو کې د له پيز ګډون ........................................ ۱۱۱
د فقر له منځه وړل، مهمه ملي وجيبه ........................................ ۱۱۲
په ملي مناسباتو کې د کرکې، تاوتريخوالي او توکمپالنې فرهنګ مخنيوی ................. ۱۱۲
د ملي همدردی د حس پياوړتيا ........................................ ۱۱۲
پرله پسې هېوادنی نظارت ........................................ ۱۱۳

پنځمه برخه: روغتيا ........................................ ۱۱۵

لومړی: مديريت او پاليسي ........................................ ۱۱۵
د روغتيا د سکتور مديريت ........................................ ۱۱۵
د هېواد د روغتيايي وضعې تحليل(روغتيايي پروفايل): ........................................ ۱۱٦
دوهم: د روغتيا د برخې بشري سرچينې او بشري پانګه ........................................ ۱۱٦
د شته بشري سرچينو پراختيا ........................................ ۱۱۷
د نوي ظرفيت رامنځته کول ........................................ ۱۱۷
لنډمهالي زده کړې: (قابلې، تيکنيشنان، نرسان) ........................................ ۱۱۷
اوږدمهالي زده کړې (طبابت، نرسينګ، ټکنالوجي، ستوماتولوژي): ................. ۱۱۸
دريم: د روغتيايي چارو تمويل ........................................ ۱۱۹
بوديجه ........................................ ۱۱۹
څلورم) د روغتيايي خدماتو عرضه ........................................ ۱۲۰
حکومتي روغتيايي خدمات، مراکز او روغتونونه: ........................................ ۱۲۱
وقايوي خدمات او تدابير: ........................................ ۱۲۱
واکسيناسيون: ........................................ ۱۲۱
د قابلو روزنه: ........................................ ۱۲۲
د مور او ماشوم مړينه ........................................ ۱۲۲
عامه پوهاوی ........................................ ۱۲۲
آيوډين او مالګه ........................................ ۱۲۲

پاکې اوبه........................................................ ۱۲۲
تغذي، او محیطي حفظ الصحه ........................................ ۱۲۲
پنځم: درمل........................................................ ۱۲۳
شپږمه برخه: اقتصاد................................................ ۱۲۵
اوومه برخه: ځانګړي لومړيتوبونه..................................... ۱۲۶
لومړی: ښوونه، روزنه او لوړې زده کړې.................................. ۱۲۶
د لوړو زده کړو په نظام کې اساسي سمون................................ ۱۳۶
دوهم: ټاکنې او په سیاسي پروسه کې د خلکو ګډون ........................ ۱۴۰
د سیاسي ګوندونو د کړنو بنسټیز کول .................................. ۱۴۰
د ټاکنو د قانون تعدیل................................................ ۱۴۱
د ملي سیاسي ګوندونو د راجسترکولو په سیستم کې بدلون.................... ۱۴۱
د اداري واحدونو په کچه د ټاکنو د نظام اصلاح............................ ۱۴۲
له کلیو څخه تر ولایته د ټاکنیزو بنسټونو رامنځته کول........................ ۱۴۲
دریم: د کوچیانو او مېشتو وګړیو د کړکیچ حل ............................ ۱۴۳
څلورم: له ادراي فساد سره مبارزه: .................................... ۱۴۸
قاچاق ............................................................ ۱۵۲
نا قانونه صادرات .................................................... ۱۵۲
د مربوطه ارګانونو له لارې د بندرونو او لویو لارو کنترول ...................... ۱۵۲
د ځنګلونو، لرغونو آثارو، او قیمتي ډبرو قاچاق.............................. ۱۵۳
د دولتي پوستونو پېر او پلور.......................................... ۱۵۳
عدلي او قضايي دستګاه ............................................. ۱۵٤
د حکومت کدري نظام .............................................. ۱۵٤
د قوانینو اصلاح ................................................... ۱۵٤
الکترونیکي دولتداري: .............................................. ۱۵۵

څېړنيز ژورنالیزم ........................................................................ ۱۵۵
د تابعیت (ښاري توب) د حقوقو د تأمین دفترونه........................................ ۱۵٦
پنځم: د افراطیت ستونزه ........................................................................ ۱۵۷
۱. مذهبي افراطیت ........................................................................ ۱۵۷
۳ – قومي – اتنیکي بنسټپالنه........................................................... ۱٦۱
شپږم:دژوندچاپیریال........................................................................ ۱٦٤
اووم: د کډوالو وضعیت ته پاملرنه ........................................................ ۱٦۹
اتم: نشه يي توکي: ........................................................................ ۱۷۱
نهم: هنر........................................................................ ۱۷۵
لسم: سپورت........................................................................ ۱۷٦
یوولسم: د داخلي بېځایه شویو په اړه........................................................ ۱۷۹

## اتمه برخه: بهرنی سیاست........................................................................ ۱۸۱

لومړی کړی:ګاونډي هېوادونه........................................................ ۱۸۱
۱-تاجکستان........................................................................ ۱۸۲
۲-ازبکستان........................................................................ ۱۸٤
۳- ترکمنستان........................................................................ ۱۸٦
۴-ایران........................................................................ ۱۸۹
۵-پاکستان........................................................................ ۱۹۳
د ډیورنډ کرښه ........................................................................ ۱۹٦
پښتو ژبه؛ د دوو ملتونو نښلوونکې وسیله ................................................ ۱۹۷
د سیمه ییزو منازعاتو حل: ........................................................ ۱۹۷
دویمه کړی. اسلامي هېوادونه ........................................................ ۲۰۲
حج او عمره ........................................................................ ۲۰۲
دیني علماء ........................................................................ ۲۰۳

په اسلامي هېوادونو کې هېوادوالو ته پاسپورت ورکول ........................................ ۲۰۳
په اسلامي هېوادونو کې کارموندنه ........................................ ۲۰۴
په اسلامي هېوادونو کې د لوړو زده کړو په برخه کې پانګونه ........................................ ۲۰۴
د کرنیزو محصولاتو په برخه کې پانګونه ........................................ ۲۰۵
درېيمه کړۍ- اروپا، امریکا، کانادا او جاپان ........................................ ۲۰۶
لومړی: سوله او امنیت ........................................ ۲۰۹
دويم: اقتصادي پراختیا او وده: ........................................ ۲۱۱
درېيم: فرهنګ او هنر: ........................................ ۲۱۳
څلورم: له درېيمه کړۍ او آسیايي هېوادونو سره مشارکت: ........................................ ۲۱۳
پينځمه کړۍ: نړۍوال ستر بنسټونه: ........................................ ۲۱۶

نهمه برخه: سیاسي ثبات ........................................ ۲۲۳

سیاسي ثبات څه شی دی؟ ........................................ ۲۲۳
ولې سیاسي ثبات ته نه يو رسيدلي؟ ........................................ ۲۲۳
لومړی: د شاهي کورنيو تر منځ اختلافات: ........................................ ۲۲۴
دويم: د دولت او قومي مشرانو تر منځ شخړې: ........................................ ۲۲۴
درېيم: د دولت، ديني عالمانو او روحانيونو ترمنځ اختلاف: ........................................ ۲۲۴
څلورم: د حکومت او لوستي قشر ترمنځ اختلاف: ........................................ ۲۲۵
پنځم: د حکومت او اقتصادي ډلې ترمنځ اختلاف: ........................................ ۲۲۵
د سیاسي ثبات د نه شتون دوام او د افراطي ډلو پرمختګ ........................................ ۲۲۵
د خلکو مشارکت، د سیاسي ثبات اساس: ........................................ ۲۲۶
ثبات په سیمه ییزو او نړۍ وال پس منظر کې ........................................ ۲۲۶
سیاسي ثبات او له نړۍ والې ټولنې سره زموږ اړیکې: ........................................ ۲۲۷
د څلورو سیمه ییزو قدرتونو چلند! ........................................ ۲۲۹
دايران او لويديځې نړۍ اړيکې: ........................................ ۲۲۹

د پاکستان لید لوری: ........................................................... ۲۲۹
پایله........................................................................................... ۲۳۳

بسم الله الرحمان الرحیم

## سریزه

دافغانستان دتاریخ په اوږدو کی د شخړو او ننګونو بنسټیز لامل هغه حکومتونه دي چې دځان غوښتنې پر بنسټ رامنځته شوي. دځان غوښتنې پر بنسټ جوړ شوي حکومتونه لاندې عمده ځانګړنې لري:

۱- په ځان غوښتونکیو حکومتونو کې د واک اراده له خلکو سره نه وي چې له همدې امله دا حکومتونه مشروعیت له لاسه ورکوي.

۲- ځان غوښتونکي حکومتونه هېڅ ډول ګډون او مشارکت نه مني او ټولې پرېکړې د واک د انحصار او نورو د حذف د تګلاري له مخې تر سره کوي.

۳- په دې ډول حکومتونو کې سیاسي واک ته د یوه هدف په سترګه کتل کیږي، نه د عامه خدمتونو ترسره کولو د وسیلې په توګه. له همدې امله ځانګړیو موخو ته د رسېدلو او واک ساتنې لپاره له هرې ممکنې وسیلې کار اخیستل کېږي.

۴- په دې ډول حکومتونو کې دین، عقیده، کلتور، اقتصاد او سوداګري ټول د واک په چوپړ کې وي او وسیلوي کار ورڅخه اخیستل کېږي.

د ځان غوښتنې پایله په هېواد کې د سیاسي ټیکاو له منځه تلل دي، ځکه چې ځان غوښتنه د انسان له خپلواکۍ او د هغه د انتخاب درلودلو له حق څخه انکار دی. له همدې امله د ځان غوښتنې پر بنسټ ولاړ نظام ډېر دوام نه کوي او متقابل غبرګونونه راپاروي. دا غبرګونونه کله ناکله د خلکو پر پاڅونونو اوړي چې د حکومتونو د رانسکورېدلو سبب ګرځي.

له شخړو او ننګونو څخه د راوتلو لپاره باید ولسي حکومت رامنځته شي. ولسي حکومتونه د ځان غوښتونکیو حکومتونو بالعکس، دخلکو پر ارادو ولاړ وي، د حذف د سیاست پر ځای د ګډون پر سیاست عمل کوي او بنسټیزه موخه یې دواک ساتل نه، بلکې دعمومي نظم ساتل او د خدمتونو وړاندې کول وي. دا ډول حکومتونه د خپل ولس پر وړاندې بې پرې او ناپلوي وي، پر هېڅ ډول قومي، ژبني او مذهبي توپیر باور نه لري او بنسټ یې د ټولو لپاره یو ډول حقونه ورکول وي.

د بدلون او دوام ټیم په ربښتینی مانا د یوه ولسي او ځواب ویونکي حکومت د رامنځته کولو په موخه ټاکنیز ډګر ته را دانګلي دي.

موږ غواړو تر بل هرڅه وړاندې په افغانستان کې د حکومت جوړونې په منطق او فلسفه کې بنسټيز بدلون راولو، د نويو او پرمختلليو اصولو له مخې دولت جوړ کړو او وروسته د هغو اسلامي او ملي ارزښتونو په دوام سره چې زموږ په ملي وثيقه (اساسي قانون) کې ورته ځای ورکول شوی دی، په بېلابېلو برخو لکه مديريت، حکومتولي، د خلکو حقونو، کلتور، اقتصاد، د افغانستان نړۍ والو اړيکو او په خپل چال چلند او وسايلو کی بدلون رامنځته کړو. دا بدلون به په هېواد کې تلپاتې سياسي ټيکاو رامنځته کړو او په دې توگه به د يوې داسې مدني پرمختللې او هوسا ټولنې د رامنځته کولو لپاره چې پر ولسواکۍ، ټولنيز عدالت، انساني کرامت، بشري حقونو، ملي يووالي، د ټولو قومونو ترمنځ پر برابرۍ او په ټول هېواد کی د متوازن پرمختگ پر اصل ولاړه وي لاره هواره کړي.

نن زموږ د هېواد ټول وگړي نارينه، ښځينه، ځوانان، سپين ږيري، روڼ اندي، فرهنگيان، کارگر او نور قشرونه د بدلون غوښتونکی دي. موږ د ملت دې غوښتنې ته پر ځواب ويلو مکلف يو او په خپل توان سره به د ملت د دې غوښتنی د پوره کولو لپاره هلې ځلې کوو. زموږ د حکومت منشور چې په لاندې متن کې تاسې درنو هېواد والو ته وړاندې کېږي، په هېواد کې د بنسټيز بدلون درامنځته کولو په موخه زموږ د فکر او ارادې ښکارندويه ده. تاسې درانه هېواد وال په ټاکنو کې په خپل پراخ گډون او د بدلون او دوام دې منشور ته په رايه ورکولو سره په هېواد کې يوه بنسټيز بدلون او دوام ته لاره پرانيستلای شئ.

موږ اړ یو چې دخپل سیاسي تاریخ دژورې مطالعې، دبې ثباتۍ د لاملونود تشخیص او د سیاسي ټیکاو راوستلو دلارې د نقشې په توګه دیوې هر اړخیزې طرحې په جوړولو موافقې ته ورسیږواوخپل سیاستونه دهغې دپلي کولو لپاره دوسیلې په توګه وکاروو. دطالبانو دواکمنۍ له ړنګېدو را وروسته دیارلس کالهدهېواد په نوی تاریخ کې دلېږد دوره جوړوي چې کولای شو دا دوره د ثبات او بې ثباتۍ تر منځ دپل په توګه وکاروو. دهمدې موخې لپاره دداسې یوې هر اړخیزې طرحې موندل چې دبدلون او دوام ترمنځ تولو رامنځته ته کړای شي، دملي کړنلارې یو بنسټیز اصل او زموږ له نظره د افغانستان بنسټیزه اړتیا جوړوي.

**بدلون(تحول) په کومه برخه کې؟**

بدلون زموږ د ټولنې له بنسټیزو اړتیاوو شمېرل کېږي، ځکه چې:

۱- موږ دیوه سیاسي او ولسواک نظام لرونکي یو. دې نظام، د چوکاټ له مخې، له ټولنیز پلوه په بېلابېلو برخو کې دولس دپراخ ګډون ضمانت کړی دی، خو دمنځپانګې له مخې لاهم بنسټیزو او ژوروبدلونونو ته اړتیا لرو چې د ولس دا ګډون دفکري، ادبي، کلتوري او ډله ییز چلند له ملاتړه برخمن او له هر ډول زوراکۍ، ځان غوښتنې او ناولسواکو چلندونو خوندي کړای شي.

۲- اداري فساد، لکه د سرطان ناروغۍ، زموږدسیاسي نظام پر بدن خوله لګولې او دټولنې ټولې خواوې یې اغیزمنې کړې دي. له همدې امله کار اهل ته سپارل او پر روابطو دضوابطو د واکمنۍ شعار هغه مهم ټکي دي چې زموږ دولس له لورې وړاندې کېږي. دسیاسی واک دمدیریت په برخه کې ټولنه بنسټیزو بدلونونوته اړتیا لري چې وکړای شي د قانون پر مټ او له غښتلي سیاسي ارادېاو له نړۍ والو بریالیو تجربو په ګټه اخیستنې، پر دې ستونزوبرلاسې شي.

۳- لګښتي اقتصاد دټولنې سیاسي ټیکاو او دسیاسي او معیشتی نظام ټول بنسټونه له جدی ګواښ سره مخ کړي دي. دهېواد د اقتصادي ودې، چې په دیارلسو کلونو کې دنړۍ والو ځواکونو په شتون او پریمانه نړۍ والو مرستو ولاړه وه، چټکې راښکته کېدا د یوه جدي بدلون اړتیا رامنځته کړې ده چې دمنظمو، پراخو او کوټلو ګامونو په پورته کولو سره هېواد له هغو ستونزو څخه چې نن ورسره لاس او ګریوان دی وژغورل شي.

۴- خلک دزورزیاتي، تاوتریخوالي او وینې تویېدنې له کلتور څخه ستړي شوي او دټیکاو او قانون واکۍ راوستل یې په جدي غوښتنه اوښتې دي.

که څه هم موږ په تېرو دیارلسو کلو کې پام وړاو روښانه لاسته راوړنې لرو خو بیا هم دحکومتولۍ په بنه او خپلو دندو ته درسېدو په لارو چارو کې ژورو بدلونونوته اړتیا لرو چې ټولنه پر عدالت ولاړې برابرۍ ته ورسوي او دناولسواکو او نامدني حرکتونومخنیوی وکړي.

٥- که څه هم دخلکو ډېری برخه دتېرو دیارلسو کلو نیمګړتیاوې دتېرو لسیزودناولسواکو سیاستونو زېږنده بولي او دټولنیز ژوند په بېلابېلو برخوکې نسبي پرمختګونه دوضیعت دښه والي نښه بولي، خو اوس په ټولنه کې نوی نسل راټوکیدلی چېځرګندې او جدي غوښتنې لري. موږ په خپلو سیاسي طرحو او کړنو کې دڅرګندو بدلونونو له رامنځته کولوپرته دهغوی غوښتنوته ځواب نه شو ویلای. دسیاسي نظام په جوړښت او مدیریت کې ژور بدلون چې ځوان نسل ته قانع کوونکی ځواب ورکړي زموږ دوخت له مهمو لومړیتوبونو څخه دی.

٦- دنړۍ والوځواکونو له وتلو سره سم د فساد د زغملوتوان هم پای ته رسیدلی دی. هماغسې چې دتوکیو په کنفرانس کې دواړو لوریو دحساب ورکونې موافقه کړې، په حکومتولۍ کې له ځرګندو او بنسټیزو بدلونونوراوستو پرته نړۍ واله ټولنه زموږ دحکومت پرله پسې مالي ملاتړ ته چمتو نه ده. پر دې اساس، موږ یوازې دوه لارې لرو: یاداچې پر انحصار ټینګار وکړو او داسې و انګېرو چې اوس هم محدودې ډلې کولای شي پر افغاستان انحصاري واک وچلوي او یا بیاد ژور او بنسټیز بدلون له لارې دټولنیز ژوند په ټولو برخو کې د خلکو واک ته درناوی وکړو او هېواد پر ولسواکه او مدني لاره روان کړو. زموږ موخه دولسواکو بنسټونو او پراساسي  قانون ولاړ نظام پیاوړي کول دي چې دافغانستان خلک وکړای شي د هېواد د اصلي خاوندانوپه توګه خپل موقف او واک ترلاسهاو دافغانستان دولت دخلکو ددې غوښتنو دترلاسه کولو لپاره وسیله شي.

٧- په هېواد کې دثبات او ټیکاو دټینګښت تر ټولو بنسټیز شرط دولسواکۍ دستنودټینګښت او حکومتولۍ په جوړولو کې دلازمې اجماع رامنځته کول دي. دې موخې ته درسېدلولپاره په منځ مهاله او اوږد مهاله کړنلارو او خپل سیاسي لید لوري کې ژور بدلون راوستو ته اړ یو چې بدلون د یوې اغیزمنې او دوامدارې پروسې په توګه عملي شي.

٨- په افغانستان کې سیاسي او نور ټول قشرونه بایدبنسټ جوړونه له منفي او ناسمو فکرونو څخه دنظام دسیاسي مدیریت دخلاصون دلارې په توګه ومني. سیاسي اقتدار په یوځایي او ډله ییز ډول رامنځته کېږي، نو له همدې امله باید مشروع سیاسي بنسټونه جوړ کړوچې په پرله پسې ډول دمنظم او ولسواک سیاست کولوله لارې دنظام دمشروعیت ستنې پیاوړې کړو. دا بدلون په هېواد کې دنوي سیاسي کلتوردرامنځته کېدو اساسبرابرولای شي.

۹- دنظم او قانون پر بنسټ، دولت والي او حکومتولي بایدپه تخصصي او تخنیکي چارې بدله شي. دولت والي او حکومتولي یوازی سلیقه نه ده، بلکې قوانینو جوړولو او پلي کولو ته اړتیا لري چې بنسټیزه موخه یې خلکوته خدمات برابرول دي. په دې برخه کې ژور بدلون ته اړتیا لروچې د بریالیو نړۍ والو تجربو په رڼا کې زموږ دسیاسي نظام دمدیریت درامنځته کولو لپاره یوه تخنیکی اجماع جوړه شي.

۱۰- په کلتوري ډګر کې جدی بدلون ته اړتیا لرو. زموږپه هېواد کې دګڼو ژبو شتون اوبېلابېلو قومي او مذهبي تجربو د یوې پراخې تنوع د پرمختګ زمینه برابره کړې ده چې د دې تنوع هره برخه دهېواد د یوه قشر د هویت ښکارندویې کوي. دا تنوع باید دیوه پراخه ملي ارزښت او لیدلوري په توګه ومنل شي، او دا هویتونه باید پرته له دې چې خپلې تاریخي تجربې او ځانګړي رنګونهله لاسه ورکړي د یوه واحد ملي هویت په چوکاټ کې راوستل شي.

## دوام په کومه برخه کې؟

۱- دیني او فرهنګي ارزښتونه زموږدټولنې او سیاسي نظام دټینګښت بنسټ جوړوي. ددغو ارزښتونو دوام اوساتنې ته ژوره پاملرنه نه یوازې د ټولنې د ثبات او واک بنسټ دی، بلکی په نړۍ واله کچه زموږ دیني او ملي هویت هم پیاوړی کوي. په دې برخه کې پانګونه زموږ د حکومت په لومړیتوبونو کې ده.

۲- اساسي قانون د تېرو دیارلسو کلونو له مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي. ددې قانون د حکم له مخې دلومړي ځل لپاره د هېواد ټول وګړي له هر ډول قومي، ژبني، دیني، مذهبي، جنسي او ټولنیز توپیر پرته د قانون په رڼا کې د برابرو حقونو درلودونکي شول. دا لاسته راوړنه دراتلونکیو ټولو مدنی او ولسواکولاسته راوړنو بنسټ ګڼل کېږي. کله چې اتباع او وګړي د تابعیت له اعتماد او درناوی برخمن وي په طبیعي ډول یوې ولسواکې ټولنې او نظام ته لار هوارېږي. هېڅ اساسي قانون دجوړېدو پرمهال له نیمګړتیاوو خالي نه وي، خو مهمه دا ده چې د هېواد وګړیو ته د قانون دسمونې زمینه برابره وي. د قانون د موادو ملاتړ د دوام تر ټولو بنسټیز ټکی دی.

۳- دبشر حقونه هغه مهم ارزښتونه دي چې زموږ په اساسي قانون کې پرې ټینګار شوی. د دې ارزښتونو ساتنه دحکومت له مهمو دندو شمېرل کېږي. دا ارزښت له پرمختللې نړۍ سره زموږ د ملت دپیوند دټکي په توګه ددوام بنسټیزه موضوع ده او دیو ستر میراث په توګه به زموږ د هېواد راتلونکیو نسلونو ته لېږدول کېږي.

۴- د ښځو د حقونوتأمین چې زموږ د ټولنې نیمایي برخه جوړوي، ددولت له مهمو دندو ګڼل کیږي او زموږ په حکومت کې د دوام لومړنی او بنسټیزمحور دی.

دښځو دحقونو دتېنګښت لپاره لارې چارې برابرول منظمو او عمليلارو چارو ته اړتيا لري چې زموږ د دې کړنلارې په ځانګړو برخو کې ورته په تفصيل کتنه شوې ده.

۵- دبيان دازادۍ لپاره د مناسبې فضا برابرول هم د تېرو ديارلسو کلونو له مهمو لاسته راوړنو څخه ده. په تېرو ديارلسو کلونو کې له نيمګړتياو او ستونزو سره سره دبيان د آزادۍ په اړه د قانون ارزښتونه تر يو بريده پلی شوي او غښتلي شوي هم دي، نو دبيان ازادي بايد د تېرو ديارلسو کلونو دمهمو لاسته راوړنو په توګه هم وساتل شي او هم دوام ومومي.

٦- ددرې ګونو قواوودتفکيک پر اساس ولسواک نظام زموږ يوه مهمه لاسته راوړنه ده. جمهوري رياست، ملي شورا او عدلي او قضايي ارګانونه هغه اداري دي چې داساسي قانون له مخې رامنځته شوي دي او هېواد يې ديوه نوي تاريخ پر لور روان کړی چې په پر اساس يې درې واړه قواوې دوګړيو دحقونو وړاندې کول خپله بنسټيزه دنده ګڼي. د دې ارزښت ساتنه او دوام په هېواد کې د ولسواک نظام دستنو دتېنګښت لپاره د دوام بسنتيز محور دی.

۷- ټاکنې دواک دلېږد دمناسبې لارې په توګه يوه مهمه لاسته راوړنه ده چې اساسي قانون ورته لاره برابره کړې ده. دمدنې او ولسواکيو بنسټونو پياوړي کول تر ټولو مهمه دنده ده چې بايد ددولت دمنظمو تګلارو په رڼا کې ورته پاملرنه وشي.

۸- په ټول هېواد کې دمدني جوړښتونو رامنځته کول د تېرو ديارلسو کلونو بله مهمه لاسته راوړنه ده. شوراګانې، بنسټونه، ټولنې، سياسي ګوندونه، ټولنيز سازمانونه، صنفي ټولنې، او دځوانانواو ميرمنو ټولنې په چټکۍ سره دجوړېدو او پراختيا په حال کې دي. دا د دې ښکارندويي کوي چې دافغانستان ټولنيزه شتمني دپراختيا په حال کې ده او هېواد له انفرادي ژوند څخه دډله ييز ژوندپر لور ګام اخلي چې دا پخپله په ټولنه کې داصلاحاتو راوستولپاره دلارو چارو د برابرېدلو په مانا ده. ددغو مدني جوړښتونوساتنه او پياوړتيا د دوام بله مهمه موضوع ده.

۹- دملي وحدت دتېنګښت لپاره قانوني او اغيزمن چاپيريال جوړېدل د تېرو ديارلسو کلو بله لاسته راوړنه ده. دخلکو ونډې ته په پام سره سياسي پروسې او دواک په جوړولو کې دخلکو ګډون په پرله پسې ډول نوې بڼه (شکل)غوره کړی دی چې پر بنسټ يې په يوې پرانستې او ولسواکه فضا کې دوګړيو غوښتنې دعملی کېدو په حال کې دي. دتېر سياسي دور دمنفي فکر برعکس، د دې چارې لپاره په قانوني ډول زمينه چمتو شوې ده، چې په هر قوم او ژبې پورې تړاو لرونکي وګړي د هېواد له هر کونج څخه دافغانستان ددولت لوړو څوکيو ته ورسېږي.

داساسي قانون او نورو قوانينو په رڼا کې دخلکو ګډون تامين شوی او دسراسري ګډون پر بنسټ يې دملي وحدت لپاره يو نوی بنسټ رامنځته کړی دی. دملي يووالي دټينګښت لپاره د دې اصل ساتنه او پراختيا د دوام له مهمو غوښتنوڅخه ده.

۱۰- دبن پروسه په ۱۳۸۰کال کې دملګرو ملتونو دامنيت شورادپريکړې له مخې پيل شوه. په دی پروسه کې له افغانستان څخه دواک دکارونې مشروع حق واخيستل شو اود ملګرو ملتونو امنيت شورا ته ورکول شو. دامريکا له متحده ايالتونو سره اوږد مهاله تړون او امنيتی سند لاسليکول په حقيقت کې دبن تر کنفرانس وروسته لومړنی سند دی چې دافغانستان دملي حاکميت دواک حقوقي بنسټ يې ټينګ کړی دی. ددی تړون يوه مهمه لاسته راوړنه داده چې له دې وروسته به دنورو هېوادونو له لوري دافغان امنيتي ځواکونو له موافقې او همغږۍ پرته په هېڅ ډول دافغانستان په جغرافيايي حدودو کې له قوې کار نه اخيستل کېږي. له همدې امله زموږ دملي حاکميت دواکمنۍ حقوقي خيال په نړۍ واله حقوقي رښتينولۍ بدلېږي. د دې اصل دوام او ساتنه د دوام له مهمومو‌ضوعاتو څخه ده.

۱۱- په تېرو ديارلسو کلونو کې افغانستان پر دې بريالی شوی چې له يوه لوري دامريکا له متحده ايالتونو اوله ناټو سره او له بلی خوا دسيمې له هېوادونو سره په اړيکو کې نسبتاً منځلاری توازن وساتي. موږ اوسمهال له ترکيې، هند، چين او روسيې سره ښې اړيکې لرو. دغه راز له ايران، تاجکستان، ازبکستان او تاجکستان سره مثبته همکاری لرو. له پاکستان سره پر د ډېرو جدی تاريخي ستونزو سربېره هم د دواړو هېوداونو مشرتابه هېڅکله داوس په څېر په جديت سره بحثونه او خبرې اترې ندی کړي. له همدې امله دملي حاکميت اصل په بهرنۍ تګلاره کې ځای کړل شويدی. اوس د دې وخت رارسيدلی چې داصولی لارو چارو په خپلولو سره دخپلې بهرنۍ تګلورې منفي ټکی چې تردېره د ديپلوماتيک مديريت زيږنده دی رابرسېره کړو اوهڅه وکړو چې خپله بهرنۍ تګلاره دعملي طرحو په وړاندی کولو سره اداره کړو.

**پایداره سوله:**

سوله د سیاسي ثباتاساسي رکن دی. هغه هېواد چېسیاسي ثبات ونه لري او وګړي یې خوندي نه وي د ژوند ټولې برخېيې بې ثباته وي. دا چې په دغو هېوادونو کې دقوې یا ځواک کارونه څه ډول پرله پسې او ورځنۍ بڼه غوره کوي جلا بحث دی چې بېلابیل لاملونه لري. بشپړ سیاسي ثباتهغه وخت امکان لري چې دقوې کارېدنه دنامسؤولو وسله والو لخوا تر سره نه شي. په دې بحث کې اړینه ده چې دلنډ مهالې او پایداره (تلپاتې) سولې تر منځ توپیر په پام کې ونیسو. دهغو سلو نړۍ والو تړونونو تجربې چې موږ څېړلي ښیي چې ددې تړونونو پنځوس سلنه له پنځه کلنۍ سولې وروسته په یو نوي ناورین اوښتي دي. له همدې امله اړینه ده هغه شرایط دقیق وڅېړل شي چې دتلپاتې سولې دټینګېدو لپاره زمینه برابروي، ځکه هغه سوله چې دیوبل ناورین لپاره یو نوی پیل وي خورا خطرناکه ده.

**د پایدارې سولې بنسټونه:**

دتلپاتې سولې درامنځته کولو لپاره هم فکر ته اړتیا لرو او هم هغه جوړښت ته چې دقانوني بنسټونو په چوکاټ کې دتلپاتې سولې خوب ریښتیا کړي.

**د پایدارېسولې لپاره فکري لارې چارې:**

زموږ په هېواد کې زموږ کلتور او د اسلام سپیڅلی دین دتلپاتې سولې لپاره فکري زمینې وي. په قران کریم کې دسولې، عفوې او ترحم ذکر د مسلمانانو ترمنځ داړیکو دټینګولو په موخه تر ټولو مهمه اخلاقي لارښوونه ده. داللّٰه تعالی له(۹۹) نومونو څخه چې په قران کې ذکر دي ډېری یې دعفوې، ترحم او مهربانۍریښه لري. ددې ترڅنګ د اسلام لارښوونې دمسلمانانو ترمنځ دوروری دفضا درامنځته کولو سپارښتنه کوي، له همدې امله دیني لارښوونې له فکري پلوه په هېواد کې دتلپاتې سولې دټینګېدو لپاره ښه فکري زمینه برابروي. په اسلامي ټولنه کې موخوته درسېدو لپاره دقهر، غضب او قوې کارونه داسلام دسپیڅلي دین اصل نه دی. په حنفي او جعفري فقه کې څرګندې لارښوونې شته چې په سیاسي نظام کې اصلاحات دخلکو او ټولنې داصلاح لپاره ضروري ګڼي چې یوه بیلګه یې دامام حسین رض هغه لیک دی چې خپل ورور ته یې لیکلی و. په لیک کې یې ورته لیکلي و چې د امام حسین پاڅون د واک تر لاسه کولو لپاره نه بلکې د اسلامي ټولنې د مشرتابه د اصلاح او د خپل پلار او نیکه د لارښوونو ژوندي کولو لپاره دی.

په بشري ټولنه کې د فتنې رامنځته کول هغه څه دي چې په اسلامي شریعت کې په سختو ټکو غندل شوي. په قران کریم کې راغلي چې فتنه ترقتل بدتره ده. فتنه په اسلامي ټولنه کې دنظام دله منځه وړلو سبب ګرځي او دخلکو سر او مال له ګواښ سره مخ کوي. ددې لپاره اړینه ده چې دیني عالمان دفکري زمینو دپیاوړتیا او تلپاتې سولې او ټیکاو درامنځته کولو په موخه خپل رول ترسره کړي. دسولې لپاره دفکري زمینو تررونښانه کېدلو وروسته بل پړاو پیلیږي، چې هدف یې د قانون په چوکاټ کې دپایدارې سولې دتأمینمیکانیزم رامنځته کول دي.

## د پایداره سولې عملي میکانیزم:

دپایداره سولې دتأمین لپاره عملي جوړښت د اړوندومطرحو سیاسي او ټولنیزو اړخونو تر منځ په سیاسي اجماع پورې تړلی دی، چې دعدالت او انصاف پر بنسټ ولاړ وي. دتلپاتې سولې بنسټیز اصل دعدالت ټینګښت او دټولو اجتماعي او سیاسي ډلو ګډون دی. دا اصل دیوه بنسټیز ارزښت په توګه په اساسي قانون ولاړ نظام کې منل شوی چې د عدالت او مشارکت پلې کېدلو ته لاره برابروي او له همدې املهپه راتلونکیو مناسبو اصلاحاتو او تعدیلاتو کېد تکامل لور ته نیږدې کېږي.

د سولې او جنګ د قیمت ټاکلو په برخه کې سیاسي اجماع ته رسېدنه اوږده او ځانګړي بحثونه غواړي. دغه راز ملي وحدت، دخلکوګډون او دجګره ځپلو خلکو لپاره دټولنیز عدالت ټینګېدل سیاسي اجماع ته د رسېدلو لپاره ضروري دي.په جګړه کې د ښکېلو خواوو لهبیلابیلو نظریو سترګې پټول تلپاتې سوله له ګواښ سره مخ کوي. لومړنۍ اړتیا داده، چې تر ټاکنو وروسته، دسیاسي مشارکت پر یوداسې میکانیزم توافق رامنځته شي چې دیوې منظمې کړنلارې پر اساسوي.اوسنۍ سیاسي ډلې چې عملاً په خپلمنځي اختلافاتو ښکیلې دي باید د شفافو خبرو اترو او بحثونو په رڼا کې خپل ځان دنظام په چوکاټ کې وویني او که په نظام کې دننه یا د باندېوي، نظریاتو ته یې درناوی وشي. تر ټولو مهم ټکی دادی چې سوله باید په رڼا ورځ دیوېشفافېهوکړې له مخې چې هم یې موخې ته د رسېدو او هم یې دتوافق شرطونه ټول ملت او په ځانګړي توګه سیاسي ډلو ته روښانه وي تر سره شي، او د دې تصور مخنیوی وشي چې ګواکې سوله غلې یا مجرمې په څېر د شپې راغله. دا ټکی دا ایجابوي چې دټولنې دبیلابیلو اقشارو له نظره هم تېرې ستونزې او هم راتلونکې اندېښنې په پام کې ونیول شي، چې وکړای شو د نظام د ټولو پلویانوترمنځد اساسي قانون داحکامو په رڼا کې، د سولې د شرطونو پر سر،اجماع ته ورسیږواو دیوواحد دریځ له مخې دسولې او بیاپخلاینې پروسهبشپړه کړو. دې موخې ته د رسېدو لپاره زموږ ژمنه داده چې له دینی عالمانو، دمدني ټولنې استازو، مېرمنو او ټولوښکیلو خواووڅخه یوه واکمنه شورا جوړه کړواو ټول دسولې په پروسه کې ورګډ او دېروسې د پرمختګ مستقیمه څارنه وکړي.

دتلپاتې سولې په ټینګېدو کې پام وړ ټکی دوسله والو مخالفینو رول او د هغوی د مخالفت لاملونه دي. تر دې دمه سولې ته درسېدو لپاره خبرې اترې یوازې دشعار تر بریده پر مخ تللي. موږ غواړو چې په دې برخه کې د یوه ځانګړي میکانزم له مخې پرمخ ولاړ شو. موږ به له ټولو وسله والو مخالفینو وغواړو چې خپل لید لوری، نظرونه او غوښتنې را وړاندې کړي او دا را ته ووایي چې هغوی ته درسېدلي درد لامل څه دی او دحل لاره یې په څه کې ویني. په دې توګه دې دا معلوملای شو چې کوم لوری دستونزو او غوښتنو له مخې اصولي دی او کوم لوری ځانګړي ایډیالوژیک نظرونه لري چېدافغانستان دولت اوټولنه دنړیوالې انزوا او یواځېتوب، تاوتریخوالي،ستم او تبعیض دایرې ته ورغورځوي. کوم لوری یې سیمه ییز او نړیوال نظریاتي اړخ لري، په سیاسي لید لوري کې توپیر څومره دی، د نیږدېکت امکانات څومره دیاو کومې داسې ځانګړې ګټې شته چې په یوه پراخه چوکاټ کې پرې موافقه را تللای شي.

تر ټولو مهم ټکی دادی چې موږ له خپلو مخالفینو سره دیوه قانوني نظام له دریځه خبرې وکړو. داسې قانوني نظام چې دټولنې داکثریت قشرونو او سیاسي ډلو د اجماع پر اساس رامنځته شوی دی او پرملي، سیمه ییزو او نړۍ والو معیارونو برابر دی. زموږ دا سیاسي آدرس به له مخالفینو سره په ټولو خبرو اترو کې د ګډون ټکی وي، چې وړاندې مو د یوه مهم ارزښت او دتېرو دیارلسو کالو دعمده لاسته راوړنې په توګه هم ورته اشاره وکړه او د دوام دتیورۍ دیوې مهمې موضوع په توګه مو پرې ټینګار کړی دی. دوسله والو مخالفینو دبهرنیو ملاتړو رول هم هغه مهمه موضوع ده چې باید په هر ډول خبرو اترو کې ورته پام وشي. ددې ستونزې دحل لپاره دسیمې او ګاونډیو هېوادونو سره خبرې او ځانګړي معیارونه، چې دبهرني سیاست په برخه کې یې په تفصیل سره یادونه شوې، دپام وړ دي. خو دوسله والو مخالفینو دملاتړ بل اړخ هغه نړیوالې ترهګرې شبکې او دنشه یي توکیو مافیا او قبایلي وسله والې ډلې دي چې دسیمې او نړۍ له هېوادونو سره دګډې مرستې په پایله کې به یې مرستې قطع او پر وړاندې به یې ګډه مبارزه وشي. البته بنستیزه پوښتنه داده چې آیا وسله وال مخالفین په نظر او کړنو کې خپلواک دي؟ په بهرنیو اړیکو کې یې محدودیتونه په کومه کچه دي؟ او ایا د دې امکان شته چې دیوې افغاني هوکړې په چوکاټ کې دسولې پر شرایطو موافقه وکړي؟

په دې توګه تر ټولو مهمه دسولې په اړه په مخامخ خبرو اترو کېد وسله والومخالفینو د ملاتړیو راګډول دي. وسله وال مخالفین باید د دې خبرو اترو پایلې ومني او پر دې باید پوه شي چې له بهرنیو کړیو سره دهغوی یو ځای والی دسولې په خبرو اترو کې دهغوی رول کمزوری کوي او که د خبرواترو پایلې دافغانستان دخلکو له ملي ګټو سره په ټکر کې وي نو دمخالفینو سیاسي دریځ او موقف ته سخت زیان رسېږي. له همدې امله دتلپاتې سولې د رامنځته کېدو لپاره یوازې دخبرو پیل بسنه نه کوي بلکې دخبرو

اترو محتوا او پایلې هم مهمې دي چې پر اساس یې غوارډیوې ملي اجماع په پایله کې، یو باثباته نظام او قوی دولت رامنځته کړو. دسولې هر ډول خبرې اترې باید پر همدې اساس پر مخ ولاړې شي.

پر همدې بناء وایو چې د سولې په چوکاټ کې بایدپخپله د مخالفینو له افرادو نیولې، تر زیانمنو مېرمنو اوکوچنیانو، او بیا زموږ تر امنیتي ځواکونه پورې چې له نا امنیو سره د سر په بیه مقابله کوي، ټول په جدي توګه په پام لاندې ونیول شي.

اوس نو پوښتنه دا ده چې دتلپاتې سولې عملي میکانیزم دملت لپاره کوم پیغام لري؟

**۱- دملت دارادې پر بنسټ دمنتخب دولت منل:**

موږ له ټولو مخالفینو سره دهغه دولت له دریځه خبرې کوو چې دملت د ارادې له مخې رامنځته شوی. د دې دولت منل تلپاتې سولې ته درسېدو لپاره لومړی شرط دی.

**۲-داساسي قانون د ارزښتونو منل:**

اساسي قانون دملت د سیاسي اجماع محصول او د دولت بنسټ دی، چې د اساسي قانون له موادو سره سم دخلکو په رایو رامنځته شوی دی. په دې اساسي قانون کې د بشر حقونه، ښځو او نرو حقونه، دقواوو تفکیک، دبیان ازادي، ټاکنې او دې ته ورته نور هغه ارزښتونه دي، چې زموږ منتخب دولت ترې جوړ شوی دی. ددی ارزښتونو منل هم دتلپاتې سولې د رامنځته کېدو لپاره بنسټیز شرطونه دي.

**۳-په دولت پورې د ځواک کارونې د حق انحصار:**

ددولت دهغو بنسټونود رامنځته کولو پر سر موافقه چې دولت ځواکمنوي او ددوی په موجودیت کېافراد او ډلې پر نورو دخپلو نظرونو دمنلو لپاره نامشروع ځواک ونه کاروي. د ځواک مشروعیت او کارونې حق یوازې له دولت سره خوندي وي. د پایدارې سولې د تأمین لپاره ضروري بنسټونه جوړول هغه مهم ټکی دی، چې ملت یا دسولې پلوي او یا مخالفت ته هڅوي، ځکه دا موسسات د وګړو پر امنیت مستقیم اغیز لري. یو لامل چې دسولې پنځوس سلنه تړونونه نتیجې ته نه دي رسیدلي دادی، چې په دې هېوادونو کې له دې تړونونو سره نه یوازې چې دخلکو امنیت ښه شوی نه دی، بلکې لا خراب شویدی. د جګړې انتخاب دخلکو تر ټولو سخته ټاکنه ده، خلک په عادي شرایطو کې چې د سر او مال امنیت یې خوندي وي په هېڅ ډول دجګړې قیمت پرې کولو ته چمتو نه وي، خو چې کله دهغوی امنیت له ګواښ سره مخ شي، نو د ځان ساتنې لپاره جګړه ددوی دفاعي انتخاب شي.

که هر څومره دا نتخاب منفي وي د وخت په تېرېدو سره جګړه پر سیاست تکیه له لاسه ورکوي. دغه وخت نو جګړه د ډلو او باندونو مسلک د ورځني ژوند برخه او د ژوند د دوام وسیله ګرځي. همدا لامل دی چې موږ وایو چې دسولې د خبرو اتروپه اړه د ټولو پوهاوی ایجادول په کار دي، او دغه راز له سلا مشورو وروسته پر یوه سیاسي نظام د ټولو توافق یوه مهمه اړتیا ده، چې په اساس یې له وسله والو مخالفینو د قوې د کارونې حق واخیستل شي. له دې امله ده چې د اساسي قانون پر بنسټونو ولاړ نظام، د نظام جوړونېپه موخه د عادلانه پړاوتطبیق، د ټولو اقشارو ګډون او د عدالت تأمین د یوه پرمختللي او باثباته نظام اخلاقي منطق تشکیلوي.

د پام وړ خبره دا ده، چې نن مو په هېواد کې داسې ډېرې ډلې شته چې له هر ډول سیاسي فکر پرته یېقوه کارولې، چې داسې یې پر مټ قاچاق او نورې ناروا چارې تر سره شوي. له همدی امله د ځانګړې سیاسي فکر لرونکو وسله والو مخالفینو سره سوله کول، د دې امکان رامنځته کوي چې د هغو ډلو پر وړاندېمشروع قوهوکارول شي، چې ثبات دخپلو ناروا ګټو قرباني کوي.

**۴-دنظام په سیاسي جوړښت کې د ملي ګډون منل:**

دنظام په سیاسي جوړښت کې دمخالفینو ګډون دهغو وسله والو له منفي او زیان رسوونکي حالت نه مثبت او اغیزمن حالت ته بیایی. موږ د هېڅ داسې تلپاتې سولې په اړه مالومات نه لرو چې دخبرو اترو وروسته پخواني وسله وال مخالفین دنظام په سیاسي جوړښت کې نه وي ورګډ شوي، دلته مهمه خبره دا ده هغه مخالفین چې پخوا به یې په ټولنه کې خپل سیاسي دریځ د ټوپک په زور څرګنداوه اوس باید د سیاسي فعالیت له لارېورته کار وکړي او پر دې ځان پوه کړي چې خلک یې له فکر او سیاسي تګلار سره جوړ دي او که نه؟ په همدې اساسموږ وایو چې د ګډون اصل منل او سالم سیاسي رقابت د تلپاتې سولېاساسي ارکان جوړوي.

**۵- د منتخبـدولت له لوری دسیاسي نظام داداره کولو منل:**

دنظام په سیاسي جوړښت کې سیاسي ګډون په دې مانا دی چې هېڅ وګړی که څه هم له فکري او سیاسي پلوه له نظام سره مخالف وي ځان له نظامه پردی ونه بولي. خو دا په دې مانا نه ده چې د سیاسي نظام اداره دې له ټولو سیاسي ډلو سره وویشل شي. دسیاسي نظام واک هغه امانت دی چې د ټاکنو په پایله کې ګټونکې ډلې ته د هغوی د تعهداتو له مخې سپارل کیږي. دا ممکنه نه ده چې دا مدیریت دې د یو سهامي شرکت په څېر اداره شي. ګټونکې ډله چې ملت ته ژمنه ده او باید دا ژمنه تر سره کړي، نه شي کولای دسیاسي نظام واګې له نورو ډلو سره وویشي.

له همدې امله د تلپاتې سولې یو مهم اصل دا دی چې د ټاکل شوي ولسمشر او د هغه د مرستیالانو واک باید په جدي ډول خوندي وساتل شي.

**٦-تلپاتې سوله، د ښې حکومتولۍ لپاره لار هوارول:**

دسولې د ټیګښت له لارې ښه حکومتولیترلاسه کوو، ځکه چې:

۱. د تلپاتې سولې یوه لاسته راوړنه د امنیتي ځواکونو دمالي لګښتونو راکمول دي. که دا لګښتونه دملکي بنسټونو د پیاوړتیا او ښېحکومتولۍ د رامنځته کولو په لار کې ولګول شي دخلکو په ژوند کې به د پام وړ بدلون راشي.

۲- دهغو هېوادونو، چې د سولې پروسې یې ناکامې شوي، تجربو ښودلې، چې د دې هېوادونو د سولې په پروسو کېښې حکومتولۍ، په ځانګړې توګه د خلکو د ژوند بهبود، ته خاصه توجه نه ده شوې. سیاستوالو یې په خپلو منځو کې د چوکیو او واک پر وېش خبرې کړې په داسې حال کې چې د خلکو دژوند بنسټیزې ستونزې شاته غورځول شوي دي. د بیلګې په توګه د جګړه ځپلو خلکو ژوند ته پام نه دی شوی او یاد هغو ستونزو حل ته چې د جګړې د قربانیانو د غوسې، کینې او عقدې په پایله کې را منځته شوی له پامه غورځول شوي دي.

نو په همدې اساس د انتقال په بهیر کې دا راز او نورو بیلابیلو ستونزو ته په پام سره دتلپاتې سولې د تأمین لپاره زموږ عملي کړنلار، چې دښې حکومتولۍ د ټولو اصولو او میکانیزمونو لرونکې او زموږ د ژمنو پر بنسټ، په ډېر دقت جوړه شوې ده. د دې کړنلار د پایدارې سولې تر ټولو مهمې لارې چارې په لاندې ډول دي.

۱- دتلپاتې سولې دتأمین لپاره دقانون حاکمیت زموږ په لومړیتوبونو کې دی.

۲. - د ځوانانو ژوند او اړوند مسایل یې ځانګړې اړتیاوې لري، چې دتلپاتې سولې دتأمین لپاره زموږ په کړنلارو کې په پام کېنیول شوي دي.

۳- دمجاهدینو رواني شرایطو درک کول او د هغو کسانو چې له دیارلسو نه تر دېرشو کالو راهیسې د خپل هېواد د دیني او ملي ارزښتونو په دفاع کې بوخت ول او هغه سیمې او ډلې چې په پرله پسې توګه دقوې استعمال زیانمن کړي دي زموږ دپاملرنې په لومړیتوب کې ځای لري. پر سیاسي نظام ددې خلکو ورګډول او عادي ژوند ته یې راستنول به موږ د سالم فکر او عملي کړنلارې له مخې تر سره کړو.

۴-د تلپاتې سولې د تأمین لپاره د فکري زمینو د برابرولو په موخه به پر اساسي دیني اصل، چې د غچ پر ځای عفوه ده، تکیه وکړو. د عفوې او د یو بل بخښلو کلتور چې د اسلامي فرهنګ یوه برخه او دغه راز دانتقالي عدالت بنسټ هم دی، باید د ربو جوړښتونو له مخې چې ټولو اړخونو ته د منلو وړ وي. دغه رازیې، دهغو هېوادونو تجربو ته په پام سره چې دانتقالي عدالت او پایدارې سولې پروسې یې په بریالیتوب عملي کړې دي، په یوه ملي پروسه بدله کړو. د دې موخې لپاره باید افغانستان ټول اړخونه، دیني عالمان، مدني ټولنې، سیاسي ډلې، میرمنې او روحانیون یوې اجماع ته ورسیږي چې وکولای شو، دسویلي افریقا او رو اندا هېوادونو په څېر، د انتقالي عدالت او له جګړییز اوغچ اخیستنې حالته د بخښنې لوري ته پروسه د ځانګړو اصولو له مخې تر سره کړو. خپله ټولنه داسې اداره کړو چې هر غړی یې ځان زموږ د وجود غړیوګنې او د دې وجود د زخمونو په درملنه کې پوره ونډه واخلي. د انتقالي عدالت او پایداره سولې لپاره دویم بدیل له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د فرانسې او جرمني تجربه او یا هم د هسپانیه د فرانګو له مړینې وروسته ده. په دغو تجربو کې دې هیوادونو تاریخي هېرونه غوره کړه، دجګړې د زیانمونو شویو اثارو نه په بریالیتوب سره دبدلون پر لور ولاړل، ټولو خپل پام راتلونکي ته واړاوه او تېر یې د داسې یو وضیعت په توګه یاد کړ چې هیڅوک ترې خوشاله نه و او شاته یې پرېښود. دا بدیلونه باید ټول په پام کې ونیول شي. دحکومت په توګهبه زموږ لومړیتوب دا وي چې په هېواد کې نوی تاریخ جوړ کړو، د بخښنې او یو بل د منلو یو ملي بحث ته پام واړوو چې ټول ملي وحدت په شعوري توګه ومنو او ټول د دموکراتیکواو مدني بنسټونود ټینګښت لپاره له قانوني لارو کار وکړو.

۵- دتلپاتې سولې دتأمین او دوام لپاره به په رسنیو، مدني ټولنو، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزو بنسټونو د قانون په چوکاټ کې بسنټیزه پانګونه وکړو او په دې برخه کې به کار کول خپل لومړیتوب وګڼو چې په پایله کې یو څرګند ملي کلتور چې تلپاتې سوله د قانون واکمني او د دولت جوړونې اوملت جوړونې یوه برخه بولي رامنځته شي.

**امنیت**

امنیت په هېواد کې دسیاسي ثبات دراوستومهم رکن دی، سوله دامنیت پیلامه ده. په هغه هېواد کې چې امنیت موجود نه وي د دولت تعریف او کړنې تر ډېره د امنیت په راوستو پورې تړلې وي. هر څومره چې امنیت بنسټیز کیږي د دولت دکړنو او مسولیتونو په اړه عمومي اجماع دهغه تعریف لوري ته اوړي، چې د شلمې پیړۍ په پای او د یویشتمې پیړۍ په پیل کې ددولت دمکلفیت په توګه په رسمیت پېژندل شوی. زموږ ټولنه دنظام له ړنګېدو او امنیت دخرابېدو له امله اندېښمنه ده له همدې امله ټول پام د امنیت پر لور دی. زموږ حکومت به هم په یوه ستر چوکاټ کې یو ثبات لرونکی نظام په پام کې لري، چې ډېر پام یې د امنیتي بنسټونو دپیاوړتیا پر لوري دی زموږ دوه مهم ټکي د امنیت د ټینګښت او د امنیتي بنسټونو د پیاوړتیا پر لوري دي.

۱- په مشروع ډول د قوې د استعمالصلاحیت لرل د قانون د حاکمیت بنسټیز ټکی دی. کله چې قوهېه نامشروع ډول، د هردلیلپه اساسچې وي، د ولس او یا حکومت پر وړاندی کارول کیږي، په حقیقت کې ټولنه پر ځنګل بدلیږي. له همدې امله پر قوه واک لرل او د دولت له لوري ترې مشروع ګټه اخیستل د ثبات د راوستو او پایدارۍ بسنټیز اصل دی. د دې تر څنګ، د قوې د کارونې لپاره د قانوني معیارونو شتون تر ټولو مهم دی. په پرله پسې توګه د قوې کارونه د دولت د کمزورۍ او د سیاست دناکامۍ نښه ده له همدې امله د یوې سیاسي پروسې پیل چې پرېښنسټ یې د قوې د کارونې لپاره په راتلونکو پنځو کالو کې ملي اجماع موجوده وي زموږ مهم لومړیتوب دی.

۲- یوې ملي او سیاسي اجماع ته د رسېدو او د امنیتي طرحو د پلي کېدو لپاره تر ټولو د مخه د امنیتي ادارو تعریف او د هغوی د دندو تفکیک ته اړتیا لرو. باید په قانوني او رښه توګه روښانه کړو چې امنیتي ادارې د مراتبو له کومو سلسلو برخورداره دي او د اردو، پولیسو او ملي امنیت ادارې کومې چارې تر سره کوي او هره اداره خپلې دندې د کوم جوړښت له مخې پر مخ بیایي.

**په امنیتي ادارو کې د مراتبو سلسله**

امنیتي ادارې د مراتبو د سلسلې د رامنځته کولو او په پام کې نیولو پرته اغیزمنتیا نه لري. په امنیتي ادارو کې دمراتبو سلسله د هڅوکو د جوړښت په څېر اړینه ده. د مراتبو دا سلسله هغه مهال اغیزمنه کیږي چې په امنیتي ادارو کې دشخص پالنې جرړې وویستل شي. که د یوه جنرال زوی د ملی اردو په چوکاټ کې سرتیری یا منصبدار وي باید پر نورو سرتېرو هېڅ ډول امتیاز ونلري او د ځانګړې پاملرنې وړ ونه ګرځي. که په امنیتي ادارو کې د مراتبو سلسله او دسپلین په پام کې ونه نیول شي، نه یوازې دا چې اغیزمنتیا یې له منځه ځي بلکې د امنیتي ادارو مشروعیت هم له ګواښ سره مخامخ کیږي.

که د امنیتي ادارو په چوکاټ کې د شمولیت او یا امتیازاتو تر لاسه کولو پر مهال له منل شویو اصولو پرته بل هر اصل لکه: ګوندي، شخصي، سیمه ییز، قومي، ژبني او نور په پام کې ونیول شي، امنیتي ادارې له ننګونو سره مخ کوي او اغیزمنتیا یې زیانمنوي. د ترفیع او تقاعد په اړه راښه اصول رامنځته کول هغه مهم اصل دی چې په امنیتي ادارو کې به بنسټیز کیږي. د نړۍ په هېڅ ځای کې امنیتي ادارې له دسپلین پرته اغېزمنتیا نه لري. په هغو هیوادونو کې چې ولسواکي حاکمه وي، په امنیتي ادارو کې د شاملېدو او ترفیع تر لاسه کولو پرمهال ترټولو سخت شرایط په پام کې نیول کیږي. له همدې امله باید یو څوک په امنیتي ادارو کې د منصبدار په توګه له شاملېدو تر تقاعد پورې په جدي توګه امنیتي دسپلین په پام کې ونیسي. په دې برخه کې پر رڼو معیارونو تکیه کول د امنیتي ادارو د مثبت رول تر سره کولو له لارې د ملي وحدت د ټینګښتاو پر امنیتي ادارو د خلکو د باور د زیاتیدو سبب ګرځي.

په اردو کې نظم او دسپلین دپوځ لهاعلی مشرتابه نیولې تر ټیټې پوړۍ پورې رانغاړي. د تصمیم نیوونکو ادارو تقویه او دسپیلین په پام کې نه نیول د اردو د کمزورتیا سبب ګرځي.

### دوسله وال پوځ اعلی سرقوماندانی

اساسي قانون دهېواد د ولسمشر یوه دنده دوسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان په توګه منلی ده. موږ به دا دنده، د وسله وال پوځ داعلی سرقوماندانۍ د یوه ځانګړي دفتر جوړولو له لارې، عملي کړو. دا دفتر به په هرو اتو ساعتونو کې د هېواد د وضیعت په اړه هر اړخیز راپور ولسمشر او د حکومت نورو لوړپوړو چارواکو ته وړاندې کوي. د دې دفتر دنده به د معلوماتو همغږي کول او د ولسمشر دپرېکړو د پلي کېدو څارنه وي. د دې دفتر لپاره به ځانګړي معیارونه په پام کې ونیول شي، چېپهاساس به یې معلومات په منظم ډول او د معیارونو په پام کې نیولو سره چمتو او ډلبندي کړی شي. د بیلګې په توګه، دلویو لارو دامنیت ساتلو مسئلې، چې زموږ د لومړیتوبونو څخه دي، به د دې دفتر له لوري څارل او همغږي کیږي. که د لارو امنیت خوندي نه وي امنیتي سیستم ناکام او حکومت معیوب دی.

له همدې امله به، د اعلی سرقوماندانۍ لخوا، دلویو لارو امنیت په هرو اتو ساعتونو کې یو ځل وڅارل شي. چې په لویو لارو کې د پرتو امنیتي ځواکونو له کړنو په روښانه ډول ارزونه وشي او معلومات راټول شي. د دې معلوماتو له مخې به د امنیتي ځواکونو د قطعاتود مکافات او مجازات منظم سیستم موجود او علمي شي. مکافات دامنیت دتأمین بنسټیز اصل دی. دامنیت راوستل قرباني غواړي اوڅوک چې د دې قربانۍورکولو مېړانه کوي باید دهٔولنې او دولت له لوري وستایل شي. د دې تر څنګ د مجازات اصل هم باید د ارزښت وړ وي.

که ثابته شي چې امنيتي ادارې، لکه ځيني يې چې اوس په بدامنۍ کې په لاس لرلو تورنوي، په نا امنۍ کې دخيلوي، بايد داسې تدبير ونيول شي چې دا امنيتي ادارې تر جدي پوښتنو لاندې ونيول شي مجازات شي. د خلکو سر او مال يو امانت دی، چې امنيتي ادارو ته سپارل کيږي. څنګه چې د دې امانت ساتونکي د مکافاتمستحق دي، هماغسېپه دې برخه کې خيانت کوونکيهمد مجازات وړ دي. ځانګړو او سراسري اجرآتو ته اړتيا ده، چې په اساس يې روښانه شي دخاص يونيفورم لرونکي امنيتي ادارې په نا امنيو کې ونډه لري يا نه. دا راز ونډه دبخښلو وړ نه ده. دوسله والو ځواکونو اعلی سرقومانداني به د خپل ځانګړي دفتر له لارې نور امنيتي بنسټونه هم د يو منظم مهالويش له مخې ځاري اوفعاليتونو ته به يې رسيدګي کوي، چې داسې به د هېواد سياسي امنيت د جمهوري رياست تر مستقيم نظارت لاندې وي.

### دملي امنيت شورا

دملي امنيت شورا هم هغه مهم ارګان دی، چې په ټول هېواد کې پر امنيتي چارو ژور نظر ساتي. د ملي امنيت شورا دنده د امنيت د تأمين او امنيتي ادارو د پياوړتيا لپاره لنډمهالې، منځمهالې او اوږدمهالې طرحې چمتو او پلي کوي. د امنيتي ادارو د يو بل په چارو لاسوهنې او کاري تداخلمخنيوی دملي امنيت شورا لخوا کيږي او همداراز د امنيتي ادارو حسابدهي، د ځانګړو اصولو له مخې، تر سره کوي. له دې لارې، موږ د ملي امنيت بنسټيز کېدل اوخپل لوړ هدف ته، چې د قانون حاکميت او د ښې حکومتولۍ ايجاد دی، رسيدل يقيني کوو.

دملي امنيت شورا د امنيتي بنسټونو په چارو کې د ملکي مشرتابه اصل هم پلي کوي. د وسله وال پوځ د اعلی سرقوماندان په توګه د ولسمشر دنده د ملکي چارو اداره کول دي، چې په اساسي قانون کې هم تثبيت شوې ده. د ملي امنيت شورا په چوکاټ کې د امنيتي ادارو اداره کول دا امر په بنسټيزه توګه پلی کوي. د ملي امنيت شورا يوه بله مهمه او بنسټيزه دنده امنيتي ادارو ته د مالي امکاناتو ځانګړي کول او د هغې د کارونې لپاره د ځانګړو اصولو چمتوکول دي. هره يوه افغانۍ چې د امنيت د خوندي توب په موخه ځانګړې کيږي په حقيقت کې د دې مانا لري چې دا پيسې په انکشافي او د خدماتو په برخه کې نه لګول کيږي. نو له همدې امله بايد په دې برخه کې دهرې روپۍ کارول ځانګړې نتيجه ولري، تر هغې چې ولس د دې ډاډ تر لاسه کړي چې د دوی هره روپۍ د امنيت د خوندي توب لپاره، چې د هغوي بنسټيزه غوښتنه ده، لګول کيږي. د امنيتي ادارو ستونزو رسيدګي لومړيتوب دی، خو نتيجهيې بايد په ځانګړي توګه روښانه وي. دا نتيجه بايد په منظم ډول د ولس په مخ کې کېښودل شي، چې د درې ادارو دولت، امنيتي ادارو او ولس تر منځ اړيکې په پرله پسې ډول ټينګې وي.

**پولیس**

په راتلونکو پنځو کالو کې به د پولیسو پام خپلې اصلي دندې، د قانون تطبیق، ته ور واړول شي. اوسمهال نوي سلنه پولیس دملی اردو دنده تر سره کوي. پولیس مخامخ په داسې حال کې په جګړه کې ښکیل دي، چې په دې برخه کې یې ځانګړې زده کړې نه دي تر لاسه کړي. له همدې امله پولیسو خپله اصلي دنده چې د قانون حاکمیت دی پرې ایښې او پر داسې دنده بوخت دي، چې په دوی پورې اړه نه لري. هغه لګښت چې دولت او ټولنه یې له مالي او ځاني پلوه پرې کوي، ډېر درووند او دتوجیه وړ نه دی. سلګونه پولیس په داسې یوه چاره کې خپل ژوند له لاسه ورکوي چې دنده یې نه ده او له بلې خوا د ډیر لګښت لامل کیږي. دا ځای دی، چېکار د مربوطه ادارې له لوري نه تر سره کیږي، نو باید په لومړي سر کې پولس دیو معین نصاب څښتنان شي.

هر څوک چې دپولیسو یونیفورم اغوندي باید په مسلکي بڼه وروزل شي. دپولیسو مسلکي کېدل دمدني ټولنې مهم رکن دی. دناوسله والو پولیسو شتون چې دیو لرګي په زور قانون پلی کوي، په یو هیواد کې دسیاسي ثبات تر ټولو ستره نښه ده. دیو واکمن، بېطرفه او د باور وړ ارګان په توګه دپولیسو مسلکي توب، هغه معیارونه دي چې په اساس به یې له بې ثباتۍ نه دثبات پر لور حرکت وارزوو.

پولیس باید له تنظیمي ډلو رابیل شي، په ټوله معنی ملي شي او په مذهبي اخلاقو سمبال وي. پولیس باید له زړه نه اساسي قانون ومني، خپله دنده یې په شعوري ډول زده کړېوي، دټولنې له دود او دستور نه خبر وي، له خپلې ټولنې سره دیو امانت کاره په توګه په اړیکه کې وي او ځان دیو قانوني نظام دحکمونو پلی کوونکی وګڼي. دې موخې ته رسېدل وخت ته اړتیا لري، خو راتلونکي پنځه کاله ښایي د دې لپاره بنسټ جوړکړي او د دې حرک لوری وټاکي. زموږحکومت به ژمن وي، چې په دې برخه کې عملي ګامونه په پام کې ونیسي او په تطبیق کې یې حساب ورکوونکی وي. د پولیسو او خلکو تر منځ داړیکو شفافیت او روښوالی او دپولیسو لهدندې د سمې اجرا کولو د اطمینان په موخه باید میاشت په میاشت دخلکو له لوري څارنه وشي. تر هغې چې موږ وکولای شو ثابته کړو، چې پولیس دیو ولسواک نظام دټینګولو وسیله ده، نه دحکومت له لوري دخلکو دزورولو او یا هم دقانون نه دتښتېدو او ملوک الطوایفی وسیله.

**ملی اردو:**

دملي اردو اساسي دنده دخاورې او په ټول هېواد کې لهملي حاکمیته دفاع کول دي. له همدې امله باید ملي اردو هغه وظیفه چې باید پولیس یې تر سره کړي، هغوی ته ورپرېږدي. د ملي اردو دنده دهیواد سرحدي پولوساتل او دهغو ناامنیو پر وړاندې مبارزه ده چې زموږ ملي حاکمیت تر ګواښ لاندې

راولي. نو ځکه باید اردو دځواک دکارونې لپاره تر ټولو وروستۍ وسیله وي. تر ټولوښه اردو هغه ده چې نظام یې دکارونې اړتیا ونهویني. په دې برخه کې دکاناډا اردو یوه ښه بېلګه ده چې یو مهال یې دشتون اړتیا تر پوښتنې لاندې راغله، چې بیا یې دخپل خدمت طرز بدل او د قوې د اعمال پر ځای پر داسې یو ځواک بدله شوه، چې خلکو ته به یې مدني خدمات وړاندې کول. دطبیعي پېښو پرضد مبارزه، د پوهنې او روغتیا په پراختیا اونورومدني فعالیتونوکې ونډه اخیستل، دخلکو تر منځ یې داردو محبوبیت زیات کړ. نو ځکه، په هغه وخت کې چې له اردو په فعاله توګه ګټه نه شي اخیستل کیدای، باید پر هغو دندو وګمارل شي چې ولس ورته اړتیا لري.

دنظام مشروعیت درې اساسي ارکان لري، چېدولت، خلک او اردودي. هغه اردو چې خلک پرې باور ولري اوخلک یې دملي حاکمیت د تأمین وسیله وګڼي، د ملت او حکومت تر منځ داړیکو دستونزې په حلولو کې مهم رول لوبولای شي. زموږ اردو چې د مکلفیت په اساس نه ده، دې موخې ته درسیدو لپاره تر ټولو ښه بیلګه ده. د خلکو لخوا د اردو ملاتړ د نظام دمشروعیت یو مهم اصل دی. زموږ په سیاسي تاریخ کې، موجودې ستونزېپه نظر کې نیولو سره، اردو هیڅکله دسیاسي مشرتابه رول نه دی تر لاسه کړی. د ملکي زعامتمنل هغه مهم اصل دی چې باید په وسله والو ځواکونوکې پیاوړی شي او د یو کلتور په توګه په کېښنستېز شي.

بل مهم اصل چې داردو اړیکې له دولت اوخلکو سره ټینګوي، پر روابطو دضوابطو برلاسی، دمسلکي اصولو پلي کول او په اردو کې دمراتبو سلسلې ته پام کول دي. زموږ په حکومت کې به په اردو کې ترفیع او تقاعد دځانګړو اصولو له مخې تر سره کیږي. دې اصولو ته احترام دسیاسي نظام او اردو تر منځ داعتمادفضا دپیاوړي کوي او هغه مهمې کړنې تر سره کیږي، چې په اساس یې اردو دیو معتبر بنسټ په توګه خپل اعتبار او پخوانی موقف تر لاسه کوي. زموږ د اردو هغه مهم قشر چې ډېره پاملرنه ورته نه ده شوې دبریدملانو ډله ده. بریدملان دمنصبدارانو او سرتیرو تر منځ دپله حیثیت لري. یو زیات شمیربریدملانو دخپل خدمت موده غزولې ده، خو دمنصبدار کیدو زمینه نه ده ورته برابره شوې. زموږ یوه ژمنه دا ده، چې د دې بریدملانو وضعیت به مطالعه کړو او په شفاف ډول به ورته یا دمنصبدارۍ زمینه برابره او یا به د یې د ملي پولیسو په لیکو کی جذب کړو. ځکه دا یوه لوستې او دتجربو لروونکي قوه دهچې باید د مسلکي ارتقا زمینه ورته برابره شي. موږ په سیمه کې دیوې سترې پوځي اکاډمۍ دپرانستې په درشل کې یو، زموږ اردو باید په رښتیني ډول مسلکي شي او زموږ ځوان نسل چې په تېرو دیارلس کالو کی یې ګڼې تجربې تر لاسه کړي، باید له ملی لید لوري سره له ټیټوڅوکیو څخه لوړو څوکیو ته ترفیع وکړیاو دراتلونکي نسل روزنه باید دځانکړو اصولو او معیارونو له مخی وشي. داسې به یوه دباور وړ اردو رامنځته شي او دنظام دړنګیدو ستونزه به مو ورځنۍ وېره نه وي.

### د ملي امنیت اداره

په اوسني عصر کې د ملي امنیت اداره د یوه بنسټ په حیث د باثباته ټولنې مهمه برخه ده. په ځانګړې ډول زموږ د هېواد په خاصو شرایطو کې پرې تکیه کول ډېر ضرور دي، ځکه وطن مو د رسمي او نارسمي شبکو د ټکر محراق ګرځېدلی دی چې ټول یې د نظام جوړونې بهیر له ګواښ سره مخ کوي. ځکه نو د ملي امنیت اداري نقش ته په پام سره او د هغو د شبکو پیاوړتیا به زموږ د حکومت له لومړیتوبونو څخه وي. دغې موخې ته د رسېدو لپاره څو لومړنیو ګامونو ته اړتیا لیدل کېږي:

۱- ټول امنیتي فعالیتونو باید د ملي امنیت په اداره کې متمرکزه شي او کاري تداخل له منځه یوړل شي.

۲- د ملي امنیت اداره باید د ملي پوځ او ملي ځارندوی په څېر د قانون تر حاکمیت لاندې وي او دا باید تثبیت شي چې په دې اداره کې ضوابط پر روابطو حاکم دي.

۳- د ملي امنیت لګښتونو چې په ډېری هېوادونو کې پټې بودجې لري، باید د یوې صلاحیت لرونکي او پیاوړي ملي بنسټ چې له دریو دولتي بنسټونو جوړ وي په پرله پسې ډول تر څارنې لاندې وي، چې د مالي سرچینو له ناوړې او نامؤثرې ګټې اخیستنې مخه ونیول شي.

۴- دا چې موږ د هغو هېوادونو په کتار کې یو چې د سلطنتي رژیمونو له ضبط احوالاتو څخه بدې خاطرې لري او همدا ډول مو د کیڼ اړخه افراطي رژیمونونو له استخباراتي سیستم څخه جدي زیانونه لیدلي دي، نو ځکه باید یوه صلاحیت لرونکي ملي کومېټه باید جوړه شي چې د ملي امنیت اداري ته د اساسي قانون په چوکاټ کې واضح او څرګند معیارونه وړاندې کړي او د ملي امنیت د فعالیتونو حدود په مطلق ډول د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې راولي. د ملي امنیت اداره باید له یوه اړخه دا صلاحیت ولري چې د نظام او جامعې د ساتنې لپاره ګړندي او چټک اقدامات ترسره کړي، ځکه له دې پرته به د نظام او ټولنې امنیت له ګواښ او خطر سره مخ کېږي، خو له بله اړخه باید ډېر واضح شرایط موجود وي چې د دې ادارې د هر ډول سؤاستفادې یا د قانون خلاف کړنې مخه ونیول شي. په بېلا بېلو هېوادونو کې، په ځانګړې ډول جنوبي افریقا له نیلسن مانډېلا وروسته، او د لاتینې امریکا په هېوادونه کې د دغه ډول تعادل په ایجاد کې بریالۍ تجربې رامنځته شوې. موږ کولای شو له دغه ډول تجاربو څخه په استفادې او پر خپل ملي فرهنګ باندې پر اتکا داسې نتیجې ته ورسېږو چې د ملي امنیت اداري فعالیتونه هم مؤثره وي او هم د یوه شفاف حساب ورکولو او حساب اخیستولو سیستم څخه اداره شي چې له مخې یې په ټولنه کې سیاسي ثبات راشي.

## د ټولنې لخوا د امنیتي ځواکونو ملاتړ

د افغانستان وسله وال ځواکونه چې پوځ، څارندوی او د ملي امنیت اداره ده، له جامعې سره یو ټولنیز قرارداد لري. دوی په خپله خوښه منلې ده چې د نظام د ساتنې او پیاوړتیا لپاره فداکاري وکړي او خپله وینه ورکړي. داسې اونۍ نه شته چې زموږ امنیتي ځواکونه ټپي یا شهید و نه لري. د ټولنې هیله دا ده چې وسله وال ځواکونه امنیت وساتي، خو باید اعتراف وکړو چې له امنیتي ځواکونو سره زموږ قرارداد یو اړخیز دی. زموږ لپاره د ثباتایجادول د دغو ځواکونو وجیبه ده، خو لا تر اوسه په عمومي باور سره دې اجماع ته نه یوو رسېدلي چې د امنیتي ځواکونو حقوق هم باید په پام کې ونیسو او په څرګنده ووایوو چې ددغو ځواکونو پر وړاندې د ټولنې وجایب څه دي. په همدې دلیل، په دریو ټکیو کې له امنیتي ځواکونو سره قرارداد زموږ د حکومت د پام وړ دی:

۱- د امنیتي ځواکونو لپاره د ژوند مساعد شرایط جوړول، له دغو ځواکونو سره زموږ د قرارداد له لومړیتوبونو څخه دی. سره له دې چې په سلګونو جریبه ځمکه د دفاع وزارت تر حاکمیت لاندې ده، لېترلېږه د قول اردو تر څنګ یو ښارګوټی نه دی جوړ شوی چې د دغو ځواکونو کورنۍ وکړای شي هلته په ارامۍ ژوند وکړي. ځکه نو د افسرانو د کورنیو د ژوندانه لپاره د اختصاصي ښارګوټیو جوړول ضروري دي چې هلته یې اولادونه ښوونځي ته لاړ شي، په اسانۍ روغتیایي اسانتیاوې، اوبه او برېښنا ولري. دغسې به دا قشر، چې په دوامداره توګه د نظام او امنیت له مخې له ګواښ سره مخ دی، په دې باوري وکړي چې د ټولنې او دولت له لوري پرې پانګونه کېږي.

۲- د شهیدانو ورثې ته پاملرنه او د جګړې د ټپیانو د حقوقو تامین یو بل مورد دی چې زموږ حکومت به ورته ته جدي توجه ولري. د ملي امنیت روغتون او په قول اردوګانو کې د پوځ نورو روغتونو ښه نوم ګټلی دی. موږ به کوښښ وکړو چې دغه نمونې د پوځ او څارندوی په ټولو روغتونونو کې عملي شي. په دې اساس د شفاف زعامت او مدیریت د جوړولو لپاره پراخه پانګونه ضروري ده چې زموږ د ټپیانورغېدا ممکنه شي، د شهیدانو د کورنیو مشخص حقوق تامین شي او پر کورنیو یې پام وشي. په دې ډول به موږ د داسې بنسټونو په لور لاړ شو چې د خلکو، پوځ او دولت تر منځ دوه اړخیزباور جوړ کړي.

۳- د امنیتي ځواکونو له نقش څخه دفاع د دولتونو له مهمو وجایبو څخه ګڼل کېږي. دا چې دغه ډول ځواکونه د هر ډول ګواښ په وړاندې چې دولت ورسره مخ کېږي قرباني ورکوي او درېږي، دولت او ټولنه مکلف دي چې د دښمنانو په وړاندې د هغوی له نقش او حیثیت څخه دفاع وکړي. د هغوی د وینو او قربانیو په اړه بې اعتنايې و نه کړي چې د دوي د زړه ماتېدو او روحیې د کمزوري کېدو سبب کېږي.

## د امنيتي ځواکونو تعليم، تجهيز او په وسلو سمبالول

د امنيتي ځواکونو تعليم، تجهيز او تسليح زموږ د نظام جوړولو په بهير کې يوه له اصلي اړتياوو څخه ده. د وروستيو دريو لسيزو جګړو په بهير کې زموږ د دغو بنسټونو وړتياوې او ظرفيتونه هم د تجهيزاتو او لوژستيکي امکاناتو او هم د پوځي نظم او ډيسيپلين او قواعدو له مخې صفر ته رسېدلي دي. په څرګنده ويلای شو چې تېر ديارلس کاله د طالبانو د حاکميت له سقوط سره همهاله او په هېواد کې د نوي پېر له پيل سره هېڅ مو عسکر او څارندوی نه درلود چې يونيفورم ولري او لږ تر لږ د پوځي نظام له نورمونو سره جوړ وي. په همدې ترتيب په ټول هېوادکې مو د پوځ د استفادې يا استوګنې لپاره يو مناسب تاسيس موجود نه و، چې وکړای شي د يو ځواکمن امنيتي نهاد په حيثيت استازيتوب وکړي.

د تېرو ديارلسو کلونو په اوږدو کې ملياردونه ډالر زموږ د وسله والو ځواکونو د تعليم، تجهيزاو تسليح لپاره لګول شوي دي. په دې پړتله بايد پوه شو چې پر دې ټولو نيمګړتياوو او نيوکو سربېره د نړيوالو دوستانو په ملګرتيا پر امنيتي زېربناوو باندې ستره پانګونه شوې ده او په دې برخه کې ګړندي پرمختګونه شوي دي چې بايد سترګې پرې پټې نه کړو.

د امنيتي قرارداد په چوکاټ کې چې د امريکا د متحدو اياﻻتونو سره شوی دی د نهو کلونو (۲۰۱۴ – ۲۰۲۴) لپاره د شپږ دېرش عشاريه پنېځه ميليارد ډالره په کچه مرسته د امنيتي ځواکونو د تعليم، تجهيز او بياجوړونې لپاره ژمنه شوې ده. له امريکا متحدو اياﻻتونو سره د امنيتي تړون په ﻻسليک به دغه شپږ دېرش عشاريه پنځه ميليارد ډالره په بشپړ ډول د نهو کلونو لپاره د هېواد د امنيتي ځواکونو بودجې ته ځانګړې کېږي. روښانه ده چې هر هېواد د بودجې د تخصيص او لګښت لپاره خپل ځانګړي ملي پروسه لري چې په اساس يې له موږ هم د متقابلې ژمنې د ترسره کولو توقع کېږي. د دغو متقابلو ژمنو شرايط له امريکا متحدو اياﻻتونو او ناټو سره امنيتي تړون په متن کې په څرګند ډول تعريف شوي دي. اما د دې تر څنګ دغه ژمنې چې د شيکاګو په کنفرانس کې شوي ډېره مشخصه او واضحه محتوا لري، چې افغانستان کولی شي د خپلو امنيتي ځواکونو په پښو درولو لپاره پرې ډډه ولګوي.

دا بايد په ياد ولرو چې د دغو پيسو سم مديريت زموږ لپاره حياتي اهميت لري. که د تېرو ديارلسو کلونو بهير ته وګورو په څرګنده وينو چې موږ له نړۍ والو مرستو څخه د ګټې اخېستو لپاره د مديريت روښانه ليدلوری نه درلود او دغه مهم کار ته مو پاملرنه نه ده کړې چې نړۍ واله ټولنه خپل امکانات په کومو موخو زموږ په واک کې راکړي په کومو شرايطو کې به دغه امکانات بندېږي او زموږ تر ټولو غوره لومړيتوب به ګټې اخيستو او کارولو لپاره څه وي. په همدې دليل، په ځينو مواردو کې امکانات د سيلاب په څېر بهېدلي او د يو ځای راټولېدو په خاطر يې خرابۍ رامنځته کړي دي.

خو په ځينو نورو حالاتو کې زموږ حالات د قحطۍ په څېر دي چې هغو هم درنې ستونزې زېږولي دي. د دغو ستونزو ستر لامل دا دی چې د نړۍ والې ټولنې ژمنې او امکانات په دغو ديارلس کلونو کې د يوه مشخص او معلوم قرارداد پر اساس نه وې او خپله مرستندويي ځواکونو او هېوادونو پرېکړه وکړه چې څه وخت او څومره امکانات د کومو موخو لپاره افغانستان ته راولېږي.

په راتلونکو کلونو کې ددغه ډول حالت د تکرار اټکل کېدی شي. په دغو کلونو کې د منابعو او امکاناتو مديريت په بنسټيز ډول په دې پورې تړلي دي چې موږ څه ډول بريالي کېږو د خپلو امنيتي ځواکونو د زعامت لپاره پياوړي اواغېزناک بنسټونه رامنځه کړو. د ساري په ډول، زموږ د امنيتي ځواکونو د تيلو او برېښنا لګښت په يوه کال کې له يو ميليارد ډالرو اوړي. د تېرې لسيزې په ځانګړې شرايطو کې دغه پيسې د يوې اختصاصي بودجې برخه وه چې د امريکا متحدو ايالاتونو د دفاع وزارت ته په اسانۍ سره ورکولې. په راتلونکي کې دغه ډول بيروني اختصاصي بودجه نه لرو. په همدې دليل، په دقيقه لومړيتوبونو په سمه توګه تعين اوپه شفاف ډول مؤثر کړو.

د امنيتي قرارداد په چوکاټ کې دغه حق لرو چې د نړيوالو له لوري د وعده شويو پيسو په بېلابېلو فصلونو او بابونو کې ترې ګټه واخلو. په همدې اساس، څومره چې مو په هرهسطحه (لکه برېښنا، تېل او روغنيات) لګښتونه منسجم شي، په همغه کچه د دې مجال مومو چې د وسله والو ځواکونو د تجهيز او زېربېنايي پراختيا لپاره له خپلو امکاناتو او پيسو ګټه واخلو. نو داسې به دغه ګامونه د دې لامل شي چې د تحول د دورې په پای کې په واقعي ډول د باصلاحيته، کاري او د خلکو د باور وړ امنيتي بنسټونه ولرو. په دې ډول به خلک داسې باور وکړي چې امنيت يې د هېواد له حل شويو مسايلو څخه دی، نه دا چې د يوې ننګونې په توګه په مکرر ډول د خلکو ذهنيت خراب ساتي.

### د ښې حکومتولۍ ځانګړنې

ښه حکومتولي د مدني ټولنې د وګړو له اساسي حقونو څخه یوحق دی. د ښې حکومتولۍ ځانګړنې عبارت دي له:

- د اساسي قانون تطبیق او رعایت ته ژوره او پایداره ژمنتیا؛
- د اساسي قانون د حکمونو په چوکاټ کې د قضائیه قوې د استقلال بشپړ رعایت؛
- د ملي شورا د قانون جوړولو حق  او په اساسي قانون کې د راغلیو حکمونو پر بنسټ، د ټولو دندو او واکونوبشپړ رعایت؛ او
- د حکومت او په ځانګړي ډول د وزارتونو د ظرفیت لوړول او د کابینې د واکونو او مسؤولیتونو پیاوړتیا.

دولت د ښې حکومتولۍ له لارې وګړو ته لازم خدمتونه او اسانتیاوې برابروي. دا خدمتونه او اسانتیاوې په څو ډلو وېشل شوې دي:

**لومړۍ ډله،** هغه خدمتونه او اسانتیاوې دي چې یوازې دولت یې برابرولی شي، لکه د قانون حاکمیت، د دولتي جوړښتونو مدیریت، د امنیت تامین او داسې نور. که دا ډله خدمتونه او اسانتیاوې دولت برابر نه کړي، نو په فردي او ډله ییز ډول د هغو د برابرولو هڅې د ټولنې د اړیکو او مناسباتو د ګډوډي، د وګړو تر منځ  نه برابرۍ، د اخ و ډب او نامساعدې فضا د رامنځته کېدو لامل کېږي. پر دې بنسټ دغه ډله خدمتونو او اسانتیاو ته د لاسرسي لپاره له دولت پرته بل بدیل نشته.

**دویمه ډله،** هغه خدمتونه او اسانتیاوې دي چې متشبثینو، پانګوالو او سیاسي بنسټونو ته یې د سیالي ډګر تعریف کړی او په دغه سیالۍ کې د فعال ګډون لپاره ورته زمینه برابروي. د بازار مدیریت، د بنسټونو تر منځ د سیالي د اصولو او قواعدو تدوین، انجمنونه او سیاسي ګوندونه، د ویناد ازادي او د رسنیو د فعالیت لپاره د قانوني بریدونو تنظیم او د قانوني مسوولیتونو درک او ترسره کولو ته د وګړو مجبورول او په اساسي قانون کې راغلیو ازادیو ته درناوی د دغو خدمتونو بېلګې دي.

**دریمه ډله،** هغه خدمتونه او اسانتیاوې دي چې د شلمې میلادي پېړۍ په جریان کې د دولتي خدمتونو برخه وګرځېدې. د زده کړې وروزنې، روغتیا لارې چارې برابرول او د پرمختیایي پروژو ترسره کول د دغه

ډول خدمتونو او اسانتیاوو بېلګې دي. په تېرو پېړیو کې دولت د ملت پر وړاندې ددغه ډول خدمتونه او اسانتیاود برابرولو وجیبه نه لرله، خو د نولسمې پېړۍ په پای او د شلمې پېړۍ په بهیر کې د دغو خدمتونواو اسانتیاوو برابرول د دولت د اساسي دندو برخه ګرځېدلې ده. هم اساسي قانون او هم د افغانانوعامه افکار په دې اصل اجماع لري چې دغه ډول خدمتونه او اسانتیاوې باید دولت برابرې کړي.

**څلورمه ډله،** هغه خدمتونه او اسانتیاوې دي چې د شلمې پېړۍ په پای کې د هغو برابرول د دولت د دندو په لېست کې ور زیات شول. د بشر د حقونو تامین، د ښځو او زیانمنو شویو ډلو وضعیت ته ځانګړې پاملرنه، چاپېریال ساتنه، د ماشومانو او بې سرپرسته کسانو د خوړو مصونیت، د بې وزلي او وزګارتیا له منځه وړل او د ناورین په شیبو کې د بازار مدیریت له دغو دندو ګڼل کېږي.

د ښې حکومتولۍ دغو څلورو ډلو وجیبو ته په پام، نړۍ واله تجربه موږ ته ژوندي درسونه راښیي. د دې تجربې پر بنسټ پوهېږو چې ښه حکومتولۍ په څو عمده اصولو استواره ده:

د دې لپاره چې دولت خپلې منل شوې وجیبې په ښه توګه ترسره کړای شي، نو لومړنۍ اړتیا یې داده چې دا وجیبې په شفاف ډول د قانون په چوکاټ کې تعریف شي او د هغود عملي کولو لپاره هم د ټاکلو اصولو او قواعدو په چوکاټ کې مشخص جوړښتونه وضع شي.

د متخصصو کدرونو د روزنې لپاره، د هغوی د دندو د ټاکلو او د اداري په چوکاټ کې، د هغوی د کړنو د ارزونې لپاره دې مشخص اصول او قواعد وضع شي او قانوني اړوندې مراجع دې په لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال کې دې ټولو کړنو ته پام وکړي.

د بودیجې د تخصیص او پر وخت د هغې د لګولو لپاره شفاف او اغېزناک مدیریت رامنځته شي. چې د تصمیم نیولو په روښانه او قانوني معیارونو د حکومتولۍ په بېلابېلو کچو عمل وکړي او پرېکړې په سمه او اصولي توګه عملي کړي. د حکومتولۍ له بېلابېلو کچو څخه موخه د کلي، ولسوالۍ، ښاروالۍ، ولایت او مرکزي ادارو په کچه حکومتولي ده. د حکومتولۍ د دغې هرې کچې واکونه او مسوولیتونه باید په مشخص او واضح ډول وټاکل شي او په دې برخه کې هر ډول ابهام د شخړې او کشمکش لامل کېږي او په دې سربېره، د حکومت مؤثریت له منځه وړي.

د خلکو د مشارکت تامین، په ځانګړي ډول په هغو برخو کې چې د حکومتولۍ موضوع هغوی ته د خدمتونو وړاندې کول وي. تجربو ثابته کړې چې د خدمتونو له مستهلکینو سره مشوره تل د منابعو ښه مدیریت او د مشروعیت تر تحکیم لامل کېږي.

هغه پرېکړې چې کاملاً له اداري فساد څخه خالي وي، خو د يوې حاکمې بيوروکراسي له ليدلوري مطرح شي، د هغو پرېکړو په پرتله چې له خلکو سره په اړيکه کې طرحه شي، لومړيتوبونه يې خلکو ټاکلي وي او خلکو د هغو په اجرا او تطبيق کې فعاله ونډه اخيستې وي، د خلکو په نزد لږ مشروعيت او مقبوليت لري.

د افغانستان په څېر هېوادونو کې چې تراوسه يې حکومتي بنسټونو د ټولنې په فرهنګ او باورونو کې ريښې نه دي ځغلولې، خلک له تخنيکي پوهې څخه زيات د مخورو او باوري کسانو په ضمانتونو اتکا کوي. دا په دې مانا که غواړو داسې حکومت رامنځته کړو چې د خلکو باور او ملاتړ ولري، نو په لومړي ګام کې بايد داسې کار وکړو چې خلک په دولتي بنسټونو باور وکړي او هغه خپل وګڼي. د دې لپاره تخنيکي پوهه ضروري ده، خو کافي نه ده. تخنيکي پوهه د حکومت ماشين په حرکت راولي او مديريت يې کوي، خو په دې ماشين او د حرکت په ډول يې د خلکو باور بايد د افرادو په واسطه تامين شي چې د سيمې د خلکو لپاره باور ګټل کېږي او خلک د هغوی له لارې خپل حضور په حکومت کې تمثيل شوی ويني او له دې لارې حاضرېږي چې د حکومت په پروګرامونو او طرحو کې شريک شي او حکومت ته مشوره ورکړي.

د زيات وضاحت لپاره بيا هم ټينګار کوو چې زموږ په ټولنه کې سياسي ثبات په دوو تخنيکي او ولسي برخو اتکا لري. ځکه د ثبات او امنيت احساس په هممهاله توګه يو روحي او فکري احساس دی. ټولنه چې ځان د سقوط په خطر کې ويني، نو په لومړي ګام کې پر تخنيکي پوهه اتکا نه کوي. هغه چلند چې د ټولنيز وجدان پر بنسټ په ټولنه کې راڅرګندېږي، يا په خلکو کې د ثبات او امنيت احساس پياوړی کوي او يا د سقوط او ګډوډي خطر د هغوی باور زياتوي. پر دې بنسټ زموږ په هېواد کې، په ځانګړي ډول په اوسنيو شرايطو کې اړينه ده چې د ښې حکومتولۍ طرحه په لومړي ګام کې د خلکو د پراخ مشارکت او د ولسي مشورې د اصل د تامين په صورت کې رامنځته شي. په دې برخه کې له نېکه مرغه زموږ فرهنګ موږ ته ښه بنسټ په واک کې را کوي، ځکه له يوې خوا مشوره زموږ په ديني لارښوونو کې يو ښه او اساسي اصل دی او له بلې خوا زموږ سيمه‌ييز دودونه په مشوره، جرګه او د مرستې په اصولو ټينګار کوي.

د ښې حکومتولۍ په برخه کې د پورتنيو اصولو په درک سره، د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې د اصلاح لپاره زموږ ځانګړي وړانديزونه په لاندې ډول دي:

## اجرائیه قوه

اجرایه قوه د ولسمشر د دندو اجرایوي مټ دی. اساسي قانون ولسمشر ته شل مشخصې دندې سپارلې دي. په دې سربېره د اساسي قانون په بېلابېلو برخو کې نور صلاحیتونه هم شته چې ولسمشر ته ځانګړي دي. بین المللی تجربې ښیي چې په ریاستي نظام کې د دولت مؤثریت په یو چوکاټ کې د ولسمشرۍ د صلاحیتونو په بنسټي کولو پورې اړه لري، چې له هغې لارې د ولسمشر فردي صلاحیتونه د ولسمشرۍ بنسټ یا نهاد ته انتقال کړي.

د ټولو چارو له ترسره کولو مخکې، دا یادونه حتمي ده چې ولسمشر د اساسي قانون مطابق هم د دولت رئیس دی او هم د حکومت. د ولسمشر دا دواړه دندې باید د اساسي قانون د حکمونو مطابق تفکیک شي. په ولسمشري کې ولسمشر او د هغه دوه مرستیالان شامل دي او دا درې واړه یو ځای د ولسمشرۍ بنسټ یا موسسه تشکیلوي، چې د واحد ټیم په توګه د قانون په چوکاټ کې د ولسمشري مقام دندې او صلاحیتونه عملي کوي.

### د ولسمشرۍ د صلاحیتونو بنسټي کول

د قانون په چوکاټ کې د ولسمشرۍ د صلاحیتونو د بنسټیز کولو لپاره، د داسې تدابیرو اړتیا ده چې د د ولسمشرۍ د بنسټ پر ټولو برخو د ولسمشر د فردي صلاحیتونو په وېش کې مرسته وکړای شي. اساسي قانون په مشخص ډول ولسمشر ته اجازه ورکړې چې خپلو وجایبو ته د رسېدو لپاره د قانون له حکمونو سره سم ځانګړې اداري او کمېسیونونه جوړ کړي. همدارنګه ولسمشر کولای شي د ولسمشرۍ بنسټ د دندو، د حکومت او وزیرانو شورا د ریاست لپاره د اړتیا له مخې کمېټې جوړې کړي. زه به په خپل حکومت کې ولسمشر ته سپارل شوې دندې د اړوندو کمېټو او ادارو له لوري عملي کړم.

د ولسمشرۍ بنسټ د هرې ادارې او کمېټې د مدیریت لپاره د ملي مشارکت او مسلکي اهلیت د اصل په رعایت سره یو ارشد مشاور، درې مرستیالان او لازم شمېر وړ او مسلکي کارکوونکي ټاکل کېږي. هره کمېټه د ولسمشر یا د هغه د مرستیالانو تر مشرۍ لاندې اوونیزې غونډې لري چې د خپلو مسؤولیتونو په ساحه کې په ټولو عمده مسایلو غور وکړي او پایلې ته ورسېږي. د دې کمېټو پرېکړې د منسجمې او جمعي طرحې پربنسټ تعقیبېږي.

موږ نن ورځ تخنیکي اجماع نه لرو چې د حکومت ټول کاري پروګرامونه د مختلفو تخنیکي برخو تر منځ د تفاهم پر بنسټ ترسره کړي، ځکه نو د دې کمېټو افراد په خپلو اړوندو ادارو کې پر منظمو غونډو سربېره په خپل منځ کې منسجمې میاشتنۍ غونډې لري چې له یوه لوري یو د بل له کړنو او فعالیتونو سره بلد

شي او له بل لوري خپلې منفي او مثبت تجربې او لاسته راوړنې یو له بل سره شریکې کړي او په حکومت کې د کاري وضعیت د ښه والي لپاره ترې ګټه واخلي.

**د ولسمشري بنسټ ځواب ویونکی مېکانیزم**

د کمېټو جوړول او په اساسي قانون کې د راغلیو واکونو عملي کول، ولسمشر ته دا امکان برابروي چې لږ تر لږه په کال کې یو ځل په منظم او منسجم ډول د حکومت د کار او فعالیتونو راپور ملي شورا او له هغې لارې ټول ملت ته وړاندې کړي. همدارنګه دا راپور ورکول به ملي شورا ته دا امکان ورکړي چې د ملت د حساب اخیستلو د قانوني مرجع په توګه د ولسمشر له اجراآتو څخه په لیکلي ډول مالومات ولري او په هغه هکله په دقت نظر څرګند کړي. د شفافیت د رامنځته کولو لپاره به مشخص مېکانیزم په پام کې ونیول شي. په راپور کې د مدني ټولنې، رسنیو او یا د ملي شورا د غړو له لوري د هر ډول تېروتنې د موندلو په صورت کې هغې ته د رسېدو لپاره جدي اقدام کېږي، نیمګړتیاوې او تېروتنې به سمېږي.

د دې کمېټو عمده موخه د خلکو او دولت تر منځ د باور فضا رامنځته کول دي. کمېټې د دې وسیله برابروي چې پروګرامونه تطبیق او له مفکورې څخه په عمل بدل شي. پر دې بنسټ کمېټې د لنډمهالو، منځ مهالو او اوږدمهالو اقداماتو تر منځ نښلوونکی پول دی. زما په نظر د باور رامنځته کول ایجابوي چې موږ په لومړني پړاو کې یو لږ منظم سل ورځنی پلانونه د خپل کار دستور وګرځوو. په دې مانا چې له ټاکنو وروسته د ادارې د انسجام لپاره ۴۵ورځې په کار دي چې پروګرامونه عملي او تطبیقي بڼه ونیسي. د هر سل ورځني پلان لپاره لازم او کافي فرصتونه په پام کې نیسو، څو لومړني اجراآت دقیق وارزول او وڅېړل شي. غیرعمدي تېروتنې، ستونزې او خنډونه تشخیص شي او د وروستي پروګرام د ښه والي لپاره له یوه انتقادي لید لوري برخمن شو.

په همدې ډول کله چې وروستی سل ورځنی پلان پیلېږي، نیمګړتیاوې او تېروتنې سمېږي او د کار ځواک په دویم پروګرام تمرکز کوي. په دې ډول پروګرامونه یو په بل پسې تدریجي او دوامدار حالت نیسي. د پروژو په پرتله د باور کچه زیاتېږي، منځمهاله او اوږدمهاله پروژې رامینځ ته کېږي او دا هیله راټوکېږي چې د پنځو کالو په پای کې به ټولنه د اوږدمهاله موخو د ټاکلو لپاره پوره تیاری ولري.

دا چې په په افغانستان کې کورنیو جګړو او تېرو ناخوالو خپلمنځي باور په له منځه وړی، لومړی باید لنډمهاله باور رامنځته شي، څو وروسته د اوږدمهاله طرحو لور ته لاړ شو. په ځانګړي ډول زموږ ځوان نسل باید د لنډمهاله، منځ مهاله او اوږدمهاله پروګرامونو په هکله د بحث نوښت په غاړه واخلي. اوس زموږ په هېواد کې د عمر اوسط ٦٢ کاله ته رسېدلی دی. په ۲۰۰۱ کال کې د عمر اوسط ۴۴ کاله وو. دا رقم یو له هیلو ډک پرمختګ رانښيي.

پر دې بنسټ زموږ ځوانان چې د ۲۰ او ۴۰ کالو تر منځ دي کولای شي د تېرو نسلونو په پرتله په مراتبو د اوږد ژوند انتظار ولري. په همدې دلیل حتمي ده چې زموږ ځوان نسل د راتلونکي لپاره د یو منسجم لیدلوري په رامنځته کولو کې مخکښ شي. د دوی ژوند په راتلونکي پورې اړه لري او دا راتلونکی په اوږدمهالو طرحو او پروګرامونو له اتکا پرته د ډاډ وړ نه شي کېدای. له دې امله، د ولسمشري بنسټ کمېټې د نظریاتو د همغږي کولو وسیله کېږي چې زموږ لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو اړتیاوو ته ځواب وایي.

## په اساسي توګه د حکومت پیاوړي کول

یوې امن، هوسا او سوکاله ټولنې ته د رسېدو لپاره باید هر وزارت ته د کلیدي وزارت په سترګه وګورو. د کلیدي او غیر کلیدي وزارتونو تکفیک په حقیقت کې د ملت پر وړاندې دولت ته د سپارل شویو دندو د ارزښت کمول دي. کله چې وزارت ایجاد شوی دا مانا چې د وګړو یوې سیاسي اړتیا ته ځواب وایي. پر همدې بنسټ هر وزارت په خپل وار د خپل کار او مسوولیت په ساحه کې کلیدي موقعیت او رول لري. په همدې دلیل زما ژمنه دا ده چې په ټولو وزارتونو په اساسي ډول پانګونه کوم، څو د دولت ورسپارل شوې دندې چې په اساسي قانون کې تصریح شوې دي په موثر او شفاف ډول له ټولو هغو وزارتونو سره په همغږي، چې په ټاکلې حوزه کې په فعالیتونو کې ګډون سره کوي، عملي کړي.

## د وزارتونو تر منځ د کاري تداخل له منځه وړل

د وزارتونو تر منځ کاري تداخل د اجرایه قوې سم فعالیت ته لوی خنډونه جوړ کړي. د وزارتونو تر منځ د کاري تداخل د له منځه وړلو لپاره د یوې دقیقې او روښانه نظام‌نامې له لارې د هر وزارت دنده ټاکل کېږي او په وزارت کې د هر کس دنده مشخصېږي.

ولسمشر کرزي اوسنۍ اداره له یوه پیوندي پوستین سره تشبیه کړې. دا تشبیه ښیي چې اوسنۍ اداره په خپله له پیوند اود تشکیلوونکو اجزاو له ارګانیکې اړیکې څخه ځورېږي. د دې سیستم د پیوند دلیل د معاصر دوران له بېلابېلو لارو او لیدلوریو سره د تېرو پېړیو د اداري لارو او لیدلوریو ترکیب دی. اوسنی سیستم هغو اړتیاو ته په پام منځته راغی چې یوېشتمې پېړۍ موږ ته راکړې دي، خو هغه جوړښت چې اوس زموږ پر اداره حاکم دی او د هغه اسکلیټ تشکیلوي، عمدتاً د تېرې پېړۍ اړوند هغو ایډیالوژیو او مناسباتو محصول دی چې د تېر تاریخ په هره مقطع کې زموږ پر سیاسي برخلیک حاکم وو.

پر دې بنسټ زموږ لومړنۍ اړتیا د وزارتونو دندو ته هراړخېزه کتنه او د هر وزارت، د وزارت د افرادو او ادارو د مشخصو مسوولیتونو ټاکل دي.

دا اقدام به په عین حال کې د دې لامل شي چې خپلواکې او موازي ادارې دوباره د وزارتونو په چوکاټ کې په اساسي ډول جذب شي. صلاحیتونه او مسوولیتونه واضح شي او هر اړخیز حساب ورکول رامنځته شي. د وزارتونو شمېر به هم د ښې حکومتولۍ د ټاکلو موخو پر بنسټ وټاکل شي او د اړتیا په وخت کې د هغو وزارتونو شمېر چې کولای شي په یوه اړونده کړۍ کې په خپلو کې کار وکړي، کم شي. ښه حکومتولي له فساد څخه خالي ده او د ادارې غیر ضروري پاړسوب د فساد یوه نښه ده. ښه حکومتولۍ په یوه شفافه اړیکه او له خصوصي سکتورونو، مدني بنسټونو او عامو هېوادوالو سره د یو قانونمند تړون پر بنسټ خپل زیات رول، د خدمتونو برابرولو څارنې ته متمرکز کوي، نه دا چې په متمرکز ډول ټول خدمتونه په خپل انحصار کې ولري.

د پورتنۍ موخې د تحقق لپاره، په لومړي فرصت کې د وزیرانو شورا قانون او د هر وزارت د اجراآتو او دندو قانون له سره کتل او تصویبېږي

د وزارتونو په واسطه د حساب ورکولو فرهنګ دودول او پیاوړي کول:

د ښې حکومتولۍ او حساب ورکولو فرهنګ د رامنځته کولو لپاره، ښایي هر وزارت یوه درې اړخیزه قانونمند تعهد طرحه او عملي کړي. د وزارت او ملي شورا، ولسمشري او خلکو تر منځ تعهد.

لومړی تعهد به د وزارت او ملي شورا تر منځ وي. د دې ژمنتیا پر بنسټ د وزارت یو کلنې موخې او پروګرامونه په مشخص ډول تعریفېږي او نه یوازې وزیر، بلکې وزارت د مسوول اداري واحد په توګه د هغو د ترسره کولو مسوولیت لري. دویمه ژمنتیا د وزارت او ولسمشري تر منځ او درېیمه ژمنتیا د وزارت او خلکو تر منځ ده.

په دې صورت کې هر وزیر او وزارت د هغه تر مدیریت لاندې د ملت د استازو، ملت او ولسمشري پر وړاندې به مشخص او ټاکلی مسوولیت لري، د خپلو ټولو اجراآتو او فعالیتونو شفاف او اصولي ځواب ورکړي. که وزیر او یا د هغه له مدیریت لاندې ادارې بل هر غړی په وزارت کې د خپلو تصویب شویو پروګرامونو په ترسره کولو قادر نه وو، نو باید کار یې وڅېړل شي او قانوني پوښتنه ترې وشي.

ښه حکومتولي له یوې خوا د کارکوونکو د دندې په مصوونیت او له بل لوري د کارکوونکیو په واسطه د دندې په ترسره کولو هم مستلزمه ده. که کارکوونکي د ملت له باور څخه د یو پوست د اشغال په موخه ناسمه ګټه کړې وي، باید د دغه باور د ماتولو او د ملت د امکاناتو او فرصتونو د ضایع کولو په موخه ورڅخه جدي پوښتنه وشي. په درې ګونو قواو کې د څارنې او ځواب ورکولود مېکانیزم په اړه به په اړونده برخه کې زیات توضیحات ورکړل شي.

## د موازي ادارو مخنیوی

د ادارې یا موازي ادارو د پاړسوب د مخنیوي لپاره زما ژمنتیا دا ده چې ټولې خپلواکې او غیر ضروري ادارې، چې اوس په ناسنجول شوي شکل رامنځته شوې دي، همدارنګه نورې ادارې چې د بین المللي همکارانو په وړاندیز د دولتي ادارو پرځای رامنځته شوې دي، د ټولو په اړه به غور کېږي او په هغه صورت کې چې اړتیا یې په روښانه ډول محسوس نه وي، ښایي لغوه شي. کوم کسان چې په اوسنیو ادارو کې کار کوي، ټول د تخصص او کاري سابقې له مخې دولتي ته انتقالېږي. پر دې بنسټ د دغو ادارو لغوه کول د بېکارۍ لامل نه کېږي، بلکې د ادارې او نظام په مؤثریت بدلېږي.

په تېرو کلونو کې ناسالم اداري فرهنګ منځته راغی چې له امله یې بېلابېلې ادارې د خپلواکو ادارو په نوم رامنځته شوې چې فعلاً یې شمېر ۲۵ ته رسېږي. سره له دې چې د دې ادارو موخه په نظام کې د مؤثریت او شفافیت رامنځته کول دي، خو په خپله د عدم مؤثریت او په ځینو مواردو کې د فساد د رامنځته کېدو لامل شوې دي. دا ادارې چې د کوم وزارت تر مدیریت او څارنې لاندې نه دي، هیڅ بنسټ ته ځواب ویونکې نه دي. ولسمشر هم په هیڅ وجه د دې بنسټونو د کړنو د څېړنې او ارزونې توان نه لري. پر دې بنسټ زموږ ژمنه دا ده چې د دې ادارو کړنو او اجراآتو ته په بیا کتنې د هغو شمېر کموو او یا هره یوه تر یو وزارت لاندې راولو، مګر هغه ادارې چې د اساسي قانون د حکم مطابق د ولسمشري بنسټ اړوند دي.

اصلي ادارې باید د نظام د جوړښت په داخل کې پیاوړې شي. موازي ادارې د نړۍ په هېڅ ځای کې د مؤثریت لامل شوې نه دي. هغه ادارې چې د یوې اړتیا له مخې رامنځته شوې دي، په هغو کې د خپلواکي مانا د پروګرامونو او دندو د ترسره کولو په برخه کې خپلواکي ده، نه د حساب د نه ورکولو خپلواکي. دا تصور چې یوه خپلواکه اداره د هیڅ ارګان یا بنسټ پر وړاندې ځواب ویونکې نه ده، له قانوني پلوه استناد نه لري. ټولې دولتي ادارې په ځانګړي ډول هغه ادارې چې د ولسمشري بنسټ اړوند دي، د نورو قانوني بنسټونو پر وړاندې چې د اساسي قانون په واسطه ټاکل شوې دي، مسوولیت لري. له حساب ورکولو پرته خپلواکي له قانون څخه د تېښتې او مطلق العناني په مانا ده او مطلق العناني په یو ولسواک نظام کې ځای نه لري.

## د حکومت کدري ظرفیت لوړول

د حکومت د کدري ظرفیت د لوړولو لپاره، د کدري نظام په اړه په منسجم ډول پانګونه کېږي او هر کال ښایي سل تنه له دې کدرونو څخه وزارتونو او ولایتونو ته لاړ شي، څو د هغوی د تجربو له برکته د ځای په

وضعیت، امکاناتو او د حکومت د طرحو په تطبیق کې ښه والی راشي او حکومت د همېشني ثبات لور ته لاړ شي.

یو له هغو اصولو څخه چې ښايي د پراخ ملي مشارکت لپاره د حکومت د کدري ظرفیت په لوړولو کې په پام کې ونیول شي، د حکومتي ادارو په داخل کې له افرادو، مدني ټولنو، خصوصي سکټورونو او ولسي شوراګانو څخه د نوښتګرو طرحو غوښتل دي.

په ټولنه کې پراخ اصلاحي فکرونه وجود نه لري. دا طرحې د ملت او دولت په کچه د هر اړخېزه ګډون د رامنځته کولو زمینه برابروي. پر دې سربېره به د ولسمشري بنسټ مجموعې لاندې یو دفتر دا دنده ولري څو له ټول هېواد او د ټولنې د بېلابېلو قشرونو له منځ څخه د حکومتولۍ، د معیشتي او رفاهي وضعیت د ښه والي، د دولتي بنسټونو د مؤثریت، د ګټورو پروژو د اجرا او نورو په اړه هر ډول نوښتګرې طرحې راټولې کړي او د نوښتګر کس په نوم یې ثبت کړي. دا نوښتګرې طرحې په منظم ډول ډلبندي او هغو ادارو ته چې د هغو د تطبیق مسوولیت او ظرفیت لري، لېږل کېږي او کله چې د دې طرحو د عملي کولو زمینه برابره شوه، نو نوښتګر کس هم تطبیق کوونکې ډلې ته وربلل کېږي څو په خپله د هغې په تطبیق او عملي کولو کې ونډه واخلي. ښو او موثرو طرحو ته مشخصې مادي او معنوي جایزې هم په پام کې نیول کېږي.

### د اداري اصلاحاتو کمیسیون

ښايي د دولت د کارکوونکیو د کاري مصوونیت او د باور فضا د رامنځته کولو لپاره، د اداري اصلاحاتو کمېسیون د ولسمشري بنسټ جز شي څو ولسمشري بنسټ په مستقیم ډول د هغه اجراآت وڅاري او کنټرول یې کړي. د دولت د تخنیکي پوستونو ټاکلو لپاره د باور فضا رامنځته کول د هغه د اداري مؤثریت له پیش شرطونو څخه یو دی. د کارکوونکو په انتخاب او یا انتصاب کې د تخصصي کدري نظام او شفافیت فرهنګ د رامنځته کولو لپاره باید معیارونه شفاف او موجه وي او د هغو په اجرا کې هر اړخېز دقت وشي.

ملي مشارکت او د حکومت په تخنیکي، اداري او اجرایوي بدنه کې د هېواد د ټولو قشرونو شاملول زما د حکومت له اساسي اصولو څخه یو دی، خو ملي مشارکت د کفایت د معیارونو د راټیټولو په مانا نه دی. د دې لپاره چې ټولو وګړو ته د مشارکت زمینه رامنځته شي، زما ژمنه دا ده چې ځانګړې اداري او مسلکي اکاډمۍ به رامنځته او منسجمې کړو څو ټولو هغو کسانو ته چې د افغانستان له بېلابېلو نقطو څخه راځي، هوار میدان مساعد شي او هغوی ته د عمومي کانکور له لارې د مشروع رقابت لاره برابره شي.

همدارنګه د دې بنسټ د مؤثرې او قانونمندې رهبرۍ لپاره بنايي په لومړي فرصت کې د تشکيل، صلاحيتونو او دندو قانون تدوين او تصويب شي. په همدې ترتيب د ملکي خدمتونو قانون د دې پاليسۍ مطابق بيا کتل کېږي او تصويبېږي.

**برېښنايي دولتداري**

زموږ اداري نظام اوس هم د قلم، کاغذ او دوسيو پر بنسټ څرخېږي. د کاغذ او دوسيې په بيوروکراسي مبتني پراخ او پېچلی نظام څارنې ته اړتيا لري، خو د څارنې دا طريقه د عصري ټيکنالوژي له اختراع څخه د له مخه زمانې ميراث دی چې زموږ عدلي، قضايي او اداري نظام يې تر شعاع لاندې راوستلی دی. زموږ د وخت پراخو اړتياو د اداري پروسې د ساده کولو اړتيا مطرح کړې. سلګونه بريالۍ نړۍ والې تجربې شته چې د دې پروسې په ساده کولو کې مرسته کوي. د مالوماتي ټيکنالوژي له عظيم پرمختګ سره حتی د رسمي سواد نه شتون هم له دې ټيکنالوژي څخه د ګټې اخيستنې مخه نه شي نيولای. په دې برخه کې زما حکومت د دولت ټولې اداري پروسې د ساده کولو خوا ته بيايي، څو د عمده اداري چارو اکثر موارد د ماشين په وسيله ترسره شي. له ټيکنالوژي څخه په ګټه اخيستنې د اداري فساد ډېرې لارې هم له منځه ځي. سربېره پر دې چې دولت د پراخو تشکيلاتو له شريک څخه هم خوندي کېږي.

د تذکرې او پاسپورټ لرل د وطنداري له عمده حقونو څخه دي. نن د تذکرې او پاسپورت په اخيستلو کې ګڼې ستونزې دي. په دې باره کې موږ ژمنه کوو چې د تذکرې او پاسپورټ اخيستلو پروسه به ډېره اسانه کړو. د برېښنايي تذکرې پروسه عاموو او د هغې پر بنسټ نفوس تثبيتېږي. د نفوس تثبيت د ښې حکومتولۍ له عمده اړتياو څخه ده. له نفوس څخه د دقيقو معلوماتو لرلو پرته د ښې حکومتولۍ په رامنځته کولو کې هر ډول ادعا بې بنسټه ده. پرمختيايي پروژې، دقيقه بودجه تخصيصول، د خلکو اړتياو او واقعي غوښتنو ته رسيدګي د دې ټولو لپاره د هېواد د نفوس په اړه دقيقو معلوماتو او ارقامو ته اړتيا لري.

پردې سربېره موږ به په داسې طرحه هم کار وکړو چې له مخې به يې د هېواد هر جومات د احصايې يو بنسټ وي، څو د ماشومانو نوم ثبتونه وکړي او په عين حال کې په منظم ډول د مړينې احصاييه راټوله او مرکز ته انتقال شي. پر دې بنسټ زموږ د ټولنې د دې عمده بنسټ يعنې جومات او عصري سيستم په مرسته د تذکرې او احصايې اخيستلو پروسه ډېره اسانه شوې ده. په امريکا کې د پوست څانګو له خوا پاسپورټ ورکول کېږي. د دې يو دليل د اسنادو ساده سيستم او د هغو ثبت دی. د پاسپورټ موده بايد لس کاله شي. هېڅ منطقي دليل نشته چې پاسپورټ دې پنځه کلن وي.

لس کاله سربېره پر دې چې د ډاډ لامل کېږي، وګړو ته هم امکان ورکوي چې په اوږدمهالو پروګرامونو سره خپل ژوند او اقتصادي فعالیتونه زیات او ښه تنظیم کړي.

زموږ په حکومت کې اصلاحي پروګرامونه عمدتاً په یوه مشخص سیاسي، اداري او اقتصادي لید لوري تنظیمېږي. زموږ هېواد د ملي عوایدو له یو لوی کسر سره مخ دی. په اداري برخه کې د حکومتولۍ نظام الکترونیک کېدل د مالوماتو د ساده والي او هغو ته د وګړو د لاسرسي لامل کېږي چې له اداري فساد څخه د سیاسي او اداري نظام د مدیریت د جوړښت د پاکوالي لامل کېږي. په دې طرحې سره د دولت عواید په منسجم او بنسټیز ډول د وګړو تر څارنې لاندې راځي او دولتي ادارې وګړو ته د منسجمو خدمتونو په برابرولو بدلېږي.

د دولتي نظام الکترونیک کېدل د نویو عایداتي چینو په رامنځته کېدو او د ټولو سرچینو په سالم او شفاف مدیریت کې مرسته کوي. پر دې سربېره دا طرحه د دولت شته امکانات او فرصتونه له ضایع کېدو څخه ژغوري. په اداري چارو کې دودیز اوپخوانی لیدلوری چې د بشري ځواک پر کمیت متکي دی. د اوسنۍ نړۍ اړتیاوو ته ځواب ویونکی نه دی. دا لیدلوری بشري ځواک ډېر په فزیکي ځواک کې ګوري. حال دا چې نوی لیدلوری، بشري ځواک زیات په فکر او نوښت کې ویني. د سیاسي او اداري نظام الکترونیک کېدل د دودیز او لومړني تصور خلاف چې وجود لري، د بېکارۍ په زیاتوالي نه بدلېږي، بلکې بشري ځواک په ګټورو او موثرو ځایونو کې په کار اچوي او د ضایع کېدو مخنیوی یې کوي.

**د قانون حاکمیت، عدلي او قضایي اصلاحات**

قانون د بشر تر ټولو مدني لاسته راوړنه ده چې د هغه په وسیله د یوې ټولنې د افرادو تر منځ د اړیکو حدود، د قدرت مناسبات، د هغو جوړښتونو د کړنو شکل او ډول چې په ټولنه کې قدرت مدیریت کوي او د قدرت د سرچینو د وېش او ګټې اخیستنې د تامین لارې ټاکي. قانون د اصولو او قواعدو هغه مجموعه ده چې د چارو مسؤولین په لومړي قدم کې هغه پر ځان او وروسته یې پر ټولنه تطبیقوي. پر دې بنسټ د دولت د دریو اصلي قواو او اړوندو بنسټونو په ګډون قانون ته مقید دي او په خپلو اجراآتو کې له قانون پورته عمل نه شي کولای. په همدې دلیل قانون په ټولنه کې د عدالت د عملي تطبیق لاره برابروي او خلک د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې د خپل ژوند په ټولو برخو کې د عدالت شاهدان کېږي.

د قانون حاکمیت، عدالت رعیت ته د حاکم له یوې ډالۍ څخه په یوه ولسي پروسه چې په هغه کې حکومت د خلکو د هیلو د تطبیق وسیله ده، بدلېږي.

په ولسواکۍ کې لومړی اصل دا دی چې قانون په خپله د خلکو هدیه خلکو ته ده، ځکه خلک د زعامت په انتخاب سره له زعامت څخه پوښتنه او د بدلون د حق زعامه د ازادو، رڼواو مستقیمو ټاکنو پر بنسټ په دوامدار او بنسټیز ډول تثبیتوي.

زموږ حکومت د قانون د حاکمیت ژمنتیا له خلکو سره لومړنۍ او اساسي ژمنه ګڼي. دا ژمنې په بنسټیز ډول په لاندې شکلونو عملي کېږي:

په اساسي قانون کې د ولسمشر لومړۍ دنده د اساسي قانون تطبیق دی. د دې کار د اجرا او د دې لپاره چې د افغانستان د راتلونکي ولسمشرفعالیتونه او اجراآت په اساسي قانون کې د تعریف شویو دندو پر وړاندې په هر اړخیز ډول وځېړل شي، په هرو شپږو میاشتو کې به د اساسي قانون د تطبیق یو راپور خلکو ته وړاندې کوو. د دې کار روښانه مېکانیزم به هم په وروستیو برخو کې واضح کړو.

اساسي قانون د درې ګونو قواو تفکیک د ښې حکومتولۍ اصل بللی دی. پر دې بنسټ د ښې حکومتولۍ بنسټونه په واضح ډول په اساسي قانون کې درج دي. له دې امله د قانون د حاکمیت عملي کېدل ایجابوي، څو د دریو قواوو مرسته او انسجام د ولسمشر له لوري په منظم ډول قانونمند او بنسټیز شي. په دې برخه کې هم باید هر کال ملت ته منظم راپور ورکړل شي.

اساسي قانون په بېلابېلو کلیمو پر یوې پراخه تقنیني برنامې ټینګار کړی. په بله وینا، اساسي قانون تعمیري شکل لري چې تراوسه یې ور و در، رنګ و روغن نه دی بشپړ شوی. دا ودانۍ یو ډېر اساسي امکان دی چې زموږ د کور چت یې تشکیل کړی دی، څو له هغه لاندې په یوه مساعده فضا کې ژوند وکړو. خو دا ودانۍ نه شي کولای چې موږ د اوړي له ګرمي او د ژمي له سړو څخه خوندي کړي. پر دې بنسټ یوې منسجمې تقنیني برنامې ته اړتیا ده، څو دا ودانۍ د ډاډه او خوندي ژوند لپاره تیاره شي. په راتلونکو پنځو کلونو کې زموږ لومړنۍ ژمنه د یوې منسجمې تقنیني برنامې مدیریت دی چې ټول هغه موارد چې په اساسي قانون کې د یوې ښې حکومتولي د وجایبو او اساساتو په توګه یاد شوي دي په واضح ډول تطبیق او اجرا شي. د دې تقنیني برنامې په اجرا سره د قانون دحاکمیت او د درېو قواوو تفکیک شرایط عملي کولای شو.

د راپور ورکولو سیستم نه یوازې د ولسمشري نه، بلکې د هرې قوې له لوري باید عملي شي او هره یوه باید د کاري کال په پای کې ملت ته د خپلو ټولو اجراآتو منظم راپور وړاندې کړي. زموږ د حکومت ژمنه دا ده چې د حکومتولي له وضعیت څخه یو سرتاسري راپور د هر لمریز کال په پای کې برابروي او ملت ته یې په واک کې ورکوي، څو ټول د دولت د درې ګونو قواو له اجراآتو څخه ښه خبر وي.

د دې راپور د څېړنې لپاره به له مدني ټولنې، علماوو او د افغاني ټولنې له بېلابېلو قشرونو څخه مرسته وغواړو، څو د دې ملي راپور هر اړخېزه څېړنه زموږ د حکومت هرې برخې او په ځانګړي ډول ولسمشرۍ ته د درې قواوو د انسجام مرکز په توګه په ځانګړي ډول نمرې ورکړي او وګوري چې د بریالیتوب اندازه او هغه ادعا چې په راپور کې شوې څومره له واقعیت سره اړخ لګوي.

دا پروسه په عین حال کې په افغانستان کې د وینا ازادي په بنسټیز شکل پیاوړې کوي. له ټولو ژورنالیستانو او رسنیو څخه زموږ غوښتنه دا ده چې له ولسمشري بنسټ سره په مرسته یا په خپلواک ډول د حکومتولۍ د کلنې وضعیت په هکله خپل راپور ترتیب او خپور کړي، څو په افغانستان کې د ولسواکۍ د ستنو پیاوړي کېدو یو منسجم او هر اړخېز بحث رامنځته شي او موږ ته روښانه کړي چې اصلاحاتو ته په کوم شکل او کومو مېکانیزمونو ادامه ورکړو او له دې لارې د یو بل د مصونیت تامین سره مرسته وکړو.

د قانون حاکمیت باید د وګړو په ژوند کې د اسانۍ او خوښۍ د تامین لامل شي. له دې امله د قانون حاکمیت په خپل وار یوه وسیله ده، نه هدف.

هدف خلکو ته د ښې حکومتولۍ برابرول دي. په همدې دلیل د ښې حکومتولۍ پروګرامونه دا ایجابوي چې د قانون د حاکمیت په سیوري کې هېواد له اقتصادي او امنیتي ناورین څخه وژغورو او دا کار شونی نه دی، مګر دا چې حکومت خپلو اساسي وجایبو ته د وګړیو پر وړاندې رسیدګي وکړي.

اساسي قانون د تغییر او تعدیل اساسي وسیله په خپله په قانون کې ځای کړې ده. دا وسیله لویه جرګه ده چې باید جوړه شي، څو هر ډول ضروري اصلاح او تعدیل په اساسي قانون کې عملي کړي. اوس لویه جرګه په دې دلیل چې د ترکیب یوه برخه یې د اساسي قانون د صریح حکم پر بنسټ د ولسوالیو د شوراګانو غړي دي، وجود نه لري. پر دې بنسټ د قانون د حاکمیت په برخه کې زموږ له اساسي ژمنو څخه یوه دا ده چې د ملي شورا له ټاکنو سره هم مهال د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې هم کوو، څو د اساسي قانون د تغییر او تعدیل قانوني مېکانیزم تیار شي.

پر دې بنسټ زموږ مشخص وړاندیز د اساسي قانون د تعدیل د اړتیا د څېړنې لپاره له اړوند او صلاحیت لرونکیو بنسټونو څخه جوړه د یوې باصلاحیته کومېټې رامنځته کول دي. دا کومېټه باید درې کاله وخت ولري، څو په هر اړخیز غور او دقت هغه مواد چې تعدیل ته اړتیا لري راټول کړي، هغه مواد چې د تقنیني قوانینو له لارې د اصلاح وړ دي، تفکیک کړي او په عین حال کې د هغو موادو د عملي کولو لپاره لاره برابره کړي چې د فرمانونو او اجرایيوي حکمونو له لارې د تطبیق وړ دي.

له هر اړخیزې څېړنې او په دې بحث کې له ملي ونډې اخیستنې وروسته، په څلورم کال کې کولای شو د اساسي قانون د تعدیل لویه جرګه راوغواړو، څو له خپل قانوني حق څخه په ګټه اخیستنې د هغو ځانګړو موادو په اړه چې د تغییر او تعدیل اړتیا لري، تصمیم ونیسي او په دې ترتیب اساسي قانون یو ځل بیا د خلکو له غوښتنو او اړتیاو سره همغږی کړي.

### په عدلي او قضایي او نافذوونکیو بنسټونو کې اصلاحات

#### ۱- د عدلیې وزارت

د عدلیې وزارت هغه بنسټ دی چې د عدالت د تامین او د قانون د حاکمیت په موخه د قوانینو د تسوید، تدقیق او خپرولو دنده پرغاړه لري. همدارنګه دا وزارت د دېوان، املاکو او د کورنیو د حقوقي دعوو او له دولتي اموالو او حقونو څخه دفاع اوورته رسیدګي کوي او د ټولنیزو سازمانونو او سیاسي ګوندونو د ثبت او د ماشومانو د څارنې او ساتنې د بېلابېلو قوانینو ساتنه او څارنه په غاړه لري.

عدلیه وزارت د تقنین په برخه کې، د دندو روښانه تعریف ته اړتیا لري چې د ولسواکو نظامونو لرونکو هېوادونو د عدلیې وزارتونه هغه ترسره کوي.

دعدلیې وزارت د کړنو په برخه کې ځینې نورې اساسي اړتیاوې عبارت دي له:

د تقنین لپاره پر عربي او ټولو نړۍ والو ژبو تسلط یوه مهمه اړتیا ګڼل کېږي. زموږ قوانین د اسلام د شریعت د حکمونو او د نړۍ والو حقونو د منل شویو معیارونو پر بنسټ عیار شوی دي. پر همدې دلیل، د اصطلاحاتو او تعبیرونو روښانه پوهېدو ته اړتیا لرو چې زموږ د قوانینو بنسټ د شریعت او بین الملل حقونو سره په مطابقت کې تشکیلوي. د بېلابېلو هېوادونو او له هغې جملې څخه زموږ د هېواد تجربې ثابته کړې ده چې وارداتي قوانین د یو هېواد له ځانګړو شرایطو او زمینو سره پیوند نه اخلي. کله چې دوه نامتجانسې ونې یو له بل سره پیوندوو، د هغه پایله یا په کامل ډول هیڅ ده. یا یو نامتجانس شی چې د هغه زیانونه د ټولنې لپاره د هغو له نه شتون څخه په مراتبو ډېر دي. له دې امله اړینه ده چې د تقنین د برخې کدرونه د قوانینو د لیکلو او ترتیب قدرت ولري. روښانه ده چې په دې ټولو پړاونو کې د نورو هېوادونو له تجربو څخه ګټه اخیستلی شو، خو باید دقیقاً توجه ولرو چې قوانین یوه منسجمه شبکه تشکیلوي او هر قانون چې وضع کېږي، باید په شفافه توګه تېر قوانین په انتقادي ډول وڅېړي او د قانون د هر ډول تغییر او تعدیل لپاره د عملي والي او مؤثریت اړخونه په بشپړ ډول په پام کې ونیسي.

### ۲- پولیس

د قانون مطابق د جرم کشف د پولیس دنده ده. هیڅ ښارنوال به دا حق و نه لري چې د پولیس له کشف، چې باید په ۷۲ ساعتونو کې دننه ترسره شي، مه واره د حبس امر ورکړي او د محکمې له امر پرته تهدید کوونکی امر وکړي او یا د محکمې واکونه ځانته ځانګړی کړي او یا په اقتصادی چارو کې د محکمې له امر پرته مداخله وکړي. دا موارد د وګړو د تثبیت شویو مدني حقونو له مجموعې څخه دي. په دې برخه کې باید د پولیسو دندې په دقیق ډول په اړوندو قوانینو کې تنظیم شي.

### ۳- لوی څارنوالي

د لویې څارنوالۍ دندې او واکونه د اساسي قانون مطابق عملي کېږي. په تېر کې د لویې څارنوالۍ د عمل طریقه په ډېرو مواردو کې د اساسي قانون له ارزښتونو سره مطابقت نه درلود. د دې دلیل دا و چې د لویې څارنوالۍ قانون چې د اساسي قانون له ارزښتونو سره همغږی و، نه و تصویب شوی او اقدامات د پخوانیو قوانینو پر بنسټ کېدل.

د هغو قوانینو تصویب چې وګړیو ته اعتبار او اعتماد پیدا کړي په راتلونکو پنځو کلونو کې به زموږ د حکومتولي له لومړیتوبونو څخه وي. په عین حال کې د لویې څارنوالۍ ټول اقدامات د افرادو او دولت د حقونو او وجایبو په هکله چاپېږي. د دعوو د اقامې خپرول یوه له هغو لارو څخه ده چې د عدلي او قضایي بنسټونو په کړنو کې د شفافیت او د هغوی پر پرېکړو د خلکو د باور لامل کېږي. موږ به د مدافع وکیلانو، د متقاعدو قاضیانو او څارنوالانو بنسټونه او د شرعیاتو او حقوقو پوهنځي کدرونه راوغواړو چې د څارنوالي د دعوې اقامه دقیقه وڅېړي او که تثبیت شي چې د دعوې اقامه د قوانینو او د روښانه عدلي او قضایي موازینو پر بنسټ نه ترسره کېږي او لازم شفافیت په کې نشته، نو له سرغړونکو سره د قانون له اساساتو سره سم چلند کېږي او له هغوی څخه په جدي ډول پوښتنه کېږي.

### ٤- محاکم

له هغه ځایه چې قضایه قوه د ولسواکي او عدالت عمده ساتونکی بنسټ و او عدالت ته د وګړیو د لاسرسي په برخه کې د هغوی مدني حقونه خوندي کوي، د دې قوې د دندو او واکونو د ترسره کولو په برخه کې د شفافیت لپاره لاندې اقدامات اړین دي:

دې ته په پام چې قضایه قوه د دولت خپلواک رکن دی، پر دې خپلواکۍ او بې پرېتوب باید د قانون په چوکاټ کې په واضح او صریح ډول ټینګار وشي او له هر ډول په ځانګړي ډول د اجراییه او مقننه قوې له اقدام او مداخلې څخه چې د دې قوې خپلواکې او بې پرېتوب نقض کوي، ډډه وشي.

د ابتدایه، استیناف محکمو او سترې محکمې واکونه باید د قانون مطابق په واضح ډول تنظیم شي، څو هر یو د خپلو قانوني دندو او واکونو مطابق مسایلو ته رسیدگي وکړي او دوسیې بشپړې کړي. اوس زموږ د محاکمو وضعیت له دې پلوه د منلو وړ نه دی. کله د املاکو او نورو مسایلو په اړه ډېرې ورې پرېکړې سترې محکمې ته ځي، دا په خپله د دې ښودونکی ده چې د محاکمو په نظام کې د تصمیم نیولو د مراتبو سلسله په دقیق او اصولي ډول نه رعایتېږي. ابتدایي محاکم او له هغه وروسته مرافعه محاکم باید په اساسي توګه پیاوړي شي، څو د سترې محکمې پام د حساب ورکولو فرهنګ او د مدني او قضایي فرهنګ په بنسټي کولو پورې اړه ولري. نه دا چې داسې مسایلو ته په رسېدو بوخت شي چې ابتدایي محاکم هم د هغو له عهدې څخه وتلی شي.

د عدلي او قضایي بنسټونو د اجراآتو اړوند قوانین د جزا قانون، مدني قانون او د محاکمو د اصولو او اجراآتو قوانینو په ګډون مهم لومړیتوبونه دي چې د عدلي او قضایي بنسټ د اصلاح لپاره ضرور دي. نن ورځ زموږ زرګونه هېوادوال په زندانونو کې دي. عمده دلیل یې دا دی چې د جزا قانون هغه مشخص مواد او معیارونه چې حکم کوي، د یو تورن ټول عدلي او قضاي پړاوونه په څو ورځو او یا څو محدودو او مشخصو میاشتو کې بشپړ شي او د تورن په هکله د برات او یا جزا پرېکړه صادره شي، په حقیقت کې نه عملي کېږي. لکه په اساسي قانون کې ټینګار کېږي چې برات د هر افغان وګړي اصلي حالت دی، خو لسګونه بېلګې لرو چې لومړی محکمه د یو ځانګړي تورن لپاره د برات حکم ورکړی، خو بیا هم څارنوالي په دې ادعا هغه په حبس کې ساتلی چې ګویا ضامن نه لري. ضامن ورکول په استبدادي او ناولسواکیو دولتونو کې، حتی د ۱۹۶۴ کال له اساسي قانون څخه له مخه د ګټه اخیستنې وسیله وو. هغه مهال یې عمومیت درلود کله چې یو وګړی تښتېده، نو د هغه ورور، تره یا کوم بل خپلوان به یې کلونه په زندان کې ساته. حال دا چې جرم شخصي عمل دی او موږ باید د حبس او عمومي جزا له فرهنګ څخه تېر شو، څو په مدني حقونو چې زموږ د عدلي او قضایي فرهنګ یوه برخه ده باور وکړو او زموږ ټولنیزې اړیکې د هغه پر بنسټ د بنسټي استحکام او منطق څخه برخمنې شي.

د محاکمو ټولې پرېکړې باید خپرې شي، ځکه د محاکمو د پرېکړو خپرول د شفافیت له بنسټیزو اجزاو څخه دي.

محاکم د یوې انساني پانګې د رامنځته کولو په برخه کې پراخې او هراړخېزې پانګونې ته اړتیا لري، څو په اساسي توګه زموږ د عدلي او قضایي نظام اړتیاوو ته ځواب ووایي. په دې برخه کې زموږ د تعلیمي نظام د اصلاح فرهنګ زموږ له عمده لومړیتوبونو ګڼل کېږي.

زموږ د حقوقو پوهنځي د فرانسې د څلورم جمهوریت میراث دی او په هغو کې زده کوونکي په داسې طریقه زده کړې کوي چې د اروپايي فرهنګ د نولسمې پېړۍ د پای او د شلمې پېړۍ له پیل څخه استازیتوب کوي. په همدې ترتیب زموږ د شرعیاتو پوهنځي عمدتاً فقه او اسلامي فرهنګ تدریسوي. تراوسه په دې نه یوو توانېدلي چې د دې دوارو پوهنځیو څخه یوه ګډه عدلي او قضايي ژبه رامنځته کړو. زموږ ژمنه دا ده چې زموږ د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو ته په خپلو کې داسې اړیکې ورکړل شوې دي، څو دواړه برخې له یو بل سره په همغږۍ کې څارنوالان، مدافع وکیلان او مسلکي قاضیان وروزي.

همدارنګه د اساسي قانون د ۱۳۱ مادې پربنسټ په محاکمو کې د اهل تشیع د شخصیه احوالو قانون د تطبیق په هکله باید د شرعیاتو او حقوقو پوهنځیو کې د جعفري فقهې ځانګه رامنځته شي، په همدې ترتیب د دارالعلومو او د دیني زده‌کړو او علمي څېړنو د مرکزونو د جوړولو اړتیا ده، څو د فقهې او عمده اسلامي مذهبونو په څو برخو کې زده کړې او څېړنې وکړي، څو زموږ اسلامي فرهنګ له لازمې بډاینې اوعمق څخه چې نړۍ والو پرمختګونو او بدلونونو ته په پام د وخت اړتیاو ته ځواب ووايي برخمن شي.

په عدلي او قضايي نظام کې بنسټیز اصلاحات یو له مهمو اقداماتو څخه دي چې د هغو په ترسره کولو بنايي هغه موازي اداري لغوه شي چې د فساد د له منځه وړلو لپاره رامنځته شوې دي. تجربو ښودلې ده چې د دې موازي ادارو ډېره برخه بریالۍ نه وه. اصلي ټکي دا نه دی چې اداره څو ټوټې کړو او د یوې عمده دولتي دندې لپاره لس یا پنځه یا درې رقابتي اداري جوړې کړو. اساسي ټکی دا دی هغه بنسټ چې اصلي دنده یې د وګړیو د مدني حقونو تثبیت او تامین دی، باید فعال، ګټور او د باور وړ وي. په دې توګه کولای شو د مدني حقونو د تامین په اتکا د زیاتو ناامنیو او فساد د حجم مخه ونیسو.

یو له هغو مشخصو میکانیزمونو څخه چې په عدلي او قضايي نظام کې بنايي د فساد او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي لپاره وکارول شي، د هغو کسانو د جایداد، پانګې او عایداتي سرچینو ثبت دی چې په عدلي او قضايي ارګانونو کې کار کوي. په ځانګړو حالاتو کې او د اړتیا مطابق چې په کل کې د حکومت نظام مطرح کېږي، باید د دې خلکو څېړنه وشي. پر دې سربېره د څارنوالي او قضا د کارکوونکو د مسکن او معیشت تامین لپاره بنايي هراړخیز اقدامات داسې عملي شي چې د افغانستان په ځانګړو شرایطو کې د دولت لپاره د ورکړې وړ وي. د هغو کسانو تر منځ چې ورته کارونه ترسره کوي د تنخوا مختلف معیارونه په بشپړ ډول له منځه ځي، څو د مراتبو د سلسلې، ترفیع، مکافاتو او مجازاتو له پلوه یوه متحدالماله او عمومي قاعده ولرو.

زموږ عدلي او قضايي کدرونه باید د ډېرو روښانه معیارونو پر بنسټ وروزل شي او د سراسري کانکور ازموینو په پایلو کې د وړتیا او لیاقت په تثبیت سره انتخاب او انتصاب شي.

کوم کدرونه چې په یوه برخه کې تخصص لري، په هېڅ صورت غیر حرفه یي پوستونو ته نه انتقالېږي، څو د هغه په پایله کې د عدلي او قضایي نظام کدرونه په تخصصي او مسلکي شکل او د روښانه قانوني معیارونو پر بنسټ په کار وګمارل شي.

د قضا مسند د اسلام په مبین دین کې هغه مسند دی چې په هغه کې د وګړیو حقونو ته رسیدګي کېږي او دولت یې د خپلو وجایبو د ترسره کولو په خاطر ځاري او ارزوي. له دې پلوه د وګړیو پر وړاندې زموږ د قاضیانو او ځارنوالو وجیبه یوه بنسټیزه وجیبه ده او که په ټینګار وواېو دا وجیبه حتی له قانون څخه هم لوړه ده، ځکه بنسټ یې د شرعیت او دیني فرهنګ په حکمونو ولاړ دی. په دې برخه کې باید په اساسي توګه د ځواب ورکولو فرهنګ پیاوړی کړو.

قاضي توب یا څوارنوال توب باید د زور او فساد وسیله نه وي، ځکه دا بنسټونه په اساسي قانون کې رامنځته شوي دي، څو نور بنسټونه مصوون کړي، خو که بنسټ خپله مصون نه وي، په هیڅ صورت نشي کولی خپلې دندې ته د نورو بنسټونو د اصلاح او مصون کولو په موخه رسیدګی وکړي.

## مالي مدیریت

تجربو ښودلې چې ملي موخې او پروګرامونه له پیاوړي مالي مدیریت پرته نه شي ترسره کېدلای. د نړۍ له سلو هېوادونو زیات د بودیجې په موثر لګښت کې په پرمختیایي برخه کې جدي ستونزې لري. ځینې دا هېوادونه حتی په څو لسیزو کې ونه توانېدل چې دا ستونزه حل کړي. له دې امله په دوامدار وروسته پاتې والي او بې وزلۍ اخته دي.

د مالي سرچینو موثر مدیریت یو بنسټیز بدلون ته اړتیا لري. د هېواد عادي بودجه باید لږترلږه دوه کلنه او پرمختیایي بودجه پنځه کلنه شي. یا د پروژو د بشپړولو د مودې پر بنسټ وضع شي. یو کلنه بودیجه د یو بین المللي دود نورم په توګه د ۱۹ پېړۍ د شرایطو محصول دی، چې هغه مهال د دولت دندې ډېرې محدودې وې او د سرچینو لګښت د ځانګړي زماني ډیسپلین په چوکاټ کې طرحه او اجرا کېده. پر دې سربېره د دولت دندې هم محدودې وې او هم ډېرې مشخصې. پر دې بنسټ کلنۍ بودیجه څو مشخص او اندک موارد په برکې نیسي. پر دې سربېره زیاتره دولتونه په مطلق ډول د یو پاچا له لوري او یا ټاکلې ډلې له خوا اداره کېدل چې د ټولې خزانې او عوایدو او لګښت صلاحیت یې په اختیار کې و.

هغه بدلونونه چې په اوسنۍنړۍ او په ځانګړي ډول زموږ په هېواد کې منځته راغلي دي وضعیت یې بدل کړی دی. پر دې بنسټ پرمختیایي بودیجه باید د ټاکلو موخو پر بنسټ وضع شي او د پروژو د اجرا او بشپړولو لپاره مشخصه ژمنه وجود ولري.

د پرمختیايي پروژو په برخه کې د نه بریا بدترینه بېلګه داده چې پروژې نیمګړې پاتې شي او نوې پروژې پيل شي. په همدې دلیل یو له مهمو اړتیاو څخه داده چې د پروژو په طبقه بندي او لومړیتوبونو او د هغو د اجرا په مهال وېش کې لازم انعطاف ولرو. د بودجې په مهال وېش (زمان بندي) کې بدلون ملي شورا ته زما له اساسي وړاندیزونو څخه یو دی چې په پوره دقت باید پر هغه بحث وشي او تصویب شي.

د دې وړاندیز پر بنسټ، هغه شفافیت چې اساسي قانون يې تقاضا لري او مشخصاً درج شوی چې د کلنۍ بودجې قطعیه ملي شورا ته وړاندې شي. په ټوله مانا رعایت کېږي او د عادي او پرمختیايي بودجې د مودې د بدلون په اړه زموږ وړاندیز ملي شورا ته د اجرایه قوې د حساب ورکولو اصل په هیڅ وجه تر پوښتنې لاندې نه راولي. بالعکس، په اساسي قانون کې د ټاکل شوې مودې کلني حساب ورکولو اصل عملي کېږي، خو انعطاف منځته راځي چې د حکومت د طرحو مؤثریت او د هغې بشپړې اجرا سره مرسته کوي.

د بودجې اوسني وضعیت روښانوي چې د کال په لومړیو میاشتو کې له بودجې څخه استفاده ټپه وي، ځکه د هېواد په زیاتره سیمو کې د اقلیمي شرایطو له امله د پروژو د اجرا امکان مساعد نه وي او بودجه په خپل وخت ولایتونو ته نه انتقالېږي. د کال په وروستیو کې هغه وزارتونه چې خپلې بودجې يې نه دي مصرف کړي، بې ځایه خریداری کوي، څو خپل ارقام لوړ کړي. زیاتره دغه خریداری د اړتیا او مؤثریت د اثبات قوي منطق نه لري، خو په دې دلیل چې یو وزارت یا یو لومړی اداري واحد د راتلونکي کال لپاره دبودجې ادعا د هغه مقدار په اتکا کوي چې تېر کال يې لګولی و. د دې لیدلوري په اساس تصور کېږي چې د هرې ادارې بودجه یو حق دی چې باید هغه ته ورسېږي، نه دا چې بودجه د پروژو د تطبیق لپاره د لومړیتوبونو د انسجام وسیله او یا د ملت پر وړاندې د دولت وجایبو ته د رسیدګي وسیله وي.

پر دې بنسټ لومړی ګام چې د مالي نظام د اصلاح لپاره يې اخلو، په ټولووزارتونو کې د مالي مدیریت یو سیستم رامنځته کول دي چې پربنسټ يې د وزارت ټول بودجوي فعالیتونه د یو شفاف او موثر نظام په داخل کې اداره شي. دویم قدم اصلي تطبیق دی چې د هغه پر بنسټ لویې ملي پروژې او پروګرامونه لومړیتوب لري او هغو ته دوامداره بودجه تخصیص شي. دریم قدم د هغه میکانیزم رامنځته کول دي چې پر بنسټ يې په داسې حال کې چې کلنۍ بودجه تنظیمېږي، د تېر کال د پروګرامونو څېړل او مؤثریت په دقیق ډول څېړل کېږي. څلورم ګام د مکافاتو او مجازاتو د اصل پیاوړي او بنسټیز کول دي چې هم نوښت پیاوړی کړي او هم د حساب ورکولو امکان زیات کړي. پنځم ګام، مشخص قانوني میکانیزم وضع کول دي چې پر بنسټ يې د پروژو د حفظ او مراقبت لپاره ټاکلې بودجه اختصاص شي. زموږ په اوسني نظام کې دا خطر شته چې ملیونونه ډالر ضایع، حیف او میل شي او یا ناحقه ضایع شي.

په کوم هېواد کې چې د رامنځته شویو پروژو او ارزښتونو د حفظ او مراقبت لپاره د سرچینو د تخصیص فرهنګ رامنځته نه شي، په حقیقت کې د خپل راتلونکي لپاره د بنسټیزې پانګونې امکان له لاسه ورکوي او دا کار داسې دی لکه د یو نعل لپاره چې اس له منځه لاړ شي.

پر یادو اصولو سربېره، د سرچینو او مالي امکاناتو د ضایع کېدو د مخنیوي لپاره اړتیا ده چې ځانګړې تدابیر ونیسو. کله چې وزارت ونتوانېد د خپلو مالي سرچینو او بودجې څخه د مؤثرې ګټې اخیستنې لپاره ښه مدیریت رامنځته کړي، باید د هغوی د ظرفیت لوړول لومړیتوب ولري. دا اقدام مخصوصاً د هغو وزارتونولپاره لازمي دی چې ټولنې ته د رفاهي پروګرامونو د اجرا مسوول دي. د یو وزارت د مؤثریت مراقبت په مشخصه موده کې چې له دوو کلونو څخه زیات نه وي عملي کېږي. په دې موده کې د وزارت ټول رهبري پلاوی ټاکلي ازمایښتونه کوي او د هغوی کاري راپور ټولو اړوندو دولتي ارګانونو او له هغې جملې ملي شورا ته لېږل کېږي.

### ملي عواید

منسجم ملي عواید د ملي حاکمیت له بنسټونو څخه ګڼل کېږي. کوم ملت چې کافي ملي عواید ونه لري، نه بې وزلي په اساسي ډول له منځه وړلی شي او نه هم د ثبات، امنیت او د ملي اقتصادي ودې د تامین لپاره مادي امکانات برابرولی شي. بناءً د ملي عوایدو د پیاوړی مدیریت رامنځته کول زموږ د ټولنې له مهمو اړتیاوو څخه یوه ده.

د ملي عوایدو فلسفه د ثروت د تولید زیاتوالی باید دوامدار وي. کوم هېوادونه چې په خپلو عوایدو کې یوازې د تولید په محدودو سرچینو اتکا کوي، هېڅکله له اقتصادي ناورین څخه نشي خوندي کېدلی. د ثروت د تولید سرچینې باید زیاتې او مختلفې وي، څو د ټولنې اقتصادي ثبات تامین کړای شي.

د هر هېواد له عایداتي سرچینو څخه، یو هم هغه محصول دی چې له ګمرکونو څخه په لاس راځي، خو په هره اندازه چې په ملي عوایدو کې د ګمرکونو د ونډې فیصدي زیاته وي، په هماغه اندازه د هېواد اقتصاد مصرفي وي او تولیدي اقتصاد یې کمزوری دی. زموږ د هېواد اقتصاد د دې وضعیت ښه بېلګه ده. په همدې دلیل باید زموږ د هېواد عایداتي چینې په بنسټیز ډول تغییر وکړي او د ګمرکونو پر محصولاتو یوې اړخیزې اتکا څخه راووځي، څو د ګمرکونو د عوایدو او مالیاتو تر منځ انډول په اساسي ډول رامنځته شي.

د ټولنو د مدني ودې له شاخصونو څخه یو هم د مالیې ورکوونکو او د مالې ورکولو فرهنګ د رامنځته کولو فیصدي ده.

ځومره چې د مالیې ورکوونکو شمېر لږ وي، په هېواد کې د مالیې ورکولو فرهنګ کمزوری دی. ګاونډی پاکستان د دې ښه بېلګه ده چې د زیات نفوس باوجود یې بیا هم د مالیه ورکوونکیو شمېر له دوه ملیونه تنو ځخه لږ دی.

بله نکته د مالیې له مدرکه د حداقل فیصدي ده. په وروسته پاتې هېوادونو کې حداکثر ۱٦ فیصده ملي عوایدمالیه تشکیلوي، حال دا چې په پرمختللو هېوادونو کې دا رقم  کله له ٤٥ % ځخه زیات وي. له دې سره هم، په هغو هېوادونو کې یو منسجم او قوي فرهنګ وجود لري چې د مالیې ورکول د خلکو د شهروندۍ مسوولیت مهمه برخه ګڼل کېږي. دې اصولو ته په پام او دا درک چې د مالیې ورکولو فرهنګ د موثرو خدمتونو برابرولو سره مستقیم تړاو لري، زموږ د حکومت له عمده ژمنو ځخه یوه هم د مالیاتو د ورکړې او په خپله د خلکو له لوري د هغو د لګولو د ځارنې لپاره د بنسټیزې لارې رامنځته کول دي، ځو په وضاحت دا ډاډ ترلاسه کړي چې د دوی مالیې د ژوند د شرایطو د ښه والي او د دولت له لوري د خدمتونو د تامین وسیله شوه.

پر پورتنیو مسایلو سربېره، ځینې نور مهم اقدامات هم په دې برخه کې یادوو چې زموږ د حکومت په ژمنو کې مطرح دي:

ځکهګمرکونه او د هغو عوایدپه اوسني حالت کې زموږ د عوایدو مهم قلم ګڼل کېږي، له خصوصي سکتور سره په ځانګړي ډول واردونکو لویو او منځنیو شرکتونو سره د ګمرکونو په انسجام کې یو روښانه قرارداد ته رسېږو چې پر بنسټ یې د هغوی د ګمرکي محصول اندازه د کلنۍ پیش بیني په توګه  تخمین او په څلورو ربعو کې په منظم ډول ورکړي. او همداراز د کال په پای کې د واضحو معیارونو پر بنسټ او د هغو اسنادو مطابق چې له خپلو وارداتو یې لري، خپل حساب تصفیه کړي، ځو پوه  شي چې هغوی د دولت پوروړي دي او که دولت د دوی پوروړی دی. د دې اصل په تصویب سره دولت امکان پیدا کوي، ځو له یو لوري پوه شي چې له لس یا سلو لویو شرکتونو ځخه ځومره ګمرکي محصولات اخلي او له بل لوري، په دې طریقه د محصولاتو د ورکړې لپاره د وړو محاسبو له ورکړې ځخه خوندي کېږي او یوې کلي محاسبې ته رسېږي او کولی شي په خپلوحداقل امکاناتو په دقیق ډول حساب وکړي.

د وارداتو په ځېړنه کې په عصري ټکنالوژي او مخصوصاً په هغو کامرو اتکا کوو چې د هغو په وسیله د موټر داخل د لیدلو وړ دی. دا کار وارداتي بیوروکراسي اسانوي، ځو ټولو ته د باور وړ وي.

ګمرکي تعرفه په ټولو یو برابر د تطبیق وړ ده، د تعرفې په برخه کې د سلیقوي چلند کلک مخنیوی کېږي، ځو ټول تاجران د قانون په حاکمیت کې مساوي احساس وکړي.

د گمرکونو په انسجام کې هم واحد مدیریت رامنځته کوو چې پر بنسټ یې د هېواد په گمرکونو کې سلیقوي چلند له منځه لاړ شي او ټول د واحد قانون او مقرراتو پیروي وکړي.

په ټولو سرحدي ولایتونو کې گمرکونه او رسمي بندرونه رامنځته کوو، څو هم ټرانیزیت په قانون مند او عادلانه توگه وشي او هم هغه نقطې چې د قاچاق لپاره ترې گټه اخیستل کېږي کنټرول شي.

د دې لپاره چې د سوداگرۍ او سیالۍ میدان ټولو تاجرانو ته یو برابر وي، ټول وارداتي اقلام په دقت څارل کېږي، کوم اموال چې په قانوني توگه تثبیت نه شي او په قاچاقي ډول هېواد ته داخل شوي، جریمه کېږي. دا اقدام ښایي په جدي ډول ترسره شي، څو هغه کسان چې په قاچاقي ډول د مالیې له ورکولو تښتي وپېژندل شي او په قانوني لارو یې مخه ونیول شي.

د ټرانسپورټ په برخه کې، ټول هېواد په یوه ټرانسپورټي حوزه بدلېږي او له همغې مرجع څخه مراقبت او پوښتنه کوي. ټولې لارې او د حمل و نقل ټول وسایل ښایي تر واحد قانون لاندې یو برابر وي، نه دا چې په هره نقطه کې له بېلابېلو مقرراتو او اجازه نامو سره مخ شي.

د لویو لارو د امنیت تامین زموږ له اساسي لومړیتوبنو څخه دي. د لویو لارو امنیت په واقعیت کې لومړنی عامل دی چې د تاجرانو په واسطه د گمرکي عوارضو پرداخت توجیه کوي او د واردوونکو او دولت تر منځ د مرستې فرهنگ مانادار کوي. هغه ځانگړي تدابیر چې په دې برخه کې یې په پام کې لرو، په وروستیو برخو کې په مفصل ډول تشریح کوو. مهمه نکته داده چې زموږ تاجران ډاډ ترلاسه کړي چې خپل محصولات په امن او سالم ډول د هېواد بازارونو ته انتقالولی شي.

په وروستیو برخو کې به په دې اړه ډېره توضیح ورکړو چې د یو پیاوړي ملي اقتصاد د رامنځته کولو لپاره زموږ اصلي او اوږدمهاله موخه د وارداتو پر کموالي او د صادراتو پر زیاتوالي ټینگار دی. د صادراتو په زیاتوالي سره کولی شو د ملي تولیداتو د زیاتوالي خبره وکړو. په همدې دلیل، د راتلونکو پنځو کلو لپاره پر صادراتو هېڅ ډول مالیه نه وضع کوو او د صادراتو ټولې ستونزې په اساسي شکل له منځه وړو، څو په دې ډول د داخلي تولیداتو برخه وهڅو او د کارموندنې لپاره چې زموږ د حکومتولۍ اصلي موخه ده زیاته زمینه برابره کړو او کرار کرار د صادراتو او وارداتو توازن ته په دوادمدار او مثبت ډول د صادراتو په گټه بدلون ورکړو.

### مالیات

د دولتی عوایدو دویمه برخه مالیات جوړوي. مالیات دوه برخې لري:

لوی شرکتونه باید د خپلې مالیې ورکولو لپاره یو هوار او شفاف میدان ولري چې د هغه ټول قوانین او قواعد په ټولو یو برابر تطبیق شي. د تولیدي شرکتونو په هکله ښايي له هر تولیدي سکتور سره د تمرکز او مذاکرې عمده نقطه وي، څو د مالیاتو د ورکړې شرایط او قواعد ممکن په ساده توګه تنظیم شي. دولت له وګړو څخه د مالیې په اخیستلو سره په واقعیت کې له هغوی مرسته ترلاسه کوي. پر دې بنسټ باید شرایط د امکان تر بریده داسې ساده شي چې د مالیې ورکوونکي د خوښي او ارامي احساس وکړ، نه د زحمت او ناراحتي. د بیلانس برابرول چې نن ورځ زموږ د تولیدونکو له جدي ستونزو څخه دي په راتلونکو پنځو کالو کې ښايي بیا وکتل او اصلاح شي. دا عمل د اداري فساد او ازار لامل شوی دی. وروسته له هغه چې د مالیې ورکولوفرهنګ پیاوړی شي او د مالیو په راټولولو کې شفافیت رامنځته شي، د بیلانس په هکله به له سره فکر وکړو.

کوچني او متوسط شرکتونه په ټولو هېوادونو کې د تولید ماشینونه دي. د ملي تولیداتو او ملي رقابت زیاتوالی د تولید په برخه کې د کوچنیو او منځنیو شرکتونو له پیاوړتیا مه واره نه شي کېدلی. زموږ ژمنه داده چې د تولیدي موادو د تعرفې د ټاکلو په برخه کې له هر تولیدي سکتور سره موافقې ته رسېږو، څو په کاملاً یوه شفافه فضا کې د تولید شرایط وټاکل شي او هغه څه چې په دوامدار ډول په بازار کې د بې کیفیته اجناسو د ارزانه پلورلو لامل کېږي، له منځه لاړ شي او تولیدي سکتورونه په اسانه رقابت وکولی شي. کوچینو او منځنیو شرکتونو ته د مالیې ټاکل یوازې د دولت د عوایدو له پلوه نه سنجول کېږي، بلکې د ظرفیت او د کار د تولید لپاره د هغوی د پانګونې اندازه اصلي معیار دی. دا اقدام به دا مرسته وکړي، څو منسجمه او باور وړ فضا رامنځته شي او د کومې مودې په اړه چې له دې شرکتونو سره موافقې ته ورسېدو، هغه به بدلون ونه کړي او د تړون شرایط به په شفاف ډول په متن کې درج شي، څو هغوی په باور سره په دې برخه کې کار وکړي.

## نوې عایداتي چینې

د موجوده تولیدي شرکتونو پر پیاوړتیا سربېره د نویو عایداتي چینو د رامنځته کولو په برخه کې ښايي جدي تمرکز وشي. مخابرات د نویو عایداتي چینو لپاره روښانه بېلګه ده. د نویو مخابراتو د سیستم له منځته راتګ دمخه مخابرات زموږ لپاره یو مصرفي سکتور وو. دولت د مخابراتو د تامین لپاره پرېمانه بودجه ځانګړې کوله او لګوله. د مخابراتو عواید د هغود لګښت په پرتله هیڅ وو. مورډ پانګونې لپاره د قواعدو په رامنځته کولو سره وښودله چې څنګه کولی شو له دغسې ظرفیتونو څخه هم د خدمتونو د تامین او هم د عایداتي چینې د رامنځته کولو په توګه ګټه وکړو. د هېواد په سختو شرایطو کې څلور لوی شرکتونه رامنځته شول چې پانګونه یې وکړه او اوس له ۲۲ ملیونه څخه زیات ټلیفونونه له خلکو سره دي.

د هېواد له ۹۰ سلنه څخه زياته برخه د مخابراتو تر پوښښ لاندې راغلې ده او مخابرات د دولت په درېيمه لويه عايداتي سرچينه بدل شوي دي. پر دې بنسټ نوې عايداتي چينې د پانګونې او تشبث د فضا په رامنځته کولو سره رامنځته کوو، څکه يوازې په همدې صورت کې زموږ د عوايدو حجم دېام وړ او وړاند وينې په بڼه زياتېږي.

البته کانونه هم زموږ د عوايدو عمده سرچينه کېدلی شي. له کانونوڅخه د ګټه اخيستنې او د هغو د رااېستلو شرايط په جدي ډول څېړل کېږي او د هغو د شفاف او موثر مديرت په برخه کې بنسټيز اقدامات کېږي، څو د هېواد دا عايداتي چينه هم د شغل په ايجاد او هم د دولت د عوايدو په تامين کې موثره شي.

بله عايداتي چينه چې د کانونود عوايدو په اندازه مهمه ده، ټرانزيټ دی. کېدای شي افغانستان د اسيا په لويه لاره بدل شي، د دې لپاره د ترانزيت په برخه کې له خپل موقعيت څخه د ښې ګټه اخيستنې په موخه بايد بنسټيز ګام وشي. په دې برخه کې په سلګونو شرکتونه په کار اچولی شو او لسګونه زره شغله ايجادولی شو.

پر دې بنسټ د نويو عايداتي چينو رامنځته کول زموږ د حکومت د پروګرامونو مهمې برخې دي. د هېواد د معيشتي وضعيت د ښه والي او خودکفايي په برخه کې به له متشبثينو او نوښتګرو خلکو سره تل په مذاکره کې يوو، څو کرار کرار په هېواد کې د تشبث فرهنګ پياوړی شي او د هغه پر بنسټ هر وګړی چې يو واقعي تشبث لري او يا يوه نوې اختراع ثبتوي، بايد له خپل تشبث څخه ګټه واخلي. په دې برخه کې به يو ځانګړی دفتر رامنځته شي چې نوي تشبثونه او يا اختراع ګانې ثبت کړي، څو د مخترع يا متشبث حقونه په اساسي توګه تامين او د ثروت د توليد په منبع بدل شي.

باید تېنګار وکړو چې له مهمو عایداتي چینو څخه یوه هم نوښت ده. په نوښت سره یو مصرفي بنسټ په یو عایداتي بنسټ بدلېږي. زموږ پوهنتونونه یې ښې بېلګې دي. پوهنتونه په ننیو حالاتو سره مصرفي بنسټونه دي. پوهنتونونو ته بودجه ځانګړې کېږي، خو په خپله هغوی د خپلو منابعو په لګښت کې هېڅ ډول اصولي صلاحیت نه لري.

پوهنتونونه په ډېر کوچني بدلون سره کېدای شي د خپلواک حکمي شخصیت لرونکي دولتي تصدیو باندې بدل شي او د یو مصرفي واحد پرځای د تولید یوه مهمه منبع وي. لکه هغه لابراتوارونه چې په پوهنتونونو کې شته کېدای شي موثره ګټه ترې واخیستل شي لکه د فارمسي، یا خاورې پېژندنې او نور لابراتوارونه. همدا فعالیتونه اوس خصوصي شرکتونه کوي او د هغو لپاره زیات عواید تامینوي. په دې صورت کې د انجینري، کرنې یا فارمسي پوهنځي په حقیقت کې د یو شرکت شکل نیسي. د دولتي تصدي مانا همدا ده. د دې پرځای چې استادان لاړ شي په موسساتو او انجیوګانو کې کار وکړي، تمرکز یې په خپلو ځانګو کې او د پوهنتون په هماغه ساحه کې کېږي.

په دې برخه کې به مشخص قواعد وضع کړو، څو هغه عواید چې په لاس راځي د پوهنتونونو د بډاینې او د هغو پروګرامونو او فعالیتونود لګښتونو لپاره ورڅخه ګټه واخیستل شي. د عایداتي منبع بله برخه پوهنتونونه، جایداد او د هغو ودانۍ دي چې کېدای شي په بېلابېلو ډولونو ورڅخه ګټه واخیستل شي. په همدې ډول د څېړنې او سروې پروژې چې په اکثر هېوادونو کې د پوهنتونونو د عایداتو عمده چینې ګڼل کېږي.

په همدې ترتیب، د ښوونځیو په کچه هم بنسټیز بدلونونه راوړلی شو، چې پر بنسټ یې کرار کرار دا بنسټونه هم له مصرفي واحدونو څخه په عایداتي بنسټونو بدل شي.

زموږ حکومت په مجموع کې هڅه کوي د هغو دولتي بنسټونو لپاره چې په بېلابېلو ډولونو ټولنې ته د خدمتونو په برابرولو کې ونډه لري، دا زمینه برابره کړي چې د حساب ورکولو او شفافیت د ټولو اصولو په تطبیق سره د لګښت په برخه کې د تصمیم نیولو حق ولري او له خپلې بودجې څخه د خپلو اړتیاو او لومړیتوبونو مطابق ګټه واخلي. دا کار څو ګټې لري: لومړی، پر دولتي سرچینو د دغو بنسټونو بودجوي اړتیا کمېږي. دویم، بودجوي استقلال پیدا کوي. درېیم، د هغوی په منځ کې د مسوولیت منلو فرهنګ پیاوړی کېږي. څلورم، د بېلابېلو بنسټونو تر منځ مشروع رقابت چې په یوه حوزه کې فعالیت کوي رامنځته کېږي. پنځم، د هغه رقابت له امله چې د بنسټونو تر منځ رامنځته شوی دی، روښانه کېږي چې کوم یو د عوایدو په ایجاد کې زیات نوښت کوي.

د دولتي تصدي په توګه د دولتي بنسټونو په منلو سره، دا بنسټونه نه یوازې له مصرفي حالت څخه په تولیدي حالت بدلېږي، بلکې په ټولو دولتي بنسټونو کې د تشبث فرهنګ د یو اصل په توګه پیاوړی کېږي. چین په دې برخه کې بریالي اقدامات او پرمختګونه لري او د دې هېواد اقتصادي پراختیا یې پایله ده.

زموږ د حکومت له عمده اقداماتو څخه به یو دا وي هغه عایداتي چینې چې د دولت اړوند وي، خو فعلاً د دولتي او غیر دولتي افرادو له خوا ټولېږي او په شفاف ډول دولت ته نه تسلیمېږي، د مالیې وزارت او اړوندو ادارو تر مستقیم مدیریت او مراقبت لاندې راشي. دا وضعیت د اداري فساد تر ټولو بارزه بېلګه ګڼل کېږي. لکه په روغتونو کې باید درملنه وړیا وي، خو سلګونه ملیونه افغانۍ جمع کېږي، بې له دې چې یوه افغانۍ د دولت حساب ته تحویل شي.

زما له اقداماتو څخه به یو دا هم وي چې د خصوصي او دولتي سکتورونو تر منځ مشارکت کې په ټولو عمده ښارونو کې طبي ښارګوټي په خپله ایجاد کړو. دلته دا ښارګوټي د دولت له امکاناتو څخه په ګټه اخیستنه د زېربنا په تامین کې چې د روغتیايي معیاري خدمتونو په برخه کې له بنسټیزو ستونزو څخه یوه ده، ښایي ونډه واخلي. دا ډول مشارکت د دې لامل کېږي، څو د وقایوي او معالجوي طب د ودې په برخه کې په هم مهال ډول پرمختګ وشي. د طبي ښارګوټو رامنځته کول د دې زمینه هم برابروي، څو د د روغتونونو او صحي کلینیکونو جواز د روښانه او واضح معیارونو پر بنسټ صادر شي. د غیر معیاري روغتونونو او کلینیکونو رامنځته کول په حقیقت کې پر لومړنیو حقونو پښه اېښودل دي چې په اساسي قانون کې پرې ټینګار شوی دی. زموږ حکومت به ټول لازم تدابیر ونیسي، څو طبي خدمتونه په معیاري ډول تنظیم شي.

د روغتونونو د ښه مدیریت، تمویل او تجهیز لپاره د سرچینو تامین، ښایي دولتي روغتونونه په دولتي تصدیو بدل کړي. له دې اقدام سره ښایي دا زمینه برابره شي، څو دا روغتونونه د ځان لپاره ډاډه عایداتي چینې ایجاد کړي او د هغو د لګښت په اړه هم د تصمیم نیولو صلاحیت اونوښت ولري. د دې لپاره چې زموږ د حکومت دا اقدام په اساسي قانون کې د دولتي وړیا روغتیايي خدمتونو برابرولو سره په ټکر کې رانشي، د اساسي قانون د تفسیر کمیسیون، سترې محکمې او ټولو اړوندو مراجعو سره ښایي له نژدې کار وکړو، څو د هغو پربنسټ هم د خلکو د ونډې اخیستلو زمینه برابره شي او هم د هغو خدمتونو کیفیت چې له ښو بین المللي تجربو څخه د موثر طبي سکتور د رامنځته کولو په برخه کې د ټولنې اړتیاو ته ځواب ووایي، لوړ شي.

گاونډيو هېوادونو خصوصاً ايران، پاکستان او هند ته زموږ د خلکو پراخه مراجعه له هېواد څخه د ثروت د صادرېدو عمده لاملونه دي. هره اونۍ مليونونه ډالر له هېواد څخه بهر د درملنې په موخه انتقالېږي. د دې ثروت د صدور دليل دادی چې تراوسه د افغانستان په داخل کې د اعتماد وړ روغتونونه نشته او يا زموږ د ډاکټرانو مسلکي پوهه د خلکو له باور څخه برخمنه نه ده. ګاونډيو هېوادونو ته زموږ د خلکو مراجعه د يو باور پر بنسټ ده چې د هغو هېوادونو د طبي خدمتونو په لوړ کيفيت يې لري. خو په عمل کې زموږ اکثر هېوادوال چې کله دغو هېوادونو ته مراجعه کوي، په بېلابېلو دلايلو، دويم او دريم لاس طبي خدمتونو او مبتذلو مرکزونو سره مخ کېږي چې له سرګرداني او پرېمانه لګښت مه واره کومه ځانګړې پايله يې نه په برخه کېږي.

د دې لپاره چې زموږ باورپر طبي بنسټونو رامنځته شي او موږ وکولی شو د ثروت د صادرېدلو او بې مورده درد او ځور د منلو مخنيوی وکړو، د دولتي او خصوصي سکتورونو او معتبرو نړۍ والو بنسټونو په مشارکت سره د طبي مجتمع په توګه په عمده ښارونو کې روغتونونه جوړ کړو. د دې طرحې د عملي کېدو لپاره زموږ حکومت ژمنه لري چې د پانګونې، ځمکې او يا لومړنيو تجهيزاتو په برخه کې ټولې زېربنايي ستونزې رفع کړي، څو خلک په مصون او باوري اعتماد ډول د هېواد په داخل کې د ټولو عمده ښارونو په کچه معياري طب او درملنې ته لاسرسی ولري.

د عايداتي چينو د دولتي کولو لپاره درې اساسي ګامونه عملي شي:

د دې قانوني اصل تطبيق چې د عوايدو راټولول د دولت دنده ده او يوازې ټاکلي ارګانونه کولی شي د قانون په رڼا کې د عوايدو د راټولولو صلاحيت ولري.

د غير مسولو کسانو له لوري د دولتي عوايدو يا بيت المال د راټولول مخنيوی.

۳- د نويو عايداتي چينو د کشف لپاره د ملي تشبث د فرهنګ پياوړي کول

ښاروالۍ يوازې محلي اداري واحد دی چې د مالياتو د اخيستلو حق لري، خو تراوسه په دې دليل چې د بهرني مرستې جذب د ښاروالیو لومړۍ موخه وه، د وطنداري فرهنګ چې ماليه ورکول د هغه له اساسي اجزاو څخه يو دی، په ښه ډول نه دی رامنځته شوی او د ښاروالیو له خوا نه دی پياوړی شوی. سره له دې چې ټاکلي نوښتونه شوي دي چې پرېنسټ يې خلکو، مخصوصاً خصوصي سکتورونو د ځينو ښاري زېربناو په رامنځته کولو کې برخه اخيستې. په دې مواردو کې خلک په رضاکار ډول خپل سرکونه پراخه کړي او د خپلو ملکيتونو يوه برخه يې د سرکونو په پراخولو کې له لاسه ورکړې ده، د سرکونو په غاړه د املاکو د بيې په لوړېدو سره يې هغه دوباره جبران کړې ده

د ښارونو په پراخېدو سره کولی شو، سلګونه ملیونه ډالر د ښاروالیو له لارې راټول کړو. څرنګه چې ښاروالۍ قانوناً د مصرف حق لري، زموږ ژمنه داده د وګړو پراخې ونډې شرایط له ګذر څخه تر ناحیې او ښار او لویو ښاري حوزو چې ګاونډي هېوادونه په بر کې نیسي، برابروو، څو خلک د ښاري ژوند د زمینې په رامنځته کولو او پیاوړي کولو کې د خپلې خوښې مطابق ونډه واخلي او د عوایدو د مصرف حق بیا هم د ښاروالیو په حوزه کې تمرکز ونه کړي، بلکې بېلابېلو ښاري کچو کې هغو ته مشارکت ورکړل شي.

پربل اصل چې ژمنه کوو دادی: د ښار له بډایوسیمو څخه یوه ټاکلې فیصدي مالیه د فقیرو نقطو لپاره په دوامدار ډول انتقالوو، څو د ښار په ټولو برخو کې د پیسو، ثروت او امکاناتو تعادل رامنځته شي او د وخت په تېرېدو سره د ښار د اوسېدونکو ترمنځ طبقاتي واټن له منځه لاړ شي.

پر دې سربېره زما ژمنه داده چې د مشخصو میکانیزمونو په چوکاټ کې ځانګړي دوراني صندوقونه رامنځته کړو، څو په شرعي جایداد د عرفي جایداد بدلولو پروسه کې له هغه څخه ګټه واخیستل شي. په دې هکله د باور رامنځته کول زیات ارزښت لري. په همدې دلیل ښایي ځانګړي تدابیر په پام کې ونیسو، څو بې ځایه شویو خلکو ته سملاسي په نوي ځای کې په مناسبو شرایطو د استوګنې ځایونه ورکړل شي. له دې لارې خلک د خپل جایداد د شرعي کېدو پایله ویني او پر هغه باور کوي. دوراني صندوقونه د دې لپاره ایجادېږي، څو د جایدا له شرعي کېدو وروسته له هرې پروژې ټاکلې اندازه ځمکه وپلوري او د هغې له عوایدو څخه د هغو جایدادونو د شرعي کېدو لګښت چې د نقشې د تطبیق په پایله کې له منځه ځي، په دوامداره توګه تامین شي.

## د مالي مدیریت په شفافیت کې د مدني ټولنې رول

مدني ټولنه چې ټول غیر دولتي سازمانونه او بنسټونه په کې شامل دي، د دولت د عواید د جریان د شفاف کولو په کار کې زموږ د اتکا له عمده محورونو څخه ده. د مدني ټولنې د رول په اجراسره، د دولت په کړنو د خلکو مراقبت عملي کېږي.

دا مهمه ده چې د دولت په عوایدو کې د خلکو د ونډې فرهنګ د تبعه والي یا ښاریتوب د یوې وجیبې په توګه پیاوړی شي، ځکه هغه منبع چې خلکو ته د دولت خدمتونه برابروي، د دولت په عوایدو کې همدا ولسي ونډې دي. د دې فرهنګ رامنځته کول او پیاوړي کول په هغه رول پورې اړه لري چې مدني ټولنه یې ترسره کوي. مدني ټولنه د دې لامل کېږي، څو خلک د ژوند له لومړنیو مسایلو او د شهروندۍ له مسوولیت سره بلد شي. لکه خلک درک کړي چې د دولت د مامورینو، ښوونکو او امنیتي کارکوونکو تنخواګانې له هغو عوایدو څخه تامینېږي چې د وګړیو د ونډې په واسطه تامین شوې دي.

پر دې بنسټ وګړي همغسې لکه د عوایدو په تامین کې چې رول لري، د هغو سم او شفاف لګښت هم څارلی شي. د عایداتي جرمونو په کشف کې مدني ټولنه، په ځانګړي ډول پلټونکې خبریالي برجسته رول لرلی شي. موږ دولس دځېړنو اوونډې پربنسټ چې په ملي شورا او ولایتي شوراګانو کې د هغوی د باصلاحیته استازو له خوا ترسره کېږي، اعتبار ورکوو، څو د مالیاتي شفافیت فرهنګ د راتلونکو یا لګولو په برخه کې په ټولنه کې بنسټیز شي.

**سیمه ییزه حکومتولي**

د ټولنیز عدالت د تامین او متوازن انکشاف لپاره لازمه ده چې هره ولسوالۍ له ملي پرمختیایي پروګرام څخه لکه د ملي پیوستون پروګرام ګټه واخلي. د ولسوالیو متوازن پرمختګ افغانستان شمول دی او په مشخصو معیارونو سره په هره ولسوالي کې په پنځو لومړیتوبونو تمرکز کېږي. دا پنځه لومړیتوبونه خپله خلک ټاکي، خو د هغو په عملي کولو کې خلک او دولت په ګډه ونډه اخلي. د دې پروګرام بله برخه ولسي څارنه ده چې د ولسوالیو د انتخابي شوراګانو په واسطه چې موږ د هغو د جوړولو ژمنه کړې او د ملي پیوستون په ګډون ولسي بنسټونه ښایي اجرا شي. په دې پروګرام کې د ملي پیوستون پروګرام په څېر زیات تمرکز د زېربناو په رامنځته کولو کېږي، څو د اقتصادي ودې لامل شي او د خلکو ژوند په اساسي ډول بدلون وکړي. موږ ښایي هر اړخېزه هڅه وکړو، څو تولیدي شرکتونه رامنځته شي او د ولسوالیو تولیدات ملي، سیمه ییزو او نړۍ والو بازارونوته لاره پیدا کړي او له دې لارې په هېواد کې د متوازنې ودې لامل شي.

ولسواکي د خلکو له فعال ګډون پرته نشي رامنځته کېدلی. د ولسواکي مانا یوازې په هرو پنځو کالو کې د حکومت بدلون نه دی، بلکې د حکومتولۍ په بېلابېلو کچو کې د خلکو دوامدار ګډون دی او له دې پلوه دوه اصله ډېر ضروري دي:

د پروګرامونو او پروژو په طرحه او تطبیق کې باید د خلکو پر پوهه اتکا وکړو. له جغرافیایي، سیاسي او اقتصادي پلوه د خلکو پېژندنه باید جدي ونیول شي. نړۍ والې تجربې ښیي چې د خلکو پوهه له امکاناتو څخه په ښه ګټه اخیستنه کې عمده رول لري او تخنیکي پوهه کافي نه ده. لکه په اوبولو کې د خلکو پیاوړې پوهې ته له پاملرنې پرته ښایي لویې تېروتنې وکړو. د دغه ډول تېروتنو د مخنیوي لپاره ضرور ده چې په هر ډول پرمختیایي پروګرامونو کې ولسي پوهه د یو اساسي اصل په توګه په پام کې ونیول شي، نه د خرافات او وچو عقایدو په توګه چې د ټولنې د ودې او پرمختګ مخه ونیسي.

اړتیا ده چې تخنیکي پوهه، ولسي پېژندنه او سیاسي اړتیا په خپلو کې مشترک شي. زېربنایي پروژې له سمې تخنیکي پوهې پرته نشي ترسره کېدلی.

له بل لوري، د پروژو ساتنه او څارنه له سياسي پوهې او ولسي ونډې وروسته امکان نه لري. له دې پلوه زمونږ ټينګار د يو ګډ ټيم په رامنځته کولو دی چې  د هغه په ترکيب کې هم تخنيکي کدر وجود ولري، هم هغه خلک چې له ملي او اسلامي فرهنګ سره بلد وي او هم هغه کسان چې سياسي اړتياوې درک کړي. د پروژې سياسي او ټولنيزواثراتو ته له پام مه واره په تخنيکي پوهه ټينګار د ټولنې له بدنې څخه د دولتي کدرونو د جلاوالي لامل کېږي.

مشروعيت د تخنيکي معيارونو پر بنسټ نه شي ترلاسه کېدلی. د دې لپاره چې دولت جوړونه او ملت جوړونه پر بنسټ استوار وي، اړينه ده چې د نظام مشروعيت ورځ په ورځ زيات شي. پر دې بنسټ تخنيکي پوهه بايد تل د خلکو له پېژندنې او سياسي پوهې سره همغږې وي، څو د نظام په اړه د خلکو اعتماد د هغه د مشروعيت ستنې د خلکو په ذهنونو کې پياوړې کړي. نن ورځ خلک د حکومتولي د شکل او منځپانګې په برخه کې مهم نظريات لري. لکه دا خبره د خلکو په منځ کې په سادګي د درک وړ ده چې په حکومتولي کې بايد ضوابط پر روابطو حاکم وي. پر دې بنسټ بايد خلک په ټولو اړوندو چارو کې له خپل شهروندي ژوند سره شريک وي، څو وکولی شي خپلې غوښتنې د سياسي نظام له لارې په عمل کې پلې کړي.

پر دې بنسټ پايله اخيستلی شو چې محلي اداره د نظام جوړولو او د سياسي نظام د مشروعيت د پراخولو مهم بستر دی. کله چې د نظام سياسي مشروعيت په عامه افکارو کې تامين شي، د اصلاحاتو پروسه چټکه کېږي، ځکه د خلکو غوښتنو ته سم ځواب ورکول کېږي. له بل لوري د ملي ادارې په پياوړي کولو سره زمونږ د حکومتولي ليدلوری پراخېږي او خلک له دوه زړه توب او اضطراب حالت څخه راوځي او باور پيدا کوي. د خلکو باور بالمقابل، د شهروندي چارو په ټولو برخو کې د هر اړخېزې ونډې اخيستلو لامل کېږي.

د جوماتونو له جوړولو واخله د اوبولو تر سيستم او د نيالګيوترکېنولو پورې په عامه چارو کې د خلکو ونډه اخيستل چې منځ مهاله پايلې لري د محلي ادارې له برياو څخه ده. پر دې بنسټ د سياسي نظام  د بريا په پروسه کې، نجيبه حلقه وجود لري چې بايد پام ورته وشي. دا نجيبه حلقه همدغه بريالۍ محلي ادارې دي چې بايد په منظم ډول يې ولسي ارزونه وشي. د ولسمشرۍ دفتر هم بايد د محلي ادارو له ټولو کړنو څخه بشپړ معلومات ولري، څو د اړتيا پرمهال لازم اقدامات عملي کړي.

### ولايت

د ولايت په کچه د مهمو ادارو واحدونو په توګه د حکومتولۍ په برخه کې له څو ستونزو سره مخ يوو:

زموږ ولایتونه په اوسني شکل کې خپلواک حکمي شخصیت نه لري. والي د ولسمشر ځانګړی استازی ګڼل کېږي او هر ریس د یو وزیر ځانګړی استازی. امنیه قوماندانی هم په مستقیمه توګه له کورنیو چارو وزارت سره په اړیکه کې ده.

د اساسي قانون د ۱۳٦ مادې د حکم پر بنسټ سیمه ییزه اداره ولایت دی، خو اوسنۍ سیمه ییزه اداره د نفوس او موجود جغرافیایي ترکیب سره نه شي کولی خپلو دندو او مسوولیتونو ته د ښې حکومتولۍ د تامین او وګړیو ته د اسانتیاو او خدمتونو برابرولو ته رسیدګي وکړي.

د بودجې په برخه کې هم ولایت یو خپلواک بودجوي واحد نه دی، پر دې بنسټ د هر ولایت هره سکتوري برخه په کابل کې د اړوند وزارت پورې اړه لري. په بودجوي منابعو څارنه او کنټرول او د ولایتونو د لګښت ډول فوق العاده کمزوری دی. پر دې سربېره زیاتره ولایتونه د کال په دویمه او دریمه ربعه کې خپله بودجه لاسته راوړي. په همدې دلیل په ولایتونو کې د بودجوي مؤثریت اندازه کله هم دې کچې ته نه رسېږي چې د ډاډ او رضایت وړ وي.

په بېلابېلو ولایتونو کې شکایت دی چې دولتي پوستونه عموماً په بېلابېلو شکلونو په انحصار کې نیول شوې دي. دبېلابېلو ولسوالیو تر منځ د منابعو په وېش کې زیاتې ستونزې او شکایتونه وجود لري. دا نه همغږي او نه توازن د ولایتونو او ولسوالیو په اداري کچو د دې لامل شوی چې د حکومت اغېز سخت کمزوی شوی او د سیمو په کچه یې اقتدار کم شي.

د مالي منابعو او د بېلابېلو ولایتونو تر منځ لګښتونو کې د نانډولي ستونزه د محلي حکومتولۍ په نظام کې له عمده کمیو څخه ده، هر ولایت بې له دې چې له بل ولایت څخه خبر شي، تصور کوي چې کابل د مرکز په توګه له مختلفو ولایتونو سره په اړیکه کې تبعیضي لیدلوری او چلند لري. بل عمومي تصور دا هم دی چې کابل د ټولو ولایتونو په پرتله له تبعیضي لیدلوري چلند کوي او د هغوی د ستونزو او اړتیاو په نسبت بې توجه دی.

د ولایت او ښاروالیو د دندو تر منځ د روښانه تفکیک نه شتون هم جدي ستونزه ده. فعلاً دادواړه بنسټونه انتصابي وو او اغلب د خپلو دندو او واکونو د ټاکلو لپاره له جدي کشمکشونو سره مخ دي. لکه عامه ذهنیت دادی چې دولتي املاک په ښارونو کې عموماً د فساد یوه وسیله ده، څو هغه سرچینې چې له هغو څخه وکولی شي د دولت د اقتدار د حقوقي بنسټ په توګه ګټه وکړي او یا د دولت ډېرې اداري او مالي ستونزې حل کړي.

د پورتنیو ستونزو د حل لپاره زموږ ژمنه داده چې:

د ولایت، ولسوالي او ښاروالي د اداري صلاحیتونو حدود په شفاف او روښانه ډول تعریف شي او حکمي شخصیت او قانوني دندې یې مشخصې شي.

د دې لپاره چې محلي اداري وګړو ته د ښې حکومتولۍ لارې چارې برابرې کړي، یوې بنسټیزې اصلاح او تعدیل ته اړتیا ده، څو د ولایتونو او اړوندو د شمېر، ساحې، اجزا او تشکیلاتو له پلوه د نفوس، ټولنیز او اقتصادي حالت او جغرافیایي موقعیت پر بنسټ د قانون د حکم مطابق تنظیم شي.

ولایتونه مشخص بودجوي واحدونه ولري.

په هغه حالت کې چې ولایتي بودجه ترتیبېږي، هر وزارت د ولایتونو ونډه مشخصه کړي او د مالیې وزارت مسولیت دادی چې د هر ولایت بودجه د عمومي بودجې د جز په توګه د تصویب لپاره ملي شورا ته ولېږي.

د بودجې له تصویب وروسته، مالیې وزارت د هر ولایت مشخصې شوې منابع په څلورو قسطونو کې په منظم ډول ولایتونو ته انتقالوي. له دې وروسته ښايي وزارتونه ولایتونو ته د بودجې د وېش مسوولیت ونه لري.

د وزارتونو مجموعې لاندې واحدونو د هرې برخې د مامورینو دندې له مرکز څخه تر ولایتونو پورې په روښانه ډول تعریفېږي. د ادارو دندې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د ولایت د کاري اړتیا پر بنسټ ټاکل کېږي، نه د وزارت د امر پر بنسټ.

ولایتونو ته د منابعو وېش د ستراتیژیکې اړتیا، د متوازنې ودې د رامنځته کېدو او د بې وزلي او محرومیت د له منځه وړلو پر بنسټ کېږي، نه د ولایتونود درجه بندي پر بنسټ. د ولایتونو درجه بندي د تېرو حکومتونو د دورې میراث دی چې زموږ په دوران کې ګټور نه دی. د افغانستان محروم ولایتونه په تېرو لسیزو کې لږ منابع په واک کې لرلې. زموږ ژمنه داده چې د تاریخي وروسته پاتې والي او جغرافیایي شرایطو له پلوه چې دمخه یې د خلکو د شهروندي حقونو په تامین کې د اصلي خنډونوپه توګه طرحه شول. ښايي یو ځانګړی ضریب په پام کې ونیول شي چې د همغه ضریب پرښنسټ ټول پرمختیایي پروګرامونه طرحه او تطبیقېږي. البته د متوازنې ودې رامنځته کولو مانا دا نه ده کوم ولایتونه چې چټکه وده کوي، هغه دې وځنډول شي، بلکې په دې مانا دی چې په دې ولایتونو کې ښايي په خصوصي سکتور ډېره اتکاوشي، څو د ودې اړتیاوې تامین کړي، خو وروسته پاتې ولایتونه باید د دولت د پروګرامونو د توجه محور کې قرار ولري، څو د پانګونې او ولسي فعالیتونو امکان رامنځته شي. له دې پلوه، د جغرافیایي موانعو له منځ وړل چې د هېوادوالو تر منځ پراخه ټولنیزې، اقتصادي، فرهنګي اړیکې

ګډوډوي، په لومړیتوب کې قرار لري. د سرچینو په برخه کې زموږ مشخصه ژمنه داده چې د عادي او پرمختیایي پروګرامونو په چوکاټ کې ٤٠% ملي منابع د محلي حکومتولي په کچو اختصاص کېږي.

**ښاروالۍ او ښاري ژوند نظام:**

د ښاروالیو په برخه کې چې د اساسي قانون د حکم پر بنسټ باید انتخابي وي، یو شمیر نور بنسټیز بدلونونه به هم عملي شي.

د ښاروالیو دندې به د نړۍ د ډېرى هیوادونو د شلمې او یویشتمې پیړۍ د تجربې نه په ګټې اخیستو سره په نوي ډول تعریف شي. یوشمیر دوایر چې اوس مهال د ښاروالۍ په کنترول کې نه دي، د ښاروالۍ د مدیریت حوزې ته به انتقال شي. له دغو دوایرو څخه یوه یې د اوبو او بریښنا د خدمتونو تامین او د ترافیکو تنظیم دی، ښاروالۍ به د پولیسو ځانګړې قوه ولري چې د ښاروالۍ د پریکړو د اجراء کولو مسؤله به وي او په مستقیمه توګه به د ښاوالۍ تر اغیز لاندې فعالیت کوي. اوس مهال د ښاروالۍ او پولیسو د فعالیتونو تر منځه د انسجام نه شتون د دې لامل کېږي چې د ښاروالۍ اړوند ډېرى قوانین پلي نه شي، البته د دې لپاره چې ښاروالي خپلو پریکړو ته تطبیقي بڼه ورکړي، د خلکو له ځانګړو تشکیلاتو څخه به چې د قانون په چوکاټ کې به رامنځته شي، ګټه واخلي.

د دوو کلونو په ترڅ کې به د ښاروالۍ ظرفیت داسې کچې ته ورسوو چې وکولای شي خپل پروګرامونه (برنامې) د یوې مهمې اجرایوي قوې په توګه تطبیق (پلي) کړي، ځانګړي میکانیزمونه به په پام کې ونیول شي تر څو اداري فساد، د کار کموالی، د ښاروالۍ د مامورینو د کاري مصؤنیت نه شتون، دداسې مسلکي کدرونو نه شتون چې د ښاریتوب (شهروندی) د مسایلو او کارونو د درک قدرت ولري، له منځه ولاړ شي او ښاروالۍ د ټولنې لپاره د ښې حکومت دارۍ روڼ مظهر وګڼل شي.

ښاروالۍ ګانې یواځیني سیمه ایزاداري واحدونه دي چې د عوایدو د اخیستلو حق لري، په همدي اساس، د ښارونو په کچه د مالي منابعو تنظیم او د عامه برخې اخستنې د فرهنګ رامنځته کول به د عوایدو په تقویه کولو کې، زموږ د حکومت د تر ټولو زیات بنسټیزاقدامات وي. خلک باید د ښاروالۍ د انتخابي شورا له لاري په شفاف ډول درک کړي چې د مالي منابعو په رامنځته کولو کې څومره ونډه لري او د دوي دا ونډه څه ډول او د کوم میکانیزم لاندې لګول کېږي.

له دې کبله چې د ښارونو د پراخیدلو د کچې له مخې، د ښاریانو او ښاروالۍ تر منځه واټن نور هم زیاتیږي، د ګذرونو او ناحیو مدیریتي جوړښت به په بنسټیزه توګه د خلکو د شریکولو او برخې اخیستنېلپاره چمتو کړو، زموږ ژمنه دا ده چې د ناحیو او ګذرونو په کچه به د ملي پیوستون په څېر د

ښاري پیوستون پروګرام رامنځته کړو تر څو د خلکو د فعالې برخې اخستنې او ګډون امکانات منځته راشي.

په دې برخه کې به ځینې نور ځانګړي میکانیزمونه رامنځته کړو، تر څو د هغو په اساس، د عرفي جایدادونو په شرعي کولو، د دولت په کارونو د نظارت د فرهنګ ایجادول او د زیربناوو په ایجادولو کې د خلکو برخه اخیستنه تامین شي، نوموړي اقدامات به په ټولیزه توګه دا زمینه برابره کړي، تر څو خلک ډاډه شي چې د دوی مالیې د ژوند د ښه کیدلو لامل ګرځي او د مالیې ورکول د ددوی د ټولنیزو وجایبو برخه ده.

سربیره پر دې، څرنګه چې افغانستان د ښارونو د چټکې ودې سره مخ دی، اړتیا لرو تر څو داسې دوایر را منځته کړو چې د ښارونو پلانګذاري په پراخ ډول او نړۍ والو نورمونو او تجربو ته په پاملرنې کولو سره تر سره شي. د بېلګې په ډول د کابل سره د ګاونډیو پینځو ولایتونو اړیکه د کابل د ښاري پرمختګ په پروګرامونو کې د لومړنیو اړتیاوو څخه ده، په غیر له دې واقع بینانه پروګرامونه طرح او عملی کېدای نه شي. په دې برخه کې به په لاندې ډول د ملي ارتباط او انسجام شپږ محورونه چې په ښارونو او کلو کې د تولیدي فرهنګ د منځته راوړلو او غښتلي کېدلو لامل ګرځي، روښانه کړو.

دیوې هر اړخیزي نتیجه ګیرۍ په ډول، په ښارونو کې د محلي حکومت دارۍ د پروګرامونو په اړه په لاندې ټکو ټینګار کول اړین بولو:

د ګذر د وکیلانو نظام باید له اوسني حالت څخه د خلکو په انتخابي شورا واوړي تر څو د ګذر د وکیلانو او اوسیدونکو خلکو تر منځ د شفاف حساب ورکولو میکانیزم رامنځته شي او همدارنګه د انتخابي شورا ګانو صلاحیتونه او مسؤلیتونه په روښانه او قانوني ډول تعریف شی.

لویو ښارونو خصوصاً کابل دومره په چټکۍ وده کړې ده چې د ښار څېره یې په لوړه کچه تر خپل اغیز لاندې راوستې ده، زمونږ حکومت به د یوه دقیق او چټک پروګرام سره، له ښارونو څخه د حاشیه زدایي طرح عملي کړي. په دې برخه کې د کابل ښار خاص لومړیتوب لري او زمونږ ژمنه داده چې د کابل مکمله اصلاحي نقشه به د راتلونکو پینځو کلونو په ترځ کې په بشپړه توګه تر سره کړو او د ښاریانو د ملکیتونو د ساتنې او د جایدادونو اړوندو لانجو او غصب د مخنیوي لپاره به د هغوی ټول جایدادونه د یوه منظم او قانوني پلان له مخې شرعي قواله ولري.

د ښاري ژوند د نظام د نه شتون له امله، د کابل په ښار کې د خدماتو بیه ډېره زیاته لوړه شوې ده، د بېلګې په ډول د یوه هلک یا نجلۍ پوهنتون یا بنسټیزو زده کړو ته رسیدل کورنیو ته ډیر ګران پریوځي.

جاپانیانو په یوه سروې کې په ډاګه کړیده چې د کابل لږ تر لږه ۳۳ سلنه خلک له یوې ناحې نه بلې ته په پلي توګه تګ راتګ کوي، د دې یو عمده لامل دادی چې د ترانسپورت د لګښت وسه نه لري خو بل عمده علت یې دادی چې د ښاري پلان په نه شتون کې، هغه وخت چې په ترانسپورت کې تیریږي، د هغه په پرتله چې په پلي ډول حرکت کوي زیات دی، نو ځکه به د مسکن د انسجام، اداري دفترونو او ښاري خدمتونو پروګرامونه داسی بدلون ومومي چې هم به د ښاري ژوند سره اړخ ولګوي او هم به له ځمکې څخه په ډیرښه ډول ګټه واخیستل شی، شنه فضاء، تفریحي پارکونه د عامه زده کړو ځایونه، روغتونونه، ښوونځي او د لوړو زده کړو مؤسسې ټول کیدای شي په یوه منسجم نظام کې داسې مدیریت شي چې هم د هغوي ساتنه او څارنه ممکنوي او هم د ښاریانو ونډه د ښاري امورو په اداره او نظارت کې تامین شي.

یو لوی خطر چې اوس مهال زمونږ لوی ښارونه، مخصوصآ کابل تهدیدوي، د اوسیدنې د چاپیریال ککړتیا ده. په دې اړه مشخصو او قاطعو تدابیرو ته اړتیا ده چې زمونږ د حکومت له عمده لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي. په کابل کې د ژوند شرایط، د هوا او د ځمکې لاندې اوبو ککړوالی، چې د ښاریانو او دولتي اورګانونو د نه پاملرنې په وجه په چټکۍ سره زیاتیږي د دې ښار راتلونکې د جدي ګواښ سره مخ کړیده. د ډیلي تجربه دا ښیي، چې د نفتي موادو ډیر بد ډول استعمال د هندوستان د سترې محکمې د مداخلې په اساس د ژوند د چاپیریال دپاره په یوه مثبت اقدام واووښت، د دغسې تجربو د پلي کولو لپاره اړتیا لرو چې په لومړي قدم کې د ښار او د ښاریانو د حقوقو تعریف په خپل فکر کې اصلاح او پراخه کړو، د اوسیدنې د چاپیرال د خطرونو سره مقابله یواځې د دولت مسؤلیت نه دی، خو باید د ښاریتوب داسی یو فرهنګ رامینځته او وروزل شي چې د ټولنې هر وګړی په هغې کې په برخه اخیستلو سره وکړای شي د خپل او راتلونکو نسلونو په ژوند کې مثبت تغیرات راولي.

### د ولسوالیو او کلیو بانډو وضعیت ته رسیدګي کول:

د ولایت، ښاروالۍ ولسوالۍ او کلو په کچه د مرکزي او ولایتي دوایرو تر مینځ د منظم ارتباط تامین، له هغو اړتیاوو څخه ده چې زمونږ حکومت به ورته جدي پاملرنه وکړي. قریه د اوس مهال لپاره د حکومتدارۍ د یوه ارګان په حیث تعریف او مستقل حکمي شخصیت نه لري، سره له دې هم د ملي پیوستون پروګرام د کلو په کچه د سیمه یز ارګان لومړنی شکل رامنځته کړی دی، چې کولای شو هغه په اسانۍ سره د یوه منظم قانوني سیه یز حکومت په ډول تنظیم کړو.

د ولسوالۍ په کچه د جدي ستونزو د لرې کولو لپاره به بیړني اقدامات تر سره کړو، لا تر اوسه هم یو ډیر شمیر ولسوالۍ لومړني تعمیرونه نه لري، هغه دندې او خدمتونه چې باید د ولسوالۍ په کچه تر سره

شي، په سمه توګه څرګند نه دي. په امنيتي برخو کې د ډيرې پانګونې له امله د ولسوال قانوني حيثيت په حقيقت کې کمزوری شوی دی. په داسې حال کې چې د ولسواليو امنيه قوماندانان نسبتاً له ډيرو وسايلو او امکاناتو څخه برخمن دي، ولسوالان له هغو کمو امکاناتو څخه چې د دوی د دولتي اقتدار او حيثيت ساتلو لپاره په کار دي هم برخمن نه دي. له همدي امله د ولسوالۍ ملکي اداره هم د امنيتي اداري تر اغېز لاندې راغلې ده، په همدې ډول يوه بله عمده ستونزه په ولسواليو کې د يوې فعالې عدلي او قضايي قوې نشتوالی دی چې له امله يې د حکومت دارۍ حيثيت په سيمه ايزه کچه خورا کمزوری شوی دی، مونږ به دغو ټولو ستونزو ته په جدي ډول پاملرنه او د حل لپاره به يې اقدامات تر سره کړو.

د ولسواليو په کچه به د ملي پيوستون پروګرام ته ورته يو پراخ ملي پروګرام په نظر کې ونيسو تر څو له يوې خوا د دولت حضور په ولسوالۍ کې منظم شي او له بلې خوا هغه خدمتونه چې ولسوالۍ يې وړاندې کوي، معياري پايلې ولري، په دې اساس به ټول وزارتونه د ولسوالۍ په کچه خپل اړوند فعاليتونه د يوه منسجم او همغږي پروګرام له لارې مديريت او تر سره کړي.

زمونږ په حکومت کې به د ملي پيوستون پروګرام يو له ډيرو مهمو پروګرامونو څخه وي چې په ټول کلي کې به د مرکزي دوايرو له خوا پلی کېږي، کلي به حقيقي حيثيت ومومي، د کلو شوراګانې به په دوامدار ډول د ازادو او سري انتخاباتو له لارې رامنځته شي، د کلو لومړيتوبونه به وپيژندل شي او هغوي لپاره به ټاکلې بودجه تخصيص شي.

په پينځو کلونو کې به د کلو په کچه توليدي او عايداتي منابع رامنځته کړو، په دې برخه کې به يو له کارونو څخه داوي چې د کلي شورا به د سهامي شرکتونو په رامنځته کولو سره د کرنې، مالدارۍ او لاسي صنايعو له لارې له بازار سره رابطه ټينګه کړي او خپل محصولات به په منظم ډول بازار ته عرضه کړي، له دې لارې څخه د لاسته راغلو عوايدو عمده برخه به بيرته د کلي د توليدي ظرفيتونو د لوړولو لپاره ولګول شي تر څو د اضافي توليد منابع رامنځته شي او کلي به د خپلو بودجوي اړتياوو په تامين کې برخه واخلي.

**د ملکيتونو، جايدادو او د ځايونو د لانجو حل**

د ملکيتونو د مصؤنيت نه شتون د افغانستان په تاريخ کې د تضاد يوه له عمده عواملو څخه دی او اوس هم د تضادونو او خونړيو لانجو مهمه برخه جوړوي. زمونږ حکومت د دغه حق د تامين لپاره مشخص اقدامات په پام کې لري:

د دې لپاره چې د مسکن په برخه کې د فشار حجم راکم شي، د ۵۰۰ زره کورونو د جوړولو لپاره د یوه ملي پروګرام طرح او اجراء به زمونږ د حکومت په لومړیتونو کې وي، دغه ټول نوي ملکیتونه او جایدادونه به د با اعتباره شرعي سند لرونکي وي چې د الکترونیکي وسایلو له لارې به د جایداد ملکیت تثبیت کړي، او ښاریانو ته به دا امکان هم ورکړي ترڅو د خپل شرعي جایداد د اعتبار څخه د دولتي ارګانونو او خصوصي سکتورونو سره هر ډول معامله او شرعي راکړه ورکړه یا تجارت او قرارداد لپاره ورڅخه ګټه واخلي.

موږ ژمن یو چې ټول عرفي جایدادونه به د یو منسجم او سنجول شوي پروګرام پر بنسټ او د خلکو په ګډون باندې په تکیه کولو سره، مخصوصاً په لویو ښارونو کې، د شرعي اعتبار لرونکي کړو، عرفي جایداد نه یواځې د پراخه اداري فساد لامل ګرځي، بلکه د ملکیتونو د زورمندانه غصب کولو لپاره هم زمینه برابروي، له دې کبله چې د ښاریانو جایدادونه او ملکیتونه شرعي او با اعتباره بنسټ نه لري، د خلکو ستره پانګه د دوامداره خطر سره مخ ده، په ورته وخت کې د دغو عرفي اسنادو یوه پایله داده چې زمونږ ښارونه هیڅکه مدني بڼه نه خپلوي او ښاریان مو ښاري حقوقو او وجایبو ته رسیدګي نه شي کولای نو ځکه زمونږ ژمنه د یوې ډیرې شفافې او منسجمې پروسې پر اساس د جایدادونو شرعي کول دي. نوموړئ پروګرام به په لومړي قدم کې له کابل څخه پیل کړو چې په هغې د خلکو تخمیناً ٪۷۵ جایدادونه عرفي دي.

ترکیه په دې برخه کې د بریالۍ تجربې درلودونکې ده. په انقره کې چې کابل ته ورته حالت یې درلود، د یوې ډیرې مسنجمې پروسې له لارې د خلکو ټولو جایدادونو ته شرعي بڼه ورکړل شوه او د هغې په اساس، ټول ښاري قواعد او د ښارې ژوند نظام په خلکو تطبیق شو. مونږ به دې پروسې ته ورته پروسه د خپل یوه عمده لومړیتوب په توګه په کابل ښار او د هغې څخه وروسته د مملکت په ټولو ښارونو کې، یو په بل پسې، تطبیق کړو.

د جایدادونو د تثبیت دعوې زمونږ د وطندارانو لوی مصروفیت جوړوي او هر کال په سلګونه میلیونه افغانۍ په نوموړو دعوو او لانجو کې مصرفیږي، زیات وخت په بیځایه ډول له منځه ځي او په سلګونو ستونزې د خلکو تر منځه اړیکو ته صدمه رسوي، په همدې دلیل هغه لوېې او وړې پانګه اچونې چې د جایدادونو د تثبیت په اساس د اجرا وړ دي، په ټپه ودریږي او په عین حال کې د زورمندانو له خوا د جایدادونوغصب ته مجال ورکول کیږي.

د جایداد او ځمکې غصب زمونږ په هیواد کې په یوې حادې ناروغۍ اوښتې ده، دغه ستونزه مخصوصاً د دولتي ځمکو په برخه کې ډیره ظالمانه ده، د دولتي ځمکې او جایداد د غصب د مخنیوي لپاره په

لومړي قدم کې ضروره ده چې ټولې دغه ځمکې تثبیت او د یوې مرجع له خوا یې اداره کړو، په دې اساس  زمونږ طرح په جمهوري ریاست کې د یوې باصلاحیته کمټې جوړول دي چې ټول دولتي املاک په خپله مستقیمه اداره کې راونغاړي، مشخص وزارتونه او په ځانګړي ډول د دفاع او کرنې وزارتونه باید د دولتي املاکو په مدیریت کې رول ونه لوبوي، دا کار د هغوی له دندو څخه نه دی، ټول دولتي جایدادونه باید تثبیت او نوموړي باصلاحیته کمیټې ته انتقال شي او د هغه خاص شفافیت په اساس چې اساسي قانون ټاکلی دی، اداره شي. د یادولو وړه ده چې اساسي قانون په صراحت  حکم کوي چې جمهور ریس د دولتي املاکو د بخښلو صلاحیت نه لري او  باید د دولتي املاکو د مدیریت پروسه د قانون پر بنسټ تر سره شي، زمونږ ژمنه داده چې د دولتی املاکو قانون به په چټکۍ سره ملي شورا ته استوو او د هغه د پلي کولو لپاره به پراخ اقدامات تر سره کوو، د نوموړې طرحې پر اساس به د خصوصي سکټور یوه لویه برخه ستونزې حل شي او په عین حال کې به د کور جوړولو پروګرام تطبیق شي. دولتي ملکیت د منسجمې سرمایه ګذارۍ او د شرعي جایداد د رامنځته کولو لامل ګرځي، د غصب شویو املاکو بیرته اخیستل د اساسي قانون د ارزښتونو پر اساس تر سره کېږي او  دا کار به د نړۍ والو تجربو او ملي شرایطو په پام کې نیولو سره داسي تر سره کېږي چې د ثبات او د جایدادونو د شرعي کولو لامل وګرځي تر څو مونږ وکولای شو چې د هیواد ټول املاک که هغه شخصي اویا دولتي وي په یوه منل شوي منظم چوکاټ کې د ټاکلو حدودو او مشخصاتو له مخې تثبیت کړو.

**په سیمه ییزه کچه د کوچنیو شخړو حل**

په سیمه ییزه کچه د لانجو د حل او فصل لپاره یوه با صلاحیته شورا، چې د هغې په ترکیب کې به علماء، سیمه ییز باوري خلک، د مدني ټولنې فعالین او د ټولني نور بانفوذه قشرونه شامل وي، د افغانستان په ټولو ولایتونو کې رامنځته شي تر څو د کوچنیو لانجو په حل کې غوڅې پرېکړې وکړي او په مشخصو او ټاکلو مواردو کې د تکراري پریکړو مخه ډب کړي.

په عین وخت کې، په ټولو بشري امورو کې د اشتباه د امکان په دلیل به نور میکانیزمونه هم په نظر کې ونیسو چې د هغې پر اساس به د هرې ولسوالۍ په کچه یو خاص صندوق رامنځته شي تر څو هر څوک چې جایداد یې په قطعي فیصلې رسېږي، یو ټاکل شوی نقدي سهم په نوموړي صندوق کې واچوي، ترڅو که احیاناً په راتلونکې کې د اسنادو او شواهدو پر اساس ثابته شي چې شوې فیصله غیرعادلانه وه، هغه چاته چې د دعوې په جریان کې په غیر موجه ډول متضرر شوی دی، په بشپړه توګه ټول تاوان ورکړل شي تر څو هغه وکولاي شي د بازار له لارې بیرته د جایداد څښتن شي، خو هغه مشخص جایداد چې د باصلاحیته شورا د فیصلې په اساس د هغه له اختیار څخه وتلی دی، تر هغه وخته پورې چې د

هېواد د عدلي او قضايي نظام په چوکاټ کې د معتبرې محکمې د فيصلې په اساس ورباندې بيا کتنه نه وي شوي، د دويم ځل لپاره د دعوا او متضادو فيصلو لامل ونه ګرځي.

سربېره پر دغو عمليو، زمونږ بله ژمنه داده چې د کادستر پروګرام به په ملي او سرتاسري ډول تر سره کړو تر څو ټول اسناد او مدارک د الکترونيکي معلوماتو د زېرمو له لارې ورته ټول هېوادوال لاسرسی ولري. په مخزنونو او د مالېې په دفترونو او نورو کې د اسنادو د ساتلو زړې طريقې يا لارې به د املاکو ثبت به په بشپړه توګه د الکترونکي معلوماتو د ذخيرو په ډول واړوو او د شفافې تصميم نيونې لپاره د محاکمو او کميسيونونو ټولې فيصلې به په تحريري بڼه تيارې او په ټاکلو وختونوکې به نشر شي اوپه هغه صورت کې چې چې عمومي څارنوال د مسؤلينو د پرېکړو او فيصلو په اړه هر ډول اشتباه کشف کړي، نوموړي مسؤلين به د ټولو مسايلو په وړاندې ځواب ورکوي.

زمونږ ټولنه درې عددي اکثريتونه لري چې د اقتصادي او سياسي لحاظه په اقليت بدل شوي دي. دا درې عددي اکثريتونه له ځوانانو، ښځو او بی وزلو وګړو څخه عبارت دي. له دغو اقشارو څخه يوه هم د هېواد په اقتصادي، سياسي اواداري نظام کې د خپل ګډون له ډول څخه راضي نه دي. په عين وخت کې هغه فرصتونه چې په تېرو ديارلسو کلونو کې چمتو شوي دي، دهيواد په ټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي او سياسي اړيکو کې دغو درې اکثريتونو ته د سترو اغېزمنو اقشارو په توګه د را څرګندېدلو کېدو زمينه برابره کړې ده. دغه اقشارد هغو بنسټيزو او قانونمندو بسترونو له کبله چې د هغوي په واک کې دي، په تدريجي او آرام ډول د ټولنيز ژوند په مختلفو برخو کې ننوتي او اغيزمن او فعال رول يې لوبولی دی.

د دوی ټينګار د دوی د رول، موقعيت او افکارو پر اړتياوو باندې دی چې زمونږ د تحول او تداوم طرحه به د حکومتدارۍ په برخه کې توجه ورته وکړي. د نوموړو درېيو عددي اکثريتونو له ډلې څخه د ټولنې بې وزله وګړي او فقيران لاهم د داسې بنسټونو له قانونمند ملاتړ څخه بې برخې دي چې وکړای شي د دوی غوښتنې د قانون په چوکاټ او حکومتي تشکيلاتو کې منعکسې کړي. د ټاکنو په پروسه کې هم د دغو پرګنو آغيزمن ګډون لا تر اوسه هم منظم چوکاټ نه لري تر څو وکولای شي د هغوی د ژوند د وضعيت په بدلون کې اغېزمن ثابت شي. ځکه نوپه مختلفو برخو کې زمونږ د حکومت پروګرامونه په ټولنه کې د بيوزلۍ پر کمولو ټينګارکوي. د دې برخې مشخص اصول به د دې منشور د اقتصاد په ځانګړې برخه کې، چې مستقله چاپيږي، په تفصيل سره تر بحث لاندې ونيسو. په دغه برخه کې به چې د خپلې حکومت دارۍ خاص لومړيتوبونه مطرح او د ښځو او ځوانانو اړوند مسايل په جلا جلا ډول وڅیړو.

ښځې او ځوانان زموږيه ټولنيزژوندانه کې په ځانګړي ډول په تيرو ديارلسو کلونو کې له پراخ او اغيزمن حضور او ګډون څخه برخمن دي. مختلفې ډلي او بنسټونه چې د سياسي، فرهنګي، مدني او ټولنيزهويت او فعاليتونو سره په ټول هيواد کې رامنځته شوي دي، د ښځو او ځوانانو د پام وړ حضور، ملاتړاوانرژۍ څخه برخمن دي. ځکه نوزمونږ د ټولنې فضا د هغه رول او اغېز له مخې چې ځوانانو او ښځو ديارلس کاله د مخه په بنسټيز ډول درلود، توپير لري. د هېواد د مدني ټولنې د ټرټولو بنسټيزې ستې په توګه ښځې او ځوانان په اساسي قانون او له دغه قانون څخه د راوتلو احکامو د ارزښتونو د(تداوم) پر اصل ټينګار کوي او غواړي چې د دغو ارزښتونود عملي کېدلو په لړ کې جدي (تحول) رامنځته شي. له دې امله هغه ژمنې چې د ټاکنيز منشور اود حکومت دارۍ د طرحې په چوکاټ کې مو د خلکو د حقوقو په اړه او د دغو حقوقو د تر لاسه کولو لپاره د دولت د وجايبو په توګه په ګوته کړي دي.

تر یوې زیاتې اندازې د هغو پراخو او منسجمو بحثونو څخه سرچینه اخلي، چې د ټولنې د دغو دوو پرګنو سره مو درلودل. هغه عمده اصول چې د ښځو او ځوانانو فعال ګډون په داسې یو نظام کې چې پر عدالت او قانونیت باوري وي، د خپل حکومت د ژمنو په توګه په دوو جلا برخو کې په لاندې ډول وړاندې کوو:

## ښځې

### لومړی- سیاسي ګډون

زموږ له نظره، د ټولنې او دولت دارۍ په ټولو چارو کې د ښځو پر لیدلوري پوهېدل، له بنسټیز ارزښت څخه برخمن دی. د دغه نظر له امله، د درې ګونو قواوو په ټولو برخو کې د ښځو کمي او کیفي ګډون، مخصوصاً په دولتي ادارو کې له کلي څخه تر جمهوري ریاسته پورې، د یوې اساسي اړتیا په توګه مطرح کیږي. ژمنه مو دا ده چې د اساسي قانون د ثبت شویو احکامو په رڼا کې، د دولت دارۍ، اقتصاد، فرهنګ او د ټولنیزو اړیکو د نظام په اړوندو ټولو برخو کې د ښځو د پراخ ګډون زمینه د لاندې اقداماتو په ذریعه چمتو کړو.

د ښځو په هکله بنسټیز ټکی، په ټولنه کې د هغوی د شان، موقف او رول په اړه زموږ د لید لوري بدلون دی. ښځه له مستقل حقیقي شخصیت څخه برخمنه ده، پرته له دې چې د یوه بل کس په تعلق یا انتساب کې وسنجول شي. ښځه په دغه لیدلوري کې، د یوې ښځې په توګه او نه د یوې مور، خور، لور او یا به یو بل چا پورې د منسوب وګړي په توګه، په پام کې نیول کیږي. د لیدلوري دغه بدلون، په ټولنه کې د ښځو د حقوقو اړوندو ټولو چارو د سمون په لار کې لومړی او تر ټولو بنسټیز ګام دی.

د ښځو پراخ او فعال ګډون، په ټولو هغو برخو کې چې د هغوی فعالیتونه رانغاړي د هغوی د فردي مصؤنیت مستلزم دی. هغه کارمنده ښځه چې په دولتي ارګانونو کې کار کوي، باید له هر ډول تعرض، ازار او ګواښ څخه ژغورل شوې وي. په دې اساس به زموږ په حکومت کې هېڅ ډول داسې کړنه چې ښځو ته ازار او اذیت په توګه ګڼل کیږي او یا د هغوی د کار او فعالیت فضاء راتنګه یا مسمومه کړي، د زغم وړ نه وي او د سر غړوونکو سره به د قانون د احکامو سره سم په جدي توګه چلند وشی.

د دې لپاره چې د ښځو ګډون سمبولیک نه وي او په ریښتینې توګه د ښځو د فعال حضور نمایندګي وکړي، د ښځو د مدیریتي او رهبري ظرفیت د لوړولو لپاره به خاص پروګرامونه په نظر کې ونیسو تر څو د هغې پر بنسټ، د مدیریت او رهبرۍ په ډګر کې د ښځو وړتیاوې په بنسټیزه توګه وده وکړي او ښځې

وکولای شي په یوه آزاد او خلاص رقابت په فضاء کې، له سړیو سره مشروع رقابت وکړي او خپلې وړتیاوې او صلاحیتونه په اثبات ورسوي.

هغو تعلیم یافته ښځو ته به چې د کارموندنې له ستونزې سره مخ دي، په استخدام کې لومړیتوب ورکړو. د مساوات د تامین اصل ایجابوي چې د اداري په جوړښت کې جنسیتي انډول رامنځته شي. ځکه نو، هغه تعلیم یافته ښځې چې پخپله اوکورنۍ یې، د ډېرو ستونزو او خطرونو سره، سره یې خپلو زده کړو ته پاملرنه کړېده او خپله علمي وده یې د پوهنتون څخه د فراغت تر بریده رسولې ده، زموږ د دولت د جدي پاملرنې څخه به برخمنې شي ترڅو هغوي ته د کارموندنې امکانات برابر شي او له خپلې پوهې او لوړو زده کړو نه د کورني ثروت په تولید کې د برخې اخیستنې لپاره کار واخلي.

د ښځو د حقوقو د تامین په اړه د خپلو ژمنو د عملي کولو لپاره به په خپل بودیجوي نظام کې دوه ډوله بدلونونه رامنځته کړو: په لومړي قدم کې به، د جنسیتي بودجې طرح په ملي بودجه کې عملي کړو او په بنسټیزه توگه به کوښښ وکړو تر څو زموږ بودیجوي سیستم داسې عیار شي چې ټولنیز لومړیتوبونه په عام ډول او زموږ لومړیتوبونه د ښځو د اړوندو پروگرامونو په هکله په خاص ډول په نظر کې ولري. په دویم قدم کې به، د وزارتونو له لارې ټول پرمختیایي پروگرامونه د ښځو په برخه کې د متوازنې ودې او پرمختیا د لیدلوري سره سم تنظیم او تر سره شي.

د ښځو سیاسي گډون یواځې په مرکزي اداره کې نه خلاصه کیږي، بلکې په سیمه ایزو ادارو کې لکه: ولایتونه، ښاروالۍ او ناحیو کې به هم د ښځو د پراخ گډون زمینې برابرې کړو.

د ټولو سیاسي، اداري او پرمختیایي پروگرامونوپه ډگرونو کې به چې په ملي بودیجه کې د شمولیت مستلزم وي د ښځو په وړاندې مثبت تبعیض په نظر کې ونیسو.

د ښځو چارو وزارت به، چې د ښځو له حقوقو د تامین په اړه مشخص او منسجم پروگرامونه طرح او پلي کوي، د یوه تر ټولو کلیدي ارگان په توگه عمل وکړي. نوموړی وزارت به د ښځو د ظرفیتونو د لوړولو، مخصوصاً د ښوونې او روزنې، لوړو زده کړو، حرفوي او مسلکي مهارتونو په برخه کې له خاصو مرستو برخمن شي.

### دویم- عامه روغتیا

د ښځو لپاره د عامې روغتیا خدمتونو ته پاملرنه زموږ د دولت له لومړیتوبونو څخه ده. اوسمهال ښځې په عام ډول او ځوانې ښځې په خاص ډول، د زیږون پر مهال د مړینې له جدي خطر سره مخ دي.

په همدې ډول پخې ښځې له ځانګړو ناروغیو څخه رنځ وړي چې د نامناسبې تغذیې او د ډېر شمېر روحي او بدني فشارونو له امله چې د ژوند په ترڅ کې یې ګالي، منشه اخلي.

له دې امله به زموږ په حکومت کې، د وقایوي طب د ملي پروګرام پراختیا یو له عمده لومړیتوبونو څخه وي. په تېره بیا د امیدوارو ځوانو ښځو د مړینې سره د مقابلې لپاره به چې یو جدي ناورین دی، بنسټیز پروګرامونه طرح کړي. د معالجوي طب په برخه کې به د ځانګړو مقرراتو په وضع کولو او پلي کولو سره به داسې بنسټیز اقدامات تر سره کړو چې موخه به یې د دولتي روغتونونو بنسټیزه اصلاح او د باور او ډاډ وړ خصوصي روغتیایي سکتورونو رامنځته کول وي.

د روغتیایي زده کړو د نظام اصلاح او د نړۍ والو معیارونو سره د ښځو لپاره د ځانګړو روغتونونواو روغتیایي انجمنونو رامنځته کول به د نړۍ والو مرستو په جذب کې زموږ له لومړیتوبونو څخه وي. په همدې ډول د عمومي طب په برخه کې په تېره بیا د نسایي او ولادي طب د تخصص په برخه کې به د ښځینه ډاکټرانو تربیه کولو ته خاص ارزښت ورکړو.

ښځې باید له بشپړ ډاډ سره روغتونونو ته ننوځي او وکولای شي چې د پوهو ښځینه ډاکټرانو له خوا معالجه شي. زموږ طبي زده کړې به هم د بشري قواوو د پلان ګذارۍ له نظره او هم د جنسیتي لومړیتوبونو له نظره او هم د روغتیایي خدماتو د کیفیت له نظره د جدي پاملرنې لاندې ونیول شي. داسې یوه ټولنه چې په هغې کې ښځه عددي اکثریت جوړوي، اړتیا لري چې په کافي اندازه ښځینه ډاکټرانې او د روغتونونو په تخنیکي برخو کې نورې متخصصینې ولري. له دې امله به د ښځینه تخصصي او فني کدرونو ښوونه او روزنه هغه تر ټولو مهمه چاره وي چې پاملرنه به ورته وکړو. په عین حال کې د ښځینه متخصصینو د سویې د تثبیت لپاره به هم د روغتیایي معیارونو له لحاظه او هم د ازاد بازار د قانونمندو میکانیزمونو له لارې اقدامات تر سره کړو.

د ښځو لپاره د روغتیایي معیاري خدماتو په برخه کې زموږ د اصلاحي پروګرامونو د پلي کولو په هکله د باور د رامنځته کولو لپاره به آعماري رپوټونه په منظم ډول راټول او خپاره کړو. ژورنالیستکي څېړنې او د ښځینه نهادونو او مدني ټولنې څېړنه او ارزونه به هم له موږ سره مرسته وکړي ترڅو له فساد او ناکارګۍ څخه مخنیوی وکړو او د باور یو ډول فضاء رامنځته کړو.

په ټولیزه توګه زموږ هېوادوال د ټولنیزې بیمې څخه بې برخې دي. کورنۍ او ټولنیز سنتي نظام، زموږ لپاره یو ډول ټولنیزه بیمه رامنځته کوي. د هېواد په اوسینو شرایطو کې چې د مالي بنسټونو له لحاظه په شدیده مضیقه کې قرار لرو، د عمومي ټولنیزې بیمې د تامین په برخه کې هېڅ ډول ژمنه نه شو ورکولای.

خو د دې لپاره چې د ټولنيزې بيمې مفکوره تثبيت شي او د وګړو او دولت د ګډون کچه وټاکل شي، دغه پروسه به د ښوونکو او دولتي مامورين څخه پيل کړو ترڅو د ثور د کودتا څخه د مخه د لومړنيو تجربو په څېر، د مامورينو او ښوونکو بيمه د ځانګړو صندوقونو له لارې په اساسی ډول تثبيت شي او په کراره، کراره د ټولنې ټولې پرګنې په خپل ځان کې راونغاړي. ټولنيزې بيمې د ښځو اوکورنيو لپاره ځانګړی او ډېر ارزښت لري او زموږ حکومت به د دا ډول بيمو په رامنځته کول او تامينول د خپلو اقداماتو او پاليسيو دسرټکو په توګه په نظر کې ولري.

**دريم: ښوونه او روزنه او لوړې زده کړې**

ج

ملي او بين المللي تجربو ښودلې ده چې د نجونو او ښځو د ظرفيتونو په لوړولو باندې پانګه اچونه د ټولنې د فرهنګ، اقتصاد او حکومت دارۍ د نظام په بدلون کې کليدي رول لوبوي. زموږ په اساسي قانون کې هم کورنۍ د ټولنې د بنيادي هستې په توګه د ډېرې پاملرنې وړ ګرځيدلی دی.

مور په کورنۍ کې له حياتي رول څخه برخمنه ده، له دې امله چې مور د اولادونو په منځ مهاله ليد لوري اغېز پريباسي او اولادونه د مور او پلار تر منځ د اړيکې ډول په شعوري يا غېر شعوري توګه د خپلو راتلونکو اړيکو معيار ګڼي. پس هماغسې مو چې زموږ د حکومت دارۍ په طرح کې د ښوونځو، مدرسو او جوماتونو تر منځ د هماهنګۍ په برخه کې يادونه وکړه، په دې برخه کې به هم مهمې طرحې په لاندې ډول ذکر کړو:

د نجونو د سواد زده کړه زموږ د ښوونې او روزنې د نظام له لومړيتوبونو څخه دی او د ځانګړو پروګرامونو د رامنځته کولو له لارې به هڅه وکړو چې په ټول هېواد کې نجونې وکولای شي د ښوونې او روزنې ټولو امکاناتو ته لاسرسی ولري.

د هغوځوانو نجونو او د منځني عمر ښځو لپاره چې د امنيتي، فرهنګي او اجتماعي شرايطو له امله له تعليم او تحصيل څخه بې برخې شوې دي د سواد د زده کړې د پروګرامونو د رامنځته کولو په موخه به د چټکو زده کړو د پروګرامونو په چوکاټ کې ځانګړې طرحې د ښوونځيو او جوماتونو له لارې عملي کړو ترڅو ښځې وکولای شي چې لومړني او منځني ټولګي په لږ وخت کې زده کړي او لوړو زده کړو ته د ورننوتلو لپاره چمتو شي.

د ښځو د مديريت او رهبرۍ د ظرفيتونو د لوړولو په موخه به، د خصوصي سکتور سره په همغږۍ او همکارۍ او يا د دولتي منابعو او امکاناتو څخه په ګټه اخيتسلو سره، لږ تر لږه د ښځو لپاره يو ځانګړی

پوهنتون رامنځته کړو چې د تدريسي معيار او کچې له لحاظه به د دنيا د لوړو زده کړو د ټولو نورمونو سره سم وي. د افغانستان په ځانګړو شرايطو کې، د ښځو لپاره د يوه ځانګړي پوهنتون رامنځته کول، کولای شي د ښځو او نارينه و تر منځ د متوازنې ودې واټن راکم کړي او د ټولنې د فرهنګي ارزښتونو له نظره هم د کورنيو لپاره دا ډاډ رامنځته کړي چې لوڼې يې کولای شي په يوه ډاډمنه فضاء او د باور وړ حريم کې خپلو لوړو زده کړو ته دوامورکړي. په همدې ترتيب به د هغو نجونو لپاره چې د جګړو، نا امنيو او نا مساعدو محيطي شرايطو له امله له درس او تعليم څخه پاتې شوي او يا د هغوي د استعدادونو او وړتياوو وده کمزورې شوې وي، د ښځينه ښوونځيو په اړه هم ځانګړې اسانتياوې رامنځته کړو.

د ښځو لپاره تخنيکي زده کړې، زموږ د حکومت د لومړيتوبونو بله برخه جوړوي. زموږ د هېواد ښځې په داسې کارونو کې لکه نساجي، تاراوبدلو، قالينو اوبدلو، سوزن دوزي، خياطي، اشپزي اوداسې نور په سنتي ډول فعالې پاتې شوې دي، خو دغه ډول فعاليتونو د ټولنيز او فرهنګي حساسيتونو سره يو ځاي، د ښځو د استعدادونو د ودې مخنيوی کړی او د هغوي ظرفيتونه يې په هغو چوکاټونو کې را ايسار کړي دي چې زموږ د څو پېړيو ميراث دی. تخنکي پوهه داسې يوه وړتيا ده چې د هغې په مرسته ښځې کولای شي د مدني ژوند په ټولو ډګرونو کې فعاله ونډه واخلي. له کمپيوټر سره د بلد تيا له لارې ښځې کولای شي خپل د کورني ثروت په توليد کې د خپلو استعدادونو څخه ګټه پورته کړي. خو دغه ډګر يواځې د ښاري ښځو يوه ځانګړي قشر ته چمتو کېدلای شي، په داسې حال کې چې د ډېری کليوالو ښځو لپاره مهمه دا ده چې وکړای شي د ملي پيوستون په څېر پروګرامونو کې ونډه واخلي او يا داسې وسايل او افزار لاسته راوړي چې د هغو له لارې وکړای شي د خپل فکر او ابتکار رول د ټولنې د عمومي وضعيت په ښه کولو کې، په تېره بيا د کورنيو اړيکو او نظام لپاره په اثبات ورسوي.

د ښځو د تحصيلي کچې لوړول او په ټولنيزه او کورنۍ برخه کې د هغوي د فشارونو او کړاوونو کمول زموږ د حکومت بنسټيزې ملي موخې دي. په دې برخه کې، په ځانګړي ډول د کورنۍ پلان ګذارۍ په اړه به د دوه اسلامي هېوادونو، ايران او بنګله ديش له بريمنو تجربه زياته استفاده وکړو. په دې دواړو هېوادونو کې ديني بنسټونو او مدني ټولنو د کورنۍ پلان ګذارۍ په پلي کولو کې مهم رول لوبولی. په تېرو ديارلسو کلونو کې زموږ د وګړو په منځني عمر کې د پام وړ زياتوالی راغلی. دا يو مثبت او هيله بخښوونکی بدلون دی.

اوس بايد د دې فرهنګ د پياوړتيا او پراختيا لپاره هڅه وکړو، چې د ملي او اسلامي ارزښتونو پر بنسټ يوه هوسا ټولنه زموږ تر ټولو مهم مدني حق دی. په دې برخه کې تر ټولو لمړی د ښځو او نرو په ګډون د هېواد په خلکو کې د سواد او معارف پراخولو ته اړتيا لرو.

زدکړه، پالنه، روغتیا او مناسبه تغذیه، ټول د یوې باهدفه کورنۍ پلانګذارۍ په ترسره کولو پورې اړه لري.

څلورم : د کار حق ، د کاري لاروچارو برابرول او د مالکیت حق ته د ښځو لاسرسی د ښځینه وګړو د حقونو د تامین لپاره زموږ د حکومت د پروګرامونو یوه برخه ده.

په ټولنه کې د ښځو موقف د مالکیت د حق پورې تړلی دی. د اسلام سپیڅلی دین د ښځو لپاره د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې په لوړ موقف قایل دی. لږ تر لږه ۱۳۰۰ کاله پخوا مخکې له دې چې ښځه د غربي هېوادونو په ګڼون په نورو ټولنو کې د ملکیت د رسمي حق لرونکي شي، ښځې په اسلام کې د ملکیت او سوداګرۍ حق درلود.

اوسمهال دې ته اړتیا ده چې د ښځو دا حق د اساسي قانون په چوکاټ کې د بنسټونو له ملاتړه برخمن کړو. کلیوالې او ښاري ښځې د کورنۍ د شتو د پیدا کولو په بېلا بېلو برخو کې ونډه لري. یوه مسله چې باید د قانون په چوکاټ کې حل لاره ومومي، د قانون په چوکاټ کې په کورني ثروت کې د ښځو له مالکیت څخه ملاتړ دی.

په دې برخه کې باید کړه او منظم قوانین وضعه شي چې د کورني ثروت په پیدا کولو کې د ونډې په کچه په دې ثروت کې د مالکیت د حق لرونکې وي. بله ستونزه چې د کلیوالي مېرمنو د تولید په اړه وجود لري د بازار موندنې په برخه کې د اسانتیاوو نشتوالی او هغو معلوماتو ته لاسرسي دی چې د بازار د شبکو د ارتباط له لارې د ښځو د تولید پر ډول او کچه اغېز لري. په دغه برخه کې د اړینو اسانتیاوو رامنځ ته کول په منسجمو پیسو او دوامداره عاید د ښځو د تولید د بدلون لامل ګرځي.

د زراعتي، باغدارۍ او مالدارۍ د تولیداتو په برخه کې به د قریو او ولسوالیو په کچه له خصوصي سکتورونو سره د ملي برنامو له لارې ځانګړې همکاري وکړو تر څو د تولید زنځیري شبکې ایجاد او بازار ته د ښځو د تولیداتو رسولو ته زمینه برابره شي.

دا ډول سرمایه ګذاري د ښځو پر فزیکي ظرفیت اتکا ته اړتیا لري. زموږ موخه د داسې معقولې طرحې اریه کول دي چې د ښځو اوسمهالي شرایط او وقعیتونه ملاحظه او داسې زمینه ایجاد کړي چې د ښځو اوسني تولیدات د هغوی لپاره د مشروع او دوامداره سرمایي د لاس ته راوړلو لامل شي.

سربېره پر دې، ښځو ته د کارموندنې لپاره یو لړ نړیوالې تجربې هم ګټورې واقع کیږي. د نساجي تولیداتو د وېش سیستم د دې تجربو له ډلې څخه ده. په ایټالیا او اسپانیا کې سترو شرکتونو دا پروسه راپیل کړه چې پام وړ لاس ته راوړنې یې لرلې.

په هند او چین کې  شرکتونه د نساجۍ مشخص تولیدات د کلیو په سطحه وېشي او محصولات یې د منظمو شبکو له لارې بازار ته رسوي. په دې ترتیب د کلیو په کچه د کار ارزانه قوه بوختیږي چې هم د کالیو بیه ټیټه پاتې شي او هم ثروت په ټولو هېواد کې پر خلکو وویشل شي. په دې برخه کې زموږ هېواد امید بخښونکي ظرفیتونه لري. زموږ  حکومت به له خصوصي سکتور سره په همغږۍ داسې زمینه برابره کړي چې سرمایه گذاري په یوه پراخه سطحه خو په متوسط حجم ټولو لرې پرتو سیمو او کلیو ته ولېږدول شي.

په دې ترتیب میلیونونه انسانان په ځانګړي ډول ښځې دا فرصت مومي چې خپل کاري ځواک په یوه ګټوره او عایداتي سرمایه بدل کړي.  زموږ سرمایه گذاران دا امکان هم مومي چې خپل تولیدات په وړ بیه بازار ته وړاندې کړي. موږ به داسې ځانګړي ګامونه واخلو چې پر بنسټ به یې د مېرمنو تولیدات د ځانګړي لیبل سره بازار ته وړاندې شي چې دا لیبلونه به د دولت له سبسایډۍ څخه هم برخمن شي. مثلاً په دولتي ادارو، د اردو په برخه او نورو امنیتي ارګانونو کې به له هغو تولیداتو څخه استفاده زموږ په لمړیتوبونو کې وي چې د مېرمنو د تولید ځانګړی لیبل ولري. همدارنګه د دې تولیداتو د مالیاتو په برخه کې به د پام وړ کموالی عملي شي چې هم سرمایه گذران او هم مېرمنې وهڅول شي.

بله برخه چې ښځې په کې تولیدي فعالیت کولی شي د زیوراتو جوړولو برخه ده. دا برخه هم د محیط زیست له پلوه د باور وړ ده او هم یې تر سره کول د کلیو په کچه د امکان وړ دی. افغانستان د قیمتي فلزاتو د منابعو له پلوه د نړۍ له غني هېوادونو څخه ګڼل کیږي. په ځانګړي ډول د سروزرو د نویو معدنونو کشف او د زمرودو، یاقوتو او لاجوردو اغیزمن استعمال په عمومي ډول په هند، چین اواسیا کې د نړۍ والو بازارونو له څانګو سره د افغانستان د جواهر سازۍ د صنعت د ارتباط لامل ګرځي. عربي هېوادنه هم زموږ د صنعتګرانو لپاره ستر بازار په واک کې ورکوي چې کولی شي خپل محصولات په اسانۍ سره وپلوري. په دې برخه کې بیا هم کولی شو هغو تولیداتو ته چې د مېرمنو له ځانګړي لیبل سره بازار ته وړاندې کېږي، زیاتې اسانتیاوې په پام کې ونیسو.

د ښارونو په سطحه، بې وزله مېرمنو ته د باوري بوختیا د فرصتونو ایجادول د کلیو په پرتله خورا ستونزمن دی. د کلیوالي مېرمنو غذایي مصونیت په عمومي ډول د کورنۍ له نورو غړیو سره تړلی دی، خو  ښاري مېرمنې چې د کورنۍ د اداره  کولو بار یې پر اوږو وي د کارموندنې له جدي ننګونو او ستونزو سره مخ دي. له دې پلوه زموږ حکومت به په  ارزان بیه سیمو کې چې د ښار څنډې ګڼل کیږي، له نادارو او بې وزله مېرمنو سره  د کاري زمینو په ایجاد او بوختیا کې ځانګړې او جدي پاملرنه وکړي.

د مصنوعي پښو او غړیو د تولید په صنعت کې به د خصوصي سکتور په مرسته جدي پانګونه وکړو. د جیپور د پښو په تولید کې د هند بریالۍ تجربې ښیي چې، مصنوعي غړي او پښې په داسې شکل او ډیزاین تولیدیدای شي چې، هم یې کیفیت لوړ وي او هم یې ډیری وګړي د اخیستلو وسه ولري. په دې برخه کې د ښځو ګډون سر ببره پردې چې دوي ته یو ډول بوختیا پیدا کوي د مصنوعي غړیو د بیو په راکمولو کې هم د پام وړ کموالی راولي.

دې ته په پام سره چې د څه باندې درې لسیزو جګړو په پایله کې افغانستان د مصنوعي غړیو په عمده بازار بدل شوی په دې برخه کې کار او پانګونه کولی شي، په کور دننه په پراخه کچه ګټور او عایداتي پریوځي.

کارموندنه او بوختونه داسې څه نه دي چې، یواځې د دولت په برنامو او ګامونو دي خلاصه شي. د کاري زمینو او بوختیاوو لپاره به ځانګړي صندقونه ایجاد کړو چې د ښځو او ځوانانو له تشبثاتو څخه ملاتړ وکړي. دا صندق به د مېرمنو او ځوانانو فردي نوښتونه تقویه کړي او په ورته وخت کې به کوچني او متوسط پانګوونکي، مشروع سیالۍ او رقابت ته وهڅوي.

د دولت او متوسطو او سترو شرکتونو یوه بنیادي دنده به د مېرمنو او ځوانانو د تشبثاتو او نوښتونو تقویه کوي تر څو له دې لارې وکړای شو د کارموندنې او بوختیا زمینې زیاتې کړو. د تحصیل کړیو مېرمنو کارموندنه په ځانګړي ډول په معارف او روغتیایي برخو کې زموږ له لمړیتوبونو څخه ده.

مثلاً نن ورځ دافغانستان طبي سکتور، د نرسانو له جدي کمښت سره مخ دی. په خپلو ډیری روغتونونو کې ماهر ډاکټران لرو، خو تر عملیات وروسته د پاملرنې څرنګوالی خورا کمزوری دی او دا نیمګړتیا ډېری وخت، د دې لامل ګرځي چې حتا له بریالي عملیات وروسته هم ناروغان بهرنیو هېوادونو ته ولېږدول شي.

له دې پلوه به په طبي برخه کې په ځانګړي ډول له لابراتوار څخه تر نرسنګ او رنځورپالنې پورې، د ښځو د ځانګړې ونډې په برخه کې سرمایه ګذارۍ ته پام وکړو. په تېرو کلونو کې مو د قابلو په روزونه او پالنه کې ډېر پرمختګ کړی. له دې سره باید دا پرمختګ په بنیادي ډول ځواکمن شي، څو نه یوازې د ښځو د کارموندنې او بوختیا په برخه کې بلکې د زیږون پر مهال د میندو د مړینې د مقابلې لپاره هم په یو عمده لامل بدل شي. له هغه څه نه چې بیان شو دا پایله اخیستلی شو چې د ښځو په منځ کې د تشبث د د روحیې پیاوړتیا ډېر ارزښت لري.

ښځې په خپل نوبښت هم کولی شي چې د عايداتي سرچينو په تشخيص او پياوړتيا  کې ونډه واخلي. د معياري خدماتو په وړاندې کولو څارنه هم يوه بله عمده برخه ده چې مېرمنې په کې مهم رول لوبولی شي.

له هغه ځايه چې ښځې د مستهلکينو يوه عمده ډله تشکيلوي که وغواړو چې د بې کيفيته توکو له استهلاکه خلاصون ومومو، بايد داسې ګامونه پورته کړو چې مېرمنې زموږ د پاڼګونې اساسي محور وي، څو له يوه پلوه ملي توليدات تقويه شي او له بله پلوه داسې نهادونه رامنځ ته کړو چې پرېنسټ يې د کالينو کيفيت او خدمات تثبيت شي.

پنځم : د ښځو ميراث پنځم اصل دی چې د ښځو لپاره حياتي ارزښت لري. د قانون په چوکاټ کې د هغوي د شرعي او مدني حقوقو تامين دی. د ميراث حق د ښځې له مهمو حقونو څخه دی چې د عملي کولو لپاره يې څلور شرعي وثيقې اړينې دي : د ولادت تثبيت، د نکاح ثبت، د طلاق ثبت د مېړه او نورو خپلوانو مړينه چې ښځه يې په ميراث کې شريکه وي. له دې څلورو شرعي وثيقو څخه پرته د ميراث د حق د ادعا لپاره د ښځې د هويت تثبيت له ستونزو سره مخامخيږي.

د ښځې د هويت د شرعي تثبيت او د حکومتدارۍ د نورو پروسو د ښې اجرا لپاره ځانګړو ميکانيزمونو ته اړتيا ده.  يو له هغو بنسټونو څخه چې زموږ په حکومت کې به په محلي ادارو کې شامل وي، مسجد دی. مسجدونه به په عمده مراکزو تبديل شي چې په هغې به  د علماوو د فعال او قانونمند رول په واسطه يو لړ حکومتي دندې تر سره کېږي.

په دې برخه کې قانونمندو جوړښتونو ته اړتيا لرو چې وکړای شي، د دولت او درې ګونو قواوو په کچه او هم د مدني ټولنې او د با نفوذه قشرونو لکه علماوو، سياسي ګوندونو او مطبوعاتو په کچه د ذي دخله بنسټونو تر منځ اصولي همکاري رامنځ ته کړي. د  مېرمنو د حقونو تامين د حکومت له سترو ملي موخو څخه دی او موږ هڅه کوو تر څو دې موخې ته د رسېدو لپاره له اغېزناکو او عملي کړنلارو څخه کار واخلو.

د ښځينه وګړو د حقونو د تامين لپاره د اساسي قانونو د حکمونو پر بنسټ د علماوو او روحانيونو غوځ او هر اړخيز ملاتړ ته اړتيا لرو. علما او روحانين کولی شي چې هغه دوديزې خبرې  چې ددينې احکامو د زده کړو تر عنوان لاندې په ټولنه کې خپرې شوي او د ښځو د حقونو د تامين په برخه کې ترې د خنډ په توګه کاراخيستل کېږي، په درايت او ځيرتيا له منځه يوسي.

اکثره دا ډول دوديزې خبرې له محلي کلتوره راټوکيږي او د اسلام د سپيڅلي دين له هغه احکامو سره په ټکر کې دي چې د ښځو او نرو په ذاتي مساواتو ټينګار کوي او ټول انسانان د خدای ج پر وړاندې، د مساوي درنښت وړ ګڼي. له دې پلوه، د ښځو د مادي او معنوي حيثيت او حقونو د تامين لپاره فعاله ونډه اخيستنه له هغو دندو څخه دي چې د علماوو او روحانيونو په واسطه تر سراوی يې د عادلانه ټولنې په رامنځ ته کېدو کې د ستر پرمختګ لامل ګرځي چې په هغې کې ښځېنه او نارينه په ورته ډول له حقونو او درناوي څخه برخمن وي.

زموږ تاريخ ډاګيزوي چې عمده ښځينه شخصيتونه زموږ په تاريخ کې ځليدلي، له ګوهر شاد بيګم نه تر سلطان الياس، د ميرويس بابا له موره تر د امير عبدالرحمان خان تر خور او مور پورې ټولې هغه هڅانده او کارنده څېرې وې چې يو شمېر يې له بسيا تعليمه برخمنې وې. د ۱۸ او ۱۹ پيړۍ اسناد ښيي چې د هېواد په سترو کورنيو کې د ښځينه وو په روزنه او پالنه کې پانګه اچونه عامه وه.

هغه څه چې په دې برخه کې مهم و، هغه د علماوو او روحانيونو رول و چې په مسجدونو، دربارونو او کورنيو کې يې د ښځينه ښوونکو په حيث يې کار کړی. د ښځو د ښوونې او روزنې په برخه کې پراخه او اړخيزه پانګونه او پروګرامونه د ښځو د ټولو حقونو د پرځای کېدو پيلامه ده.

څرنګه چې په لېرې پرتو سيمو کې ډېری مېرمنې د ښوونې او روزنې له امکاناتو محرومې دي، زموږ حکومت به داسې طرحې تر لاس لاندې ونيسي چې پر بنسټ يې د علماوو او روحانيونو او نورو ښوونيزو کارپوهانو په مرسته يو ځانګړی ملي نصاب تدوين کړو چې په ښوونځيو، مدرسو او جوماتونو کې هم مهاله د تطبيق وړ وي او په ټوله کې د مېرمنو د زده کړې او تعليم بهير چټک کړو.

د حقوقو او د حقوقو د تثبيت موضوع او د يو بل پر وړاندې د وګړو او دولت وجايب هغه څه نه دي چې يواځې د دولت په رول او پروګرامونو پورې وتړل شي. د حقوقو د بنسټيز کېدو لپاره د پراخه کلتور رامنځ ته کېدو ته اړتيا لرو چې په هغې کې ټولې طبقې او ټولنيز ځواکونه په ورته او هم غږي ډول ګډون وکړي.

د طبقاتي اړخ لرونکو مسايلو پر خلاف د مېرمنو د حقونو موضوع په عمومي ډول د ټولنې په ټولو طبقو کې مطرح ده. د ښځو او سړيو مناسباتو د ټولنې په ترکيب او خلکو کې يو ځانګړی وضعيت پيدا کړی، چې د اصلاح او سمون لپاره يې پراخه هڅو ته اړتيا ده، چې د ټولنې کلتور يو مخ بدل کړي.

د ښځو د مسايلو په طرحه کولو کې يوه لومړنۍ اړتيا دا ده، چې له هغه پروګرامونو څخه ډه ډه وشي چې وارداتي اړخ لري او د هېواد له ځانګړو داخلي شرايطو سره جوړ نه وي.

په نور هېوادونو کې د ښځو د حقونو د تامین په برخه کې له تر لاسه شویو تجربو څخه ګټه اخیستنه، له دې رابېله شوې چې ځانګړې طرحې او ګامونه چې خاصو فرهنګي او مدني زمینو سره تړاو لري په تقلیدي ډول د ښځو د وضعیت د ښه والي لپاره په خپل هېواد کې پلي کړو.

د ښځو د حقونو د تامین په برخه کې تر دې بل خطرناک ګواښ نشته چې وویل شي، دا طرحې وارداتي دي او زموږ له کلتوري او ملي شرایطو سره اړخ نه لګوي. د اسلام، د رسول اکرم ص او د هغه د صحابه و د سیرت په برخه کې کره پروګرامونه زموږ پر دیني او فرهنګي اساساتو ولاړو جوړښتونو په رامنځ ته کولو کې مهمه لاره ده.

د اسلام په تاریخ کې ځرګندې بېلګې لرو، چې د ښځو د حقونو د تحقق په برخه کې یې غوره نمونې ګڼلی شو. د حضرت محمد ص مور حضرت آمنه، د هغه دایي حلیمه، د هغه مېرمنې حضرت خدیجه او حضرت عایشه، د هغه لورګانې حضرت فاطمه زهرا او زینب ټولې هغه رڼې بېلګې دي چې د اسلام په سپېڅلي دین او د حضرت محمد ص په ژوند کې د ښځو حیثیت ډاګیزوي.

خدیجه هغه ښځه وه چې د حضرت محمد ص د نبوت په لومړي پړاو کې یې ایمان راوړ او د ژوند تر پایه په یو کوچني شک کې هم رانښکېل نه شوه. هغه د بېلا بېلو تومتونو، ګواښونو او فشارونو پر وړاندې و دربېده او د نبوت ستنې یې لا ټینګې کړې. عایشه هغه مېرمن وه چې نبوي احادیث یې ثبت او انتقال کړل او د حدیثو او نبوي سیرت په خوندي کولو کې عمده رول ولوباوه.

فاطمه زهرا هغه مېرمن وه چې هم یې په کوچنیوالي کې د حضرت محمد ص د لور په حیث او هم یې د حضرت علي کرم اللّٰه وجهه د مېرمنې په حیث د ښځو یوه برجسته بېلګه تاریخ ته وسپارله.

د حضرت فاطمه زهرا اولادونه حضرت حسن او حسین او زینب (ع ) د اسلام په تاریخ کې، د دې ښځې د رول او اغیز روښانه نښې دي. په اسلام کې د ښځو رول ته اشاره زموږ په ټولنه کې د هغوی د ځای او رول لپاره غوره بېلګې دي.

د اسلام په رڼا کې کولی شو له ښځو سره اوصولي او منطقي چال چلند وکړو او نړۍ ته د انسان دوستۍ روحیه ور وپېژنو. د جګړو پر مهال زموږ د ټولنې مېرمنو درانه زیانونه ګاللي او حقونه یې په پراخه کچه تر پښنو لاندې شوي دي. له دې امله په هېواد کې د ټیکاو او سولې په برخه کې د ښځو لپاره پر امنه او خوندي فضا رامنځ ته کول یوه بنسټیزه اړتیا ګڼله کیږي.

د سولې د ټینګښت په پایله کې باید داسې بنسټونه رامنځ ته شي چې په هغې کې وکړای شو، د منځمهاله او اوږدمهاله پروګرامونو لپاره ځانګړې موخې وټاکو چې د هېواد د ښځو د بنسټیزو حقونو

ژمنتیا تعین کړي. د هېواد په پرمختیایي پروګرامونو کې ښځو ته پاملرنه اوږدمهاله بدلون رامنځ ته کوي. ښځه د سولې په بهیر کې دخیله ده.

د وګړو د مال ځان او حیثیت خوندیتوب د قانون د حاکمیت په مانا دی. د ښځو خوندیتوب د دې بهیر اساسي او مهمه برخه ګڼله کېږي. د ښځو ګډون د دې لامل ګرځي چې په ټولو اړوندو ډګرونو کې د هغوي نظرونه ورشامل شي.

اقتصادي وده او د خدماتو ښه والی باید د ښځو د کارموندنې او له بې وزلې څخه د هغوي د ژغورنې په برخه کې بدلون راولي.

اصلاحات او ښه حکومتولي یو ډاډمنه فضا رامنځ ته کوي چې ځوانې نجونې د خپل ژوند په چاپېریال کې په فعال او هر اړخیز ډول اغیزناکې شي او په اجمتاعي پرمختګ او ثبات کې خپل اغیزناک رول ولوبوي.

په دې ډول د ښځو اړوند پروګرامونو پلي کول به دا طبقه په اساسي ډول د سیاسي او اقتصادي ډګرونو په مدیریت کې شریکې کړي.

**ځوانان:**

ځوانان د ټولنې مطلق اکثریت تشکیلوي. د هغوي د ټولنیز وضعیت ښه کولو او د ژوندانه د لمړنیو اسانتیاوو برابرولو ته پاملرنه، د ځوانانو د اوسط عمر د زیاتولو هیلي پیدا کوي. ځوانان هغه قشر دي چې د هېواد د راتلونکې په جوړولو کې پراخه ونډه لري.

د ځوانانو راتلونکی د نظام په جوړښت پورې تړلې ده. مهم ټکی دا دی، کله چې د ځوانانو په اړه خبرې کوو، هم مهاله نجونې او هلکان دواړه په پام کې لرو.

د ځوانانو غوښتنې د یو داسې قشر په توګه چې د سن له پلوه په یو ځانګړي موقعیت کې قرار لري او ځانګړې ګډې اړتیاوې لري چې د هغوي سن پورې تړلې دي په هېڅ صورت د هغوي د جنسیتي توپیرونو په نظر کې نیول نه دي.

دې ټکی ته پام په ځانګړي ډول له دې پلوه د اهمیت وړ دي چې ځوان قشر په طبعي ډول د راتلونکې په اړه یا اوږدمهاله نظر لري او د اوږدې او ډاډمنې راتلونکې په اړه د هیلو پر بنسټ ولاړ پروګرامونه مطرح کوي. پر دې بنسټ د ښې حکومتولۍ د اړتیاوو په اړه زموږ د بحثونو عمده اړخونه یو ځل بیا د ځوانانو له نظره د ارزونې وړ دي.

۱- : سوله او ټیکاو او جګړه او بې ثباتي په شدید ډول ځوانان اغیزمنوي. د جګړې د قربانیانو غوڅ اکثریت، که د دولت له امنیتي بنسټونو څخه وي او که له وسله والو مخالفینو څخه، ځوانان دي.

هغه افراد چې د نا امنۍ له امله له تحصیل او په سالم اقتصاد کې له ونډې اخیستلو څخه محروم دي بیا هم ځوانان دي. جرمي اقتصاد ځوانان ښکار کوي.

مافیایي کړۍ له یوه پلوه د تاوتریخوالي او کرکې کلتور لا پراخوي او لا یې پسې غځوي له بله پلوه ځوانان د نشه يي توکو په تولید، قاچاق او کارولو کې ورښکیلوي. له دې امله، د ځوانانو لومړنۍ اړتیا دوامداره سوله ده، نه هغه سوله چې په راتلونکې کې د یو نوي جنګ فصل وي.

۲- بدلون او اصلاحات : بدلون او اصلاحات د ځوانانو له نظره په یو پراخه چوکاټ کې مطرح دي او لنډ مهاله پروګرامونه نه شي کولی د باثباته راتلونکې لپاره د ځوانانو غوښتنو ته ځواب ووایي. د ځوانانو د قانع کولو او د اوږدمهاله راتلونکې په اړه د ډاډ لپاره په یو پراخه بدلون او ژورو، بنیادي اصلاحاتو پانګونه اړینه ده.

په ورته وخت کې، ځوانان يو لړ بېړنۍ اړتياوې هم لري چې د بدلون او اصلاحاتو پروګرام بايد ترې غفلت ونه کړي. د ښوونې روزنې په نظام، عالي تحصيلاتو، کار، بوختيا او تفريحي، ورزشي او هنري ډګرونو کې هر اړخيزه اصلاح او سمون د بدلون او اصلاحاتو په بهير کې د ځوانانو په اړه د ژور پام وړ ټکي دي..

۳- هويت:د ځوانانوله نظره هويت بنسټيزاررزښت لري، د هويت مسلې ته د کره او علمي ځواب نه موجوديت په هغه چاپېريال کې چې ځوانان ژوند کوي، د دې لامل شوی چې ځوانان له ښه اعتباراو حيثيت څخه بې برخې او له عقده مند کيدو سره عکس العملي او ورانونکو اعمالو ته وهڅيږي.

پردې بنسټ د دغو ځوانانو ترمنځ د ګډې ژبې رامنځته کول د مستقل هويت د څرګندولو لپاره بنسټيزه او ژوره اړتيا ده.

دا د تحول او اصلاحاتو يوه مهمه برخه ده.

۴- ښه دولت جوړونه او حکومتولي: د دولت جوړونې او ملت جوړونې په بهير کې د ځوانانو رول ته پاملرنه له هغو اړتيا څخه ده چې پر بنسټ يې افغانستان جوړ شوی دی. د هېواد په بيلا بيلو برخو کې د ځوانانو تر منځ د اړيکو جوړولو په فرهنګ پانګونه، د هغو اساسي ګامونو څخه ده، چې زموږ دولت به يې په اړه پراخه او کوټلې هڅې وکړي.

افغانستان ته د هېواد د لېږد په بهير کې د ځوانانو فعال سياسي ګډون کليدي عنصر دی. موږ به په خپل حکومت کې د حکومتولۍ په ټولو ډګرونو کې د ځوانانو نظرونو ته د نويو نظرياتو په سترګه وګورو او له دې شعار نه به چې ځوان د سبا رهبر دی، دې شعار ته ورسيږو چې ځوان د نن مدير او د سبا زعيم دی.

د ملي ګوندونو، مدني ټولنو او د رضا کاره سازمانونو په جوړښت کې د ځوانانو ونډه هغه موارد دي چې پر بنسټ به يې د سياست بستر او د هېواد فرهنګي او ټولنيز مناسبات په بنيادي ډول بدلون وکړي. په همدې ترتيب، به ځوانان د حکومتدارۍ په ټولو سطحو کې، د ولسمشرۍ له بنسټونو تر ولايت، ولسوالۍ او کليو پورې د کليدي رول لرونکي وي.

۵- د ښوونې، روزنې او عالي تحصيلاتو په برخه کې د علمي او مسلکي ظرفيتونو د لوړولو لپاره مو مشخصې طرحې ارايه کړي چې ټولې به د ځوانانو پر سياسي، مسلکي او ملي پوهاوي باندې پر تکيه کولو سره پلې شي.

ځوانان سیاست د دولت په وجود کې په ګډون پورې تړلی ونه بولي بلکې په یو پراخه اند سره یې پر سیاسي اقتصاد او سیاسي فرهنګ برسېره کړي. زموږ ځانګړې برنامې باید په پراخه اوستره حوزه کې چې د ټولنیز ژوند ټول نظام په بر کې نیسي د ځوانانو عملي او مسلکي ظرفیتونه لوړ کړي.

زموږ ځوانان باید په اوسني حساس او کړکیچن پړاو کې له ننني مدیریته تر سباني زعامته پورې کار وکړي. که ځوان نسل مو د تېر نسل د نظریاتو ښکار شي، شونې ده چې د تېرو تجربو له ګواښونو سره مخ شي. په همدې دلیل د ځوانانو د علمي او مسلکي ظرفیت لوړول په دې مانا دي چې وکړای شي تېر دردونه درک، ترې تېر او د د راتلونکې پر لور حرکت وکړي

٦- نړۍ وال کېدل: نړۍ وال کېدل او په هغه نړۍ کې ګډون چې د نوې تکنالوژۍ د برترۍ په دلیل هېڅ برید او سرحد په رسمیت نه پېژني، د ځوانانو په اړه په نظر کې نیولو مهمه موضوع ده. د نن ځوان له موبایله تر کمپیوټر او انټرنېټ پورې معلوماتي تکنالوژۍ ته په لاسرسي سره په اسانۍ پر محدودو او کوچنیو حوزو کې د معینو ډلو او قشرونو د تمایلاتو او غوښتنو ښکار نه دی.

د نن ځوان له تردید پرته د همغږي او یو له بل سره د تړلي جهان نسل دی. دا ځانګړنه د ځوانانو اړتیاوې او غوښتنې په نړیواله کچه مطرح کوي نه دا چې په کوچنیو او محلي حوزو پورې تړلي پاتې شي. هغه پروګرامونه چې د ځوانانو له احساساتو او عواطفو سره د لوبو په موخه تر سره کیږي د امکاناتو او وخت له ضایع کولو پرته بله پایله نه لري. د عربو د پسرلي تجربې او هغه پراخه او ژور بدلونونه چې دغه خوځښت راوټوکول، ټولو هغو سیاستمدارانو ته زیات درسونه لري چې د نن ځوانانو له روله بې پروا دي او یا هڅه کوي چې له ځوانانو څخه په دودیزو او کلاسیکو بڼو استفاده وکړي.

٧- د اداري او کاري نظام اصلاحات: اداري اصلاحات یوازې د فساد د مخنیوي وسیله نه ده بلکې د ځوان قشر په ګډون د ملي وحدت د ټینګښت وسیله هم ده. د اداري اصلاحاتو پروسه باید په هېواد کې په داسې بڼه عملي شي چې هر افغان فرد په هغې کې ځان د یو فرد په توګه شامل وویني او ډاډه شي چې د روښانه او شفافو معیارونو له مخې یې سیالي کړې وی او له هر ډول تبعیض او ناولسواک امتیاز پرته د دولت کاري نظام ته ورغلی دی.

زموږ د دولت داری فرهنګ باید د کاري نظام د هویت مسله له منځه وباسي او پر روابطو د ضوابطو د حاکمیت اصل په دقیق او هر اړخیز ډول عملي کړي. کله چې پروسه د هر ډول دولتي امتیازاتو څخه برخمنه وي لکه په پوهنتون کې شاملیدل، د علمي او تخنیکي ظرفیتونو د لوړلو لپاره د بورسونو تر لاسه کول، دولتي بستونو ته لاسرسی، له شفاف او رابڼه کانکور څخه تېرېدنه هم هېواد د عقدو او تبعیض له کړکېچه ژغوري او هم په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ډګرونو کې د هېواد ودې ته چټکتیا وربښي.

۸- فرهنګ هنر او ورزش: زموږ حکومت پر فرهنګ ( شعر، نثر، داستان)، هنر( نقاشي، مجسمه سازي، فلم، سینما او تلویزیون ) او ورزش پانګونه خپل بودجوي لومړیتوب ګڼي. په فرهنګي، هنري او ورزشي ډګرونو کې د ځلنده استعدادونو موندل او پالل به د اطلاعاتو او کلتور وزارت مهم مسولیت وي. دا پانګونه هم متقابل فرهنګي او هنري ارزښت او اغېز لري او اقتصادي او تولیدي.

۹- د سیمې او نړۍ پېژندنه : د سیمې او نړۍ په پېژندنه او د داسې ځانګړو څانګو په جوړولو کې کې به چې وکړای شي زموږ بهرنی سیاست له ژور او کره پېژندنې څخه برخمن کړي د ځوانانو له عظیمې سرمایې څخه ګټه اخیستل زموږ د حکومت لومړیتوب ګڼل کېږي.

ایران پېژندنه، پاکستان پېژندنه، ترک پېژندنه، چین پېژندنه، جاپان پېژندنه، اروپا پېژندنه او امریکا پېژندنه، همدارنګه د عربي هېوادونو او د خلیج د حوزې او یا د جنوب ختیزې اسیا د هېوادونو پېژندنه موږ د فکر او هنر له یوې سترې نړۍ سره نښلوي. زموږ د ځوان نسل وړتیاوې چې زیاته برخه یې په کډوالۍ کې منځ ته راغلې او په ډېری هغو هېوادنو کې چې یاد شول د ژوند د لومړي لاس تجربو لرونکي دي او ستره سرمایه ګڼل کېږي چې زموږ حکومت به ترې ګټه واخلي. پر دې استعدادونو پر تکیه کولو سره کولی شو چې کابل ته د عباسي بغداد، د اموی قرطبیې او فاطمي قاهري حیثیت ورکړو.

۱۰- په تېرو څه باندې درېیو لسیزو کې د جګړې قربانیان : زموږ زیات شمېر ځوانانو په جنګي او نا امنه شرایطو کې خورا زیات زیانونه ګاللي. زموږ ډېری ځوانانو د خپل عمر غوره کلونه جهاد اوهېواد ژغورنې ته بخښلي او یا په جنګ کې معلول شوی. اوس مونږ ځانګړو پروګرامونو ته اړتیا لرو تر څو د هېواد دې قشر ته په درست او اوصولي ډول رسیدګي وکړو او هغوي ته اوښتي زیانونه جبران کړو. هغوي ته د پاملرنې یوه برخه د ښوونې او رزونې او عالي تحصیلاتو او د مسلکي او حرفوي مهارتونو وده ده چې د چټکې ودې د پروګرامونو له لارې به یې عملي کړو.

په تېوله کې په جنګ کې زیانمنو شویو او په ځانګړي ډول ځوانانو ته جدي پاملرنه هېواد له هغو زیاتو کړکېچونو ژغوري چې زموږ هېواد ورسره لا له وړاندې لاس او ګریوان دی.

### معلولیت لرونکي وګړي

د افغانستان غمیزې په سلګونو زره انسانان معلول کړي، او دا شمېر ورځ تر ورځې مخ په زیاتېدو دی. اټکلي شمېرې ښیي چې زموږ ټولنه تر یو ملیون زیات معلول وګړي لري. د دې معنا دا ده چې په هرو پنځه ویشتو یا دېرشو انسانانو کې یو افغان معلولیت لري. دا چې موږ د افغانستان د ثبات لپاره د ټولو اقشارو د مشارکت پر اصل باور لرو، دا زموږ وجیبه ده چې له دې وګړیو سره هم د فرد، او هم د بنسټونو په حیث له نیږدې کار وکړو. پر دې سربېره، موږ د ټولنې په حیث د د دې قشر د قربانیو پوروړي یو. ځکه په تېر جهاد او تېرو دیارلسو کلونو کې د هېواد په دفاع کې د دوی ونډې زموږ اوسنیو لاسته راوړنو ته لاره هواره کړې ده.

موږ ټینګ باور لرو چې زموږ ولس د ټولنیز مشارکت تړون ته اړتیا لري، په دې تړون کې باید ځېل شوي اقشار خپل راتلونکی خوندي و ویني. دې اصل ته په کتنه، زموږ له نظره، معلولیت لرونکي وروڼه او خویندې زموږ د ټولنې نه بېلېدونکي غړي او د خاصو ظرفیتونو او استعدادونو خاوندان دي. موږ له دوی سره د تفصیلي بحثونو پر اساس، د دوی منشور، قوانینو، او نړیوال کنوانسیونونو (تړونونو) ته د احترام پر اساس لاندې ژمنې کوو:

لومړی کار دا دی چې د دوی له بنسټونو سره په ګډه یوه دقیقه احصائیه چمتو شي، چې په دریو برخو به ولاړه وي:

1) د معلولیت نوع؛

2) د معلولیت لرونکیو وګړیو ظرفیتونه؛

3) د معلولیت لرونکیو وګړیو د خپل ظرفیت د کارولو په برخه د هغوی نظریات.

موږ په دې باور یو چې د دولت او خصوصي سکتور په همغږۍ یو ځانګړی خدماتي سکتور رامنځته کېدای شي چې یوه برخه یې د ټکنالوژۍ او بله برخه یې د صحي خدماتو د اراېې وي. د دې سکتور په پښنو درېدل به له یوې خوا د معلولیت لرونکیو ستونزې را ټیټې، او له بل پلوه ډېرو کسانو ته په دې برخو کې د کار زمینه برابره کړای شي.

د نړۍ والو منلیو تجربو پر اساس، د معلولیت لرونکیو لپاره د ممدو ټکنالوجیو د انتقال او او معرفي کېدلو په برخه کې باید یو عاجل پروګرام ترتیب شي. د مثال په توګه، د جایپور پښه، چې ډېره ارزانه، او اسانه تولیدېدای شي، په افغانستان کې تولید شي.

دغه راز، معلولیت لرونکیو ته د صحي خدماتو برابرولو په برخه کې پانگونه وشي.

د معلولیت لرونکیو لپاره به د بسپنې صندوق یو ځانگړی تشکیل، او د دوی لپاره له ټولو نړۍ والو بنسټونو مرستې را جلب کړای شي.

د دولت په تگلارو کې به د معلولیت لرونکیو وگړیو په وړاندې د منفي تبعیض ځای مثبت تبعیض ونیسي. دا چې موږ غواړو هر وزارت د خپلو ذیدخلو او ذینفعه اقشارو لخوا و ارزول شي، د معلولیت لرونکیو وگړیو لپاره به هم د کار او اجتماعي امورو وزارت یو کلیدي وزارت وي، او د دې وزارت په بدلون کې به له دوی سره هر اړخیزه مشوره وشي چې د دوی نظریات او مشارکت تأمین شي. دغه زار به له خصوصي سکتور سره هم له نیږدې کار وشي چې هلته هم د معلولیت لرونکیو لپاره د مثبت تبعیض شتون یقیني شي. دغه راز به د وړو او متوسطو قرضو او نورو امکاناتو له لارې په خصوصي سکتور کې د معلولیت لرونکیو وگړیو د تشبث زمینه برابره کړای شي.

د معلولیت لرونکیو استاځي بنسټونه به تقویه کړای شي چې د هغو له لارې په دولت کې د هغوی پایدار استاځیتوب تأمین کړای شي. د دې بنسټونو د مدیریت او ظرفیت به تر جدي پاملرنې لاندې ونیول شي.

د خلکو تر منځ د عدالت ټینګول او د ژوند په ټولو برخو کې د هغوی ونډه د ټولنې له اساسي ارکانو څخه ګڼل کېږي او د نښې حکومتولۍ له مهمو وجایبو څخه ده. د تېرو دوو سوو کلونو په بهیر کې د دولتدارۍ معیارونه او د حکومتي سرچینو انحصار د ځانګړیو ګروپونو او ځواکونو په لاس کې وې او د عدالت او مشارکت اصل چې د یوې ولسواکې ټولنې له اساساتو څخه ګڼل کېږي د حکومتدارۍ په محور کې نه وي. په دغو دولتونو کې د ملي حاکمیت مانا هم همدا وه چې حاکم قشر د قانوني بنسټونو پر وړاندې یې ځواب ویونکي نه وو.

په تېرو دوو سوو کلونو کې چې کوم تغییرات او بدلونونه په بشري ټولنو کې رامنځ ته شوي دي، د دولت دارۍ په اړه هم نظرونه په اساسي ډول بدل شوی دي او د یوه ملت اتباع د پراخو او وسیعو شبکو له لارې له یوه بل سره د یوه داسې نظام له لارې نښلول شوي دي چې پر حقوقو او وجایبو ولاړ دي. دغه نوی نظام هماغه ولسواک نظام دی چې په هغه کې اتباع هم تر خپل منځي اړیکو او هم له دولت سره په روابطو کې مشخص حقوق او وجایب لري او له همدې مخې په عدالت او مشارکت باور د نظام مشروعیت جوړوي.

موږ به د حکومتدارۍ په نظام کې د مشارکت او عدالت پینځه مشخص اړخونه په قانوني چوکاټ کې د اتباعو او دولت حقوق او وجایت په پام کې ونیسو:

۱- مدني حقوق او وجایب

۲- سیاسي حقوق او وجایب

۳- ټولنیز حقوق او وجایب

۴- اقتصادي حقوق او وجایب

۵- فرهنګي حقوق او وجایب

د حقوقو او جایبو د دغو پنځو اړخونو بنسټ د بشري حقوقو په نړیواله اعلامیه او نورو نړۍ والو تړونونو کې جوړ شوي دي چې ټول یې زموږ په اساسي قانون کې په مشخص ډول منعکس شوي دي. پر بشري حقوقو او وجایبو توافق د نړۍ د متفکرانو پراخ او مداوم بحث نتیجه ده او د بشر د مدني پرمختګ بنسټ ګڼل کېږي چې د ملګرو ملتونو په اډانه کې ترسره شوی دی چې هغه مهال خپلواکو اسلامي هېوادونو له دې ډلې افغانستان هم په کې غړیتوب درلود.

د اتباعو د حقوقو او وجايبو په بحث کې زموږ لپاره اساسي معيار د هېواد اساسي قانون دی، چې د بشري حقوقو ټولو اعلاميو او نړۍ والو تړونونو ته پرژمنو سربېره درې نورې مشخصې ځانګړنې لري:

۱- زموږ په اساسي قانون کې د اسلام مبين دين د حکومت لیدلوری جوړوي. د اسلام په مبين دين کې عدالت او مشارکت د حکومتدارۍ د بنسټ په حیث د تاکید وړ دی. له فقهې، حدیث، تفسیر تر شعر او فلسفه او کلام په عدالت تاکید کوي. حضرت عمر فاروق رضی اللّٰه تعالی عنه او حضرت علی کرم اللّٰه وجهه په اسلامي تاریخ کې د عادلانه زمامدارۍ څرګند مثالونه دي. پر دې سربېره د سیمې د دریو سترو څېرو یعنې سعدي، امیر علي شیرنوایی او خوشال خان خټک نظریات نږدې شباهتونه لري او ټول پر دې تاکید کوي چې عبادت فردي امر دی، خو عدالت ټولنیز امر دی. البته کله چې دغو څېرو ژوند کاوه او دا چې هغه مهال د خلکو پر مشارک او ونډه باندې ولسواک نظام موجود نه و، نو اړ وو چې حاکمان په پند او نصیحت باندې عدالت ته وهڅوي. زموږ په پېر کې، د ولسواک نظام په ایجاد، د اساسي قانون په تحکیم کې د خلکو په عمومي ونډې او مشارکت باندې ولاړ دی، د عدالت او مشارکت مساله د پند و نصیحت نه ده، که زمامداران وغواړي، هغه ته پام وکړي او که و نه غواړي په بې پروایۍ تېر شي، بلکې د دولتونو او حکومتونو د جمهور رییسانو او زمامدارانو په عدالت باندې التزام د دوی له وجایبو څخه دی چې د خلکو پر وړاندې د ژمنې په حیث یې عملي کړي. په همدې دلیل موږ زمامدرانو ته د نصیحت او شرایطو څخه وتلي او ټول کارونه د وجایبو پر بنسټ تعقیبوو.

۲- زموږ د اساسي قانون دویم فصل د عدالت او مشارکت پينځه بعدونه په مشخص ډول په خپله لمن کې رانغاړي او د بشري حقوقو نړۍ واله اعلامیه او نور نړۍ وال کنوانسیونونه زموږ په اساسي قانون کې ځای لري. په دې اساس، پر اساسي قانون زموږ اتکا او د اساسي قانون دارزښتونو عملي کولو ته زموږ ژمنتیا په حکومتدارۍ کې د عدالت او مشارکت اصل عملي کولو ته زموږ ژمنتیا ښيي.

۳- زموږ داساسي قانون په دویم فصل کې د حقوقو پر یادونې سربېره، د دغو حقوقو په عملي کولو د د دولت پر وجیبه تاکید کوي. له دې اړخه، زموږ ژمنیا د اساسي قانون په پلي کولو چې په راتلونکيو برخو کې په په تفصیلي ډول هر یوه ته کتنه وکړو، دا به د عدالت او مشارکت د اصل عملي کولو په اړه زموږ په حکومت کې زموږ د ژمنتیا یوه برخه وي.

خو مخکې له دې چې دې مبحث ته ننوځو. لازمه ده دا تشریح کړو چې زموږ اساسي قانون زموږ د ملي اجماع نتیجه ده او په هغه کې درج شوي ارزښتونه بیا کتنې ته اړتیا نه لري، بلکې اړتیا ده چې د قانون په چوکاټ او دولتي بنسټونو کې عملي شي. په همدې دلیل، لازمه ده چې د اتباعو حقوقو په یوه منسجمه منظمه کې چې یو له بل سره اړیکي لري په پام کې ونیسو.

په څرګندو ټکیو، د هر تبعه حق د بل تبعه لپاره د دې حق د رعایت لپاره وجیه رامنځته کوي. په دې اساس، د دولت له وظایفو به یوه دا وي چې یو د بل پر وړاندې د اتباعو د حقوقو په واضح ډول تعریف او د هغه ساتنه وکړي. هرکله چې د یوه تبعه له لوري له حقوقو څخه د ګټې اخیستو په صورت کې بل تبعه زیانمن کړي، په هغه صورت کې د حقوقو لمن محدودوېږي. د ساري په ډول ازادي د اتباعو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کېږي، خو له ازادۍ سره مثبت ګټه په دې مانا چې د هغه په کارولو سره نورو ته زیان و نه رسېږي. د بیان ازادي د دې امر له مهمو مثالونو څخه دی. که چېرې د بیان په ازادۍ کې د ټولنې د نورو افرادو حقوق په پام کې و نیول شي او د بیان ازادي د نفرت، توهین، خشونت او توکمپالنې د ادبیاتو لپاره وکارول شي، ازادي منفي بڼه اخلي او د ټولې جامعې په زیان تمامېږي.

دا خبره سمه ده چې د منفي ازادۍ د اصلاح لپاره خپله له ازادۍ پرته بل هېڅ عنصر نه شته، خو په مدني ټولنو کې په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې چې د انتقال په بهیر کې دي، قانون باید د ازادیو حدود او د اتباعو تر خپل منځ او له دولت سره د حقوقو او وجایبو مجموعه په مشخص ډول تعیین کړي او له هغو ساتنه وکړي تر څو ټولنه د بې ثباتي او تشتت له بحران سره مخ نه شي. د نظام ټینګښت او په هېواد کې سیاسي ثبات د اصل رعایت د اتباعو حقوقو او وجایب د تعادل حالت ته رسوي او د دې زمینه برابروي چې په هغه کې ورځ په ورځ دحقوقو او تابعیت له ازادۍ مثبته ازادي پراخېږي او د منفي ګټې خیستنې دایره کوچنۍ کېږي.

**لومړی: مدني حقوق او وجایب**

حقه حق درلودل د مدني حقوقو له سترو ځانګو څخه ګڼل کېږي. پېړۍ پېړۍ وګړي دحق درلودلو له حق څخه بې برخې او محرومه وو. د اسلام په مبین دین کې انسان حق لرونکی ګڼل کېږي او عدالت ته د رسېدو لپاره حق اساس او پایه ده. دا چې د اسلام سیاسي فلسفه د انسانانو تر منځ په عدالت ولاړه ده، عدالت وار له مخې د حق له فرضي انګېرنې نه عملی کېږي. د افغانستان د اساسي قانون په چارچوب او د بشري حقوقو په نړۍ واله اعلامیه کې حق د سیاسي ولسواک نظام مرکزي ټکی دی. د دغه منشور په بېلا بېلو برخو کې د "حق" موضوع زموږ سیاسي او ولسواک تفکر کې یو له بنسټیزو محورونو څخه ګڼل کېږي.

مدني پوهې ته په لاسرسي پانګونه او دې برخې ته پاملرنه په کار ده. چوکاټ د دې لپاره چې ارزښتونه په بنسټونو بدل شي، او هر هېواد په دې ارزښتونو پوه شي، باور پرې پیدا کړي، او خپل حقونه او وجایب درک کړي، نو داسلسله باید د ښوونځیو له لومړیو ټولګیو پیل، او تر پوهنځیو خپره شي.

همدا رنګه، د ژوند په ټولو اړخونو کې باید د اساسي قانون ارزښتونه او مشخص دريځونه او اړونده قوانين ولس ته څرګند شي. په دې مبحث کې د موضوع د لا روښانتيا لپاره يو لړ مشخص حقوقو ته اشاره کوو او د حکومت دارۍ په برخه کې د دغو حقوقو د تامين لپاره عملي طرحه تشريح کوو:

## د تابعيت حق

د اساسي قانون په اساس هيڅ افغان د خپل تابعيت له حق څخه نه شي محروميداى. هيڅ افغان له مقابل قرارداد پرته او يا په داسې شرايطو کې بهرني ملک ته نه شو سپارلی چې د هغه موارد په مشخص ډول په اساسي قانون کې شرح شوي، هيڅ افغان په هيواد کې له استوګنې يا وطن ته د راستنيدو څخه محروموﻻى نه شو.

## عدالت ته لاسرسي حق

د اساسي قانون پر بنسټ، عدالت د اتباعو له مهمو حقوقو څخه دی. دغه حق بايد د قانون په چوکاټ او واضحو شرايطو کې تر تاکيد او تضمين لاندې راشي. زموږ له اساسي ژمنو څخه يوه داده چې د عدلي او قضايي ارګانونو د پياوړتيا او ګټورتيا لپاره پانګونه وکړو.

## د ځان د مصؤنيت حق

د ځان مصؤنيت يو ستر مدني حق دی. زموږ په هيواد کې لکه څنګه چې د اتباعو نور بشري حقوق په سيستماتيک ډول نقص شوي دي، د هغوی ځان هم په کامل ډول له ګواښ سره مخ دی او هيڅ ډول مصؤنيت يې نه درلود. په تيرو ديارلسو کلونو کې مو چې د مدني ژوندانه په نورمونو باندې د اساسي قانون مطابق نوی ژوند پيل کړی دی، د اتباعو لپاره مو لا هم ځانګړی مصؤنيت نه دی چمتو کړی. د جګړې او انتحاري عمل کې د بې ګناه وګړيو پر وژلو سربيره له نورو مواردو سره هم مخ يو چې د ځان نه خونديتوب يې زموږ د اتباعو لپاره په ستره انديښنه بدل کړی دی. په لويو لارو کې ناامني، د ښوونځي او پوهنتونونو وضعيت او د سوداګرو مال او ځان ته ګواښ د دغو مواردو يوه برخه ګڼل کيږي.

## د مالکيت حق

د ځان له مصؤنيت وروسته د مالکيت حق، هم زموږ په اساسي قانون کې او هم په ديني فرهنګ او متونو کې تاکيد پرې شوی دی. د اسلام مبين دين کې د مالکيت حق او مصؤنيت له لومړنيو موجود و چې دين خپله ښه اخيسته او ثبيت شويو احکامو يو جز دی. د پرتلې په حيث، د لويديز نړۍ په زياتره ټولنو کې يو سل و پنځوس کاله مخکې د ملکيت حق نه درلود؛ حال دا چې مسلمانې ښځې د اسلام له پيله د مالکيت حق درلود او په ټولو اسلامي محاکمو کې دغه حق شرعي او حقوقي استناد درلود.

### د قرارداد حق

د قرارداد حق د تابعیت له برجسته حقوقو څخه دی چې د اسلام مبین دین کې هم ځانګړی تاکید پرې شوی دی. مدني ژوند اساسا د قرارداد له مخې بڼه اخلي او قرارداد د اتباعو تر منځ د دقیق پیوند او د اندازې وړ شرایط ایجادوي.

نړۍ والو تجربو ثابته کړې چې پر قرارداد تکیه او د هغه مصؤنیت د اقتصادي انکشاف مهم بنسټونه جوړوي. موږ باید د خپل قراراداد نظام او فرهنګ د مدني، عصري او ولسواکیو معیارونو ته په پام سره بیاکتنه ورته وکړو چې په نتیجه کې یې ورکړای شو، قرارداد نه یوازې د اقتصادي مشارکت لپاره په یوې قانونمندې وسیله باندې تبدیل کړو، بلکې د سیاسي او ټولنیز مشارکت اساسات هم پر بنسټ پیاوړي جوړ کړو.

### دویم، سیاسي حقوق او وجایب

د سیاسي حقوقو او وجایب درک او رعایت، د مشخصو قواعدو او اصولو په چوکاټ کې په ټولنه کې مناسبات او روابط ایجادوي چې په هغو کې اتباع په سازماني بڼه د یوې سیاسي کتلې په حیث بدلېږي. اتباع د سیاسي حقوقو او وجایبو په رڼا کې توافق کوي چې خپل سیاسي روابط د بحث، منطق او یو بل ته د قناعت ورکولو له لارې د اتباعو د مشارکت د اصل له مخې تنظیموي، خپلې فردي او جمعي ګټې د ټولو اتباعو د ګټو په رڼا کې تعریفوي، په یو اړخیزه توګه د خپلو نظریاتو له تحمیل څخه ډډه کوي او د منلو په یو چاپېریال کې د یو بل نظرونه او لیدلوري په ټولنه کې د قانونمندو جوړښتونو لپاره نتیجې ته رسېږي. د سیاسي اجماع مانا د یوه شخص یا سازمان تفوق طلبي د بل شخص یا سازمان په وړاندې نه دی. د سیاسي اجماع مانا د دولت او سیاسي مناسباتو په اړه د یو لړ اصولو منل دي چې د هغو په ترڅ کې سیاسي اختلافات د مدني سیاست په وسیله د اصولو او قوانینو، په ځانګړي ډول د هېواد د اساسي قانون په چوکاټ کې حل و فصل کېږي. په همدې دلیل، حقوق او وجایب چې د سیاسي اجماع په اثر مطرح کېږي په لویه کچه په درېو برخو کې د تفکیک وړ دي:

۱- د دولت پر وړاندې د اتباعو حقوق

۲- د اتباعو پر وړاندې د دولت وجایب

۳- د اتباعو وجایب د دولت او ټولنې پر وړاندې

### د دولت پر وړاندې د اتباعو حقوق

هغه دولت چې د ولسواکو اصولو او نورمونو په بنسټ جوړ شوی وی، خپل لوی هدف یې د اتباعو د ژوند رفاه او اسانتیا ده. په همدې اساس، اتباع په لومړي ګام کې معین حقوق لري چې دولت د هغو په خوندي کولو کې مکلف دی. د اتباعو حقوق په ولسواک اساسي قانون کې په واضح او روښانه بڼه تشریح کېږي. زموږ د هېواد اساسي قانون دویم څپرکی د حقوقو مجموعه په خپله لمن کې رانغاړی چې دولت د اتباعو لپاره د هغو په تامین کې مکلف دی.

### ۱- د ښې حکومتولۍ حق

د اتباعو له اساسي حقوقو څخه چې دولت د هغو پر تامین باندې مکلف دی، هغه د ښې حکومتولۍ حق دی. دولت مکلف دی د خپلو هرو دریو قوو جوړښتونه په داسې بڼه سازمان کړي چې د امنیت ټینګښت، رفاه او د خلکو خوشالي د هغوی د فعالیتونو په لومړیو کړښو کې وی. د ښې حکومتولۍ له لارې چې خلک امنیت او رفاهي خدمات لري او د ژوند ستونزې یې په اسانۍ سره رفع کېږي.

### ۲-د بیان د ازادۍ حق

د اتباعو له اساسي حقوقو څخه یو بل حق د بیان ازادي ده. د بیان ازادي دا زمینه برابروي چې وګړي وکړای شي خپل افکار او اندونه له وېرې او ډار پرته مطرح کړی او له دې لارې د ټولنې، سازمانونه او احزاب جوړ کړی. یا د دولت سیاست او کړنې نقد او وڅاري.

دولت د قانون په چوکاټ کې د اتباعو د بیان د ازادۍ له حق څخه ساتنه کوي. د دې لپاره چې له دغه حق څخه د ګټې اخیستلو پر مهال یو شخص یا یوه ډله اتباع د یو تبعه یا یوې ډلې اتباع د حقوقو د تضییع سبب نه شي، د قانون د احکامو پر مبنا داسې حدود مشخص کوي چې ټولنه دخپلو مدني اخلاقو محور پیاوړي کړي د بیان له ازادۍ د ټولنیزو اړیکو د خپګان او تشتت او پراګنده ګی سره مخ نه شي.

مدني سیاست له ټولنیزو اخلاقو څخه نه جلا کېږي. په هر اندازه چې په ټولنه کې منل شوي اخلاقي اصول پیاوړي کېږي، په هماغه اندازه سیاست مدني کېږي. په دې برخه کې ژبه خورا ډېر اهمیت لري؛ ځکه ژبه په ټولنه کې د پیغام د انتقال او شریکولو، د ټولنې د افرادو او ځواکونو د اتصال او نښلولو لپاره د یوې سترې وسیلې په حیث هم ده. د کرکې، خشونت، توکمپالنې ژبه او ادبیات کارول یا په خشونت تهدید یا ورته مراجعه یا د ځواک کارول د مدني سیاست ناکامي ښیي. په هر کچه چې د خشونت، نفرت، توکمپالنې ژبه او ادبیات په ټولنه کې ډېر شي په همغه کچه د وېر او نه منلو چاپېریال ډېرېږي.

په همدې ترتیب، په هر اندازه چې د منافعو بحثونه د منطق او استدلال په چوکاټ کې ډېر شي، په همغه کچه عمومي اجماع د لیدلوري نژدې کولو او د داسې لارو ایجاد او جوړول ډېروي چې دغه لیدلوري او ګټې یو له بل سره منسجمه کړي او همکارۍ ته یې ورسوي.

### ۳- د مدني بنسټونو او ټولنو جوړولو حق

د ټولنو، اتحادیو، مجموعو، او مدني بنسټنو جوړول د اتباعو یو بل حق دی چې دولت د هغو په تامین مکلف دی. موږ نن په افغانستان کې د یوې ټولنیزې پانګې په ایجاد کې د یوه ستر حرکت شاهدان یوو. اتحادیې، ټولنې، او بېلا بېل بنسټونه د لیدلوریو، اهدافو او مشخصو ګټو پر اساس یو ځای شوي دي او په چټکۍ د پیوند او انسجام په حال کې دي. په لومړي ګام کې دغه تحول د ټولنیزې سرمايې لپاره مهم دی؛ خو دغه اتحادیې، ټولنې، او بنسټونه سرتاسري نه شي او یو له بل سره ارتباط و نه نیسي او د هویت قالب په بڼو پاتې شي، په اوږدمهال کې منفي حالت غوره کوي او په خپله د ټولنیزې تیت و پرکوالی عامل باندې بدلېږي.

تاریخ ښرګندوي کله چې یوه کوچني کتله د پیاوړي هویت په قالب کې ونده کوي او سیاست ګټو ته د رسېدو لپاره محدودوی، په اوږدمهال کې د عدالت او مشارکت بهیر ته ستونزي پیدا کوي. په دې اساس، ضروري ده چې د سازمانونو او مدني نهادونو د جوړولو لپاره فرهنګي او ټولنیزې زمینې په داسې شکل مدیریت شي چې ورو ورو ملي پیوندونه پیاوړي کړي او په همدې ترڅ کې کوچنیو قومي، قشري او منطقوي هویتونه ته د ملي فرهنګ د غنامندۍ پانګونه کېږي، لوی ملی هویت هم په جدي بڼه د هېواد د ټولو اتباعو د اشتراک ټکی جوړېږي. له نېکمرعه د داسې حرکتونو د جوړېدو شاهد وو، خو لازمه ده چې راتلونکي حکومتونه د هراړخیزو مدني فعالیتونو زمینه لویه کړی چې محلي سیاست له ملي سیاست سره پیوند واخلي.

### ۴-د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق

د دولت پر وړاندې د وګړو له مهمو حقوقو څخه یو هم د سیاسي ګوندونو د جوړولو حق دی. سیاسي ګوندونه د سیاسي نظام د بقا لپاره د سیاسي ځواکونو د انسجام او سیاسي بحثونو د جوړولو وسیله ده. دا چې زموږ په هېواد کې ګوندونه دیکتاتوري بڼه درلوده او د ولسواکو ګوندي نورمونو جوړښت یې نه درلود، ځکه نو خلک له حزب او ګوند څخه ښه خاطره نه لري. خو باید پام مو وي احزاب چې د اختناق په شرایطو کې چې ازادي په اساسي او قانونمندي بڼه نه وي تامیني شوي او د احزابو قانون نه وي، د هغه په پرتله بشپړ متفاوت وي چې هلته احزاب په ولسواکۍ باور لري، قانون او فردي ازادۍ، فردي انتخاب او له یوه حزب څخه بل حزب د رایې د تغییر له مخې رامنځته کېږي او فعالیت کوي.

د داسې احزابو د ایجاد لپاره باید فضا قانونمندي زمینه چمتو کړو. ځکه نو د ملي احزابو ایجاد چې د افغانستان په ټولو جغرافیایې نقطو کې قوي سراسري پایه ولري، د ملت او دولت تر منځ د همکارۍ او ټیکاو د ټیګښت لپاره یو اساسي شرط دی.

### ۵-د انتخابولو او انتخابېدو حق

گوندونه له سیاسي حق پرته نه شي رامنځته کېدی چې انتخابول او انتخابېدل یې مهمه برخه ده. ځکه نو باید د انتخابولو او انتخابېدو حق په اساسي بڼه نهادینه شي چې احزاب وکړای شي په یوه راڼه او سراسري رقابت کې د را څرگندېدلو او ونډې زمینه ولري. په دې ترځ کې زموږ حکومت ژمن دی انتخاباتي نظام چې اوس په یوه نه لېږدونکي رایې سېستم ولاړ دی او په هغه کې احزاب د ظهور او مؤثریت مجال نه لري په داسې سېستم بدل کړي چې په هغه کې احزاب په قانوني بڼه وکړای شي رقابت ته رامخې ته شي او د حزبي انتخاباتي فعالیتونو له لارې د سیاسي مشارکت په وسیله د قدرت مدیریت او پر حکومت نظارت ترسره کړي.

د انتخابولو او انتخابېدو حق د دولت پر وړاندې د اتباعو د حقوقو یوه بله برخه ده. دغه حق په عادلانه او رڼو انتخاباتو پوري تړاو لري چې د هغه له لارې د باور فضا رامنځته کېږي او د یوه فرد رایه د یوه تبعه په حیث د نظام د مشروعیت وسیله کېږي. ځکه نو، په هر اندازه چې انتخابات شفاف وي او پر هغو بنسټونو باور زیاتېږي چې انتخابات اداره کوي، نو په همغه اندازه د افرادو باور د تحول د فضا پر ایجاد ډېرېږي.

د رڼو انتخاباتو او په انتخاباتو کې خلکو د مشارکت د پراخېدو په اساس فردي مفکورې په جمعي حرکتونه بدلېږي او تغییر د خلکو په خوښه او د اجتماعي وجدان له مخې رامنځته کېږي، نه د یوه لږه کې له اړخه چې خپل ځان له ټولنې جلا حس کوي او فکر کوي د هغه انقلابي وظیفه د ټولنې رهبري د پسونو په بڼه ده.

### ٦-د سوله ییزو غونډو جوړلو حق

د سوله ییز غونډو جوړولو حق د اتباعو له بنیادي حقوق څخه یو دی، چې د غوښتنو او فکرونو د څرگندونو لپاره د خلکو د ازادۍ برخه گڼل کېږي. اتباع حق لري چې د قانون په چوکاټ کې او د عامه نظم او عامه حقوقو ته په پام سره خپل غوښتنې څرگندې کړي.

## ۷-له دولته د پوښتنې حق

یو بل حق چې ټول اتباع ماناداره کوي، له دولته د پوښتنې حق دی. افراد حق لري، له دولته پوښتني چې خپله وجیبه یې د اتباعو پر وړاندې څه وړ عملي کړي دي؛ بیت المال یې څه وړ مصرف کړی دی؛ د خپلو ورسپارل شویو دندو او ژمنو په ترسره کولو کې څومره موفق و؛ او له خپلو کړنو څخه ملت ته د دولت د مشروعیت د منبع په حیث څه ډول رپورټ او حساب ورکوی. ځکه نو، د حساب غوښتلو حق د اتباعو له سیاسي حقوقو څخه یو مهم حق دی او دغه حق زموږ په حکومت کې په اساسي او بنسټیز ډول په پام کې نیول کېږي.

## ۸- معلوماتو ته د لاسرسي حق

د اتباعو له اساسي حقوقو بل هم دولتی معلوماتو ته د هغوی لاسرسی دی. د اساسي قانون د ۵۰ مادې پر اساس، دولت مکلف دی چې خپله دغه وجیبه د قانوني بنسټونو او میکانیزمونو له لارې عملي کړي چې د ټولنې وګړي او مدني او فرهنګې ټولنې وکړای شي په بشپړه ازادي دغه خپل حق ترلاسه کړي. له دولتی ادارو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو قانون زموږ د حکومت په لومړیو کې تصویب شي.

## ۹-د خسارو د جبران حق

د اساسي قانون د مشخص حکم پر اساس په هغه صورت کې چې د دولت د کارکوونکي یا د یو دولتي ارګان اعمال اتباعو ته د زیان سبب شي، اتباع حق لري، ددغو خسارو جبران او خسمانه له دولت څخه وغواړي. د اتباعو دغه حق پر ځای کوی نه یوازې دا چې د عدالت د تامین لپاره د دولت ژمنه ده، بلکې د ټولنې او دولت تر منځ د شفافیت یوه مهمه وسیله ده. دغه حق د دولت د مدني مسوولیت په نامه یادېږي چې د اساسي قانون د پنځوسمې مادې پر اساس د دولت مدني مسوولیت زموږ د حکومت په لومړنیو کې به تدویت او تصویب شي.

## ۱۰-د روغتیا حق

د اساسي قانون د حکم پر بنسټ، دولت مکلف دی چې د اتباعو د روغتیا او روغتیایي خدماتو د تأمین لپاره اقدام وکړي، سربېره پر دې چې زموږ د هېواد خاص اقتصادي شرایط د هغو مراجعو چې د اساسي قانون د احکامو د تفسیر مسوولیت لري، داسې تدابیر به ونیسو، چې د دولت دغه وجیبه د اتباعو او خصوصي سکور په همکارۍ په ښه بڼه عملي شي.

### د اتباعو په وړاندې د دولت وجایب

د دې لپاره چې د دولت په وړاندې اتباعو حقوق نهادينه او بنستيزه شي، لازمه ده چې دولت خپل وجايب د اتباعو په وړاندې په اساسي بڼه د قانوني نهادونو او بنسټونوله لارې عملي کړي. د ساري په ډول، د جمهوري رياست د يوه ځانګړې څانګې وظيفه به کود جوړول وي چې د اتباعو پر وړاندې د دولت د ټولو ژمنو او په دقيقه بڼه د يوه ټاکلي مهالويش له مخې ترسره کړي چې په دې انتخاباتي منشور کې يې ژمنه کېږي.

ټولو هغو مواردو ته چې د اتباعو د حقوقو په نامه مطرح کېږي د دولت له وجايبو څخه دی، د ښې حکومتولۍ تامين او ټينګول، د بيان د ازادۍ ساتنه او حراست، د قانوني بنسټونو له لارې اتباعو او مدني ټولنې ته ځواب ويل، اتباعو ته د معلوماتو چمتو کول، د اتباعو د خسارو جبران او د دې په څېر نور وجايب شته چې دولت د هغو په تطبيق مکلف دی.

### د اتباعو وجايب د دولت او ټولنې په وړاندې

سياسي حقوق يوازې د افرادو او بنسټونو د حقوقو په تامين او د دغو حقوقو د تامين لپاره د دولت تر وجايبو نه محدودېږي. درېيمه برخه د يو د بل پر وړاندې د افرادو او بنسټونو وجايب دي چې ځانګړې اهميت لري.

د اوسني پېر په ځانګړي پړاو کې چې هېواد مو په کې موقعيت لري، د دولت پر وړاندې د افرادو پر وجايبو باندې جدي تاکيد نه کوي. د هغې دليل دا دی چې دولت په لومړی ګام کې بايد نهادينه شي چې تر هغه وروسته د دولت حقوق د ملت پر وړاندې يې خبرې پرې وشي. د ځانګړي فرهنګي او سياسي وضعيت په دليل چې موږ درلود، ضروري ده چې د دولت د حقوقو په پرتله د دولت پر جايبو زيات تاکيد وکړو. يوازې د ولسواکۍ بنستيزه کېدل دي چې کړای شي د دولت حقوق د ملت پر وړاندې په پام کې ونيسي.

پر دې سربېره، د دولت پر وړاندې د افرادو او بنسټونو له ځينو سترو وجايبو څخه را اخلو چې کړای شي په يوه ولسواک نظام کې د سياسي مسووليت اخيستلو د فرهنګ پياوړتيا موثر واقع شي.

### ۱- ملي وحدت ته ژمنتيا

د اتباعو لومړی وجيبه ملي وحدت ته ژمنتيا ده. هر شخص چې د نامسووله کړنو، زهرجنو خبرو، سپکو الفاظو يا د داسې ادبياتو کارول چې په ټولنه کې کرکه، خشونت او توکمپالنهپنځېږي، فرد يا د ټولنې يوه برخه ازاروي، مسخره کوي يا يې سپکوي، په حقيقت کې يې خپله ژمنتيا نه ده عملي کړې.

په دې برخه کې لازمه ده چې د بیان د ازادۍ حدود په دقیق ډول د یوې وجیبې په حیث په پام کې ونیسو او د قانون په چوکاټ کې په شفافه او واضحه بڼه اساسي قانون له ټولو موازینو او د بشري حقوقو د ټولو موزاینو سره وضع کړو چې د بیان له ازادۍ څخه د بې ثباتۍ د حربې  په توګه کار وانه خستل شي او د کرکې، خشونت او توکمپالنې د ادبیاتو او فرهنګ د خپرولو لپاره لمن و نه وهي.

### ۲- د اتباعو مشارکت

د اتباعو دویمه وجیبه د ژوندانه په ټولو برخو کې ونډه او مشارکت دی. له مشارکت پرته حقوق نه تثبیتېږي. دا ذهنیت چې دولت پخپله د اتباعو حقوقو ضمانت او تامین کړي داسې یو ذهنیت دی چې د استبدادي او ناولسواکو دولتونو له زمانې پاتې دی.  اتباع په خپله جوړوونکي دی او اتباعو پر وړاندې د دولت د ژمنو او وجایبو د اجرا ضامن دی. د مثال په ډول، نن زموږ ډېر کم والدین د ښوونځیو په مدیریت کې ونډه اخلي. روښانه ده چې زموږ د اولادونو راتلونکی زموږ لپاره حیاتي حیثیت لري، کله چې موږ پیسې په ډېر زحمت ترلاسه کوو، شخصي ښوونځیو ته یې ورکو، په حقیقت کې یې ثابتوو چې د خپلو اولادونو راتلونکی مسوولانه ګورو، خو ایا دا دې ستړې فداکارۍ او قربانۍ تر څنګ حاضر یوو چې د ښوونځیو په مدیریت، د لوړو زده کړو  بنسټونو، پوهنتونو او نورو بنسټونو په څارنه کې خپل وخت ولګوو؟ له یوه مورده تر بل پورې د مشارکت او ونډې اخیستو ډول او نوع فرق کوي، خو مهمه دا چې د ژوندانه په ټولو برخو کې مشارکت او ونډه د تابعیت له خپلو وجایبو څخه یې وګڼو. هرڅومره چې دغه وجیبه عملي بڼه واخلي او سراسرۍ شي، په هماغه کچه کړای شو چې له دولت او بنسټونو څخه د حساب اخیستلو حق پیاوړی کړو چې موږ ته د خدماتو په وړاندې کولو کې مدعي دي.

### ۳- مالیاتي ژمنتیا

د اتباعو درېیمه وجیبه د مالیاتو ورکولو د فرهنګ په ایجاد او د ټولګټو بنسټونو او زېربناوو په جوړولو کې ونډه ده. زموږ ټولنه نه شي کړای چې په ګدایي او سوال رفاه ته ورسېږي. هېڅ بشري جامعه نه ده توانېدلی چې د خارجي مرستو له لارې یوه قوي متوسطه طبقه چې دولسواکۍ اساسی دی رامنځته کړي. یوازې د تولیدي فرهنګ او د تولیدي ملي اقتصاد ایجاد کړای شي چې قوي پایښت لرونکې متوسطه طبقه جوړه کړي چې مدني او فرهنګي بنسټ لري. له همدې امله زموږ وجیبه د مالیاتو په ورکړه کې یوه مهمه وجیبه ده چې د هغه پر اساس له دولت څخه د خدمت غوښتونکي یوو. دقت کوو چې دا ټکی په ژوند کې لکه د سکې دوه اړخه یو له بل سره اړیکي لري:

موږ خپل دولت ته مالیات ورکوو او له دولت څخه غواړو چې موږ ته امنیت، اسانتیاوې او مسرت چمتو کړي. کله چې له دولت څخه د خپلو غوښتنو کچې ته ګورو، نو پام مو کېږي چې دغه غوښتنې د یوې

منځمهالې اقتصادي ټولنې د حد اقل په کچه دي، خو زموږ اقتصادي بنياد د نړۍ د لسو فقيرو هېوادونو څخه يو دی. زموږ له ونډې پرته دغه فقر په غنا او توانمندۍ نه شي بدلېدای. د يوه مالياتي سيستم په ايجاد کې ستره ونډه يوازې په دې مانا نه ده چې موږ د ماليې ورکوونکي په حيث خپله برخه ادا کوو. زموږ بله وجيبه دا ده چې د دولت په ادارو کې د فساد د چينو او د عايداتي منابع څخه د ناوړه ګټې اخيستو مخه ونيسو. کله چې د يوه تبعه په حيث د اداري فساد په اړه رپوټ ورکوو او په اړه يې تحقيق کوو، په حقيقت کې وايو چې د دولت مامورين او مسوولين نه شی کړای خلک استثمار او زبېښاک کړي او يا فکر وکړي چې هر فرد د اتوريته دولتي مقام څخه د يوه ديکتاتوري سېستم په بنه او د ديکتاتوري فرهنګ پر بنسټ حق لري چې له خلکو جزيه واخلي. د دغه فرهنګ په وړاندې درېدل او د هغه ردول زموږ د تابعيت له وجايبو څخه دی. کله چې موږ له دولت سره د ماليې ورکولو روابط پياوړي کړو، په طبيعي توګه له يوې بدوي قبيلوي ټولنې مو د يوې مدرنې مدني ټولنې په لوري حرکت کړی.

### ۴- په بنسټجوړولو کې مشارکت

د اتباعو څلورمه وجيبه د بنسټونو، متجمع ګانو او داسې جوړښتونو په ايجاد او جوړولو کې سهم او ونډه ده چې د نظام د ټولنيزو روابطو په حيث عمل وکړي. د يوه قانوني او شفاف نظام په چوکاټ کې په جوماتونو، تکيه خانو، او عرفاني بنسټونو کې ونډه د تابعيت د مهمو ارکانونو څخه يو دی چې د هغې له لارې زموږ اسلامي او ملي فرهنګ پياوړی کېږي.

### ۵-په انتخاباتو کې مشارکت

زموږ يوه بله ستره وجيبه په انتخاباتو کې ونډه او پر هغو معيارونو رای ورکول دي چې زموږ ملي غوښتنو ته بڼه او شکل ورکوي. له دې امله د جمهوري رياست انتخابات يو مهم څپرکی ګڼل کېږي. زموږ په سياسي تاريخ کې د لومړي ځل لپاره داسې زمينه جوړه شوې ده چې اقتدار د مستقيمې رايې له لارې له يوه منتخب مشر څخه بل منتخب مشر ته انتقالېږي. که موږ خپله وجيبه په دې برخه کې جدي وانخلو او په سياسي بحث کې فعالنه او اګاهانه ونډه وال نه شو، د سياسي تصميم نتايج په دقيقه بڼه و نه سنجوو، سبا يوازې سياسي قشر نه شو ملامتولی.

### ٦-د قانون په حاکميت کې مشارکت

د قانون په حاکميت کې او د قانون په اصولي تطبيق کې برخه اخيستل زموږ له مهمو وجايبو څخه ده. د قانون حاکميت يوازې د کاغذ له مخې چې پر هغه قانون ليکل شوی دی يا د فتوا د تحکم له لارې له پورته امکان نه لري، بلکې د فرهنګ له مخې شکل اخلي او پياوړی کېږي چې په هغه کې اتباع پخپله د

قانون په تطبيق کې او د اتباعو له لارې د هغه د اجرا پر نظارت ځان مسوول احساس کړي. د قانون د حاکميت او تطبيق فرهنګ زموږ اولادونه د کور دننه د قانون د ساتندويانو او پلي کوونکي په حيث بدلوي. همدا زموږ اولادونه دي چې له کوره د باندې په يوه دولتي بنسټ کې شاملېږي يا د قانون د تطبيق مرجع او اجرا کېږي. زموږ ونډه د د قانون منلو په فرهنګ کې زموږ يوه مهمه وجيبه تکميلوي.

**دريیم، ټولنيز حقوق او وجايب**

د ټولنيزو حقوقو او وجايبو مفهوم د شلمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې عام شو. د افغانستان ځانګړيو شرايطو ته په پام سره، حقوق او وجايب په پينځو جلا برخو کې د اتباعو حقوق او دولت د وجايبو په تفکيک سره د هغو د تامين لپاره په پام کې نيسو.

۱- د افرادو فردي حقوق چې په مشخص ډول د هغوی اساسي بشري حقوق دي، لکه معارف، د ژوند چاپېريال، روغتيا، کار او غذايي مصؤنيت.

۲- د علماوو او روحانيونو حقوق چې د جوماتونو، مدرسو، تکيه خانو له لارې د اخلاقي ارزښتونو، او د اسلامي فرهنګ ساتنې سترې سرچينې دي.

۳- د جنګ ځپليو حقوق چې د تېر دريو لسيزو پېښبو په روحي، جسمي، فکري بڼه هغوی زيانمن شوی دی.

۴- د هغو سيمو حقوق چې د ځانګړيو او سختو جغرافيايي شرايطو لرونکي دي او هغوی ته نه پاملرنه په هېواد کې د نامتوازنه انکشاف سبب شوی دی.

۵- د ښځو حقوق چې د جګړو په بهير کې يې سخت زيانونه ليدلي دی، د هغوی اړتياوو، او ستونزو ته حل لار موندل د مسولې حکومتولې له سترو شاخصونو څخه ګڼل کېږي.

**الف، د اتباعو فردي حقوق**

ولسواکه ټولنه د اتباعو فردي مشارکت پر بنسټ جوړېږي. په همدې دليل د اتباعو فردي حقوق تامينول چې په عمومي بڼه، با امنه، مرفه او خوشاله ژوند په کې شامل دی او د هر ولسواک حکومت دنده ګڼل کېږي. د ولسواکو حکومتونو په رده بندۍ کې هم پر همدې دليل د هغوی پر کړنو تاکيد کېږي.

زموږ حکومت د اتباعو د فردي حقوقو د تامين لپاره، نه يوازې د وزارتونو او مشخصو ادارو له لارې، بلکې د قوانينو او اداري او سياسي جوړښتونو د مداوم اصلاح او تعديل له لارې به ترسره کېږي.

له معارف، صحت، کار او ټولنیزو چارو، برېښنا او اوبو، ټولګټې، مخابرات، چاپېریال ساتنې او معلوماتي تکنالوژۍ ټول د فردوي حقوقو د تامین د فلسفې پر اساس جوړ شوی دی او د همدې لپاره کار کوي.

**ب، د روحانیونو او دیني علماوو حقوق**

دیني علما او روحانیون په ټولنه کې د انبیاوو د ورثې په حیث اعتبار لري او د ټولنیز وفاق، اخلاقي اجماع او د اسلامي ارزښتونو پر اساس د عمل پیاوړې سرچینې دي. زموږ د حکومت له لومړنیو وجیبو به یوه دا وي چې د دغو شبکو د تامین او مؤثریت لپاره د علماوو معنوي او مادي حیثیت تامین کړو.

د دې لپاره چې علما، روحانیون او دیني نهادونه وکړای شي د باثباته نظام د تحکیم او مدیریت لپاره مؤثر برخه ولرلی شي، موږ تعهد کوو چې د دغو نهادونو د ونډې لپاره قانوني زمینه په شفافنه او اصولي بڼه چمتو کړو. دولت به د جوماتو او تکیه خانو په پیاوړتیا کې برخه اخلي او داسې ترتیبات به جوړوي چې علماوو او روحانیون به په څو سترو برخو کې د دولت د مدیریتي او اجرایي مټ په حیث عمل وکړي:

۱- علماء او روحانیون به په سیمه ییز حکومت کې په بنسټیز دول برخه واخلي. د مثال په ډول، په احصائیوي  دفتر کې برخه، چې زېږون او ولد، مړینه، د جایدادونو او املاک پېر و پلور به ثبتوي، په هغو شوراګانو کې عضویت چې کوچنی منازعي او دعواګانې په محلي کچه حل و فصل کوي او د دې په څېر نور...

۲- پر یوه نوي تعلیمي نصاب باندې کار په ځانګړي ډول د سواد زده کړې او اسلامي معارف، چې د علماوو له لارې چمتو شوی وي او په سیمه ییزه کچه به پلی شي.

۳- د تاریخ، اخلاقو او اسلامي معارف په برخه کې د رسمي تحقیقي بنسټونو جوړول چې دیني مسایلو په اړه د ټولنې د ذهنیت د روښانو په اړه به مرسته وکړي.

۴- د ټولنیزو مسایلو د حل لپاره د رسمي سازمانونو جوړول، لکه د اوبه خور سېستم، د کرنې د پراختیا او د دې په څېر نور، د ملي پیوستون په پروګرام کې  غړیتوب.

۵- د دارالعلومونو او علمي حوزو جوړول چې د علم طالبان وکړای شي په وطن کې د دنه د لوړو زده کړومدارجو ته ورسېږي.

۶- د دې لپاره چې علما امکان ولري په دولتي دوایرو کې شامل شي، یو لړ قانوني اقدام به په پام کې نیسوو چې د هغوی تحصیلی مدارک او اسناد په شفافه او روښانه بڼه د باور وړ ګرځي او هغوی وکړای

شي له دغو مدارکو د دولت رسمي بدنې ته د داخلېدو  او په نورو مهمو کارو د ګومارنې لپاره ترې ګټه واخلي.

۷- په مدارسو او ښوونځیو کې د اسلامي معارف، فرهنګ او تعلیماتو تدریس د تعلیمي نصاب برخه ده او د دغو مضامینو د تدریس لپاره علما او روحانیون مهم نقش په غاړه اخېستی شي چې اسناد یې د یوې صلاحیت لرونکي مرجع له لوري ثبیت شوي وي.

### ج: د جګړو ځپلیو حقوق

د تېرو دریو لسیزو د جنګ په بهیر کې زموږ په سلګونه زره وطنوال په رنګارنګ بڼو متضرر شوي او له بېلابېلو اړخونو یې زیان لیدلی دی. دغو وطنوالو ته رسېدل زموږ د حکومت یوه مهمه وجیبه به وي. موږ ژمن یوو، چې د معلولینو، شهیدانو ورثه وو او هغه کسان چې له رواني ستونزو سره مخ دي، د دوی د وضعیت لپاره منظم او مهالوېش شوي پروګرام جوړ کړو، چې نه یوازې د دغه هېواد حقوق تامین شي، بلکې د دوی مثبت ځواک د ټولنې د جوړولو او تحول لپاره وکارول شي.

### د:د هغو وطنوالو حقوقو چې په سختو جغرافیايي سیمو کې ژوند کوي

افغانستان له جغرافیايي اړخه په داسې سیمې کې دی چې د شرایطو له اړخه په ډېری سیمو کې ژوند له ستونزو سره مخ دی. متفاوت جغرافیايي وضعیت او د سیاسي نظامونو نه پاملرنه په هېواد کې د نامتوازنه انکشاف سبب شوی دی. په جغرافیايي زندانونو کې بند پاتې کېدل له یوه اړخه زموږ د وطنوالو تر منځ د ارتباطاتو پر وړاندې خنډ ګرځېدلي دي، او له بله اړخه یې اقتصادي مبادلاتو او راکړې ورکړې ته د هېواد په لرو پرتو سیمو کې په بشپړه ډول محدوده او محلي بڼه ورکړې ده.

زموږ حکومت په دې برخه کې ځانګړي تدابیر او اقدامات په پام کې لري چې په لومړي ګام کې د هېواد ځانګړي جغرافیايي سیمې، لکه د افغانستان مرکزي سیمې او بدخشان په پام کې ولري. موږ مشخصې اقتصادي طرحې او د خپل حکومت انکشافي پروګرامونه به  په اقتصادي برخه کې شرحه کړو. خو په دې برخه کې لازمه ده چې ووایو، د لویو شاهي لارو جوړولو او د داسې پروژو ترسره کول چې د تولید له اړخه د سیمو ونډه زیاته کړي، زموږ د حکومت په کاري لومړیتوبونه کې به ځای ولري. د ملي پیوستون ځانګړي پروژې او د کلیو انکشافي، کرنې او مالدارۍ، برېښنا، معادن، صحت او ټولګټې پروژې به د متوازن انکشاف د هدف د تامین په خاطر د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې طرح او اجرا شي. په دې برخه کې د ملي پیوستون پروګرامونه د پام وړ دي چې په پینځو راتلونکیو کلونو کې د هغو پروژې له مصرفي شکل څخه په تولیدي بڼه بدله کړو، او تولید داسې ظرفیتي منابع وزېږوي چې د هغو په چوکاټ کې د

جغرافيايي محدوديتونو د لرې کولو لپاره کار وکړي او همدا ډول پر اقتصادي زېربناوو باندې پانګونه پيل کړي.

له نېکه مرخه د افغانستان سترې طبيعي منابع په ځانګړي ډول کانونه په هغو سيمو کې دي چې له جغرافيايي اړخه د سختو جغرافيايي سيمو په کتار کې راځي. په همدې اساس به زموږ د حکومت انکشافي پروګرامونه په اقتصادي امکاناتو تکيه ولري چې له هر څه مخکې د دغو سيمو د برخې اخيستو ظرفيت په ملي توليد کې لوړ کړي او زموږ فزيکي پانګونه په دغو سيمو کې په کار واچوي. همداډول، دغه طرحې به د هېواد د مختلفو سيمو د خلکو په نښلولو سره له محله هاخوا د پانګونې زمينه برابر کړي، چې په همدې حال کې د ملي وحدت او وفاق لپاره به مناسب بستر شي.

**هـ، د ښځو حقوق**

د افغانستان ښځې له ځانګړو ستونزو سره مخ دی چې ځينې يې د پرله پسې جګړو او ناامنيو له امله دي چې په ځانګړي ډول يې تېرې درې لسيزې په هېواد کې جريان درلود، خو يو لړ نورې يې د فرهنګي، د سياسي نظامونو د موجوديت او مناسبتونو له امله دي چې د ښځو مسايلو ته د حقوقو او وجايبو له ليدلوري نه دي کتل شوي. موږ په نورو برخو کې د ښځو د حقوقو او وجايبو او تحول او تداوم د حکومت د مشخصو ژمنو په اړه په تفصيل سره خبرې وکړو، خو سملاسي وايي، د ښځو مسايلو ته د حل لار موندل په ټولو انکشافي پروګرامونو کې زموږ د حکومت له مهمو ژمنو څخه دی. د ښځو مسايلو ته زموږ د ليدلوري اساس د ښځو حقوق د يوه حقيقي مستقل شخصيت په عنوان دی، پرته له دې چې بل شي يا شخص ته منسوب شي. په همدې ترتيب افغان مېرمنې د فرهنګي او مدني رشد له مخې داسې پړاو ته رسېدلې چې کړای شي چې په خپلواک ډول له خپله ځانه، د خپلو حقوقو او غوښتنو استازيتوب وکړي.

د جنګ تاثيراتو په هېواد کې پر ښځو نوي فشارونه راوړي دي. کړای شو دغه مضاعف فشار ونوموو. له يوه اړخه ستر رواني او روحي تاثيرات او له بله اړخه د کورنۍ د معيشت تامين بار زموږ د ټولنې ډېرې ښځې له ستونزو سره مخ کړي دي. زموږ د هېواد په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره زرګونې کورنۍ د کونډو ښځو د زحمت او کار له امله ژوند و ژواک (معيشت) ترلاسه کوي او د هغوی ژوند په بشپړ ډول د ښځو په کړاو او کار پورې تړلی دی. د کليو ښځې په اقتصادي فعاليتونو کې، له کرنې، مالدارۍ او باغدارۍ نيولې تر مرغانو پالنې پورې او همدا ډول په ځينو نورو فعاليتو کې ونډه اخلي لکه، وړۍ اوبدل، ګيلم او قالين اوبدل. خو د ښځو کار د مشخص مزد يا خپله د دوی لپاره په مستقلې پانګونې باندې نه بدلېږي. د ښارونو فقيرې ښځې له دې اړخه په مراتبو مشکل حالت لري.

د دغو ډېرى ښځې، نه يوازې دا چې مشخص او د اعتماد وړ کار نه لري، بلکې د درامد سرچينه يې هم په پرله پسې ډول له ګواښ سره مخ ده؛ ځکه د کليوالو ښځو خلاف چې لږ تر لږ د خپلو توليد شويو غذايي مواد ته لاسرسى لرى يا په ډېرى مواردو کې په ډله ييز او دود شوې طريقه باندې خپلې ستونزې اواري، د ښار ښځې له هغو پيسو پرته چې په خپل يې ترلاسه کوي د خپل ژوند کوچنۍ اړتيا نه شي پوره کولى. د ښځو د وضعيت د ښه والي لپاره په اړونده برخه کې به لا نور ډېر توضيحات ورکړو.

## د ملي منابعو په توليد کې د اتباعو د ونډې د فرهنګ جوړول

د اتباعو د حقوقو او د دولت د وجايبو بحث د دغو حقوقو په تامين کې د اتباعو له فعالې ونډې پرته د ملت جوړونې او دولت جوړونې په بره کې په برياليتوب نه شي ترسره کېداى. دولت له خلکو او د اتباعو له فعالې ونډې پرته نه د خپل قدرت لپاره منبع لري او نه هم دا سرچينه لري چې د هغې له مخې خلکو ته د خدماتو په وړاندې کولو تکيه وکړي. د خلکو برخه او مشارکت هغه ټولنيز مسووليت دى چې هم د ننني نړۍ په مدني فرهنګ کې او هم د اسلام مبين دين په تعليماتو کې پرې په صراحت تاکيد شوى دى.

د اسلام په مبين دين کې د ټولنيز مسووليت د ترسره کولو لپاره مشخص او منسجم اصول په پام کې نيول شوي دي. زکات د دغه ټولنيز مسووليت له ميکانيزمونو څخه يو دى. بيت المال د هغې خزانې لپاره نوم دى چې يوازې او يوازې په خلکو پورې اړه لري او هېڅ زمامدار حق نه لري چې هغه په خپله خوښه او سليقه تقسيم او ولګوي. حضرت عمر فاروق او حضرت على رضى اللّٰه تعالى عنهما په دې برخه کې ځليدونکي نمونې او مثالونه پرېښي دي. بيت المال د دولت د امانتدارۍ نقش له لارې له فرد سره د ټولنې د ارتباط مشخص ميکانيزم دى. له دې مهمه لا دا چې، له جنسيت، نژاد، رنګ او يا ملي مسايلو د خلکو تر منځ پر مساواتو د اسلام تاکيد په ټولنه کې د اجتماعي عدالت اساسات جوړوي. مالک اشتر ته چې د مصر حاکم مقرر شوى وى د حضرت على رضى اللّٰه عنه په مشهور ليک کې هغه ته توصيه شوې چې له ټولو خلکو سره له دين او مذهب پرته په مساوي توګه چلند وکړي او وايي: "هغه يا په دين کې ستا ورونه دي يا په خلقت کې ستا په څېر دي".

په اوسنيو شرايطو کې، زموږ د حکومت اجتماعي وجايب ترسره کول دوه مشخص اړخونه لري چې کړاى شو پر هغو تاکيد وکړو:

۱- هغه اړخ چې اختصاصا په دولت پورې اړه لري او دولت مکلف دى چې هغه د دولتي منابعو پر اتکا تامين کړي.

۲- هغه اړخ چې په ټولنه او اتباع پورې اړه لري او له ټولنیز مشارکت پرته نه شو کولی چې هغو ته عملي بڼه ورکړو.

د دولت د وجیبو په اړه، هغه پروګرامونه چې زموږ حکومت ورته ژمن دی، په راتلونکیو برخو کې به یې په تفصیل څرګندکړو. دمګړۍ څو نمونې په ګوته کوو چې په محلونو کې د خلکو ونډه روښانه کوي:

### لومړی: د اوبه خور سېستم

زموږ د اوبه خور سېستم د ټولنیزې وجیبې د ترسره کولو لپراه یوه ډېره ښه نمونه ده. خلکو د زرګونو کلونو په بهیر کې په همکارۍ او ډله ییز مشارکت د اوبه خور منسجم سیستم رامنځته کړی دی او په خپل مدیریت یې له هغه ګټه اخیستې ده. په دغه سېستم کې هر څوک د اوبه خور نظام په ساتنه او پراختیا کې ونډه وال او مسوول ګڼي. په دغه نظام کې هم علماوو برخه درلودې او هم خپله بزګرانو.

### دوم: د حوالې سېستم

د حواله دارۍ سېستم په ټولنیز نظام کې د پیسو د مبادلې شبکه ده. حواله د مبادلې یوه زنځیري سلسله ده چې په ټول هېواد کې موجوده وه او د دغه کار ترسره کول له ارتباط، همکارۍ، او اعتماد پرته ناممکن دی. د حوالې په سېستم کې لیدل شوی دي چې په یوه حرف یا یوه ساده رمز په لویه کچه پیسې تبادله کېږي. د حواله دارۍ او صرافۍ په شبکه اتکا د زړو افغانیو پیسې په نویو پیسو بدلې کړو چې یوه پېچلې ملي پروسه وه، پروسه مو د څلور میاشتو په اوږدو کې په بریالیتوب ترسره کړه. دغه کار د حواله دارانو او صرافانو د فعالې ونډې له اخیستو پرته ممکن نه و.

### درېیم: ټولنیز حشر

ټولنیز حشر یو بل مؤثر دود دی چې د کلیو په کچه ترسره کېږي، او شونې ده چې د اجرا او ترسره کولو په طریقه کې هغه په لږ تغییر په ملي دود بدل کړو. زموږ په ملي فرهنګ کې داسې مفکورې شته چې په ځلولو یې کړای شو د خلکو لیدلوري د ژوند د ټولو مسایلو په اړه ورغوو. د مثال په توګه، د حشر له فرهنګ څخه د چاپېریال ساتنې یا د ځینې تولګټیو پروژو په ایجاد کې د ټولو خلکو د ونډې لپاره کار واخلو.

یو لیدلوری چې زموږ په ټولنه کې اساسي او بنیادي تغییر ته اړتیا لري، له مالکیت او ملکیت څخه زموږ پېژندنه او تعریف دی. اوسني تعریف هم د مالکیت او ملکیت دایره محدوده کړې ده او هم مو له ډله ییز ونډې اخېستو څخه را اړوي. زموږ لومړنی تصویر دا دی چې زموږ ملکیت هغه د انګړ څلوردېواله دي او بس. په همدې دلیل ډېر خلک کثافات له دروازې وباسي.

د خپل کور د دېوال مخامخ یا یې ان د خپل انګړ دروازې مخې ته پر عام سړک غورځوي. په افغانستان کې کورنی ملکیت پاک او نظیف دی او ټول هغه ته پاملرنه کوي. هر افغان د خپل کور په انګړ کې ګلان کري، خو عامه سړک په عامه ذهنیت کې زموږ په ملکیت کې شامل نه دی. همدا دلیل دی چې د چاپېريال ساتنې په ښه والي کې ونډه مو له پامه غورځولې او له بله اړخه د خپل مشروع ملکیت دایره مو کوچنۍ کوو.

له دې اړخه، زموږ حکومت به د قانوني او منظمو پروګرامونو د ایجاد له لارې د لیدلوري په ایجاد او پیاوړتیا کې مرسته وکړي چې د هغې پر اساس به د ښار ملکیت د تبعه وګڼل شي او د دولت له لوري چې هر ډول خدمت اتباعو ته وړاندې کېږي، د تبعه خدمت به د تبعه لپاره ګڼل کېږي. تر هغو چې ښاریان د ښار مالک نه شي، افراد د کلي مالکان نه شي، ټولنیز مسوولیت په یوه مشترک ملي فرهنګ نه بدلېږي.

## څلورم:د رضاکارۍ فرهنګ

د رضاکارانه بنسټونو جوړول او پیاوړي کول د هغو اقداماتو یوه بله برخه ده چې زموږ په حکومت کې د اتباعو په وړاندې د وجایبو د اجرا په اړه په پام کې ونیول شي. رضاکارانه نظامونه د ټولنیزې پانګې بنسټ دی. په رضاکارنه نظامونه کې بشردوستانه لیدلوري د ټولو خدماتو اوو فعالیتونو اساس جوړوي. یو رضاکارانه نظام بشري افراد په قوم، مذهب، جنسیت او نورو تعلقاتو نه‌وېشي. د رضاکارو بنسټونو په اړه دغه مدني او عصري لیدلوری تر اوسه زموږ په ټولنه کې په سمه ښه نه دی ځای پر ځای شوی. په همدې دلیل، لومړی خو زموږ په ټولنه کې رضاکار بنسټونه ډېر کم دي دویم، رضاکار بنسټونه د ځانګړو او خاصو شرایط لاندې چې زموږ په هېواد کې موجود وو خپل بشردوستانه فعالیتونه د انسانانو یوې معینې کتلې ته محدود کړي دي.

په همدې اساس، رضاکاربنسټونه زموږ په هېواد کې په دوو سطحو کې په پام کې نیول کېږي:

لومړی سطحه، هماغه محلي او محدوده سطحه ده چې رضاکار بنسټونه له هغو امکاناتو او فرصتونو څخه چې په واک کې یې لري د ټولنې یوې برخې ته د خدماتو په وړاندې کولو ترې ګټه اخلي.

دویمه سطحه، دا ده چې موږ رضاکارانه فرهنګ په بشردوستانه او مدني بستر کې اداره او مدیریت کړو چې ټولنه په عامه کچه د هغو له فعالیتونو برخمن شي.

که یو رضاکار بنسټ له بل بنسټ سره له اړیکو پرته د یوې محدودې او ټاکلې ډلې د ګټو لپاره ایجاد شي نو د اوږدمهال لپاره په ټولنه کې د تضاد او تشتت امکان زیاتوي.

خو که دغه بنسټونه په یوه همغږې رابطه کې د کوچنیو گروپونو له حالت څخه په لویو شبکو بدل شي، نو سربېره پر دې چې د خپلو هراړخیزو همکاریو زمینه پیاوړې کوي، په ملي کچه په یوه اجتماعي پانگه بدلېږي.

### ټولنیزه بیمه

زموږ د حکومت له سترو وجیبو یوه دا ده چې د ټولنیزې بیمې نظام ایجاد او پیاوړی کړي. زموږ په هېواد کې هېڅ وگړی د ټولنیزې بیمې خدمات او ضمانتونه نه لري. د دولت مامور، محصل، معلم، او ټول د ملت واحدونه، د ټولنیزې بیمې د فقدان له امله د یوه اوږدمهاله خوندي لیدلوري له نشتوالی کړېږي. کېدای شي ټولنیزه بیمه د خصوصي سکتور یا د دولت له لارې تامین شي. خو د دغې بیمې په اړه قانوني بستر او د خلکو د باور د جلب لپاره بنسټونه هم دي.

د ټولنیز بیمې د نظام په نشتوالي کې زموږ ډېری خلک قبیلوي او غیر مدني بیمو ته پناه وړي. پر کوچني قومي، مذهبي، ژبینو هویتونو تکیه، پر کورني نظام او عشیرې تکیه، یا په اقتصادي حالاتو کې په فردي بڼه د پیسو په زېرمه کولو تکیه او یا په مختلفو برخو کې د پانگې وېشل د غیرمدني بیمو مثالونه دي چې زموږ په ټولنه کې یې خلک کاروي.

زموږ په حکومت کې به قانوني زمینې جوړې شي چې موجودې محلي شبکې ورغوي او پیاوړې یې کړي او همدا ډول په لویه ملي کچه د باور وړ بیمو لپاره زمینې برابرې او پیاوړې کړي. بیمه که د کورنۍ په سطحه په محدود بڼه وي یا د لویو بنسټونوپه سطحه په پراخه بڼه په واقعیت کې پر افرادو د صدمې یا حادثې کچه لرې کوي. هغه لوی کار چې زموږ حکومت به یې په دې برخه کې ترسره کړی هغه به په هېواد کې د بیمې شرکتونو د جوړولو لپاره د پروسې اساني وي.

### کورنۍ، د اقتصادي ودې اساس

جاپان خپل اقتصادي پرمختگ له دویم نړی وال جنگ وروسته په جاپاني کورنۍ نظام باندې د تکیې له مخې پیل کړ. د دغې طرحې په اساس، کورنۍ د قانون له مخې مکلف وگڼل شوې چې ټولنیز مسوولیت ولری او د قوانینو د اجرایې متې او د پروگرامونو په حیث عمل وکړي چې د دولت له لوري د رفاه د تامین او د ژوند د اسانیو لپاره په پام کې نیول کېدل. په همدې اساس، دغه مهم ټکي ته هم مهاله فکر وکړو چې له یوه اړخه د اتباعو مشارکت په ټول هېواد کې پراخ کړو او له بله اړخه، د عمراني او انکشافي طرحو د بهاینې لپاره د افرادو غوره نوښتونو څخه گټه واخلو.

په اوسني حالت کې زموږ کورنۍ له يوه عامه ليدلوري اغېزمنې دي چې په هغه کې والدين، په ځانګړي ډول ميندې خپله ټولنيزه بيمه د خپلو زامنو په څېرو کې ګوري او لونې داسې اشخاص ګڼي چې له کورنيو د باندې وځي. دغه ليدلورى کورنۍ بنسټ د تل لپاره ځپځپانده ساتي. زموږ حکومت به داسې قانوني تدابير او بنسټونه په پام کې ونيسي چې د هغو پر اساس به کورنۍ د يوه منسجم نظام پر اساس په نظر کې نيول کېږي چې نجونې او هلکان په کې شامل وي. د دغه کار لپاره، موږ د ټولنيز بيمې د نظام پر ايجاد سربېره به کورنۍ په يوه پراخ اقتصادي او فرهنګي نظام کې د کورني شرکت ملاتړ وکړو. په دغه اقتصادي فرهنګي نظام کې به کورنۍ په پراخه کچه د ټولنيز ژوند په ټولو برخو کې او د منابعو اوفرصتونو په مديريت کې برخه وال وي چې د دولت له خوا د انکشافي پروګرامونه له لاري ورته چمتو کېږي. ځينې طرحې چې د اقتصادي وضعيت د بهبود لپاره يې لرو په نورو برخو کې به يې شرح کړو چې يوه ستره برخه به يې به محلي کچه په کارګومارنه وي.

## د ملي فرهنګ په جوړولو کې ډله ييز ګډون

يوه له اړتياوو چې موږ يې په پرله پسې ډول مدني ټولنې ته د رسېدو لپاره لرو، د ملي فرهنګ په ايجاد کې زموږ وجيبې ته پاملرنه ده. اوس زموږ په ټولنه کې يو لوى شکايت له فرهنګي يرغل څخه دى چې ګواکي له دغه يا هغه ګاونډي هېواد يا له نړۍ څخه زموږ ملي فرهنګ ګواښي.

لومړى :بايد پام مو وي چې په نننۍ نړۍ کې، ترلي فرهنګي پولې نه شته چې هلته يوه ټولنه د يوې مستقلې جزيرې او له نورو کاملاً جلا ژوند وکړي او د خپل ځان په اړه له فرهنګي څپو هېڅ هم و نه مني.

دويم: د فرهنګي تهاجم مخه د خپل ملي فرهنګ د اساساتو په پياوړي کولو ممکن دى، نه د نورو د فرهنګي تهاجم په وړاندې د خنډونو په جوړولو او خلق کولو.

په دې باره کې، پر ملي فرهنګ اجماع زموږ مهمه هېوادنۍ وجيبه ده چې له ټول هېواد څخه ټولو خلکو په مشارکت جوړېږي. د مثال په ډول، که چېرې ژبه د ټولنې فرهنګ وګڼل شي، د افغانستان د خلکو د ژبو حقوق بايد په هغه بڼه تامين شي چې په اساسي قانون کې د تاکيد او ملاتړ وړ ګرځېدلى. په مورنۍ ژبه د تعليم حق يو له دغه عنصرونو څخه دى چې زموږ ملي فرهنګ پياوړى کوي. د هېواد اساسي قانون صراحت لري چې دوه ژبې د رسمي ژبو په حيث د ټول هېواد په کچه په تعليمي نصاب کې شاملې وي او مورنۍ ژبه چې زياتره ويونکي جوړوي، د هغوى د تعليمي نصاب برخه شي. همدا ده چې موږ د نورو له فرهنګي يرغله د اندېښنې پر ځاى د خپل ملي فرهنګ پياوړتيا ته پاملرنه کوو او د نورو له فرهنګي راکړو ورکړو څخه د خپل ملي فرهنګ د پياوړتيا لپاره کار اخلو. د ملي فرهنګ ايجاد د يوه سراسري ملي بحث د جوړولو غوښتونکى دى چې د ټولنې ټول قشرونه په کې پراخه ونډه واخلي.

### د فقر له منځه وړل، مهمه ملي وجيبه

زموږ هېواد د نړۍ يو له فقيرو او محرومو هېوادونو څخه دی. په دې اساس، د فقر او محروميت مسئلې ته پام زموږ له مهمو ملي وجايبو څخه ګڼل کېږي. د رسول صلی الله عليه وسلم يو حديث دی چې وايي: فقر د کفر عامل کېدی شي. ځکه نو، د اسلام مبين دين د تعليماتو پر اساس، له يوه اړخه د فقر زيان تعريف شو او له بله اړخه د مساواتو په ايجاد او د فقر په له منځه وړلو کې زموږ ټولنيز تعهد مطرح شو. له ټولنې څخه د فقر د ورکولو لپاره يوازې دولت مؤثر نه دی، تر هغو چې فقر د ټولنې اکثريت ګواښي، جامعه په پرله پسې ډول له بې ثباتۍ سره لاس و ګرېوان ده. هغه ټولنه چې د فقر له مداوم خطر سره مخ وي، د نظام جوړولو له منظم فکر څخه پاتې کېږي.

د محروميت احساس له فقر سره تفاوت لري. په فقر کې د بې عدالتۍ او تبعيض ذهنيت نه شته. خو په محروميت کې عمومي ذهنيت دا دی چې د ټولنې يوه برخه د سازمان شويو پروګرامونو او اهدافو په دليل په لوی لاس له منابعو او فرصتونو څخه بې برخې شوې ده. د فقر خلاف، د محروميت حس، فرهنګي، رواني، اخلاقي، اقتصادي او سياسي اړخونه لري. په همدې دليل، په ټولنه کې د محروميت د حس له منځه وړلو لپاره زموږ ټولنيزه وجيبه پراخه، پېچلې او مهمه کېږي. دلته موږ هغو پروګرامونه ته اشاره کوو چې زموږ د حکومت منسجم او جوړوونکي پروګرامونه جوړوي.

### په ملي مناسباتو کې د کرکې، تاوتريخوالي او توکمپالنې فرهنګ مخنيوی

زموږ تېر تاريخ د دې تريخ واقعيت شاهد دی چې د دغو يا هغو خلکو پر وړاندې ډول ډول سپکې کليمې يا تعبيرونه کارېدلي دي او متاسفانه تر اوسه هم په دوامداره توګه کارول کېږي.

مطبوعات او زموږ رسنۍ تر اوسه د دې فاجعې شاهد دي. له دې اړخه، زموږ ملي وجيبه دا ده چې د سپکوونکي او توهينوونکي فرهنګ پروړاندې ودرېږو هغه فرهنګ چې د کرکې، تاوتريخوالي او توکمپالنې فضا پياوړې کوي د دې پر وړاندې بايد جدي مقابله وکړو. د سپکو او تخريشوونکو الفاظو زيان او اغېز له زهرو او خنجر بد دی، ځکه دغه الفاظ مو په رواني ډول وطنوالو ته زيان رسوي او د ملي فرهنګ د ايجاد لپاره لاره له منځه وړي.

### د ملي همدردۍ د حس پياوړتيا

هماغه ډول مو چې د سولې په برخه کې تاکيد وکړ، د جګړو او کړکېچونو په اړه د بحث يوې ټولنيزې پروسې ته اړتيا لرو چې د هغې له لارې وکړای شو، هغه درد چې زموږ په وجود کې پټ دی څرګند کړو او د درد ددغه څرګندتيا له لارې د درملنې او له هغو څخه د تېرېدو زمينه برابره کړو او راتلونکي ته پام وکړو

چې یوه ولسواکه ټولنه له مدني فرهنګ سره هلته جوړ شوې وي. دغه هدف یوازې هغه وخت ترلاسه کېږي چې موږ ټول د جامعې په حیث د مسوولیت احساس وکړو.

زموږ هېواد د یوې سالمې اجماع لپاره اړتیا لري. باید داسې شرایط ایجاد شي چې په جنګ کې د ښکېلو نسلونو عقدې راتلونکي نسلونو ته انتقال نه شي. د دې هدف لپاره باید داسې فرهنګ جوړ شي چې تېر او راتلونکي د یوې علمي خردمندانه تزکیې له لارې یو له بل سره اړیکي ومومي. د دغه کار لپاره لومړی اړتیا دا ده چې تاریخ په تاریخي بڼه جوړ کړو، یعنې تېر مطالعه او درک کړو، خو اوسنی یا راتلونکی نسل د تېرو نسلونو د اعمالو مسوول و نه ګڼو. د دغه هدف لپاره باید یو شعوري بهیر ایجاد کړو چې زموږ حیثیت د یوې سالمې اجتماع په توګه تثبیت کړي او د هغه پر اساس بریالي شو چې دملت جوړونې او دولت جوړونې بهیر عملي کړو.

د ملت جوړونې بهیر دې ته اړتیا لري چې د افغانستان د سیاسي اډانې په حیث د نه جلا کېدونکیو اجزاوو په حیث یو بل په شعوري ډول ومنو. هغه ورځ چې وکړای شو په شعوري ډول دې نتیجې ته ورسېږو چې نه یوازې په زیان کې بلکې په ملي ګټو کې هم شریک یو، د خپلې ټولنې د ټکرونو ستره برخه به مو حل کړې وي. تر اوسه زموږ د ملت بېلابېلې برخې له خپلو احساساتو او عواطفو سره لاس و ګرېوان دي. له احساساتو او عواطفو سره لاس و ګرېوان کېدل انسان د ټولنې د واقعیت له درک کولو لرې بیایي. زموږ شعوري کار دا دی چې په لومړی ګام کې له ټولنې سره مرسته وکړو چې له لوړو څخه راکښته شي او هغه ستره انرژي چې نن په منفي بڼه کارول کېږي، په مثبت لوري واوړي. اتباع باید د یو د بل برخلیک پر وړاندې د اشتراک او همدردی احساس ولري، خپلو دردونو او خوشالیو ته د یوه وجود د خوشالیو او دردونو په حیث پام ورته وکړي.

### پرله پسې هېوادنۍ نظارت

د یوه ولسواک نظام اساسي اصول د اساسي قانون په مختلفو موادو کې مشخص شوي دي. په اجراییه، مقننه او قضاییه باندې د دولت د قواوو تفکیک او له بیړنیو حالاتو سره د مقابلې او مبارزې لپاره د خپلواکو ادارو جوړول، د اساسي قانون د تعدیل امکان او هغه اداره چې د اساسي قانون احکام په وضاحت او شفافیت تشریح او تفسیر کړي، زموږ د اسلامي جمهوري نظام ارکان دي.

په همدې ترتیب، په اساسي قانون کې د اتباعو حقوق او وجایب په هغه ډول چې تشریح مو کړل په وضاحت سره تعریف شوی دی. خو زموږ اساسي قانون د اتباعو، دولت او مدني بنسټونو تر منځ یوازې یو قرارداد دی.

قرارداد د حقوقو او وجایبو د تطبیق زمینه برابروي، خو د هغو لپاره کامل وضاحت نه وړاندې کوي. د قراردادونو د تطبیق او اجرا ضمانتونه یوازې په هغه قدرت کې نغښتل شوی چې د قرارداد اړخونه یې د خپلو حقوقو د خوندي ساتلو لپاره لري.

په همدې اساس، زموږ د حکومت یوه وجیبه به  د داسې ادارو او جوړښتونو نهادینه کول وي چې د هغو پر اساس اتباع  د خپلو حقوقو د ساتلو او دولت د وجایبو پر تطبیق  د مجبورولو قدرت ولری. زموږ ملت د اساسي قانون په تصویب د یوه قوي دولت د جوړولو په خاطر اجماع ته رسېدلی. هغه اساسات هم په اساسي قانون کې مشخص شوي، د یوې ولسواکې  ټولنې لپاره لازمي ګڼل کېږي. په همدې اساس، زموږ دنده د دغو ارزښتونو عملي کول دي. هر وخت چې سیاسي او اجتماعي اجماع د اساسي قانون د تعدیل اړتیا مطرح کړي، د دغه تعدیل مشخص میکانیزمونه هم په اساسي قانون کې ځای پر ځای شوي دي.

زموږ حکومت به د قانون د پیاوړتیا او ددولت د وجایبو د تطبیق په خاطر د اتباعو پرله پسې نظارت لپاره زمینې پیاوړې کړي او په دې اړه به یو لړ مشخص ګامونه  واخلي چې په لنډ ډول یې تشریح کوو:

۱- د هغو کومېټو په لړ کې چې د جمهوري ریاست بنسټ جوړوي، یوه ځانګړې کومېټه د دې لپاره وي چې د دولت پر وجایبو او د اتباعو پر حقوقو څارنه وکړي. دغه کومېټه به د هغو ټولو حقوقو او وجایبو فهرست جوړ کړي چې موږ یې د خپلې حکومتدارۍ په طرحه کې له ملت سره ژمنه کوو. د دغو ټولو د تطبیق پړاوونه به په مشخص  مهالویش سره ترتیب کړي.  پردې سربېره به دغه کومېټه دنده ولري، هغه ټولې ژمنې چې د ویناوو، مرکو، له خلکو سره د لیدنو کتنو پر مهال، یا د منظمو اوونیزو، میاشتنیو او یا درې میاشتنیو ویناوو پر مهال ترسره کېږي، هغه د دولت د قطعي اجراآتو د فهرست په بڼه ولیکي. د دغو دندو په ترسره کولو به دغه کومېټه هغه خطر  له منځه یوسي چې له خلکو سره د دولت ژمنې هېرې شوي دي.

۲- د هر شپږو میاشتو کې به د اساسي قانون د ازرښتونو د تطبیق ګزارشونه ملت ته وړاندې شي.

۳- د ملي شورا لپاره د یوه منظم تقنیني پروګرام له لارې د دې مجال برابرېږي چې د څلور کلونو په اوږدو کې  هغه ټول موارد بشپړ شي او قانوني بڼه غوره کړي چې د اساسي قانون پر اساس د تقنین او ملي شورا تصویب ته اړ دي او د هېواد اداري او سیاسي نظام له قانوني خلاګانو څخه وژغورل شي. د دغه کار یو مهم ارزښت دا دی چې د تقنینه قوانینو له لارې د درې ګونو قواوو په اجرااتو  دقانوني مشکل په حل سره به د اساسي قانون په تعدیل کې اړتیا کمه شي.

منلې مقوله ده چې سلیم عقل په سالم وجود کې وي. له بده مرغه، د افغان د وجود ټولې برخې؛ ماشومان، ځوانان، مېرمنې او زاړه د ناروغیو ښکار دي.

د افغان ماشوم وضع خواشینوونکې ده. زموږ اکثریت ماشومان خوراکي مصؤونیت نه لري. له همدې امله، د دوی وده، په تېره، د دوولس کلنۍ او شل کلنۍ ترمنځ، ډېره ورو او ناکافي وي چې پایلې یې پر ټول عمر اغېزه ښندي. د زېږون پر مهال د هېواد د ځوانو مېرمنو مړینه د نړۍ په کچه تر ټولو زیاته ده. تر پنځوس کلنۍ د لوړ عمروګړي اکثره ځانګړي روغتیایي ستونزې (لکه د زړه او رګونو ناروغۍ، د شکرې پرمختللې پیښې او نور) لري چې په هېواد کې یې مطمینه درملنه نشي کېدای.

زموږ له نظره، روغتیا یوازې صحي خدمات نه دي، روغتیا یو کلتور دی چې د جسم او عقل د یوتربله عیارولو په نتیجه کې منځته راتللای شي. روغتیا، پر صحي خدماتو سربېره، پر کلتور، عادتونو، د خوراک پر فرهنګ، خوراکي او محیطي حفظ الصحې، سپورت، ژوند-چاپېریال، عامه پوهاوي او نورو مسایلو غور او مثبته پانګونه غواړي.

په تېرو کلونو کې په دې برخه کې ځینې ملي پروګرامونه تطبیق شوي چې نسبي لاسته راوړنې یې درلودې، خو ډېر کار لا پاتې دی چې ځرګند ثبوت یې روغتیایي مسافرتونه دي. دقیقې شمیرې نشته خو د ډله ییزو رسنیو له خوا د کابل په نړیوال هوایي ډګر، تورخم، سپین بولدک او اسلام کلا بندرونو کې شوې ټولپوښتنې ښیي چې په سلهاوو زره افغانان هر کال ګاونډیو هېوادونو، هندوستان، ترکیې او خلیج ته د درملنې لپاره سفر کوي، او ډېر کله داسې وخت سفر کوي چې نور پرې ناوخته وي. موږ به دې خواشینوونکې وضعې ته په کتنه، د ملکي برخې تر ټولو ډېره برخه سرچینې د تعلیم او روغتیا برخو ته ځانګړې کړو.

د روغتیا په برخه کې زموږ ژمنې پر پنځو برخو تمرکز کوي.

**لومړی: مدیریت او پالیسي**

**د روغتیا د سکتور مدیریت**

دا چې د ملي روغتیایي پروګرامونو انسجام د روغتیا وزارت په چوکاټ کې کېږي، موږ به د پروګرامونو د مدیریت لپاره په دې وزارت کې، د مرکز او ولایتونو په کچه، مسلکي ظرفیت رامنځته کړو. تر دې دمه، د دې وزارت د لګښتونو د پام وړ برخه پر نړۍ والو مشاورینو لګېږي. که غواړو مؤثریت تأمین کړو باید

تخنیکي ظرفیتونو ته ډېره توجه وشي. په تېرو دیارلسو کلونو کې د ظرفیت په برخه کې پرمختګ شوی، خو کافي نه دی او دا برخه لا زیاته توجه غواړي. د ملي روغتیایي پروګرامونو مدیریت به په تدریج سره، له مؤسساتو څخه دولت ته ولېږدول شي. موږ به لومړی یوه ارزونه وکړو چې څنګه د نادولتي او دولتي سکتور د مشارکت پر بنیاد د شراکت یوه غوره نمونه رامنځته کېدای شي. د خدماتي پروسو د مؤثریت د تأمین لپاره به ټول قراردادونه او خدمات تر مطبوعاتي او ولسي نظارت لاندې راشي.

هر ملي پروګرام پیاوړی مدیریت، لید، او ژمنتیا غواړي. د روغتیایي پروګرامونو د مدیریت لپاره به موږ هم صحي پرسونل؛ ډاکټران، د غاښونو ډاکټران، نرسان، مرستیال نرسان، فزیوتراپستان، د راډیوګرافی او لابراتوار تکنیشنان، فارمسستان، د احیای مجدد کارکوونکي، قابلې، سایکوتراپستان او مسلکي مدیران وروزو. په دې برخه کې ټولې نړیوالې مرستې باید مستقیماً د دولت د بودیجې له لارې ولګېږي. دا برخه باید له سیاسته جلا، او پر نړۍ والو منلیو معیارونو عیاره شي. په افغانستان کې به له وزیره نیولې، د کلیو د کلینیک تر مسؤولینو پورې د ټولو کارمندانو اړتیاوې او وړتیاوې ارزول کېږي او ټول به د مکافاتو او مجازاتو د واضحو اصولو پر اساس تر څار لاندې نیول کېږي.

### د هېواد د روغتیایي وضعې تحلیل(روغتیایي پروفایل):

زموږ له لومړنیو ګامونو څخه یو دا دی چې د ناروغیو طبقه بندي، په مختلفو عمرونو، او مختلفو جغرافیوي او زماني موقعیتونو کې وکړو او د هېواد د روغتیایي وضعې یو تحلیلي سند (پروفایل) به رامنځته کړو چې یوازې په درملنه نه، بلکې په ټولو عناصرو، لکه عادتونو، د خوراک فرهنګ، خوراکي او محیطي حفظ الصحې، سپورت، ژوند چاپېریال، عامه پوهاوي او نورو فکر وشي او د موقتي او دایمي ناروغیو د تشخیص ترڅنګ د هرې ناروغی د مخنیوي، تشخیص او درملنې لګښت په اساسي توګه وسنجول شي.

### دوهم:د روغتیا د برخې بشري سرچینې او بشري پانګه

د هیوادوالو روغتیا مستقیماً د روغتیا سکتور بشري پانګې سره تړلې ده. هرڅومره چې زموږ د روغتیا د برخې د کدرونو سویه په لومړیو مرحلو یا د زده کړې په دوران کې اوچته وي، په هماغه اندازه به دوی خپل مؤثریت وښودلای شي. هغه کسان چې طبي زده کړو ته لارې پیدا کوي، باید د ښوونځي له دورې د همدې تخصص پر ایجاباتو سمبال وي. خصوصي طبي زده کړو ته جلبېدونکي محصلین باید لږ تر لږه، هغه معیار او سویه ولري چې محصلین دولتي طبي پوهنتونو ته پرې لاره مومي.

په دې برخه کې به هم د شته سرچینو د ظرفیت د پراختیا او د سویې د تثبت په برخه کې ګام واخیستل شي او هم به د نوي او لوړ ظرفیت د رامنځته کولو لپاره مؤثر پروګرامونه پلي شي:

### د شته بشري سرچینو پراختیا

په ملي پروګرامونو او د روغتیا په ټولو برخو کې د ډاکټرانو او د صحي پرسونل استخدام باید په ټول هېواد کې په روښانه معیارونو وشي. په شفافه توګه د طبي پرسونل د سویې د تثبیت لپاره باید د هغو رضاکارو متخصصینو یو بورډ چې پر اصلاحاتو باور لري، ایجاد شي. په پروګرامونو کې ګومارل کېدونکیو بهرنیو ډاکټرانو ته باید ځانګړي معیارونه، چې د روغتیا بورډ یې ټاکي، وضع شي. افغان طبي پرسونل ته باید په لومړیتوب قایل شو خو د ظرفیت لوړونې لپاره یې باید یو بېړنی او هر اړخیز پروګرام طرح شي. د هر ډاکټر او روغتیایي کارمند سویه باید هر کال له سره تثبیت شي او په دې توګه به دا یقیني شي چې د روغتیایي کارکوونکو تخصصي او کاري وړتیا په دوامداره توګه ارزول کیږي. د کارکوونکو د کاري وړتیا کلنۍ ارزونه ددې ضمانت کوي چې ناروغان به له معیاري روغتیایي خدماتو څخه برخمن شي. په کلنۍ ارزونه کې دواړه دولتي او غیردولتي روغتیایي کارکوونکي شامل دي.

د اوسنیو روغتیایي کارمندانو پر ظرفیت او پوهې باید پانګونه وشي او د هغوی د مسلکي اړتیاوو پر اساس، د لنډمهالو زده کړو زمینه ورته برابره شي.

### د نوي ظرفیت رامنځته کول

دا چې ټول علوم په دوامدار بدلون کې دي او د روغتیا علم هم، په چټکۍ بدلېږي نو ځکه ضروري ده چې له لوړو تحصیلاتو وروسته هم د مسلکي روزنو لپاره، منسجم پروګرام او یا اقدامات ولرو. ډاکټران، د لابراتورونو متخصصین، نرسان، فارماسیستان، مدیران، د بودیجې متخصصین او نور مسلکي اشخاص یوه منسجمه کړۍ یا زنځیر تشکیلوي. روغتیایي زده کړې به د لنډمهالو، او اوږدمهالو زده کړو په چوکاټ کې منسجمې شي:

د دې لپاره چې د روغتیا مختلفې کړۍ په یوه منسجم تعلیمي نظام باندې بدل شي، زموږ ژمنې دا دي:

**لنډمهالې زده کړې: (قابلې، ټکنیشنان، نرسان)**

دا چې ډېره برخه ابتدایي خدمات په لږو زده کړو هم ترسره کېدای شي، د قابلو، روغتیایي کارکوونکي او د لابراتوار د ټکنیشکنانو لپاره به د لنډمهالو زده کړو اغېزمن پروګرامونه پلي شي. که څه هم د قابلو د روزنې په برخه کې ځینې پروګرامونه عملي شوي دي خو د دې پروګرامونو اصولي پراختیا، مخصوصاً هغو ولایتونو ته، په کار ده چې د سختو جغرافیایي شرایطو له امله محروم پاتې شوي دي.

د دې ولایتونو په برخه کې باید په مثبت تبعیض قایل شو. په هغو ولایتونو کې چې امنیتي شرایط ښه نه دي، باید د کلیوالو مېرمنو د روزلو لپاره ځانګړي پروګرامونه عملي شي چې دا پروګرامونه به د خدماتو د بهترولو ترڅنګ، نالوستو او نیمه لوستو ښځو ته د کار زمینه هم برابره کړي.

**اوږدمهالي زده کړې (طبابت، نرسینګ، ټکنالوجي، ستوماتولوژي):**

د اوږدمهالو زده کړو د مؤثریت لپاره به دغو برخو ته جدي توجه وشي:

**د پوهنتونونو او پوهنځیو معیاري کېدل:**

ټول طبي پوهنځي او پوهنتونونه به د یوه ملي تعلیمي نظام په چوکاټ کې عیار او تنظیم شي. د دې نظام هدف به دا وي چې لومړی د سیمې په کچه او بیا د نړۍ په کچه موږ هغو معیارونو ته ورسېږو چې ډاکټران مو وکړای شي د سیمې په کچه روغتیایي خدمات په اغېزمنه توګه عرضه کړي. د دې مرام د پلي کولو لپاره به هم د سیمې معتبرو طبي پوهنځیو او پوهنتونونو او هم د نړۍ والو طبي پوهنتونونو سره د توأمیت امکانات برابر کړو. د خلیج هېوادونو او هندوستان چې له موږ څخه نیم ساعت یا یو ساعت زماني توپیر لري، په دې برخه کې زښته لویه پانګه اچونه کړې ده. له دې هېوادونو څخه د لرې زده کړې امکانات موجود دي او موږ به دا ډول امکانات برابر کړو. پر دې سر بېره به د اروپا او امریکا درسونه د انټرنېټ د شبکو له لارې اماده کړو چې زده کوونکي ورته لاسرسی ولري. د دې لپاره چې محصلین په بین المللي کچه او سیمه ییزه کچه سیالي وکړای شي، د روغتیا د سکتور د ټولو محصلینو لپاره به د انګلیسي د زده کړې چټک او هر اړخیز پروګرامونه برابر کړو. د دې نظام د ټولو کړیو د مؤثریت لپاره به موږ د دې نظام په څلورو لاندې برخو یعنې ۱) د طبي زده کړو د پلانجوړونې، او نظارت او ارزونې برخه، ۲) د لکچررانو د معیاري کېدلو او د دوی د ظرفیت د لوړولو، ۳) د طب پوهنځیو د محصلینو لپاره د کدري روغتونونو او مجهزو لابراتوارونو د رامنځته کېدلو او د موجودو روغتونونو د انکشاف، ۴) په نړیواله، یا حد اقل په سیمه ییزه کچه د طبي نصاب د عیارولو برخو ته توجه وکړو.

**پر ځانګړیو څانګو توجه:**

د لیسانس او تخصص په کچه د مختلفو ضروري څانګو، لکه نرسنګ، عامې روغتیا، او نورو برخو تحصیلاتو ته اړتیا ده. په تحصیلي نظام کې به د دې برخو اضافه کولو ته توجه وشي:

**نرسینګ:** په افغانستان کې باید د نرسانو ځانګړې فاکولتې تأسیس شي. نرسان باید زیات او مسلکي شي.

**ټکنالوجیست:** لابراتوار په تشخیص کې مهم رول لري. مخصوصاً دا چې که سم لابراتوارونه موجود وي، درملنه د ټیلي میډیسن له لارې، له هېواده او سیمې د باندې هم کېدای شي. په دې برخه کې خصوصي سکتور پرمختګونه کړي خو معیاري کېدلو ته ضرورت لري.

**د راډیوګرافۍ تکنیشنان**. دلابراتولار تر څنګ، د راډیوګرافۍ څانګه هم په تشخیص کې خورا مهم رول لري. د لوړو او نیمه لوړو زده کړو په چوکاټ کې موږ د راډیوګرافۍ د تکنیشانو لپاره د تحصیل موسسې نه لرو. زموږ په پروګرام کې به د راډیوګرافۍ د تکنیشنانو د روزلو لپاره تحصیلي موسسې ایجاد شي تر څو په دې برخه کې د اکسرې، الټراسونډ، سي . ټی . سکن او ام . آر آی له عصري وسایلو څخه په ښه او مسلکي ښه استفادهوشي.

**فارمسیست:** فارمسیست نه یوازې ناروغانو ته د درملو د استعمال په برخه کې مشورې ورکوي بلکې ډاکټران هم ناروغانو ته د درملو د محفوظې توصیې په برخه کې د فارمسیستانو مرستې ته اړتیا لري. د افغانستان د فارمسۍ د قوانینو پر اساس د روغتونونو او کلینیکونو ترڅنګ، ټول دولتي او خصوصي درملتونونه هم باید موظف فارمسیستان ولري خو عملاً داسې نه ده. د کابل د فارمسي پوهنځی یو وخت کې بهترین پوهنځی و او معیاري لابراتوارونه یې لرل. له بده مرغه، نه په اړوندو وزارتونو کې او نه صحي مؤسساتو او درملتونونو کې کافي شمېر فارماسیستان استخدام شوي دي. لومړۍ اړتیا د شته وو فارماسیستانو استخدام او بیا د هغوی د روزنې لپاره پروګرامونه طرح کول دي. د افغانستان د فارمسۍ د کنټرول پر اداره به جدي پانګونه وشي.

**د تخصص، ماسټرۍ او دوکتورا په کچه:** دا چې په ګڼو برخو کې د لا زیات پرمختګ لپاره تر لیسانس لوړ تخصص ته اړتیا ده نو ضروري ده چې له لوړو تحصیلاتو وروسته هم د مسلکي روزنې لپاره، منسجم پروګرام او یا اقدامات ولرو.

**دریېم: د روغتیایي چارو تمویل**

**بودیجه**

د هېوادوالو خرابه روغتیایي وضعه دا ایجابوي چې په ملکي برخه کې د پوهنې ترڅنګ، باید د روغتیا په سکتور کې هم جدي پانګونه او زیاته بودیجه ولګول شي.

هدف د بودیجې فیصدي نه، بلکې د لګښتونو مؤثریت دی. د بودیجې په برخه کې څو مهم اصلونه باید په پام کې ونیول شي:

د منابعو مؤثر مدیریت: هرڅومره چې منابع شفاف او اغېزمن مدیریت شي، په هماغه اندازه هېوادوال ورڅخه ګټه اخیستلای شي.

د روغتونونو ځمکې: له موجوده منابعو باید څنګه ډېره ګټه واخیستل شي. د افغانستان ټول دولتي روغتونونه ډېره ځمکه لري خو له دې ځمکې یې ډېره کمه برخه کارول شوې ده. دلته دوه موضوعات باید په نظر کې ونیول شي: ۱) د قانون په چوکاټ کې له اضافي ځمکې خصوصي سکتور ته د ګټې اخیستنې حق ورکړل شي. او یا ۲) حکومت د سیمه ییزو اړتیاوو او امکاناتو په نظر کې نیولو سره له دغو ځمکو څخه د روغتیا د پرمختیایي پروژو په تطبیق کې ګټه واخلي.

له خصوصي سکتور سره شراکتونه: شته امکانات، جایدادونه، د روغتونونو ځمکې او نور به له خصوصي سکتور سره د مشخصو حقوقي قوانینو او د روغتیا وزارت د اختصاصي قوانینو په رڼا کې شریک شي. دولت به د افغانستان د روغتیایي پروفایل پر بنسټ او د اړتیا پر اساس، د روغتیا د برخې پانګه اچوونکیو ته ځمکې په اجاره ورکړي. د خصوصي سکتور د ملاتړ لپاره به روغتیایي ښارګوټي جوړ شي او حمایتونه به ورته برابر شي. لومړیتوب به هغو خصوصي روغتیایي پانګه والو ته ورکړل شي چې غواړي او کولای شي داسې پرمختللي روغتیایيخدمات وړاندې کړي چې د روغتیایي مسافرتونو کچه ټیټه کړي.

بیمه او د خلکو مشارکت: نړۍ والو تجاربو ثابته کړې ده چې د خلکو مشارکت د مؤثریت یو بل مهم فکتور دی. له همدې امله، د روغتیایي بیمې ایجادول چې هم دولتي کارمندان او هم عام هېوادوال ترې ګټه واخلي، ضروري دي څو دولت وکړای شي خپلې ټولې دندې په سمه توګه ترسره کړي.

**څلورم)د روغتیایي خدماتو عرضه**

د روغتیا په برخه کې د افغانستان تر ټولو عمده لاسته راوړنه پراخ پوښښ دی. دا لاسته راوړنه باید وساتل شي. موږ به په ملي او د زونونو په کچه د تخصصي روغتونونو، د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د معالجوي روغتونونو او د کلیو او ولسوالیو په کچه د ابتدایي روغتیایي پاملرنې د اسانتیاوو وسعت زیات کړو خو تر څنګ یې پر معیاریتوب او کیفیت باندې جدي پاملرنې ته اړتیا ده.

روغتونونه، کلینیکونه، روغتیایي مراکز: موږ به لومړی شته کلینیکونه وارزوو چې په کومه کچه، په کوم معیار جوړ شوي. د حفظ او مراقبت بودیجې ته به یې ځانګړې توجه وشي. د کلینیکونو په برخه کې کاربدونکي ټول درمل به د درملو په برخه کې د ذکر شویو معیارونو پر اساس کارول کېږي او عرضه کېږي. اعظمي هڅه به وشي چې ټول کلینیکونه معیاري وي. په نړۍ کې عصري ټکنالوژۍ د روغتیایي خدماتو بڼه بدله کړې ده.

له دې نظره، د نوري فایبر د شبکې پراختیا او له پراخې برېښنایيزې شبکې سره د روغتونو، صحي مرکزونو او کلینیکونو وصلول د وقایوي او معالجوي روغتیا پل دی. دې برخې ته به جدي پاملرنه وشي. د افغانستان د فارمسۍ د کنټرول اداره به غښتلې کړای شي.

### حکومتي روغتیايي خدمات، مراکز او روغتونونه:

زموږ هدف د خدماتو د عرضې ښه مدیریت، مؤثریت او په دې برخه کې نوښت دی. د مؤثریت تأمینولو لپاره به موږ لاندې مسایلو ته توجه وکړو:

د دولتي روغتیايي مراکزو مدیریت: د روغتونونو او صحي مراکزو باید پراخه ارزونه وشي. په دې اړه د نورو معیارونو ترڅنګ، دا معیار هم په پام کې ونیول شي چې د یوه ناروغ لپاره څومره ډاکټران، یا د یوه ډاکټر پر سر څو ناروغان باید موجود وي. روغتونونه باید په دولتي تصدیو بدل شي چې خپل عواید او لګښتونه پخپله تنظیم کړای شي او مالي استقلال ولري. که روغتون او صحي مراکز، يوازې اداري بودیجه ولري او په هغې کې صلاحیت او مسؤولیت ونه لري، هلته مؤثریت نشي تأمینېدای. د روغتیايي چارو مدیریت له روغتیايي تخصص نه توپیر لري. په دې معنا چې یو ډېر ښه جراح، یا د داخلې متخصص د روغتون مدیر نه دی، ځکه مدیریت ځانګړی تخصص غواړي. دلته دوه خبرې باید په پام کې ونیول شي: ۱) هغه ډاکټران یا نور روغنتیايي کارکوونکي چې د مدیریت لوري ته توجه لري، باید په همدې برخه کې روزنه ترلاسه کړي. ۲) دا چې روغتیا هم د کورنیو او هم د دولت د بودیجې ډېره مهمه برخه ده نو د روغتونونو او صحي مرکزونو مدیریت باید د مدیریت د زده کړو یوه څانګه شي.

### وقایوي خدمات او تدابیر:

دا چې د معالجې لښکت تر وقایې لوړ وي، زموږ لومړی لومړیتوب دا دی چې په وقایوي برخه کې د راتلونکیو نسلونو ژوند ته توجه وشي. په دې برخه کې توجه د معالجوي برخې لګښت را ټیټوي.

تر دیارلس کلنې تجربې وروسته اوس فرصتونه او ننګونې شرحه شوي چې پر اساس یې ورته د یوه پروګرام په چوکاټ کې منځمهالې او اوږدمهالې لید عملي کولای شو.

په دې برخه کې زموږ ژمنې دا دي:

**واکسیناسیون:** د ماشوم، مور او وګړیو لپاره به عمده واکسینونه، په تېره د پولیو واکسین، د یوه پروګرام په وسیله عملي شي. دغه راز به په هېواد کې دننه د دې واکسینونو د معیاري تولید لپاره پانګونه وشي.

**د قابلو روزنه:** که څه هم د قابلو د روزنې په برخه کې د پام وړ پروګرامونه عملي شوي دي خو د دې پروګرامونو اصولي پراختیا، مخصوصاً هغو ولایتونو ته په کار ده چې د سختو جغرافیایي شرایطو له امله، محروم پاتې شوي دي. د دې ولایتونو په برخه کې باید په مثبت تبعیض قایل شو. په هغو ولایتونو کې چې امنیتي شرایط ښه نه دي، باید د کلیوالو مېرمنو د روزلو لپاره ځانګړي پروګرامونه پلي شي چې دا پروګرامونه به د خدماتو د بهترولو ترڅنګ، نالوستو او نیمه لوستو ښځو ته د کار زمینه هم برابره کړي. ځانګړې قابلې به روزل کیږي چې د حاملګۍ په دوران کې میندو ته د احتمالي روغتیایي ستونزو څارنه وکړي او د اړتیا په صورت حامله ښځې اړونده ولادي روغتونونو یا ځانګو ته راجع کړي.

**د مور او ماشوم مړینه:** د زېږون پر مهال د میندو د مړینې کچه را ټیټول نسبتاً اسانه کار دی، خو تر دې را وروسته کار ډېر تخصص او پانګې ته ضرورت دی. په دې برخه کې د پرمختګ لپاره، د اوو کلونو طبي زده کړې کافي نه دی. په دې برخه کې د تخصصي کدر د روزنې لپاره ځانګړی مسلکي کدر ته اړتیا ده. د دې مسلکي کدر د روزنې لپاره مورږ ځانګړیو تعلیمي مسلکي زده کړو ته اړتیا لرو.

**عامه پوهاوی:** د عامې پوهاوي په برخه کې، له رسنیو نیولې، تر مکاتبو، حجرو، جوماتونو، تر تلیفونونو پورې له ټولو وسایلو څخه په بنسټیزه توګه، د خلکو د پوهې د کچې د لوړولو کار واخیستل شي. د دی ترڅنګ په عامه پوهاوي کې د روغتونونه، کلینیکونه او کتنځیونو مسئولیت دی چې ناروغانو او یا د ناروغانو پیوازانو ته د ناروغیو د تشخیص او درملنې په هکله په روانه او ساده ژبه مالومات برابر کړي ترڅو عام وګړي پرې پوه شي. که ناروغان په یو روغتون، کلینیک او یا کتنځي کې د روغتیایي خدماتو څخه خوښ نه وي او شکایت ولري، باید د شکایت مرجع روښانه وي او مغلق اداري تسلسل ونلري، دا هم باید تضمین شي چې ناروغ او یا د ناروغ خپلوان حتماً د شکایت ځواب ترلاسه کوي.

**آیوډین او مالګه:** دآیوډینو کمبود د رفع کولو لپاره به هم د مالګې په تولید، او بیا په مالګه کې د آیوډینو د ضروري نسبت په تأمینولو کار وشي.

**پاکې اوبه:** د پاکو اوبو د کارېدنې په برخه کې باید عامه پوهه لوړه شي. په دې برخه کې پانګونه په حقیقت کې د وقایې د فیصدۍ په لوړولو کې مرسته کوي.

**تغذي، او محیطي حفظ الصحه:** په دې برخه کې به د عامې روغتیا وزارت او ښاروالیو، کرنې وزارت، مالیه وزارت، مقننه اورګانونو، امنیتي او تعقیبي اورګانونو، او د خوراکي توکیو د پروسس له صنعت او نورو صنعتونو سره د ګډ کار، او همغږۍ پر مختلفو میکانیزمونو کار وشي.

**پنځم: درمل**

د درملو واردات باید معیاري شي او په افغانستان کې باید د درملو د تولید زمینه برابره شي.

د با کیفیته درمل معیارونه په نړیواله کچه موجود دي، او توافق پرې موجود دی. زموږ ژمنه دا ده چې د درملو له واردوونکیو سره د مذاکراتو پر اساس باید محدودو واردوونکیو شرکتونو ته په لاندې شرایطو پنځه کلن لایسنس ورکړو:

دوی به یواځې له لسو منلو شویو نړۍ والو تولیدوونکیو درمل پېري او واردوي. هم تولیدوونکي او هم واردوونکي باید د کیفیت مسؤول وي، او د کیفیت بررسي به له بې طرفه نړۍ والو بنسټونو کېږي، او راپورونو ته یې باید ټول وطنوال لاسرسی ولري؛ پدې برخه کې به د افغانستان د فارمسی د کوالټي کنټرول د اداری د ظرفیت د زیاتوالي موضوع ته جدي پاملرنه وشي.

واردوونکي به په ملي کچه په ټولو ولایتونو کې سرتاسري درملتونونه پرانیزي چې په دې درملتونونو کې به مسلکي فارماسیستان د لیکلیو قیمتونو او د ډاکټر د هدایت پر اساس درمل عرضه کوي. هر درملتون به د کیفیت مسؤول وي، او د تخلف په صورت کې به هم درملتون تړل کېږي، او هم به مسؤوله کمپنۍ تر تعقیب لاندې راشي. د دې لپاره چې د ډاکټر صاحبانو مسلکي سویه په شفافه توګه تثبیت شي، له هغو ډاکټر صاحبانو، چې په اصلاحاتو باور لري، به غوښتنه کېږي چې په رضاکاره توګه، یو با صلاحیته روغتیایي بورډ جوړ کړي، او د دې بورډ د معیارونو پر اساس، له ټولو ډاکټر صاحبانو څخه، چې غواړي نسخې یې په دغو معیاري درملتونونو کې ومنل شي، د مسلکي سویې تثبیت امتحانونه واخیستل شي. افغان مستهلک باید د دې حق ولري چې پوه شي، چې د یوه معالج ډاکټر سویه څه ده، او په نسخه باندې یې باور ولري؛

په هره میاشت کې به دا صحي بورډ د نمونې په توګه یو څو نسخې څېړي چې معلومه کړي چې درمل له تشخیص سره مطابقت لري او کنه او یا د درمل ډوز او موده د درمل د ځانګړتیا پر اساس ده کنه. بورد به دا صلاحیت لري چې د ناسم تجویز ډاکټر صاحب ته اخطار ورکړي او لایسنس ورڅخه واخلي.

ټول دولتي بنسټونه به د درمل ملي تولیداتو ته حد اقل په تدارکاتو کې شل فیصده ترجیح ورکړي. له ټولو واردوونکیو او پانګه والو سره به دولت په یوه منظم پروګرام پرېکړه کوي چې کوم اقلام په باکیفیته توګه، او ژر په افغانستان کې تولیدېدای شي، تر څو داخلي سکتور په پښو ودروو. دا چې افغانستان د نړۍ له لسو بې وزلو هېوادونو دی، د افغانستان د صادراتو لپاره ځانګړي امتیازات موجود دي. موږ په دې باور یو چې افغانستان د درملو په یوه صادروونکي هېواد بدلیدای شي.

د دې هدف د عملي کولو لپاره به موږ له واردوونکیو او تولیدوونکیو سره یوې اصولي موافقې ته ورسېږو چې د پنځو کلونو په دوران کې هغه خنډونه ستونزې چې د پانګه اچونې په مقابل کې موجودې دي، لرې کړو، او د صادراتو زمینه برابره کړو. افغانستان له هغو هېوادونو دی چې د نویو درملو د تولید امکانات پکې دي. د دې لپاره له معتبرو کمپنیو سره باید د نویو درملو د انکشاف لپاره د افغانستان په نباتاتو خاصې او ګډې پلټنې وشي او د څېړنو زمینه برابره شي؛

پر درملو سربېره، اوس عنعنوي، یا دودیز طب هم په پښو درېدلی. موږ باید د طبي بوټو صادرات منسجم کړو، او له نړۍ والو معتبرو شرکتونو سره به د طبي بوټو د صادرولو او د صادراتي او پراسس د شرکتونو په جوړولو پانګونه وکړو.

# شپږمه برخه: اقتصاد

دا برخه د ځانګړي اهمیت له امله او د منشور د دې ټوک د حجم زیاتېدلو د مخنیوي لپاره ځانګړې چاپېږي.

**لومړی: ښوونه، روزنه او لوړې زده کړې**

زموږ د ښوونې او روزنې اوسنی نظام د نولسمې او شلمې پیړۍ د نظریاتو منعکس کوونکی دی. د فکر دغه ډول پر څو فرضیو ډېره لګوي:

**لومړۍ فرضیه:** پوهه محدوده ده. ځکه نو، د زده کوونکي دنده داده چې په نوموړې محدودې پوهې واک ولري.

**دویمه فرضیه:** پوهه د مراتبو په یوه سلسله کې لېږدول کېږي. نو د ښوونکي او زده کوونکي ارتباط د افسر(صاحب منصب) او سرتیري په څېر دی. ښوونکی قومانده (دیکته) کوي او زدهکوونکی یې مني.

**درییمه فرضیه:** ښوونځی او وروسته بیا پوهنتون یوه محدوده ساحه ده، او داسې مشخص اصول او قواعد لري چې په هغې کې د ټولنې د نورو وګړو برخه اخیستل نا ممکن دي.

**څلورمه فرضیه:** د ښوونځي زدهکوونکی د دمشرتوب لپاره روزل کېږي. دغه زده کوونکی له هماغه پیل څخه باید داسې تلقین شي چې له ټولنې سره اړیکه لري، خو سواد او زده کړه د ټولنې له نورو افرادو څخه د ده بیلوونکې نښه ده. په نوموړې فرضیه کې تصور دادی چې ټولنه نافهمه ده او تعلیم یافته او پوه وګړي دا دنده لري چې ټولنه بدله کړي او دا بدلون د هغوی له اساسي ژمنو څخه دی.

**پینځمه فرضیه:** عمومي تعلیم اصلي معیار دی او زده کوونکی د شپږم یا نهم او یا اکثراً له ۱۲ ټولګي څخه وروسته په هرڅه پوهېږي او په ټولو برخو کې مسلکي کېږي.

دغه فرضیې په ټولیزه توګه د ښوونې او روزنې په اړه د نولسمې پیړۍ او د شلمې پیړۍ د نیمې د آندونو او نظریو څرګندوی دي چې زموږ د ښوونې، روزنې او لوړو زده کړو نظام اوس هم په همدې اساس عمل کوي. دغه ډول اند د دې لامل ګرځي چې له زده کوونکو او محصلینو غوښتنه وشي چې لوست د توتي غوندې یاد او تکرار کړي او د همدغه تکرار پر اساس وړاندې ولاړ شي. د نولسمې پیړۍ او د شلمې پیړۍ د نیمې په خاصو شرایطو کې معلومات محدود او معلوماتو ته لاسرسي ډېر ګران ؤ. یوه کتاب ته لاسرسي میاشتو ته اړتیا درلوده. د معلوماتو لېږد او د مخابراتو بیه ډېره ګرانه وه. له همدې امله، هغه څوک چې د ښوونځي یا پوهنتون څخه فارغیده، په ریښتیني توګه یې کولای شول چې د مشرتوب دعوه وکړي.

خو د یوویشتمې پیړۍ شرایط توپیر لري:

بشر پوه شوی او منلې یې ده چې پوهه نا محدوده ده. ځکه نو، زده کوونکی او محصل اړ نه دی چې د ټولې پوهې په رانغاړلو ځان ستړی کړي. د یوه زده کوونکي یا محصل اړتیا دا ده چې د علم د زده کړې لارې چارې زده کړي او د هغې پر بناء د یوې دوامداره پروسې په چوکاټ کې په زده کولو او یادولو بوخت وي او هېڅکله داسې تصور ونه کړي چې د ټولو علومو جامع دې وګرځي.

د ښوونې او روزنې پروسه دوه اړخیزه ده چې په هغې کې ښوونکی او زده کوونکی یا استاد او محصل په ګډه برخه اخلي. په پایله کې، ښوونکي او استاد د یوه لارښود رول خپلوي، نه دا چې په یو اړخیز ډول هر څه زده کوونکي یا محصل ته انتقال کړي.

د ښوونې او روزنې حوزه په ښوونځي یا پوهنتون یا یوې لړۍ اصولو او مشخصو قواعدو پورې محدوده نه ده. بر عکس، هر ځای او هر فرصت کولای شي د ښوونې او روزنې د پروسې د پلي کولو لپاره ګټور وي. په ښوونه او روزنه کې د مور، پلار او کورنۍ رول له ښوونځیو او پوهنتونو له محوطې یا محدودو او ټاکلو ښوونکو او استادانو څخه څو چنده مهم دی.

زده کوونکی او محصل د پوهې په زده کړه او یا ځانګړي تخصص په زده کولو سره د ټولنې له نورو وګړو څخه خاص توپیر نه پیدا کوي چې د ځان لپاره د تغییر ورکولو او یا رهبري کولو په اختصاصي رول قایل شي. زده کوونکی او محصل د ټولنې یو عادي وګړی دی چې په نهایت کې په یو شمیر حوزو کې په یو شمیر مسایلو له یو شمېر افرادو څخه ډېر پوهېږي او دا د هغه لپاره هیڅ ډول خاص فرق او یا امتیاز نه راپیدا کوي. زده کونکی او محصل بر عکس زده کوي چې په هره اندازه چې خپل ځای او رول د ټولنې د متوسطو او معمولي افرادو په حد کې درک کړي او و یې مني، په هماغه اندازه د ټولنې لپاره خپل اغیزمنتوب او ګټورتوب زیاتوي.

اصلي معیار د ښوونې او روزنې د زده کولو دلارو چارو مداومه زده کړه ده، نه په ټولو معلوماتو باندې احاطه پیدا کول. شپږم او نهم یا دولسم ټولګي د ښوونې او روزنې په اوږده مسیر کې یوازې لومړنۍ مرحله ده. په همدې دلیل، هڅه کېږي چې د هغو مضامینو شمېر چې محصلین یې زده کوي، را کم کړي او د محصل ټول استعداد په ټاکلو اړینو برخو تمرکز ومومي تر څو د ټولو شیانو د زده کولو پر ځای، د ټولو شیانو د زده کولو استعداد او ظرفیت په خپل ځان کې وروزي.

سربېره پر دې، په یوویشتمه پېړۍ کې د ښوونې او روزنې نظام، نورې ځانګړنې هم لري چې هغوته پاملرنه کول به زموږ د ښوونې او روزنې د نظام په اصلاح کې له بنیادي اهمیت څخه برخمنه وي.

په اوسنۍ پېړۍ کې معلوماتو ته لاسرسی نړیوال او ارزانه شوی دی. هر څوک چې کمپیوټر او انترنیټ ته لاسرسی ولري له هغو معلوماتو څخه چې د امریکا د کانګرس په کتابتون کې شته، څو چنده زیاتو معلوماتو ته لاسرسي درلودلای شي. څکه نو، په نړۍ واله کچه معلوماتو ته د لاسرسي مسله په بنیادي ډول حل شوې ده او څوک د دنیا په هېڅ ګوټ کې معلوماتو ته د لاسرسی ستونزه نه لري.

ثابته شوې ده چې علم په دوامدار ډول د تغییر په حالت کې دی. اویا کاله مخکې د اینجینري یوه محصل یا فارغ داسې انګېرله چې د کار ډول او طریقه یې په څو لسیزو کې بدلون نه مومي او یوازې باید له تجربي څخه خپل اصلي معلومات زیات کړي. نن چې څوک د کمپیوټر اینجینري لولي او د خپلې رشتې له مخکښو نوښتګرو څخه ګڼل کېږي، ټول معلومات یې د شپږو میاشتو نه تر یوه کاله پورې زړېږي او ګټه ورنه نه اخیستل کېږي. څکه نو، د هغه اینجینر چې لس کاله مخکې فارغ شوی دی او هغه چې لس ورځې مخکې فارغ شوي دی تر منځه د رقابت موازنه د نوي فارغ شوي په ګټه ده.

څرنګه چې له یوې خوا معلوماتو ته لاسرسي اسان شوی دی او له بلې خوا، علم په دوامداره ډول د تغییر په حالت کې دی، هېڅوک دا ادعاء نشي کولای چې د شپاړسمې یا اتلسمې پېړۍ د یوه پوه په څېر په ټولو شیانو پوه دی. څکه نو، د ښوونې او روزنې د نظام اصلي تمرکز پر دې دی چې څرنګه یو وګړی کولای شي د ښوونې او روزنې دوامداره پروسه تعقیب کړي. په اوسنۍ پیړۍ کې بنیادي ټکی دا نه دی چې یو محصل د معلوماتو په تکرار مجبور کړو، بلکې هڅه کوو چې محصل په خپل ځان کې خلاق تفکر ته وده ورکړي او هغه معلومات چې ورکول کیږي، له خپل فکر او اخیستنې سره یې سم تجزیه او تحلیل کړي.

په اوسنۍ پېړۍ کې پوهه او د پوهې زده کړه له شخصي بڼې څخه وتلې ده. پخوا به یو محصل د یو شخص په حیث د نورو اشخاصو سره په رقابت کې و. اوس دا رقابت په کار او ګروپي همکارۍ اوښتی دی. په ګروپي کار کې، د درس د بهترې زده کړې نه علاوه د همکارۍ او همغږۍ او د خلکو د حاکمیت د فکري بنیادونو رول ادا کوي. په اوسني ښوونیز او روزنیز نظام کې، اول نمره له نورو څخه پورته نه دی، یواځې د یوې ډلې غړی دی چې ټول په کې د خپل فکر د شریکولو له لارې برخه اخلي.

څرنګه چې واک په پوهې پورې تړلی دی، د پانګې ډول هم تغییر کړی. د دنیا د ټولو لویو کمپنیو تر ټولو ډېره پانګه فکري پانګه ده. فکري پانګه د مالي او فزیکي پانګې په پرتله مخکې شوې ده. ګوګل یا مایکرو سافټ د فکري پانګې لاسته راوړنه ده، نه د میراثي پانګې یا د پیسو. له دې امله، نه یواځې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې کار ډله ایز شکل غوره کړی دی، بلکې د کار او پوهې ارتباط له چاپیریال او ګټه اخیستونکو او ذیدخله قشرونو سره هم په بنیادي ډول تغییر میندلای دی.

د ښوونې او روزنې په پروسه کې د مور او پلار رول ډېر مهم شوی دی. د مور او پلار د فعالې ونډې اخستنې څخه پرته د ښوونې او روزنې بهیر ناقص او نیمګړی دی. د ښوونې او روزنې په ننني نظام کې د ښوونځي او کور توپير د له منځه تللو په حال کې دی. د کور او ښوونځي تر منځ هېڅ ډول کلک دیوال نشته چې هغوی یو له بل څخه بیل کړي. کور، ښوونځی او پوهنتون په اساسي ډول یو له بل سره نښتي دي. همدا ډول تر ډېره مور او پلار هم سواد لري او کله یې چې اولادونه باسواده شي، نو نه یوازې چې سره لرې کیږي نه، بلکې لا سره نږدې کیږي.

خصوصي سکتورد پوهنې په برخه کې اساسي رول لري. هغه پوهه چې په ښوونځي او پوهنتون کې حاصلیږي، که د بازار د هغو شرایطو سره چې خصوصي سکتور یې رامنځته کوي، ارتباط ونه لري، يوه بې ګټې پوهه ده. خصوصي سکټور یوې خاصې پوهې ته اړتيا لري چې وکولای شي د تولید او پانګې په زیاتولو کې مرسته وکړي. که پوهه ونه شي کړای د خصوصي سکټور دغه اړتیا پوره کړي، له کتاره وځي.

دولت د پوهې څرنګوالی او اغیزمنتیا د ټاکنې لپاره یوازې د ښوونې او روزنې یا عالي زده کړو په وزارتونو پورې محدود نه دی. دولت د یوه لوی نظام په توګه په ټولو امورو کې ښکیل دی. د ثروت د ایجاد او په سرمایه باندې د هغه بدلول د دولت له ډېرو مهمو دندو څخه دي. د ښونې او روزنې نظام د بشري پانګې تولید کونکی دی چې د دې بشري پانګې په مټ بیا کولای شي د پانګې له نورو ډولونو ګټه واخلي. د بشري پانګې نه شتوندولت مجبوروي چې دا پانګه له بهره را وارده کړي او یا د خامې ناکاره پانګې نه په اخیستلو تکیه وکړي.

د ښوونې او روزنې د نظام په هکله زموږ لید لوری په بنیادي اصلاح او تغییر ټینګار کوي. د ښوونې او روزنې د نظام د اصلاح او ښه کولو په برخه کې هغه یو شمېر اقدامات چې موږ به یې تر سره کړو په لاندې ډول دي:

د ښوونځیو تعلیمی نصاب، په تیره بیا له لومړي څخه تر شپږم ټولګي پورې، باید داسې تدوین او تنظیم شي چې په زده کوونکو کې د خلاق فکر هنر ایجاد او تقویه کړي. د دې کار لپاره بنیادي ټینګار به د ژبې او ادبیاتو پر زده کړه وي تر څو د زده کوونکو فکر، تجزیه او د تحلیل قدرت ته وده ورکړي. د رسمي او مورنۍ ژبو تر څنګ، زده کوونکي چې د هرڅومره زیاتو ژبو سره بلدیږي د درک قوه او ذهني وړتیاوې یې زیاتیږي. ځکه نو د لومړنیو زده کړو په نظام کې به د ژبې زده کړې ته بنیادي لومړیتوب ورکړل شي.

په تعلیمي نصاب کې به ډېر تاکید په دې کیږي چې زده کوونکي خپله فعال و اوسي او په تعلیم کې پراخ ونده واخلي، همدارنګه به له عصري تکنالوژۍ هم په لوړه کچه کار واخیستل شي.

تعلیمي سی ډي او فلم او سلایډونه، تقویتي کتابونه، هغه مجلې او ورځپاڼې چې د علومو، فرهنګ، جغرافیه، هنر، او تاریخ په برخه کې اختصاصي صفحې لري، ټول د تعلیمي نصاب یوه برخه جوړوي. له نیکه مرغه په دې ټولو برخو کې د معلوماتو په لحاظ، د هېڅ ډول ستونزو سره مخ نه یو او په اسانه توګه په میلونونو معلوماتي برخو ته لاسرسی درلودلای شو.

پکار ده چې خپل تعلیمي نصاب د اخلاقي او فرهنګي ارزښتونو له نظره په داسې ډول عیار کړو چې د معلوماتو او عصري زده کړو تر څنګه زده کوونکي پر خپل ځان او نفس لا باوري شي. پر زده کوونکیو د ګټورو او بې ګټو معلوماتو د یوې لوېې مجموعې بارول زموږ د اخلاقي او فرهنګي ارزښتونو د تقویې لپاره مرسته نه کوي. په دې برخه کې یوازې خبرتیا او معلومات ګټور دي چې وکولای شي په زده کونکیو کې پر خپل خان د باور جوهر رامنځته کړي او هغوی د مضبوطو اخلاقي او فرهنګي بنیادونو څښتنان کړي. موږ به په دې برخه کې، تعلیمی نصاب په داسي خاص ډول تنظیم کړو چې د روښانه او دقیقې نتیجې درلودونکې وي.

پر ښوونکو او روزونکو پانګه اچونه، د ښوونې او روزنې د نظام په اصلاح، مخصوصاً په لومړنی دوره کې به زموږ د پروګرامونو یوه مهمه برخه وي. د زده کونکیو د شخصیت او فکر اساسات په لومړنی دوره کې جوړېږي او ښوونکي د زده کوونکو د ذهن او کړو وړو د معمارانو په ډول له حیاتي رول څخه برخمن دي. د ښوونکو او روزونکو ستونزې د معیشت د تامین او همدارنګه د ټولنیز عزت او حیثیت له نظره به داسې حل شي چې د ټولنې له ټولو څخه مستعد وګړي به د معلمی خواته ولاړ شي.

د ښوونې او رونې په نظام کې به داسې ځانګړې طرح پلې کړو چې د هغو پر بنسټ به تکړه او وتلي ښوونکي وپیژندل شي او د یوه منظم پروګرام له لارې به دوی خپله پوهه او د تدریس تجربه له نورو معلمینو سره په ټول افغانستان کې شریکه کړي. نوموړی پروګرام کېدای شي په مختلفو ډولونو تطبیق شي لکه د سیمینارونو او ځانګړو روزنیزو ورکشاپونو ایجادول، له لرې څخه ویډیویي کنفرانسونه، د سی ډی یا په ډیجیټل شکل د تدریس د لارو چارو او د زده کړې د پروګرامونو ثبت او د هیواد ټولو ښوونځیو ته د هغو خپرول.

د ښوونې او روزنې نظام به داسې عیار کړو چې ښوونځي او پوهنتونونه د جوماتونو او مدرسو په ډول به ټولنیزو پروژو تبدیل شي. په دې برخه کې د داسې قوانینو وضع کولو ته اړتیا لرو چې د مور او پلار او دولت د ونډې اخیستنې کچه په روښانه او قانوني ډول وټاکل شي. زموږ د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو نظام په اوسنی بڼه، د دولت په یو ډېر پر مصرفه ارګان تبدیل شوی دی. په داسې حال کې چې د ګټورې لاسته راوړنې کچه یې تقریباً په بشپړ ډول د افسوس وړ ده.

د ښاریانو سره د دولت تعامل باید په داسې ډول عیار شي چې ښاریان د خپلو اولادونو پر زده کړې او تحصیل باندې پانگونه د هغوی د لا مصؤونې او بهترې راتلونکي لپاره تلقي کړي. مور او پلار، چې وخت او پیسې دواړه مصرفوي، باید د خپلو اولادونو په تعلیم کې فعال گډون ولري.

د ښوونځیو جوړول زموږ په ملي بودجه کې یو د لویو مصرفي مواردو څخه شوی دی. د جاپان او یو شمیر نورو هیوادونو تجربې ښیي چې د درس (لوست) طریقه او کیفیت څو چنده له هغه ساختمان(تعمیر) څخه زیات مهم دی چې د ښوونځي په عنوان پکښې زده کوونکي شاملېږي. د ښوونځي ساختمان(تعمیر) په دوهم قدم کې راځي. د افغانستان بهترینو ښوونځیو په پنځوسمو کلونو کې مجهزو ساختمانونه نه درلودل. خو په همدغو ښوونځیو کې چې شمیر یې هم ډیر محدود و، د درس سویه د گاونډیو او د سیمې د نورو هېوادونو د ډېرې پرمختللې سطحې سره بر ابره وه. د همدغو ښوونځیو فارغانو وکولای شول په نړیواله کچه مطرح شي او د د نیا په پرمختللو تحصیلي مؤسساتو کې له نورو سره سیالي وکړي. له همدې امله به د ښوونځیو د جوړولو پروژېله یوې خوا د خپلې ټولنې د متوسطو اقشارو د اقتصادي ودي او  توانمندی په تناسب عیارې او له بلې خواد درس او تعلیمی کیفیت هترولو لپاره تعدیل کړو.

د ښوونځیو ساتنه او څارنه او هغوی ته د مالي سرچینو ایجادول د دولت، قریې او گذر تر منځه د یوې مشترکې پروژې په توگه به هغه نور بنسټیز کارونه وي چې تر سره به یې کړو. د اړیکو د ډول د روښانولو او د ښوونې او روزنې په نظام کې د کورنیو برخه اخیستنه او په نوموړي نظام کې د خصوصي سکتورونو د رول لپاره به ځانگړي قوانین رامنځته کړو تر څو د ذیدخلو ټولو خواوو د مسؤلیت حدود په روښانه ډول وټاکل شي.

د ښوونې او روزنې د نظام  اړتیاوو ته د رسیدگی لپاره د ځوانو کدرونو جذبول له هغو بنیادي اقداماتو څخه دی چې په جدي او بنیادي توگه به ورته پاملرنه وکړو. نو له دې کبله، هغه تحصیلي بورسونه چې د دوستو هېوادونو له خوا یې تر لاسه کوو، داسې ځانگړي کړو چې زمونږ د ښوونې او روزنې د نظام په غښتلتیا کې مرسته وکړي. د نوموړو بورسونو د تر لاسه کولو او د هغو د امتیازاتو څخه د گټې پورته کولو لپاره به ځانگړي شرایط په پام کې ونیسو، چې هم د  د ښووني او روزني نظام ته د ټولنې د بهترینو استعدادونو د جذب لامل شي او هم د هغوی د بېرته  راتلو او د هغوی له علمي توانمندیو او استعداد څخه په ټولنه کې د لا ډېرو استعدادونو د روزلو زمینه برابره شي.

داسې پروگرامونه به په پام کې ونیسو تر څو د مادي او معنوي امتیازاتو د قایلیدو په بدل کې، زموږ بهترین ځوان او تحصیل کړي استعدادونه و هڅول شي تر څود هېواد تر ټولو محرومو سیمو ته د

خدمت کولو لپاره ولاړ شی. نوموړي پروگرامونه به سربېره پر دې چې په محرومو او لیرې پرتو سیمو کې به پټو استعدادونو ته د را څرگندېدو او ودې مجال وکړي، د هېواد په راتلونکي مدیریتي او رهبري نظام کې به له تعادل سره هم مرسته وکړي تر څو نوموړي مدیران او رهبران په ځانگړو ښارونو او سیمو پورې ونه تړل شي، اوپه ټول هېواد کې خواره او منتشر شي.

زمونږ د ښوونې او روزنې نظام به په داسې ډول ورغول او هدایت شي چې زده کوونکي، هغه ټولې برخې چې په ښوونځي کې یې د یوې اړتیا په توگه زده کوي، د خپلې ټولنې اوخپل هېواد مهمې اړتیاوې وگڼي. زده کوونکي باید یوازې د دې لپاره درس ونه ولولي چې په راتلونکې کې به خامخا والي، وزیر ډاکتر یا اینجنیر کېږي. د زده کوونکي لید لوری باید په دې مرحله کې ډېر پراخه شي او هغه ټولې اړتیاوې چې ټولنه یې لري، دیوه پراخه لیدلوري په چوکاټ کې درک کړي، او وپوهېږي چې ټولنه د یوه ژوندي جسم په توگه گڼې اړتیاوې لري. د ټولنیز نظام مختلفې برخي په یو نه یو ډول یو له بل سره لازم او ملزوم دي.

زده کوونکي باید درک کړي چې ثروت لایتناهي دی، خو د ثروت منابع محدودې دي او د ثروت تولید د بشري پانگي په نظام او نظم پورې اړه لري. له دې کبله، هغه لیدلوری چې زموږ د ښوونې او روزنې به نظام کې باید شکل ونیسي، د هغې یوه برخه په هیواد کې نظام جوړونه د زده کوونکو یوه مهمه اړتیا گڼي. زده کوونکی باید درک کړي چې یو منسجم نظام څرنگه کولای شي استعدادونه په کار واچوي اودغه استعدادونه ولې او څنگه د یوبل لازم او ملزوم گرځي تر څو د یوې مجموعې په ډول د ټولنې څرخ مخ پر وړاندې حرکت وکړي. ځکه نو، زموږ د تعلیمی نصاب یوه عمده برخه، مخصوصاً د نهم ټولگي څخه تر دولسم ټولگي پورې، باید د دولت جوړولو او ملت جوړولو بریالی تجربې له زده کوونکو سره شریکې کړي او هغوی ته ورزده کړي چې څرنگه د ټولنې له خوا منل کېږي او څرنگه د ټولنې د جوړښتونو په غښتلتیا او ښه والي کې رول لوبوي.

زده کوونکي له نهم ټولگي څخه وروسته په کافي اندازه ظرفیت ترلاسه کوي چې د خپل ښاریتوب د نقش او مسؤلیت په اړه ژور او منسجم بحثونه وکړي. هغه عمده تفکر او پوښتنې چې د زده کوونکو ذهن ته شکل ورکوي، باید په دې مرحه کې ترجدي پاملرنې لاندې ونیول شي.

هغه درې هېوادونه چې په دې برخه کې په تېرو پنځوسو کلونو کې یې ډېرې زیاتي بریالی تجربې درلودې، چلي، جنوبی کوریا او سینگاپور دي. د اقتصاد له نظره د اقتصادي پرمختگ له مهمو معیارونو څخه یو یې د کارگر د تحصیلاتو کچه ده. نن ورځ په چلي یا جنوبي کوریا کې تر څو چې کارگر له دولسم ټولگي څخه فارغ شوي نه وي، هېڅ ډول کار نشي پیدا کولای. بدني کارونه لکه د سړکونو پاکول کار نه گڼل کېږي. په نننی اقتصادي بازار کې، یوازې هغه کار ته کار ویل کېږي چې د دوامداره عاید لامل شي

او د کارګر اعتبار او عزت تامین کړي. دغه ډول کار د دولسم ټولګي څخه له فراغت څخه پرته نشي میسر کېدلای. له عمده دلایلو څخه یو یې دادی چې د هر مملکت صادرات د هغه مملکت د فکری سرمایی منعکس کوونکي دي. د تولید کیفیت هم د تولید کوونکي د پوهې او تحصیل په کچې پورې اړه لري. په ننني نړی کې هېڅ داسي یو تولید نشته چې په غیر له عصري تکنالوژۍ څخه په ګټه اخیستنی سره امکان ولري. څرنګه چې تکالوژي له یوې ورځې نه بلې ته پرمختګ کوي، کارګر هم باید د خپل سواد او تحصیل هغې مرحلې ته رسیدلی وي چې وکولای له دغې تنکنالوژی سره همغږي شي.

زموږ په هېواد کې یو له مهمو بېلګو څخه زغره لرونکي موټر دي چې د کمپیوټر په ذریعه اداره کېږي. موږ په خپل هېواد کې د دغو موټرو لپاره چلوونکي نه لرو. له همدې کبله، یو له مهمو مرستو څخه چې له موږ سره شوې ده، په سمه توګه ورڅخه کار نه اخیستل کېږي. که پورتنۍ بېلګې ته پام وکړو، کولای شو وپوهیږو چې د با اعتباره شغل پیدا کول په یو هېواد کې چې تولیدات یې عمدتاً پر عصري تنکنالوژی تکیه لري، د تحصیلاتو په کومې کچې پورې تړلي دي.

پکار ده چې د ښوونې او روزنې نظام په ټولنه کې د اورېدلو، لیکلو او خبرې کولو فرهنګ غښتلی کړي. لیکل او خبرې کول د پیغام د رسولو لپاره مهم دي، خو اورېدل د پیغام د پوهېدلو لپاره اهمیت لري. زده کوونکي باید زده کړي چې د ژور او بهتر پیغام رسولو لپاره خپلو ظرفیتونو غني کولو ته پام وکړي او دا ظرفیت نه غني کېږي، مګر دا چې په ټولنه کې دخبرو د اوریدلو او غوږ نیولو فرهنګ تقویه شوي.

لیکل یو له هغو مهمو لارو څخه دی چې د خپل فکر د ثبتولو لپاره ورڅخه کار اخیستی شو. که د لیکلو فرهنګ تقویه او درناوی ورته ونه شي، هېڅ وګړی نه شي کولای چې د خپل فکر بیا کتنه او ارزونه وکړي. تقریري فکر تل د انکار وړ دی، پرته له دې چې معلوماتي تکنالوژي یې ثبت کړي. خو د تحریري فکر مهمه بېلګه داده چې د کاغذ په واسطه له لیکونکي څخه جلا کېږي او دریم فرد کولای شي د هغې تېروتنې او خالګاوي په نښه کړي او لیکونکی اړ دی چې ویې مني او د خپل فکر تیروتنې او نیمګړتیاوې اصلاح کړي. لیکونکی نه شي کولای د خپل مکتوب نه انکار وکړي. ځکه نو د تحریري فرهنګ دیسیپلین باید په بنیادي ډول تقویه شي.

د لیکلو له فرهنګ نه وروسته، په اوسنۍ پېړۍ کې تقریري فرهنګ هم خپل خاص دیسیپلین رامنځته کړی دی. دا بدلون د معلوماتي تکنالوژۍ د ترویج او نفوذ له کبله دی. تقریر د مکالمې او ارتباط وسیله ده او موږ هم د دنیا د هر ګوټ په څېر د بدلېدلو په حال کې یو. ځکه نو، د تقریر مدیریت هم زموږ په فرهنګ کې په یوه عمده مساله بدل شوی دی چې باید د ښوونې او روزنې د نظام له لارې هغه ته پاملرنه وکړو. په همدې حال کې، تقریر هم د یوه خاص دیسیپلین درلودونکی دی.

زموږ په ملي فرهنګ کې د تقرير ديسپلين په عنعنوي شکل زده کېږي. زموږ سپين ږيري او علماء تل په تقرير کې لوړ لاس لري، خو زموږ د ټولنې د باسواده قشر زياته برخه چې په دولتي ادارو کې کار کوي، د تقرير د دسيسپلين او هنر له لحاظه ډېرې ستونزې درلودې او دا ستونزه زموږ په بيروکرات اواداري قشر کې لا هم شته.

د تقرير د دسيپلين او هنر تشه بايد د ښوونې او روزنې په نظام کې ډکه کړو. په ښوونځيو او پوهنتونونو کې د مساعدې فضاء رامنځته کول او د هغو ځانګړو فرصتونو چې هلته موجود دي د تقرير د تمرين پر ميدان باندې بدلول، يو له هغو حياتی کارونو څخه دی چې د ښوونې او روزنې د نظام د اصلاح په برخه کې بايد ورته پاملرنه وکړو. هغه بنسټونه او کلپونه چې په رضا کار ډول رامنځ ته کيږي او همدا رنګه راډيوګانې او تصويري رسنی په ټولنه کې د تقرير د فرهنګ د تمرين او تقويې لپاره مساعد فرصتونه لري.

هغه ټکي چې د تقرير او ليکلو د فرهنګ لپاره مهم دي او د ښوونې او روزنې نظام بايد ماشومان د هغه په اساس وروزي، د ويلو او ليکلو له ادب سره آشنايي ده. دغه ادب له هغه احترام څخه چې وګړي يې خپل فکر آند ته لري رامنځته کېږي. که پاملرنه وکړو، د وګړو د سنجول شوو او ښو خبرو کچه ارتباط لري د احترام له کچې سره چې وګړي يې خپل فکر او آند ته لري. نا مهذبه او له اهانت، تاوتريخوالي او نفرت څخه ډګې خبرې د متفکرو وګړو په ادبياتو کې کمې ميندلای شو.

په هره کچه چې انسانان د خپل فکر د عمق له لحاظه متذل کېږي، په هماغه اندازه د نا مهذبه او له کرکې، تاوتريخوالي او اهانت نه په ډکو خبرو باندې ډېر اخته کېږي.

د ليکلو د ويلو په فرهنګ له پوهېدلو نه وروسته، د اوريدلو د فرهنګ پر اهميت باندې هم پوهېږو. د اوريدلو فرهنګ، يوازې د يوه فکر يا انديشې د زده کولو په مانا نه دی، بلکې د فکر او انديشې د زغملو په مانا هم دی. غواړو د ښوونې او روزنې د نظام له لارې د فکر او انديشې د زغملو فضاء هم زموږ په ټولنه کې تقويه شي. بايد وکړای شو يو بل ته په ځير غوږ ونيسو او دې بنيادي ټکي ته ورسيږو چې نورو ته په غوږ نيولو سره په واقعيت کې هغوی هڅوو چې مونږ ته غوږ ونيسي. د اورېدلو فرهنګ سره بلد تيا او هغه ته درناوی يو له هغو فرصتونو څخه دی چې زموږ په ژبنيو ادبياتو کې ژبني ګواښونه کموي. په هر کچه چې بحث او ويل او اورېدل زموږ په ټولنه کې عام شي او په هره کچه چې زموږ خلک يو بل درک کړي، فرصت مومي چې له رسمي کړو وړو څخه راووځي او د يو بل د خبرو اوريدل او ويل په ټوليزه توګه زده کړي.د مخاطب خبرو ته دقت کول د دې لامل کېږي چې پرخبره يې ښه پوه شو.

د دغې پروسې دوام  په ټولنه  کې د یو بل د زغم او تساهل او یو بل د منلو فرهنګ تقویه کوي او همدغه منظر دی چې کولای شو د ملت جوړولو لید لوری د ښوونې او روزنې د نظام له لارې په بنیادي ډول چمتو کړو.

زموږ په اساسي قانون کې یو محوري ارزښت د داسې یوه فرهنګ عام کول دي چې د قانون حاکمیت تامین کړي. ملت جوړونه یوازې د ولس  حقوقو ته د درناوي په چوکاټ کې ممکنه ده. د زغم، تساهل او د یوبل د منلو فرهنګ د ملت جوړولو د موخې لپاره معقولترینه لاره ده. پر دې بنسټ زموږ هر ښوونځی، په تیره بیا له اوم څخه تر دولسم ټولګي پورې دملت جوړولو او دولت جوړولو یو لوی لابراتوار دی. که  ماشومان پوه شي چې د یو مشترک او ملي باور درلودونکي نظام په  چوکاټ کې ژوند کوي چې په هغه کې د اورېدلو او ویلو دیسپلین او ادب دهغوی د ښاري او مدني اخلاقو بېلګه ده، له هماغه ځایه  چې  په ښوونځي کې یې لرې د یوې خوندي فضاء د رامنځته کولو لپاره هڅه کوي چې په هغې کې د هغوی هېواد د امن  پر حریم بدل شي.

د ښوونې او روزنې په بنیادي او هدفمندې رغونې سره کولای شو خپل ځوان نسل د ودې او بلوغ په مرحله کې هغوی دراتلونکې لپاره په پراخه لیدلوري سمبال کړو. یو له هغو محورونو څخه چې زموږ د ښوونې او روزنې په بنیادي رغونه کې ډېر اهمیت لري، د تاریخ درسونه دي چې باید په ژور لید او روښ مند ډول داسې تدوین شي، تر څو چې زده کوونکي له  تېر وخت سره د دقیقې بلد تیا تر څنګه، د راتلونکې لپاره هم د لوی لید څښتنان کړي. د تاریخ  درسونه یوازې زموږ د تېرو خلکو د کړنو د منفي او ناسمو اړخونو د راژوندي کولو تکرار نه دی، بلکې  له هغه څخه د راتلونکې لپاره د تاریخي بنسټونو د جوړولو لپاره عبرت اخیستل چې په راتلونکې کې د منفي او ناسمو اړخونو د تکرار مخه ونیسي.

تاریخي درسونه باید موږ ته دا امکان رامنځته  کړي چې له تاریخي انقطاع څخه وژغورل شو او زموږ راتلونکي نسلونه له ذهني او فکري پلوه داسې یو لیدلوری تر لاسه کړي چې لږ تر لږه د پنځوسو نه تر سلو کلونو پورې د پلانګذارۍ ظرفیت ولري. د تاریخ په برخه کې زمونږ تعلیمي نصاب باید داسې نصاب وي چې د راتلونکې د جوړولو په مفکوره یې ډېډه لګولې وي. د مالیزیا له بریالۍ تجربې څخه وروسته، د راتلونکې جوړول په ټوله نړۍ کې د حکومتولۍ په یوه خاص دیسیپلین بدل شوی دی او دغه دسیپلین د دې لامل شوی دی چې ټولې پروژې د کوچنیو او متوسطو ښارونو نه تر سترو هېوادونو پورې د راتلونکې د جوړولو د لیدلوري پر بنسټ مطرح شي او دا کار په یوه ملي بحث، ملي پروګرام او یوه ملي دیسیپلین تبدیل شي.

هیله لرو چې د همدې لیدلوري پر بنسټ د راتلونکو پېنځو کلونو په ترڅ کې په خپل هېواد کې د نوي تاریخ بنسټ کېږدو چې زموږ ولس د مقطعي او آني فکرونو چې د نن ورځې او همدې لحظې لاسته راوړنو ته سترګې په لار دي، خلاصون ومومي او هغه ټکي ته پاملرنه وکړي چې د هغې پر بنسټ خپل ځان د یوې لویې ټولنې غړی تصور کړي او سیاسي ثبات د داسې فرصت چمتو کونکی وګڼي چې په هغه کې خپلو ټولو اوږد مهاله آرمانونو ته تحقق ورکوي او د همدې اصل پر بنسټ پر مخ ځي.

## د لوړو زده کړو په نظام کې اساسي سمون

هغه مهم ټکی چې باید ورته پام وکړودادی چې یوه ټولنه نه شي کولای خپل ټول کسان پوهنتون ته ورسوي. په عین حال کې، هره ټولنه اړتیا لري چې خپل زیات شمېر وګړي پوهنتون ته ورسوي. دا غوښتنه د ټولنې د هر وګړي ارمان دی. خو پوهنتون ته تلل ګران بیه دی. زموږ په هېواد کې د دغې بیې ډېری د دولت یا د ملي بودجې له لارې ورکول کېږي. له همدې امله هغه لګښتونه چې په پوهنتونونو باندې کېږي، باید پایلې یې د ټولنې لپاره د پوهیدو وړ او د رضایت لامل شي. پرته له دې به پر پوهنتون لګښت د هغه بېوال داستان شي چې کلونه، کلونه کار کوي، خو بې ثمره ونې کینوي او په پایله کې یوازې وچ لرګي لاسته راوړي چې یواځې د سیزلو وړ وي، نه دا چې کومه بله خاصه او ګټوره پایله ولري. د پوهنتونونو سره زموږ اوسنی چلند دغه راز له وچ لرګي سره چلند دی، نه له هغو پیاوړو نیالګیو سره چې ۲۰۰ -۳۰۰ کاله استوار پاتې شي یا زموږ لپاره ډول ډول ثمر ولري. دا وضعیت په هېڅ ډول د منلو وړ نه دی او زغم د هیڅ ډول توجه درلودونکی نه دی. پوهنتون باید داسې ځای نه وي چې محصل او استاد او د حکومت مدیران په یو ډول له هغه ناراضه وي. برعکس پوهنتون باید د ویاړونو او هیله منديو مرجع وي اوهر هغه ځوک چې دغه ځای ته پښه ږدي، احساس کړي چې د خپل ژوند یوه له ډېرو لویو تجربو څخه تمرینوي او د یوې ښې راتلونکې د جوړولو لپاره په ویاړ او ډاډ سره حرکت کوي.

ځکه نو، له دغو ویناوو نه د نتیجې اخیستنې لپاره څو مهمو ټکو ته به پاملرنه ولرو:

زموږ د ښوونې او روزنې نظام باید د داسې وړتیا درلودونکی شي چې کله یو زده کوونکی له نهم ټولګي څخه فارغیږي دا وړتیا ولري چې هم په اقتصاد او د ټولنې د چارو په تنظیمولو او هم د یوې خوندي راتلونکې لپاره د ځان اوهېواد لپاره ونډه واخیستلای شي. هغه زده کوونکي چې له دولسم څخه اویا له هغې څخه پورته له پوهنتون څخه فارغیږي هم په همدې ډول دي.

د ښوونې او روزنې په نظام کې به زده کوونکي داسې وروزو چې فکر ونه کړي چې له نهم یا دولسم ټولګي څخه فارغېدل د ژوند پای دی. برعکس، باید داسې شرایط رامنځته کړو چې د زده کوونکو په ذهن کې په طبیعي ډول د ښوونې او روزنې اوږدمهاله لیدلوري ښه ونیسي.

په دې ترتیب، هغه زده کوونکي چې د ژوند د خاصو شرایطو یا اړتیاوو له کبله او یا د کورنیو مجبوریتونو له کبله له تحصیل پرېښودو ته مجبوریږي، دا امکان ولري چې په هر فرصت کې چې بیا یې مومي، بیرته خپل تحصیل ته ادامه ورکړي. په بل عبارت، پوهه هغه سند پورې چې د ښوونځي یا پوهنتون له خوا صادریږي مربوطه نه وي، بلکه د ځانګړو کورسونو په رامنځته کولو، داسې فرصت رامنځته شي چې د هغې پر اساس هر مسلکي کارګر یا هر وګړی چې وغواړي د خپلې پوهې کچه لوړه کړي، د دې امکان ولري چې د موازي پروګرامونو په تعقیبولوسره، معتبرې شهادتنامې تر لاسه کړي چې د ښوونځیو یا پوهنتونونو د ځانګړو اسنادو سره معادل وي او د هغو درلودونکی د هغو له ټولو امتیازاتو نه ګټه پورته کړي او د اړتیا په صورت کې د لوړو زده کړو ټول مدارج طی کړي.

زموږ لوړې زده کړې په اساسي ډول درې مرحلې یو له بله جلا کوي: څوارلسم ټولګی، شپاړسم ټولګی، او اتلسم ټولګی. ټول محصلین باید مجبور نه وي پوهنتون د څلورو کلونو لپاره ولولي، بلکې د ځانګړو پروګرامونو او چټکې ودې له لارې، داسې خلک تربیه کړو چې د دوو کلونو په ترڅ کې بازار ته ورننوتلای شي. په دغو پروګرامونو کې تمرکز باید په هغه اړتیا وي چې د بازار په کچه مطرح کېږي. په دې ترتیب، زموږ د لوړو زده کړو نظام زموږ د بشري قوې په فعالولو سره زموږ د اقتصادي پروګرامونو یوه برخه ګرځي.

ماشومان د مور او پلار لیدلوري ته په شکل ورکولو او بدلون کې، اساسي رول لوبوي. مور او پلار خپلو ماشومانو ته د خپل عمر د پانګې په توګه ګوري. په همدغه دلیل، د هغوی د ماشومانو د غوښتنو او نظریاتو نه د هغوی اغېزمنیدل خورا ډېر ارزښت لري. هغه یوه طریقه چې له هغې لارې کولای شو د ټولنې په فرهنګ کې، مخصوصاً د افغانستان په څېر هېوادونو کې تحول رامنځته کړو، د ماشومانو پر ښوونه او روزنه بنیادي او هدفمنده پانګونه ده. په دې خوا کې، له هغه ځآیه چې عصري تکنالوژي د ماشومانو د ښوونې او روزنې په چاره کې له ډېرې اغیزې څخه برخمنه ده، زموږ حکومت به د ماشومانو د ښوونې او روزنې لپاره د تکنالوژی برابرولو ته خاصه پاملرنه وکړي. هغه نړۍ وال پروګرام چې د امریکا د ایم آی ټي پوهنتون په نظر کې نیولای او اوس مهال دهند او چین پوهنتونونه هغه تعقیبوي، دا دی چې که د ښوونې او روزنې اړوند عصري تکنالوژي باید په داسې یوه بیه تولید شي چې د ډېری خلکو وسه ورته ورسیږي. زموږ حکومت به په دې برخه کې له ټولو نړۍ والو بنسټونو چې د ماشومانو او ښځو د ښوونې او روزنې د ودې پراختیا لپاره کار کوي، د مدني ټولنې او نورو ملي رضاکارو بنسټونو په مرسته همکاري وکړي.

باید د خپل ښوونې او روزنې په نظام کې هغو وګړو ته ځانګړې پاملرنه وکړو چې د جګړې او کړکیچونو له امله او یا د اقتصادي او فرهنګي او ټولنیزو ستونزو له امله، له لوړو زده کړو څخه بې برخې شوي دي.

د چټکې ودې ځانګړي پروګرامونه، چې زده کوونکي وکولای شي په مختلفو عمرونو کې خپل درسي ټولګي په لږ وخت په دوامداره ډول سرته ورسوي اود هغوی د منلو معیار او علمي اعتبار له دقیقو ازموینو څخه تېرېدل وي چې له شپږم ټولګي څخه تر نهم اودولسمو ټولګیو پورې په بېلا بېلو مقطعو کې تر سره کېږي. زموږ د ښوونې او روزنې نظام باید د ټولنې د استعدادونو وده د تحصیل د قانوني سن په استناد له منځه یو نه سي. دغه ټکی مخصوصاً د ښځو په هکله له حیاتي اهمیت څخه برخمن دی. باید ښځې په هر عمر کې چې وغواړي د ښوونې او روزنې نظام ته شاملې شي، فرصت ولري چې د کورونو له څلورو دیوالونو راووځي او پوهې او تعلیم ته په رجوع هم خپله ذهني وده او فکري ورتیاوې وروزي او هم په خپلو کورنیو او ټولنه کې د علمي او فرهنګي فضاء په پالنه کې ونډه واخلي.

په هره مرحله کې چې محصلین له پوهنتون څخه فارغېږي، باید ځانګړې تخصصي لاس ته راوړنې ولري تر څو د هغو پر اساس د ټولنې په اقتصادي پرمختګ او د اداري وضعیت او د حکومتولی د لارو چارو په ښه کولو کې ونډه واخلي. هغه مهم ټکی چې زموږ د لوړو زده کړو نظام باید د هغه پر اساس بیا جوړ شي، د ښوونځیو په ثانوي دوره کې د زده کوونکو رشته بندي ده. باید زده کوونکي لږ تر لږه له نهم ټولګي څخه د استعداد او د خپلوعلاقمندیو په اساس رشته بندي شي، تر څو د هغوی له وخت او انرژي څخه په هدفمنده او ګټوره توګه کار واخیستل شي.

دا چې زده کوونکي تر دولسم ټولګي پورې مجبورېږي چې ټول مضامین په عمومي ډول زده کړي، د پخوانیو پېړیو د ښوونې او روزنې د نظام له میراثونو څخه دي. د ښوونې او روزنې نظام باید داسې مدیریت شي چې زده کوونکي تر نهم ټولګي پورې په هماغه عمومي معلومات چې د خپل مدني ژوند لپاره یې په کار دي حاصل کړي. له دې مرحلې وروسته، باید زده کوونکي په دقیق ډول رشته بندي شي، تر څو په داسې رشتو کې چې استعداد او علاقمندي لري، د تخصصي ودې فرصتونه ولري. په نومورو رشتو کې، د هغه پیوند له مخې چې علمي رشتې یې یوه له بلې سره لري، ښایې اړینه شي چې د اختصاصي رشتې څخه علاوه ځینې نور مضامین هم په ضمني توګه زده کړای شی، لکه کمپیوټر او معلوماتي تکنالوژي چې زموږ په وخت کې د ټولو علومو لپاره یو لازمي وسیله ده. خو یو شمېر مضمونونه باید یوازې په اړوندو تخصصي حوزو کې تدریس شی اود زده کوونکیو ذهن د هغوی په زده کولو تر فشار لاندې رانشي.

د ژبې مساله، که څه رسمي او مورنی ژبې اویا عمده بین المللي ژبې وي، د ښوونې او روزنې په نظام کې بنسټیز اهمیت اوځای لري. باید پاملرنه وکړو چې د طبیعي علومو د پراختیا او ددغو علومو احاطه د مدني ژوند په ټولو برخو، د دې لامل شوی دی چې د دې امکان چې یاد علوم په خپلو ملي ژبو په

عصري زده کړو عملاً وجود نه لري. طبیعي علوم په داسې چټکتیا د ودې او بدلون په حال کې دي چې د هغوی زده کول د ژباړې له لارې نا شوني دي. له دې امله، یو له هغو اړتیاوو نه چې زموږ په تعلیمي نصاب کې باید په جدي ډول شامل شي، انګلیسي ژبه ده. زده کوونکي باید تر نهم ټولګي پورې په انګلیسي ژبه داسې تسلط پیدا کړي چې طبیعي علوم او ریاضیات او معلوماتی تکنالوژي په انګلیسی ژبه زده کړای شي. په دې لحاظ، په رسمي او مورنیو ژبو د پانګې اچونې تر څنګ، باید ټولو زده کوونکو ته، که هغه د طبیعي علومو او ریاضیاتو او انساني علومو په برخه کې وي، انګلیسي ژبه دیوې حتمي اړتیا په توګه په نظر کې ونیسو او هماغو زده کوونکو ته چې د انساني علومو حوزې ته ورداخلېږي، عربي ژبه په یو داسې حد کې چې وکړای شي له عربي متونو څخه په سمه توګه ګټه واخلي په اصلي درسي مضمونونو کې شامله شي.

د ملي فرهنګ او اسلامي معارف اواخلاقو په برخه کې، باید له ابتدایي ټولګیو څخه تر هغه بریده چې زده کوونکي رشته بندي کېږي، هدفمنده او منسجمه پاملرنه وشي. په دې برخه کې باید زمونږ تعلیمي نصاب په داسي ډول تدوین شي چې زده کوونکي زموږ د ملي فرهنګ اواسلامي معارف سره په ژوره توګه بلد کړي او هغوی له هر ډول داسې تمایلاتو څخه چې د افراطیت او بنسټ پالنې لامل شي وساتی. په دې برخه کې، ادبیات او زموږ فرهنګي او دیني متون له ځانګړې بډاینې څخه برخمن دي چې د هغو په مرسته په اسانی سره کولای شو د انساندوستی او مدنیت او تساهل او تسامح حس د زده کوونکو په تفکر او کړو وړو کې غښتلی کړو او هغوی پر ځان د باور درلودلو او پرانساني، ملي او اسلامي ظرفیت او وړتیا وو باندې د باورمندی په حس وروزو. د رشته بندی له مرحلې وروسته هم زموږ تعلیمي نصاب باید په داسې ډول تنظیم شي چې زده کوونکي او محصلین له سالمې روحیې او په ټولنیز نظام کې د فعالې برخې اخیستنې په موخه وروزل شي. په دې ډول، هر وګړی چې له هرې رشتې څخه فارغېږي، د یوه فعال او مسؤل وګړي په حیث، د مدني او ښاري ژوند اړوند عامو مسایلو په برخه کې د یوه ژور او غني فرهنګي لیدلوري څخه برخمن وي.

له بنسټ پالنې او افراطي تفکراتو سره د مقابلې لپاره، د اسلامي معارف او علومو اړوند څانګې باید په بنیادي ډول د پام لاندې ونیول شي او په هغو کې هغه مضمونونه او رشتې چې د تساهل فرهنګ او مذهبي زغم سره مرسته وکړي، رامنځته او تقویه شي.

په دې برخه کې، داسې ډیپارټمینټونو رامنځته کول چې په هغو کې د اسلامي بیلابیلو مذهبونو اړوند فقه، کلام، حدیث او تفسرونه، په تېره بیا د حنفي او جعفري مذهبونو، په مقایسوي ډول تدریس ته ارزښت ورکړي.

د کانکور ازموینې باید په بنسټیز ډول اصلاح شي او د دې لامل شي چې د هېوادتر ټولو ښه استعدادونه وکړای شي، د لوړو زده کړو نظام ته لاره ومومي او یا د تحصیلي بورسونو له امکاناتو څخه په ګټه اخیستې سره له هېواده بهر زده کړې وکړي. د دې منظور لپاره، یو له اساسي ګامونو څخه دادی چې د ښوونې او روزنې نظام، په ابتدایي مقطع کې، باید داسې تنظیم شي چې د ټولنې د استعدادونو د متوازنې او همګاني ودې فرصت رامنځته کړي. د کانکور ازموینې هم باید له اوسنې وضعیت څخه چې د ولایتونو په کچه اخیستل کېږي راووځي او د هر ډول زور د چلولو او سیمه ایزو قدرتمدانو او یا متنفذینو د اغیز څخه بچ شي. د کانکور د ازموینو حوزې باید د څو ګاونډیو ولایتونو په کچه تنظیم شي او د کانکور د ازموینې پوښتنې هم باید په معیاري او په بشبړې څارنې او پاملرنې سره چمتو شي او د کانکور ازموینه له لازم روښوالي سره په سمه توګه واخیستل شي. داسې طریقې چې د الکترونیکي څارنې او ارزونې سره ممکن دي باید د کانکور د ازموینو په نظام کې ځای پر ځای شي ترڅو د دغو ازموینو د سموالي په هکله د خلکو اطمینان په بشپړه توګه ترلاسه شي.

**دوهم: ټاکنې او په سیاسي پروسه کې د خلکو ګډون**

ټاکنې د یوه منتخب حکومت څخه بل منتخب حکومت ته د سیاسی قدرت د انتقال د پروسې د مدیریت لپاره تر ټولو غوره میکانیزم دی. د ټاکنو په پروسه کې د خلکو پراخه ګډون، د ټاکنې د پروسې د روښوالي تامین، د خلکو د رایو ساتنه او ټاکنو پایلو ته درناوی د یوه ولسواک نظام له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي. زموږ حکومت به د دغه ولسواک بهیر د لا زیات بنسټیز کولو لپاره لاندې اقداماتو ته ژمن وي:

**د سیاسي ګوندونو د کړنو بنسټیز کول**

د سیاسي ګوندونو د کړنو لپاره مناسبه لاره هوارول پر مدني سیاست باندې د دولت د پانګې اچونې نه غیر ناشوني ده. دغه کړنه د خلکو د حقوقو د تامین لپاره د دولت له مهمو ژمنو څخه ده. په یوه ټولنه کې له سیاسي ګوندونو پرته دیموکراسي او د ګډون فرهنګ په پښو نه ودرېږي. دولت یو پیچلی جوړښت دی چې د جوړښت فلسفه یې د امنیت تامین، اسانتیاوې، خوښي او د خلکو د ټولو حقوقو تامینول دي. دغه پیچلی او پراخ جوړښت یوازې د خلکو د بنسټیز او متشکل ګډون سره د عدالت او مشارکت په ګټه عمل کوي. سیاسي ګوندونه په دې برخه کې د خلکو د منظم ګډون تر ټولو مهم رکن تشکیلوي.

ځکه نو موږ ژمنه کوو چې یو لړ عمده اقدامات به د خپلو کاري لومړیتوبونو په حیث تر سره کړوچې د هغې پر بنسټ به د ملی سیاسي ګوندونو د رامنځته کیدلو او پراخېدلو لپاره مناسب فرصتونه برابر کړو

چې هغوی وکړای شي د نظر او پروګرامونو له لارې له یو بل سره سیالي وکړي او خپل اغیزمن رول د دولت د کړنو د شفافیت لپاره ولوبوی. په دغه برخه کې زموږ تر ټولو عمده کړنې به په لاندې ډول وي:

**د ټاکنو د قانون تعدیل**

د ټاکنو د قانون اوسنی بڼه عملاً د سیاسي ګوندونو د اغېزمن فعالیت مخه نیسي. کله چې ګوندونه د خپل سازمان ورکولو له قدرت نه په ټاکنو کې چې د سیاسي ګډون تر ټولو مهم  رکن دی کار وا نخلي، په عامه افکارو کې د هغوی اغیزمنتوب او اعتبار له منځه ځي. ځکه نو، موږ به د ټاکنو قانون په داسې ډول تعدیل کړو چې د ګوندونو فعالیت ته په قانون مند او بنسټیز ډول شرایط برابر شي او ګوندونه وکړای شي د خپلو لستونو او پروګرامونو پر اساس د ځان لپاره رایې جذب او د خپل موقعیت د مضبوطولو پر بناء د سیاسي مبارزو ډګر ته ورودانګي. دا به د سیاسي ګوندونو د آغېزمن فعالیت لپاره داسې امکانات برابر کړي چې وکولای شي د پراخه ملي پروګرامونو له لارې سیاسي بحثونه له هویتي محدودیتونو څخه رابهر کړي او په داسې بنسټونو یې بدل کړي چې د پراخو ملي پرګنو د ګټو پر اساس به په ټول افغانستان کې ملي پیوند رامنځته کړي. ټاکنې او د ګوندونو آغېزمن او فعال ګډون په نوموړې ملی سرتاسري پروسه کې دغې اړتیا د پوره کولو لپاره یو مناسب بستر جوړوي. په ټاکنو کې ټول خلک، د خپلو هویتي تعلقاتو نه پرته د یو لوی سیاسي کار لپاره له یو سره پیوندیږي او ټول یو له بله سره د خپلو ګډ و او جمعي ګټو د تامین لپاره هڅې کوي. ځکه نو، ټاکنې د ولسواک او مدني سیاست له نظره، په ټولنه کې د ګډون اوعدالت د ودې او تقویې لپاره تر ټولو مهم بستر ګڼل کیږي.

**د ملي سیاسي ګوندونو د راجسترکولو په سیستم کې بدلون**

سیاسي ګوندونه د هغه عظیم ارزښت له مخې چې د ټولنې د امورو په سازمان ورکولو کې یې لري باید د راجستر کیدلواو فعالیتونو د رسمي کولو لپاره هم  راڼه او لوړ معیارونه پوره کړي. که د ګوندونو ثبت او د فعالیت رسمیت له لوړو او با اعتباره معیارونو څخه برخمن نه وي، ګوندونه د خپلو هڅو او ارمانونو د کچې له لحاظه سقوط کوي او په پایله کې، دا امکان چې وکړای شي د ملت اعتماد د مهم رول د لوبولو لپاره  تر لاسه کړي، له لاسه ورکوي. په ټولنه کې د سیاسی ګوندونو ډېروالی که له یوې خوا د هغوی د رامنځته کیدلو او ودې لپاره آزاد شرایط ځرګندوي نو له بلې خوا د سیاسي ګوندونو د  تشکل د ټیټ معیار ځرګندوی هم دی.

د جرمني سیستم چې د یوه  ګوند د حقوقي پېژندنې لپاره د ټول هېواد د لږ تر لږه پینځه سلنه اراء لازمي ګڼي، د سیاسي ګوندونو د فعالیت د کچې د لوړېدو لپاره یو معیار دی. په دې برخه کیدای شي مختلف بدیلونه په نظر کې ونیول شي چې په مختلفو هیوادونو کې عملي شوي دي.

خو پکار ده چې دغه ټول بدیلونه او نظریې له ګوندونو او د مدني بنسټونو سره د یوه پراخه او ژور بحث له لارې پوخوالي ته ورسېږي ترڅو چې وروسته بیا د قانون په بڼه په عمل کې پلي شی.

### د اداري واحدونو په کچه د ټاکنو د نظام اصلاح

د ټاکنو لارې چارې د هغه ارتباط له مخې چې له اداري واحدونو او ټاکنیزو حوزو سره یې لري هم مهمو بدلونونو ته اړتیا لري. تجربې ښودلې ده چې ولایت د ټاکنیز واحد په توګه د مؤکل او وکیل د روابطو د تامین لپاره مثبته وسیله نه ده. زموږ ژمنه داده چې په لومړي فرصت که به د راتلونکو پارلماني ټاکنو له ترسره کېدو څخه مخکې، ټاکنیزې حوزې به د اساسي قانون د احکامو پر بنسټ، د نفوسو او جغرافیایی وضعیت د ډېرو څرګندو معیارونو پر اساس طبقه بندی کړو تر څو مؤکل او وکیل له یو بل سره مستقیم او واضح ارتباط ولري. دا کار د دې تر څنګه چې د سیاسي ګوندونو د فعالیت لپاره لازم قانوني فرصتونه برابروي، له کیلانو سره د هغوی د مؤکلانو د مشخصو ستونزو په پېژندلو او حل کې مرسته کوي او مؤکلانو ته هم دا فرصت ورکوي ترڅو له خپلو وکیلانو سره په بنسټیز او منظم ډول په ارتباط کې او اوسي.

### له کلیو څخه تر ولایته د ټاکنیزو بنسټونو رامنځته کول

یوه بله برخه چې په دې اړه ډېر ارزښت لري، د یوې داسې طرحې ایجادول او اجراء کول دي چې د هغې پر بنا حکومت کول هم له عمودي اوهم له افقي نظره د مدني سیاست لاندې ځای نیسي. په عمل کې د دې خبرې مانا داده چې باید له کلي نه تر ولسوالی، ښاروالی، ولایت او ملي کچه ټاکنیز بنسټونه ولرو. پر دې اساس کلی باید مشخص او تعریف شوي حقوقي حیثیت ومومي. اوسمهال د افغانستان کلي تعریف شوي حقوقي حیثیت نه لري. د کلو د حقوقي حیثیت په تامینولو سره، د هغوی ټاکنیزې شوراګانې په سیاست، مدیریت او سیاسی زعامت کې د خلکو د پراخه ګډون له وسایلو څخه ګڼل کېږي.

د ولسوالیو شوراګانې نه دي جوړې شوي. زموږ ژمنه داده چې د ملي شورا له ټاکنو سره به د کلیو شورا ګانې هم وټاکل شي. په اساسي قانون کې په بشپړه توګه څرګنده ده چې ښاروالی باید انتخابي وي. خو د ښاریانو برخه اخیستنه له ګذر څخه تر ښارونو اود ښار تر څنډو پورې په بنسټیز ډول داسې چمتو شي چې د ښاروالیو په شورا ګانو کې د تخنیکي پوهې او سیاسي او اداري پوهې تر منځ انډول موجود وي.

په دغه  عمودي او افقي ګډون کې لازمه  ده چې د ولایتي شوراګانو قانون تعدیل شي او د ولایتي شوراګانو اود  ولسوالیو شوراګانو د صلاحیتونو د تثبیت لپاره مشخص قوانین رامنځته شي، ترڅو دا قوانین د اسنجام وسیله شي نه د تضاد اوکړکیچ. ځکه نو، د تېرو کلونو له تجربو څخه باید زده کړه  وکړو اود هغو پر اساس دټاکنیزو بنسټونو ارتباط له انتسابي بنسټونو سره په داسې ډول عیار کړو چې د دولتي ارګانونو له خوا ځواب ورکولو ته اوهمدارنګه د ادارو د کړنو د آغېزمنتوب زیاتولو ته تر ټولو زیات فرصت ورکړل شي.

زمونږ د ښاروالۍ قانون په هېڅ ډول د یویشتمې پیړۍ اړتیاوو ته  ځواب نه  شي ورکولای. له دې امله، موږ ژمن یو چې د ښاروالیو قانون په بنسټیز ډول تعدیل کړو تر څو زموږ د ښاروالیو صلاحیتونه او مسؤلویتونه د هغو ښارونو د ښاروالیو د صلاحیتونو او مسؤلیتونو سره یو شان شي چې په هغوی کې ثبات، سوکالي او ګډون په مطلوب ډول عملي شوی دی. په دې برخه کې، د لاتینې امریکا، اروپا او امریکا یو شمېر هېوادونو، یو شمېر مهم  پرمختګونه کړي دي چې د هغوی تجربې زموږ لپاره د بېلګو په ډول د استفادې وړ دي. دا ټکی په هر ځای کې تثبیت شوی دی چې د پرمختللي مدني سیاست، اقتصاد او فرهنګ لرونکو ښارونو کې د ښاروالیو په کارونو کې د خلکو ګډون د ښاري امورو د پراختیا لپاره یوله عمده  ترینو عواملو څخه دی.

### دریم: د کوچیانو او مېشتو وګړیو د کړکیچ حل

کوچیتوب د ژوند یوه خاصه طریقه ده، چې د خلکو یوه ډله پکې د مختلفو اقلیمي شرایطو په تناسب په یوه فصلي حرکت کې د مختلفو سیمو تر منځ تګ راتګ کوي. د ژوند په دغه طریقه کې د افغانستان د مختلفو قومونو خاصې ډلي شاملې دي. ایماق، ازبک، ترکمن، پښتانه، عرب، ګوجر او یو شمیر نور په ټیټه یا لوړه کچه د کوچیتوب ژوند لري. د هغو خاصو بدلونونو په نظر کې نیولو سره چې د سیمې او په ځانګړي ډول زمونږ د هیواد په شرایطو کې رامنځته شوي دي. د کوچیتوب د ژوند طریقه د یوې  ملي مسالې په توګه د افغانستان د ټولنې او دولت جدي پاملرنه ځانته اړولې ده.

 د افغانستان اساسی قانون هم د کوچیانو د ژوند ښه  کیدل اوځای پر ځای کول د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له وجایبو څخه ګڼلی دی. په تاریخي لحاظ کوچیانو د افغانستان او  سیمې په کچه ستر کارونه کړي دي.  د عصري ترانسپورټي سیستم تر رامنځته کیدلو پورې د کوچیانو کاروانونه د سیمې په کچه د لیږد رالیږد او سوداګریزو اړیکو عمده وسیله وه او د مختلفو سیمو تر منځ یې د یوه ګرځنده بازار په څېر عمل کاوه.  همدارنګه د کوچیانو ونډه د غوښې او لبنیاتو په تولید کې له ځانګړې ارزښت څخه برخمنه وه او د هغوی د تګ راتګ په لارو کې یې د خلکو د اړتیاوو ډیره برخه تامینوله.

کوچیانو له سیمې څخه په لرې  سوداګرۍ کې هم ونډه لوبوله. دوی  له منځنیو پیړیو څخه د نولسمې پیړۍ ترپای او د شلمې پیړۍ تر پیله پورې د افغانستان، هند او چین تر منځ تګ راتګ کاوه. د ټرلو پولو تر رامنځته کیدومخکې د کوچیانو سوداګریز کاروانونه په یوه پراخه سیمه له کلکتې نه تر بخارا او  له  ایرانه تر روسیې پورې تګ راتګ کاوه. کوچیتوب له ۱۵ نه تر ۱۹ پیړۍ په شرایطو کې په داسې حال کې تر سره کیده، چې د افغانستان نفوس کم او  د شلمې پیړۍ په پیل کې د هغوی تخمین تر پینځو میلونو وګړو زیات و.  په هغه وخت کې د افغانستان د خلکو د پام وړ شمیر کوچیان و. ده نشینو سره د کوچیانو اړیکې او ډولونه یې په مختلفو دورو او سیموکې د ځانګړو ټولنیزو او سیاسي حالاتو او شرایطو مطابق او سره متفاوت وو. په ځینو سیمو لکه وزیرستان کې ځایانو له کوچیانو څخه باج غوښته خو په ځینو نورو سیموکې کوچیانو خپله لار په زوره پرانیستله. د ځایانو اوکوچیانو تر منځ تضاد هم له ځینو سیمو څخه د کوچیانو د ژویو د تیریدلو له وجې او هم د کوچیانو له خوا  د څړځایونو او اړخیوڅخه د دوامدارې ګټې اخیستنې په وجه موجود و.

دا کار په ځینو سیمو کې د خونړیو او زیان اړونکو کړکیچونو لامل شوی هم دی. دغه تضادونه پرته له دې چې ده نشین له کوچیانو سره د مشترکې ژبې یا قبیلې درلودونکی وای، عمومیت درلود. دغه تضادونه د طالبانو د واکمنۍ تر پایه په بېلا، بېلو ډولونو او زماني دورو کې موجود و چې په پایله کې یې کوچیان په درېیو لویو ډلو وویشل شول.

د کوچیانو یوه د پام  وړ برخه په کرنیزو کارګرانو بدل او له کوچیتوبه لاس په سر شول.

په جلال اباد او خوست کې د غنمو لو د پسرلي په پیل کې پیلیږي، په داسې حال کې چې څلور میاشتې وروسته د افغانستان  په نورو سیمو کې غنم لو کېږي. د کوچیانو د یوې لویې برخې حرکت په غنم لو پورې اړه درلوده او  دغې پرګنې د کرنې یوه لویه مرستندویه قوه جوړوله. دغه  پرګنه چې یو بې وزله او ډېر بې برخې اکثریت یې جوړاوه، کلیوال او ښاري ژوند ته یې مخه کړه او کرارکرار یې خپلې اړیکې له  کوچیاني ژوند سره  وشلولې. دوامدارو وچکالیو هم له کوچیتوب څخه د دغې پرګنې په وتلو کې لویه ونډه لرله، ځکه هرځل چې سختو وچکالیو ګواښلي دي د کوچیانود پام وړیوې برخې خپل ژوي له لاسه ورکړي او مجبور شوي چې لومړی کرنیزکار او بیا ښاري یا کلیوال ژوند ته مخ واړوي.

د کوچیانو یوه بله برخه له دې امله چې  سوداګرۍ او عصري پانګونې ته یې مخه کړه، له کوچیتوبه لاس په سراو په ښاري وګړو بدل شول. دغې برخې په عصري ترانسپورت پانګونه  وکړه او د  افغانستان لوی ترانسپورتي شرکتونه یې جوړ کړل.

همدارنگه دغې برخې د افغانستان په مختلفو سیمو په تیره بیا په لوګر، خوست او جلال اباد کې پر کرنیزو ځمکو پانګونه وکړه او ډیر املاک یې وپیرل چې په کلو کې د هغوی د اوسیدلو لامل شو.

د کوچیانو یوې بلې برخې د پخوا په څیر کوچیاني ژوند ته ادامه ورکړه او د رمو د ساتلو او مالدارۍ له لارې یې خپل ژوند تامین کړ. د دغې پرګنۍ ژوند چې د هرم په منځ کې واقع و د ثورکودتا، شوروي یرغل د طالبانو په واکمنۍ کې د پینځه کلنې وچکالۍ له کبله ډیر اغېزمن شول. یوې برخې یې د ژویو له خرڅلاو سره د هرم د راس خواته ولیږدیدل او په مختلفو ښارونو کې یې پانګونې ته مخه کړه. یو شمیر نور د هرم د قاعدې خوا ته په لیږدیدلو په ښارونو او کلو کې په عادي کارګرانو بدل شول او په دې ډول کله چې د بن پروسه پیل شوه د افغانستان تقریباً ۷۰-۸۰ سلنه مالداري له منځه تللې وه.

د کوچیانو او ده نشینو تر منځ د لانجو یوه د پام وړ برخه، په مرکزي افغانستان کې د نولسمې پیړۍ میراث دی. د امیر عبدالرحمان د لس کلن تاوتریخوالي په پایله کې په زرګونه وګړي ووژل شول او اړ شول چې د خپلو املاکو او جایدادونو له پریښودو سره تبعید اوپه نورسیمو کې مېشت شول.

په هزاره جاتو کې د مرکزي حکومت د ستنو ټینګښت په ډیر شدید تاوتریخوالي سره تر سره شو.

وروسته له هغې د سراج التواریخ په حواله د مرکزی افغانستان د اوسیدونکو هزاره ګانو پراخ املاک، دولتي مامورینو یا سرتیرو او افسرانو ته چې په جګړه کې یې برخه درلوده ووېشل شول او هغوی دغه املاک په کوچیانو وپلورل. همدارنګه د هغو جایدادونو یوه برخه چې ضبط شوي و هغو کوچیانو ته چې له هزاره ګانو سره د امیر عبدالرحمان خان په ایلجاري جګړه کې یې برخه اخیستې وه، ورکړل شول.

له همدې امله په مرکزي افغانستان کې د کوچیانو او دهنشینو خلکو اړیکې په دوامدار ډول د همکارۍ او تضاد له حس سره یو ځای وې چې د جهاد د دوران له پیل سره له منځه ولاړې.

د جهاد په دوران کې اکثره کوچیان کډوالۍ ته مجبور شول، یا یې په جهاد کې برخه واخیسته او یا په پاکستان کې مېشت شول.

د بن له پروسې څخه وروسته هزاره جاتو ته د کوچیانو بیرته راګرځیدل له تاوتریخوالي سره یو ځای شول چې له امله یې زموږ یو زیات شمېروطنداران هم د مرکزي افغانستان اوسیدونکي او کوچیان په ځانګړي ډول په بهسود، دایمرداد او خوات کې ووژل شول.

له دې کبله د کوچیانو او ده نشینو تر منځ د کړکېچ حل د یوې پراخې ملي طرحې رامنځته کول اړین کوي چې په یوه مهال باید څو اړخه په نظر کې ولري.

د اساسي قانون د څوارلسمې مادې د حکم له مخې د کوچیانو مېشت کول او د هغوی د ژوند د ښه کولو د پروګرام پلي کول له هغو بنسټيزو اقداماتو څخه دي چې باید عملي او داسې شرایط رامنځته شي چې د کوچیانو ځوان قشر د هیواد د نورو ځوانانو په څیر د یوه نوي افغانستان په جوړولو کې ونډه واخلي. د کوچیانو داسې په سلګونه تنه تعلیم یافته ځوانان شته چې د پاکستان، هندوستان، ایران او نورو هیوادونو له پوهنتونونو څخه یې اسناد اخیستي او په دولتي ادارو او خصوصي شرکتونو کې فعالیت لري. دغه قشر هغه بیلګې دي چې کولای شي د کوچیانو د میشت کیدلو پروسه په یوې رضا کاره اود منلو وړ پروسه بدله کړي. د سیمې د یو شمیر هېوادونوپه ځانګړي ډول د ایران او عربي هیوادونو له تجربو څخه ګټه واخلو. د کوچیانو د مېشت کیدلو لپاره زمونږ وړاندیز دادی چې دغه پروسه د ټولو نورو پروسو په څېر له داسې اقداماتو سره تر سره شي چې د شخړې یو لوري ته د منفي حس له پیدا کیدو پرته د شخړو د بنسټیز او بنیادي حل لامل وګرځي.

زمونږ ژمنه داده چې د کوچیانو د مېشت کیدلو سره یو ځای دعصري مالدارۍ د رامنځته کولو پروژه دخپل حکومت د یوه اقتصادي لومړیتوب په حیث عملي کړو. د دې طرحې له کبله کوچیان د غښتلي دولتي مدیریت سره د افغاني او نړیوالې پانګونې د جلب په برخه کې د بدیل معیشت امکان لاسته راوړي او د غوښې او لبنیاتو او د مالدارۍ د نورو محصولاتو تولید به د هیواد په یوه عمده عایداتي سرچینې تبدیل شي.

په همدې ترتیب د افغانستان په مختلفو سیمو کې د مختلطو شرکتونو رامنځته کول یو بل اقدام دی چې د هغې له لارې کیدای شي د جغرافیایي او اقلیمي شرایطو پر اساس مشترک تولید د اقتصادي مختلفو برخو د ګډون او پیوند په عامل واوړي او ټول ذیدخله خواوې د ګډ ثروت رامنځته کولو ته وهڅوي.

همدارنګه د اوبو لګولوپر سېستمونو پانګونه اود عصري کرنې تقویه هغه بل اقدام دی چې کوچیان د اوږد مهاله اقتصادي پروګرامونو پلي کولو ته هڅوي. دغه پروګرام په یو شمېر هیوادونو لکه نیوزیلانډ، سکاټلیند او نورو سیموکې بریالۍ پایلې لرلي دي. زمونږ په هېواد کې هم ورڅخه کاراخیستل کیدای شي. د یوې عمومي پایلې په توګه او د هغه څه په پام کې نیولو سره چې مخکې ورته اشاره وشوه د (تحول او تداوم) حکومت په ټول هیواد کې د کوچیانو او ده نشینو د لانجې بنیادي غوڅ او تل پاتې حل له هغې جملې په هزاره جاتو کې د خپلې حکومت دارۍ له بنسټیزو وجایبو څخه شمیري او ژمنه کوي چې لاندې طرحه به د اساسي قانون له احکامو سره سم په تیره بیا د پینځمې، شپږمې، څوارلسمې، څلویښتمې او څلور څلویښتمې مادې له مخې اجرا او عملي کړي.

په دې طرحه کې د امنیت تامین، د ټولنیز عدالت پرینسپ د یوې پرمختللې او هوسا ټولنې رامنځته کول، د انساني کرامت ساتل، له بشري حقوقو ملاتړ، د دیموکراسۍ پلي کول، د ملي یووالي تامین، د ټولو قومونو او قبایلو تر منځ برابري او د هیواد په ټولو سیمو کې متوازن پرمختګ، د کرنې او مالدارۍ وده، دبزګرانو اومالدارانو اقتصادي، اجتماعي او معیشتي شرایطو ښه کول او د کوچیان میشت کول او د هغوی د ژوند ښه کول، له تعرض څخه د ملکیت مصؤنیت، او د ښځو لپاره د زده کړې وده اود انډول رامنځته کول، د کوچیانو د زده کړې ښه کول او په هیواد کې د بیسوادی له منځه وړل د دولت له بنسټیزو وجایبو څخه ګڼې:

د جمهوري ریاست د دفترد ریاست په چوکاټ کې د یو واکمن کمیسیون ایجادول چې له خیرغوښتونکو او بې پرې اشخاصو څخه چې په شخړه اخته نه وي جوړ شوی وي، تر څو یو ټاکلی او پراخه پروګرام په یوه مشخص زمانی چوکاټ کې (د جمهوري ریاست لومړي درې یا څلور کاله) د کوچیانو د ژوند د ښه کیدلو او مېشت کولو، په ټول هیواد کې د هغوی د مشروع او قانوني املاکو څخه ساتنه، له هغې جملې په هزاره جاتو کې ټولنیزو خدمتونو ته د کوچیانو لاسرسی په ځانګړې ډول ښوونې او روزنې او روغتیا ته تطبیق کړي. د کمیسیون په ترکیب کې د بشري د حقوقود خپلواک کمیسیون یوکمېشنر او د ستري محکمې یو با صلاحیته استازی هم ګډون ولري.

د کوچیانو د ژوند د ښه کولو اود هغوی د مېشت کولو د پروګرام د پلي کولو لپاره په ټول هیواد کې د هغو کوچیانو او ده نشینو سره مرسته کول او د هغوی د تاوانونو جبرانول چې په شخړه کې شامل وي، له هغې جملې په دایمرداد، کجاو، خوات او ناور او لوګر ولایت او د شخړو د دواړو خواوو د قرانیانو پای کسانو ته رسیدل، د هغو ټولو دعوو او لانجو چې اقتصادي بڼه لری حل کول، د دولت له خوا د یوه خاص صندوق په رامنځته کولو سره یوه ټاکلې بودجه په پام کې نیول کېږي. دغه بودیجه به د کوچیانو او ده نشینانو تر منځ د لانجو د حل د پروګرام تر بشپړ تطبیق پورې هر کال د هیواد په ملي بودیجه کې شامل شي. کمیسیون صلاحیت مومي تر څو په ټول هیواد کې د کوچیانو او ځایانو د ملکیتونو اوجایدادونو او د دولتي څرځآیونو مربوطې ټولې لانجې، له هغې جملې په هزاره جاتو کې، د لانجې د دواړو خواوو د معتبرو قانوني اسنادو او قوالو په استناد، د قانون د احکامو سره سم، د عدلي او قضایي محاکمو له لارې حل او فصل کړي.

له هغه ځایه چې په ټول هیواد کې د کوچیانو او ځایانو تر منځ وامداره شخړې د هغې جملې په هزاره جاتو کې زموږ د لسګونو وطنوالو د شهادت او د سلګونو کورنیو د دربه درۍ او ډېرو زیاتو مالي او رواني

زیانونو لامل ګرځېدلی دی، د کوچیانو تګ به هغو سیمو ته چې لانجې پکې پیدا کیږي په ټینګه منع شي.

د کوچیانو د ژوند د ښه کیدلو او د هغوی د مېشت کولو د پروګرام د تر سره کولو پورې د هغوی تاوانونه به د موظف کمېسون لخوا وسنجول شي او د دولت له خوا به ورکړل شي.

هغه تاوانونه به چې د اته کلنو لانجو په ترڅ کې د ټول هیواد ځایانو ته له هغې جملې په دایمرداد، کجاو، خوات او ناور اولوګر ولایت کې اوښتي دي د موظف کمیسون له خوا د اسنادو او اعتباري شواهدو په کتلو، په دقیقه توګه سنجش او د دولت له خوا به ورکول شي او د بی ځای شوو خلکو بیرته راستنیدل خپلو کورونو اواملاکو ته به اسانتیاوې برابرې شي.

د قضیی د دواړو خواوو له خوا د وسلې څخه هر ډول کار اخیستل او جګړې ته مراجعه او پوځي حرکتونه منع دي او له هغې څخه سرغړونه دملي امنیت اود افغانستان د اسلامي دولت د مشروع اقتدار پر وړاندې به د دولت د غوڅ او هر اړخیز اقدام سره مخامخ شي.

**څلورم: له ادراي فساد سره مبارزه:**

له اداري فساد سره مبارزه زموږ د هېواد د حکومتولۍ په جدي لومړیتوبونو بدله شوې. د نړۍ د فاسدو هېوادونو په کتار کې د هېواد راتلل د ستر کړکېچ ښودنه کوي چې ورسره مخ یو. دې فساد له اداري نه تر سیاست، اقتصاد، فرهنګ او اخلاقو پورې د ټولنیز ژوند ټول ډګرونه په بر کې نیولي چې پر وړاندې مبارزه یې زموږ په جدي لومړیتوبونو بدله شوې ده. له اداري فساد سره مبارزه یو منسجم او جامع پروګرام ته اړتیا لري چې بنسټ یې پر قوي عزم او د سیاسي نظام د مدیریت په راس کې پر سیاسي اراده باندې ولاړ دی. مهم ټکی دا دی چې تر دې زیات فساد نه یوازې د زغم وړ نه دی، بلکې هېواد نه شي کولی په شتوالي کې یې د پایښت ډاډ تر لاسه کړي.

هغه سوداګري، چې موږ له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۰۵ کاله پورې کړې ښیي، چې که په سختو شرایطو کې هم ملي پروګرامونه په دقت او سمه توګه ترسره شي او په عملي توګه پلي شي ښې پایلې ورکوي. خو موږ باید په یاد ولرو، چې دغه ډول پروګرامونه ځانګړو ظرفیتونو ته اړتیا لري، چې د غوره ظرفیتونو په نشتوالي کې په سمه توګه پروګرامونه نه طرحه او نه هم پلي کېږي.

نو په دې اساس که چېرې دولت په اساسي او قانوني ډول حساب ورکونکی وي، د یوې ملي بودیجې طرحه او پلې کول، چې د حکومت ټولې برخې له مرکز څخه نیولې تر کلیو پورې په بر کې ونیسي او د خدماتو وړاندې کولو پرمهال حساب ورکونه او روڼتیا عملي کړي، له اسیاسي ارزښت څخه به

برخمن وي. هغه موارد، چې د هېواد په ادارو کې یې هم سیاسي خلا رامنځته کړې او د پراخه فساد لامل شوې او اوس مهال بنیادي پاملرنې ته اړتیا لري په دې ډول دي.

۱ _ په دولتي پوستونو کې له خپل مقام او قدرت څخه سو استفاده د دې باعث شوې، چې له ټولګټو شتمنیو او امکاناتو څخه هم دغه استفاده وشي، دغې فرهنګ یواځې د خپلوان پالنې ذمینه برابره کړې او له دولتي قدرت څخه استفادې د عوامو خلکو حق تر پښو لاندې کړی.

۲ _ په ورستیو درې لسیزو کې په پراخه پیمانه زمونږ په هېواد کې ځمکه غصب شوې او دغه چاره همداسې دوام لري. د ځمکې د غصب اساسي علت په هېواد کې د ځمکو د تولید او توزیع په برخه کې د دولت سیاسي خلا ده.

د مثال په توګه، په کابل کې دولتي ښارګوټینشته چې په قانوني توګه ځمکې و وېشي. په کابل کې د دولت د عمده فعالیتونو کومې برخې چې دي دا له پخوانیو دولتونو څخه راپاتې دي.

۳ _ د بندونو جوړول په دې خاطر چې وچې او للمي ځمکې پرې خړوب شي، د تېرو دولسو کلونو له مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کېږي، خو دغه پروګرام تر دې دمه نه دی پلی شوی.

د یوه منسجم سیستم تشه چې دېستونزې ته په کې په دقت او حساب شوې بڼه پاملرنه شوي وي او د شته کرنیزو ځمکوساتنه او نویو ځمکو تولید یې د اهدافو په سر سر کې ځای ولري، شدیده اړتیایی محسوسیږي.

٤ _ د دولتي ځمکو ساتنه او شخصي املاک په دوو دلیلونو نه دی ترسره شوی :

لومړی : د ځمکې قانوني کېدل نه دي تثبیت شوي. ډېره کمه ځمکه ده، چې په تېر کې کادستر شوې.

دویم : یو ګټور حقوقي سیستم، چې د ځمکو منازعاتو ته رسیدګي وکړي وجود نه لري.

په همدې دلیل، د جایدادونو دعوې په ټولنه کې په سترو ستونزو بدله شوې او د فساد مهم لامل ګرځیدلی. نو د دغې معضلې د حل لپاره به څو مهم اقدامات ترسره کړو.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې په دې سربیره چې د فکري او عقیدتي اساساتو ولاړې اصلاح ته اړتیا ده، باید د نړۍ د سیاسي نظامونو تجربې هم پلې کړو، له دې جملې نه هغه تجربې چې په ځانګړي ډول د مالي حساب ورکونې په برخه کې لاسته راغلي، کولی شو چې په لاندې ډول سره و اوډو:

1 - د هېواد اداري فرهنګ د تل لپاره فساد په خپلو اوږو بار احساس کړی خو پر وړاندې یې حساسیت نه دی ښودلی، په دې مانا چې د یو شمېر خلکو لپاره فساد د شخصي ګټې راوړونکی وي او د توافق انحصار یې هم پر همدې ګټو وي، پایله یې دا شي چې کومې اداري د فساد پر ضد رامنځته شوې وي، اکثره یې په خپله فساد کوي.

2 - په هغو نظامونو کې چې  حساب ورکونه په کې د اداري د کنټرول په موخه جدي عملي کېږي، په اصل کې په کور کورانه ډول د قوانینو د پلي کولو په مانا دي. په دې کار سره فساد کنټرولېدای شي مګر بودیجه د تطبیق پر مهال د انکشاف سبب نه کېږي، په دغسې نظامونو کې د قوانینو پلي کول موضوعي دي او انکشافي یا اجتماعي موخه نه شي ګرځېدای. په دغو نظامونو کې نه هم تېز انکشافي پرمختګ راتلی شي او نه هم خلکو ته معیاري او مناسب خدمتونه وړاندې کولی شي.

3 - په هغو نظامونو کې چې حساب ورکونه په کې د ملي بودجې د تطبیق له لارې له ملي پروګرامونو سره اړیکه پیدا کوي، هر وزارت یا هر پروګرام یا تګلاره یې د ځانګړو لارو چارو په وسیله له دولت یا ټولنې سره زنځیري تړاو پیدا کوي، په دې ډول حساب ورکونه کې، د دوامداره اقتصاد لپاره د دولت ژمنتیا ډېره اړینه ده، د دې ډول حساب ورکونې په اساس که په پراخه کچه ګټه تولید نه شي، نو ملي پروګرامونو ته د پلي کېدو لاره سختوي.

دا ډول په اسکنډونیاوي هېوادونو او نورو اقتصادي پرمختللو هېوادونو کې د پام وړ ګرځي، ځکه په دغو هېوادونو کې فساد بیخي کم دی او دا تګلاره په کې عملي کېږي، خو په هغو هېوادونو کې چې په سخت فساد ښکېل دي، پلي کول یې هم مشکل دي، دلیل یې هم دا دی چې په دغو هېوادونو کې د ثروت د تولید اندازه له هغو لګښتونو سره تطابق نه شي کولی چې د ملي پروګرامونو د تطبیق پر مهال کېږي.

٤- د حساب ورکونې څلورم ډول بیا داسې دی چې یوازې د ګوتو په شمېر هېوادونو عملي کړلی شو، هغه دا دی چې د دولت حساب ورکونه په کلي ډول ده. په دې ډول حساب ورکونه کې بیا اصل دا دی چې انعطاف او د دولت له مختلفو ارګانونو سره همکاري وشي، دولت په کې د یو ستر نظام به توګه راڅرګندېږي، او له په خپل چوکاټ کې د ټولو بنسټونو د اجراآتو حساب ورکوي. زموږ د هېواد شرایطو ته په کتو اړینه ده چې له لومړي حالته (( چې فساد په کې د اداري او ټولنې په اوږه بار دی او پر وړاندې یې تحمل هم زیات دی)) دریېم حالت ته چې پروګرام جوړونه او د بودجې ملي کول دي، ورسېږو.

١ . د دقیقو قوانینو پر وضع کولو او د هر ډول دولتي مقام څخه د ناوړه ګټې اخیستنې پر وړاندې د سمو لارو چارو د نیولو له لارې د اداري فساد سره مبارزه کوو او پر اداري فساد تورن به د خاصو مراجعو

او ارگانونو له لارې چې د قانون په چوکاټ کې جوړېږي، تعقیبوو او د جرم د اثبات په صورت کې به په قاطع توگه مجازاتوو.

۲- په ښارونو کې به د مسکن او اوسېدنې د ودانولو لوی پروگرامونه د بلاکونو په صورت عملي کوو چې د اوسېدنې، ساتنې او څارنې له پلوه وکولی شو اقتصادي کار وکړو.

۳- د مسکن په رامنځته کولو سره به د ځمکو د بیو په کمښت وتوانېږو چې ټول عام خلک وکولی شي ځمکو ته لاسرسی پیدا کړي.

۴- د ملکیتونو په شرعي کولو سره به ټولنه د چاپیریال ساتنې په ساتنه او څارنه کې شریکه کړو.

۵- ددولتي مامورینو د صلاحیتونو په کمولو سره به د هغوی د اخیستنو ته د پای ټکی کېږدو.

٦- د خلکو د ځمکو او جایدادونو په شرعي کولو سره له مسکن څخه گټه اخیستنه به عملي کړو، اوسمهال زیاتره جایدادونه عرفي دي او له ځمکو څخه په غېر عملي توگه گټه اخیستل کېږي.

۷-. تر دې دمه د تنگو کوڅو او ناولو اوبو د وضیعت په اړه هېڅ فکر نه دی شوی ځکه چې کورونه د اوسېدو چاپیریال وضیعت ته په کتو نه دي جوړ شوي. موږ چې د شرعي کېدو په موخه د کوم نظام وړاندیز کوو هغه نظام دی، چې د محلې ټول خلک پرې هوکړه کوي.

۸- د عدلي او قضایي سیستم اصلاح کول او د خاصو محاکمو او د منازعاتو جوړول هغه طرحه ده چې پر اساس یې ځمکې د دعوا له حالته وباسو چې په راتلونکي مرحله کې د کادستر لپاره چمتو شي. هغه برخې چې زموږ د حکومتدارۍ په نظام کې ورته ژوره او بنسټیزه اړتیا لیدل کېږي او زموږ په طرحو کې لومړیتوب لري په لاندې ډول دي:

1 - دولتي تړونونه: دولتي تړونونه د اداري فساد یوه لویه برخه ده چې له دې لارې دولتي عواید او امکانات یو شمېر محدودو اشخاصو په انحصار کې راځي، د دې ستونزې د حل لپاره د جمهوري ریاست په کچه رامنځته کېږي چې دولتي تړونونه د قراردادونو د طبقه بندۍ پر اساس د رڼو او واضحو معیارونو لاندې و ارزول شي او ټول لوی تړونونه د یوې منسجمې ارزونې لاندې ونیول شي او په ورته مهال خلک هم ارزونه وکولی شي.

## قاچاق

پراخ قاچاق د فساد له لویو مواردو څخه دی. دا پراخ فساد د مالیه ورکولو د فرهنګ د زیانمنېدو سبب شوی دې. د قاچاقو سببونه په ډېرو برخو کې په نښه کولی شو: پر ښارونو او قاچاقي بندرونو د دولت نه کنټرول او د بېلابېلو دولتي ارګانونو او شعبو تر منځ نه همکاري، چې قاچاقبرانو ته د اسنادو د بدلولو له لارې له مالیې څخه د تېښتې زمینه جوړوي.

### نا قانونه صادرات

زموږ د صادراتو یوه لویه برخه د ځینو ګاونډیو ملکونو په نوم بهر ته ځي چې قالینې او وچه میوه یې بېلګې دي. دا صادرات چې په نا قانونه ډول تر سره کېږي هم زموږ سوداګرو ته لویه ضربه ورکوي، هم د دولت عواید کموي او هم مو هېواد له هغه اعتبار څخه محروموي چې د دغو صادراتو په خاطر یې په برخه کیدای شي.

له دې ستونزو سره د مقابلې لپاره به لاندې کړنې ترسره کړو:

**د مربوطه ارګانونو له لارې د بندرونو او لویو لارو کنټرول**

د داسې بنسټونو جوړول چې د عمده او پرچون پلورونکو او مصرفوونکو په ګډون هم د وارد شوو شیانو پر کیفیت نظارت وکړي او هم یې هېواد ته د وارداتو د قانونمندۍ د زمینې جوړولو په کار کې مرسته وکړي چې د دولتي محصول او مالیې د ورکړې وروسته بازار ته داخل شي. دا کار به د سوداګرو تر منځ د سالمې سیالۍ سبب شي.

د قاچاقي بندرونو رسمي کول او د هغو سوداګرو او پانګوالو له لورې د مشروع نظارت را منځته کول چې غواړي د نظام مشروعیت تأمین شي او په رڼو شرایطو کې رقابت وکړي.

دښوونکیو، پولیسو او ملکي مامورینو د تنحواه ګانو لوړول چې د ژوند ستونزې دوی د فساد پر لور مجبور نکړي.

هغو مامورینو ته مکافات ورکول چې د فساد پر ضد یې برخه اخیستې وي او د هغو کسانو مجازات چې پر فساد ککړ وي.

### د ځنګلونو، لرغونو آثارو او قیمتي ډبرو قاچاق

ځنګلونه، لرغوني آثار، او قیمتي ډبرې هم له هغو سترو مواردو څخه دي چې په هېواد کې د پراخ فساد سبب کېږي. دا قاچاق که له یوې خوا د هېواد او ټولنې د اقتصاد زنځیر ته ضربه ده، له بلې خوا د هېواد فرهنګ، تاریخي ارزښتونو او د ژوند چاپیریال ته هم لوی زیان اړوي.

له ځنګلونو څخه د ساتنې د ولسي شبکو جوړول، د موبل جوړولو د شرکتونو فعالیت ته زمینې جوړول، د ځنګلونو په ساتنه کې د سرحدي ځواکونو فعال توظیف، د طبیعي پېښو د زیاتوالي په برخه کې د ځنګلونو د له منځه تلو د اوږدمهاله زیانونو په باب د پوهاوي زیاتول او تر ټولو مهم د ملي فرهنګ تقویه چې خلک د خپلو پانګو له ارزښته خبر شي، د هغو کړنو یوه برخه کېدای شي چې موږ به یې د قاچاق د مخنیوي په کار کې تر سره کوو.

د لرغونو اثارو د ساتنې لپاره لومړنی ګام د هغوی تثبیت او د یوه داسې سیستم او پروژې جوړول دي چې د دې اثارو د ساتنې مرکزونه به د خدماتو د وړاندې کولو او د داخلي او نړۍ وال توریزم په مرکزونو بدل کړي. همدا راز په ښوونځیو او پوهنځیو کې به د توریزم د ځانګړو څانګو د جوړولو له لارې د لرغونو اثارو د ساتنې فرهنګ په ټولنه کې پیاوړی شي.

له قیمتي ډبرو څخه اغیزمنه ګټه اخیستنه په زرګونو وطنوالو ته د کار زمینې برابروي او د دولت د مشروع شتنمۍ د زیاتېدو سبب کېږي. موږ به پدې برخه کې هر اړخیز اقدامات وکړو چې د ملي او نړۍ وال خصوصي سکتور سره په ګډه به له قیمتي ډبرو څخه په ګټه اخیستو کې د خلکو ګډون په اغیزمن ترین او ګټور ډول تر سره شي.

### د دولتي پوستونو پېر او پلور

د دولتي پوستونو پلورل او اخیستل هم د فساد یو تر ټولو لوی ثبوت دی. په ټولنه کې دا عام باور دی چې ځانګړي وګړي د پیسو په بدل کې خاصو پوستونو ته رسېږي. دا کار په طبیعي ډول د یو نه لیدونکي قرارداد په ډول بدلېږي چې پر اساس یې د دې پوستونو لرونکی جواز پیدا کوي تر څو د دې پوست د بیعې د جبران او خپلې راتلونکې د تضمین لپاره په ډېر پراخ فساد لاس پورې کړي. زموږ حکومت به لدې ناروغۍ سره جدي او کلکه مبارزه وکړي او مرتکبینو ته به یې په قانون کې پیشبیني شوې سختې سزا ګانې ورکړي.

## عدلي او قضايي دستګاه

عدلي او قضايي دستګاه د يو داسې سيستم په توګه چې د هېوادوالو لپاره د قانونيت د ساتنې مرجع ده، بايد په فساد تورنه نه وي. په همدې اساس د قضايي او عدلي نظام اساسي سمون د فساد پر ضد زمور د حکومت د مبارزې له مهمترينو لومړيتوبونو څخه دی. د عدلي او قضايي نظام د سمون د کدري اصلاح نه علاوه به ټولې دعوې او فيصلې په ښکاره ډول تر سره کېږي او وروستنی شکل به يې ټولو ته رسول کېږي. که د دعوو اقامه او پريکړې د قانوني بنسټ لرونکې نه وي، باطلې به وي او هغه کسان به د قانون په چوکاټ کې د عدلي او قضايي تعقيب لاندې نيول کېږي، چې دغه ناسمې دعوې او پريکړې يې کړې وي. که له خپلې دندې څخه پرې د فساد لپاره د کار اخيستل ثابت شي، تر ټول سخته سزا به ورکول کېږي.

## د حکومت کدري نظام

د حکومت کدري نظام بايد په ډېرو رڼو معيارونو جوړ شي او هغه کسان چې حکومتي پوستونو او منصبونو ته رسېږي، بايد له راڼه او روښانه کانکور څخه تېر شي. همدارنګه د کدرونو ترفيع او تقاعد به د قانون له مخې او د يوې ښې حکومتدارۍ له معيارونو سره سم وي. کار د هغه اهل ته سپارل به زمور د کار تر ټولو بنسټيزه ژمنه وي چې په کلکه به يې عملي کوو او ښه حکومتداري به ورپورې تړلې ګڼو. له دولتي صلاحيت نه د افرادو د تعين او ليرې کولو لپاره ناوړه استفاده، نه يوازې د هېوادوالو له حقوقو څرګنده سرغړونه ده، بلکې د حکومت د کمزورۍ او له منځه تلو سبب کېږي هم. لدې افت سره مبارزه به د فساد پر ضد زمور د هڅو له لويو محورونو څخه وي.

## د قوانينو اصلاح

د فساد يو مهم عامل په قوانينو کې د تضاد او خړپړتيا شته والی دی. دا چې زمور سياسي او اداري نظام د قوانينو د تشريح لپاره يو منسجم سيستم نلري، د قانونو د احکامو له تضادونو او ابهامونو څخه د سوء استفادې يو ناسم کلتور په پراخه توګه خپور شوی دی. له قوانينو څخه د ابهامونو او تضادونو ليرې کول به زمور د کاري لومړيتوبونو په سر کې وي او په لومړنيو مرحلو کې به يې حل ته اقدام وشي. همدا راز ټولې پروسې چې د نظام په بيروکراسۍ پورې تړلې وي، د امکان تر بريده به ساده شي چې هېوادوال وکړای شي، په اسانۍ سره له دولتي خدمتونو او اسانتياوو ګټه واخلي. پدې برخه کې يوه بېلګه د ګمرکونو د نظام سمون دی چې اړونده اسناد يې له ۲۴ مخو څخه يو مخ ته راکم شول. زمور د تادياتو سيستم اسان شو او ټول سيستمونه چې په پاڼو پورې مربوط وو، لکه پاسپورټ، تذکره، قباله او نور

سندونه چې په دولتي ثبت او راجستر پورې مربوط وي، په ډېر ساده او اسان شکل به له سره ورغېږي. دا کار به هم دولت ته شتمني پیدا کړي او هم به هېوادوالو ته اسانتیا.

### الکترونیکي دولتداري:

د دولتي فعالیتونوالکترونیکي کول له فاسد سره د مبارزي یوه تر ټولو اغیزناکه لار ده. د دولت په الکترونیکي کولو به یوازې د دولت له اسنادو او اتوریټې څخه د ناوړې ګټې اخیستنې مخه نیول کېږي بلکې د دولت له خوا هېوادوالو ته د خدمتونو عرضه کول هم اسانېږي.

د دولتدارۍ د پروسو د اسانولو او چټکولو په برخه کې بل مهم ټکی دادی چې د دولت اتوریته پر خلکو تعمېمېږي او د اتوریټې احساس کوي. نو پر دې اساس دولت او حکومتي خدمتونو ته د هېوادوالو په لاسرسي کې اسانتیا په عین حال کې د ټولنې په ټولو برخو کې د حکومت د ستنو د پراخېدو او پیاوړې کېدو سبب هم کېږي. حکومت چې څومره خلکو ته اسانتیاوې او سوکالي برابروي په هماغه اندازه خلک د دولت په اعتبار پورې ځانونه تړلي ګڼي.

### څېړنیز ژورنالیزم

د فساد د مخنیوي یوه اغیزناکه لار د ولسي بررسۍ او تحقیقي ژورنالیزم تشویقول دي. حکومتداري یوازې هغه وخت روڼتیا پیدا کوي چې ټولې کړنې یې د خلکو تر قضاوت لاندې راشي.

د فاسد معافول هله د یوې خطرناکې فاجعې شکل نیسي چې د حکومت د چارواکو د کړنو هېڅ ډول نظارت نه وي موجود. څېړنیز ژورنالیزم د دې امکان برابروي چې د دولت کړنې ډېر ژر او په روښانه ډول عامه لید ته راووځي.

زموږ د حکومت یو اقدام به دا وي چې ټول لوړ پوړي دولتي مقامات خپلې شتمنۍ ثبت او نشر کړي. په دې شتمنیو کې هر ډول بدلونونه به کشفي ژورنالیزم او ولسي څېړنو ته پرېښنودل شي. په عین حال کې د فساد د مرتکبینو د مجازاتولو لپاره چې د پوستونو د پلورلو او اخیستلو، د رشوت او اخاذیو لپاره د قانون د ناسم تعبیر، د سوداګرو، پانګه والو او تولیدونکو پر مخ د ستونزو د پیداکولو په ګډون، به ډېر چټک او قاطع اقدامات تر سره کېږي او د دوی سرغړونې به د قانوني مراجعو له خوا تعقیبېږي.

د دې لپاره چې د فساد پر ضد زموږ مبارزه بې پرې او رڼه تر سره شي، د روڼتیا له نړۍ والو ادارو سره به له نژدې او په منسجم ډول د یو قانونمند، روښانه او جامع قرارداد له مخې همکاري کیږي.

### د تابعیت (ښاري توب)د حقوقو د تأمین دفترونه

په اداري، امنیتي او قضایي نظام کې تر ټولو ډېر فساد په هغو برخو کې زیات دی چې د بیروکراسۍ څرخ (عریضه، سند، د واکمنو مسئولینو لاسلیک، د پېښې تعقیب او نور) پکې تر سره کېږي.

د دې ډول فساد غوره بېلګې دادي: رشوت غوښتنه، د هېوادوالو د وخت ضایع کول، کم کاري او له دولتي اعتبار او صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخیستنه. د ۱۳۹۲ کال د اداري فساد راپور په نښه کوي چې چې د افغانستان اتباعو په یو کال کې د هېواد د بودجې دوه چنده رشوت ورکړی دی. که دا موده له هغه وخت سره محاسبه کړو چې په کارونو او ورته په رسیده ګۍ کې د ځنډ له امله رامنځ ته شوی دی، په هېواد کې د اداري فساد حالت ښه درک کولی شو.

زموږ په حکومت کې به د اتباعو د حقوقو او وجایبو د تأمین د کمیسیون له لارې چې د جمهوري ریاست په بنسټ، چې په ولایتونو، ناحیو او ولسوالیو کې به جوړ شي او دنده به یې د هغو خدمتونو تأمین وي چې د هېوادوالو له اساسي حقوقو څخه وي او دولت یې په سر ته رسولو مکلف وي. د دې دفترونو د کار ډول به د قانون او یا مشخصو پروګرامونو له مخې تنظیمېږي چې هم خدمتونو ته د هېوادوالو په لاسرسي کې اسانتیا راشي او هم د دولتي مقامونو د کم کاري او له دولتي واک او اعتبار څخه د سوء استفادې مخنیوی وشي او هم به د اداري ، امنیتي او قضایي ارګانونو له لارې د دولت اتوریته پیاوړې شي.

افراطیت د شلمې پېړۍ د لومړۍ ربعې له پدیدو څخه دی. د توندلاریتوب او افراطیت غالبه بڼه په مذهبي افراطیت کې، مخصوصاً د مسلمانانو په اړه تبلیغ شوې ده؛ خو واقعیت دا دی چې افراطیت اعتقادي، سیاسي او اجتماعي مسایلو ته د کتلو د یوې بڼې په توگه په مختلفو فکري مکتبونو کې او په مختلفو جغرافیایي سیمو کې و. زموږ هېواد په تېرو څلورو لسیزو کې د افراطیت له مختلفو ډولونو تاوانونه لیدلي دي. د افراطي لیدلوریو عمده مشخصه په افراطي بڼه تېر ته رجوع کول او د هر ډول تحول پر وړاندې چې د ژوند لاره راتلونکې خوا ته پرانیزي، جذباتي مفکوره ده. همدا وجه ده چې ډوگماتیزم (مذهبي افراطیت) او جذباتي مفکورې د ټولو افراطپالو بهیرونو گډه ځانگړنه ده. په فکر او لید کې افراط په مستیقمه بڼه په عمل کې د نه قابو کېدونکي افراطیت سبب کېږي. زموږ هېواد کې د افراطي تفکراتو تر ټولو جوتې نمونې په دواړو چپي او ښي پالو ځواکونو کې لیدل شوې دي.

### ۱. مذهبي افراطیت

نن سبا چې هر ځای د افراطیت خبره کېږي، اکثره پام د مذهبي افراطیت خوا ته اوړي. زموږ په هېواد کې ځینې ډلې او مذهبي کړۍ د افراطیت استازي او مظاهر گڼل کېږي. په همدې دلیل، له افراطیت سره مقابله او له افراطي سیاستونو څخه د وطن د ژغورنې لپاره د معقولو لارو چارو موندل او د اعتدال، تسامح او تساهل خوا ته د افراطیت د راگرځولو چاره، د راتلونکي سیاسي مدیریت لپاره عمده ننگونې گڼل کېږي. هغه تمدنونه چې د وحدانیت د فرهنگ پر اساس ولاړ دي، خپل کتابونه او متون لري چې د ځینو افراطي کړیو له خوا د دوی د سیاستونو د فکري او تیوریکې مبنا په توگه استعمالېږي. د افراطي کړیو لومړنۍ توجیه دا ده چې خپلې فکري بناوې د هماغه لومړنیو متنونو پر اساس احیا او اصلاح کوي؛ خو له نویو تحولاتو سره د تطابق او د راتلونکې خوا ته د حرکت لپاره د فکر تجدد او بیا رغاونه له توندلاریتوب او افراطي سیاستونو څخه جوت توپیر لري او دا یو مخ سره متفاوتې پدیدې دي. تجدد یو دوامداره مثبت عنصر دی چې د ټولنې د ودې او پرمختگ سبب کېږي. د اسلام پیامبر په خپلو متبرکو حدیثونو کې افراطیت په شدت سره منع کړی دی. نبوي سیرت ته او د حضرت محمد (ص) فکري او عملي آثارو ته د مراجعې په برکت، د اسلام دین په دې دومره اوږدو پېړیو کې په مختلفو اسلامي هېوادنو کې ژوندی پاتې شوی دی. مسلمانان توانیدلي دي چې عظیم الشأن قران او نبوي سیرت ته په مراجعې سره الهي پیغامونه بهتره درک او تفسیر کاندي. دا چې د اسلام په لومړیو پېړیو کې اسلامې ټولنې مخ په وده او پرمختگ کې وې، یو له عمده دلیلونو څخه یې همدا و چې د اسلامي ارشاداتو او احکامو د بهتر تفسیر او درک لپاره هاغه مهال نبوي سیرت ته د رجوع او ورستنېدلو دود ژوندی و.

د تجدد غوښتنې برعکس، افراطیت د مطلق ګڼلو او جذباتي مفکورو خوا ته حرکت کوي. په صدر اسلام کې عالمانو د تفسیر د مراجعو کثرت او تعدد طبیعي چاره ګڼله او د یوه حسنه سنت په توګه یې په خوا کې ولاړ وو. دې عالمانو هڅه کوله چې د منطق او استدلال په وسیله یو بل ته قناعت ورکړي. همدا وجه وه چې په صدر اسلام کې د مسلمانانو په منځ کې ژور فکري غورځنګ رامنځته شو. دا چې په هاغه زمانه کې تاریخ لیکنه، د کلام علم، د فقه، علم حدیث او تفسیر وغوړېدل او عام شول، د دې نښه ده چې د صدر اسلام مسلمانانو به د حضرت پیغمبر او صحابه وو د کړنو تقلید کاوه. د احادیثو د صحت او د هغو کسانو په اړه بحث چې حدیثونه به یې نقلول، هم د اهل سنت په حنفي فقه کې او هم د اهل تشیع په فقه کې داسې رواج و چې د اسلامي ارشاداتو او احکامو د درک او پېژندلو لپاره اساسي ګام ګڼل کېده. د اسلام په تاریخ کې ډېرې داسې نښې نښانې شته چې مختلفو فکرونو خاوندانو به په خپلو کې سره بحثونه او مراودې کولې او ان ډېر شدید اختلافات یې سره لرل خو د یوه بل د نظریاتو په اورېدو سره به یې له تعصبه کار نه اخیست.

افراطیانو دې حسنه سنت ته سخته صدمه ورسوله او مذهبي معلومات یې په ځینو مطلقو او جبري ډګمونو بدل کړل چې کرار کرار د خلاصو مفکورو بهیر او د مسلمانانو فکري غوړېدا ته یې سخت تاوان ورساوه.

مذهبي افراطیت د شلمې پېړۍ په لومړیو کې اساساً د دوو افراطي سیاسي نظریو پر وړاندې د غبرګون په توګه رامنځته شو. دغه دوه افراطي سیاسي نظریې کمونیزم او فاشیزم وو. کمونیزم یو مخ دین رداوه او دین یې نه مانه خو د برخورد طریقه یې د منځنیو پېړیو د کلیسا تر کړنو هم شدیده او بدتره وه حال دا چې خپله یې د دین په ضد کې و.

په کمونیزم کې د مارکس، انګلس او لینین د تیورۍ د اساساتو د تفسیر لپاره فکري کثرت ته اجازه نه وه. په همدې دلیل، میلیونونه وګړي په دې ګناه ووژل شول چې د کمونیزم له تیوریکي اساساتو او لارو سره موافق نه وو. په دې حساب د شلمې پېړۍ په لومړیو کې کمونیزم د افراطي تفکر او افراطي عمل له جوتو ډولونو څخه و چې میراث یې بیا دیني بهیرونو ته هم ورسېد.

فاشیزم د بنسټپالنې د تفکر او عمل بله بڼه وه چې تکیه یې پر توکمیزې برترۍ کې وه.

فاشیزم د مذهبي، سیاسي او اقتصادي تفکراتو مختلف عناصر سره یوځای کړل او د شلمې پېړۍ یو لوی ناروین یې رامنځته کړ. د کمونیزم او فاشیزم تر څنګ، مسیحیت هم د افراطي تفکر په ایجاد او تقویه کې ښکاره ونډه واخیسته.

مسیحي بنسټپالو ټینګار کاوه چې د مسیحیت لومړنیومتنونو یا اصولو ته به مراجعه کوي او د هغې پر اساس به د مسیحیت د لومړنیو حواریونو مرتاضانه اخلاق او ساده ژوند به بېرته ژوندی کړي. خو، مسیحي بنسټپالنه ځکه ونه شو کړای چې د یوه سیاسي بهیر په چوکاټ کې ملي اقتدار ته ورسېږي چې په منځنیو پېړیو کې یې د حکومت د یوې تورې او وحشتناکې دورې سابقه یې لرله. د اسلامي مذهبي افراطیت تراژیدي په دې کې وه چې دا د غربي او استعماري لید په مقابل کې د یوه شدید عکس العمل په بڼه راڅرګند شو.

د شلمې پېړۍ په پیل کې اکثره اسلامي ملکونه د غربي استعماري ځواکونو له خوا لاندې شول. هغه وګړي چې په پېړیو پېړیو یې سیاسي واک چلولی و، یو ناڅاپه په محکومو وګړو بدل شول او په سیاسي لحاظ له حقارت او ذلت سره مخ شول. هندي مسلمانانو د نولسمې پېړۍ تر منځه پورې د انګریزانو په وړاندې د بوټ د پښو کولو حق نه درلود. د جومات د  جوړولو حق یې نه درلود. په عین وخت کې، بل لمسوونکی ټکی چې په دې زمانه کې رامنځته شو، اسلامي ملکونو ته د ګڼو مسیحي مبلغینو راتګ و. دوی غوښتل مسلمانان مسیحیان کړي.  دا چې پر مسلمانانو شدید عقیدتي او سیاسي برید شوی و، ځینو مسلمانانو ته دا فکر پیدا شو چې باید ورسره مقابله وکړي. دوی بیا د استعماري هڅو پر ضد او له اسلامه د دفاع په خاطر هره هغه پدیده نفي کړه چې غربي صبغه به یې لرله. دا هغه عکس العمل و چې اسلامي نړۍ یې د افراطیت خوا ته روانه کړه او ورو ورو د مسلمانانو تر منځ په غالب بهیر واوښت.

**۲ـ سیاسي بنسټپالنه**

د شلمې پېړۍ په پیل کې، د استعماري سیاستونو پر وړاندې آزادي غوښتونکي نظریات په مختلفو بڼو منځ ته راغلل. سره له دې چې دا نظریات په کمونیستي یا مذهبي رادیکالیزم پورې نه وو تړلي خو پر دې نظریاتو چپي افکارو او مذهبي تفکرونو چې عمدتاً ملي او ازادي غوښتونکي صبغه یې درلوده، شدیداً اغېزه وکړه. هغه بنسټپالنه چې د دغو ازادي غوښتونکو غورځنګونو په چوکاټ کې رامنځته شوه، ورو ورو په مختلفو چوکاټونو کې پر اسلامي ټولنې مسلطه شوه او په دې ټولنو کې غالب سیاسي بهیر یې تر خپلې اغېزې لاندې راوست. د دې ټولو تر منځ مشترک او جوت اړخ د دوی افراطي او خشن سیاستونه وو. د افراطي تفکر او سیاستونو یو تاوان دا و چې موږ یې داسې ماحول ته ورټېل وهلو چې له استعمار او غربي تمدن د مظاهرو په مقابله کې، د نړۍ د یوه ځلاند تمدن یعنې اسلامي تمدن له پېژندلو او درک څخه لرې پاتې شو. نتیجه دا شوه چې د استعمار پر وړاندې زموږ مقابله د ټولو هغو ارزښتونو سره د مقابلې په بڼه راښکاره شوه چې زموږ په پېر کې د بشر ارزښتمنې لاس ته راوړنې ګڼل کېږي.

د استعماري ځواکونو پر ضد د مقابلې تر سيوري لاندې موږ تر ډېرې مودې ونه کړای شو چې په خپلو ملکونو کې له ديموکراسۍ، مدني ارزښتونو لکه د بشر حقونه، د تابعيت حقونه او له مډرنې ټکنالوجۍ بې برخې پاتې شو. نتيجه دا شوه چې زموږ حکومتونه او سياستونه د مستبدو او ناديموکراتيکو نظامونو په واک کې پاتې شي. دغو نظامونو ځانونه له استعمار سره د ضديت په جامه کې پټول او د استعمار ضد په شعارونو يې د خپلو وګړو مدني او ديموکراتيک حقونه په پراخه پيمانه نقضول. نن سبا په مجموع کې اسلامي نړۍ او په خاصه توګه زموږ هېواد، له مډرنې نړۍ سره په خپلو روابطو کې په سياسي، اجتماعي او فرهنګي ډګرونو کې له بې اطمينانۍ څخه ځوريږي. نو، له اساسي اړتياوو څخه يوه همدا ده چې له افراطي تفکر او سياستونو سره د چلند يوه معقوله لاره پيدا کړو. افراطيت مو له نړۍ سره د مثبت او رغوونکي تعامل مخه نيسي او د دې سبب کېږي چې د ودې او پرمختګ ارزښتناک فرصتونه مو له لاسه ووځي. هغه عملي او مثبتې طرحې چې له افراطي سياستونو او افراطي تفکر سره د مقابلې په خاطر يې جوړوو، بايد د يوه لوی پروګرام په چوکاټ کې د ننه وي چې دغه پروګرام به په هېواد کې د ثبات د ايجاد او ساتلو لپاره طرحه شي. زموږ هېواد په مختلفو دليلونو له يو ډول خطرناکه پاشل کېدو او شلېدو سره مخ دی.

دغه وضعيت که له يوې خوا پخپله د بنسټپالو سياستونو او حرکتونو محصول دی، له بلې خوا يې لا هم زموږ هېواد د بنسټپالو سياستونو او حرکتونو له ګواښ سره مخ کړی دی. نو، د افراطيت او راديکاليزم مقابله، ببرته پر افراطيت اوراديکاليزم باندې تکيه نه ده. د سياسي قدرت معقول او عاقلانه مديريت رانه غواړي چې واقع بينانه طرحې په پام کې ونيول شي چې د هغو پر اساس: په لومړي ګام کې، د هېواد ثبات او استحکام او سياسي نظام وساتل شي څو وروسته بيا د قانون په چوکاټ کې د وګړو د حقونو ساتونکي بنسټونه رامنځته شي او هېواد د افراطيت له هر ډول ګواښ څخه وساتي.

په دې برخه کې، د هغه خوځښت نتايجو او ريښو ته توجه فوق العاده ارزښت لري چې عربي ټولنه يې د عربو د پسرلي په نامه پر بل مخ واړوله. په عربي هيوادونو کې د مدني او جمهوري نظامونو په نامه ديکتاتورو نظامونو مطلقاً په يوه کورني او ګروپي نظام په چوکاټ استبداد او تماميت غوښتنه پر خلکو حاکمه کړې وه. په دې نظامونو کې د واکدارانو تيوري له واقعيت سره په تضاد کې وې. د صدام حسين يا معمر القذافي يا حافظ اسد نظام په تيوري کې چې د ولسي توب ادعا يې کوله، مګر په واقعيت کې يې د کورنيو او قبيلوي ګټو په اساس يې د ديکتاتورۍ يو بدترين شکل په خلکو مانه. د دې تناقض او تضاد په نتيجه کې، عربي ټولنه په يوه ساده بهانه په حرکت راغله او ددې نظامونو مطلق اکثريت يې له ريښو څخه را و ايستل.

د عربو د پسرلي تجربه په جدي ډول زموږ د هېواد لپاره د استفادې وړ ده او د دې دقیقه او همدفمنده مطالعه کولای شي چې د خلکو د ناخوښۍ د عواملو او ریښو د له منځه وړلو، په برخه کې له موږ سره کافي مرسته وکړي.

### ۳ – قومي – اتنیکي بنسټپالنه

زموږ په هېواد کې د بنسټپال او افراطي تفکر یو بل مهم ډول د هغو سیاستونو په قالب کې را ټوکیدلی دی چې د اتنوسنتیزم یا قوم محوری پر بنیاد یې ډېره ایښودل شوې وه. کله چې ټولنه له یو ډموکراتیک او ولسواک نظام څخه محرومه وي او د سیاسي قدرت په جوړښت کې د خلکو پراخ ګډون په قانوني او بنسټیز ډول تامین نه شي، پر قومي، سیمه ایزو او تنظیمی لیدلوریو اتکاء عمومیت پیدا کوي. له دې ستونزمن او ناوړه وضعیت څخه د ژغورنې لپاره لومړنۍ لار د ډموکراتیکو او ولسواکو لیدلوریو پر اساس د دولت جوړنې یوې منسجمې پروسې رامنځته کول دي.

د ډاکتر نجیب الله د رژیم له سقوط څخه وروسته زموږ هېواد د سیاسي نظام له یو پراخې پاشلتیا سره مخ شو. د سیاسي ګوندونو له ادرسه د پراخو کورنیو جنګونو له امله د شدیدو مخالفتونو په نتیجه کې، سیاست په هر اړخیز ډول په قومي او اتنیکي ډلو وویشل شو. حداقل د افغانستان څلور ستر قومونه، د ځانګړو سیاسي خوځښتونو او ګوندونو په څنګ کې په واضح ډول ټولنیزه بیمه ولیدله. پر دې اتنیکي ډلو چې هر ډول ټاپي ووهل شي، نشي کولائ چې اساسي او بنیادي عامل چې په سیاسي نظام کې د ښاروندانو د پراخ مشارکت د زمینې نه شتون دی، پټ کړي.

هغه ګوندونه او جریانونه چې د اتنیکي او قومي غوښتنو پر اساس د هېواد سیاسي حوزې ته را دننه شوي دي، په واقعیت کې د اتنیکي او قومي هویت په قالب کې د ښاروندانو یو شمیر سیاسي غوښتنو ته هم انعکاس ورکوي. زموږ د سیاسي نظام یو عمده دلیل چې وتوانید د بن له کنفرانس څخه وروسته د هېواد د ډېرى برخو رضایت تر لاسه کړي، د هغه پراخې قومي او اتنیکي ستنې وې. په دې نظام کې په لومړي ځل، زموږ د هېواد په سیاسي تاریخ کې، د هېواد ټولو قومونو احساس کړه چې د هېواد په سیاسي نظام کې یې د ونډې اخیستې وخت پیدا کړی دی او هیڅ قومي او اتنیکي ډلې له سیاسي نظام سره د مطلق پردي توب احساس ونه کړ. اوس ددې وخت را رسیدلی دی چې د اساسي قانون ارزښتونه چې د ښاروندی پر شان او هویت تاکید کوي، له قومي او اتنیکي هویتونو څخه د وتلو له لارې د ښاروندی ګډون ته لاره هواره کړو تر څو د هېواد ټول وګړي، قومي او اتنیکي هویتونو ته تر پناه ور وړلو، ځان د یو عام ښاروند په قالب کې په ستر ملت کې تعریف کړي او په رسمیت وپېژني.

په هره کچه چې د خلکو د ښاروندۍ هویت پیاوړی شي، له بنسټپال او افراطي تفکر او لیدلوریو څخه د سیاسي ګټې اخیستنې زمینې را تنګیږي.

تر ټولو مهم او عمده اقدامات چې د بنسټپالو سیاستونو او تفکر په وړاندې یې غوره کولای شو په لاندې ډول سره ذکر کیږي:

1 ) د اساسي قانون په محوریت تاکید او د ښاروندي حقونو باندې ولاړ نظام له لومړنیو اصولو څخه دي چې مونږ له د بنسټپالو سیاستونو او تفکر په وړاندې هڅوي. کله چې په یوه ټولنه کې مفکوره او د ښاروندۍ حقونه عام شي نو دا فرصت رامنځ ته کیږي چې ټولې هغه افراطي او بنسټپالې کړۍ چې په کتلوي ډول ټولنه خپلو لوریو ته را اړوي له منځه ځي.

2 ) د دولت لپاره د قوې د استعمال په انحصاري حق تاکید او د دولت له خوا څخه د ځواک مشروعه کارونه دویم اصل دی چې بنسټپالې او افراطي کړۍ په ټولنه کې له منځه وړي او د کلتور د پیاوړتیا سبب هم ګرځي.

3 ) د داسې مرکزونو جوړول چې په هغو کې فکري او اسلامي عقیدتي مسایل څیړل کیږي او تر څنګ یې په شبکه یي ډول فعالیتونه ترسره شي. دغه مرکزونه باید په مستقیم ډول له مسجدونو، مدرسو، د علماوو او روحانیونو له شبکو سره په تماس کې وي. په اسلامي تاریخ او نبوي سیرت متمرکزې څیړنې، په علم کلام باندې څیړنه چې د قران کریم او سنتو تر ټولو ستره سرچینه ده، د اسلامي فیلسوفو او متفکرینو د آثارو مطالعات ددې مرکزونو له مهمو فعالیتونو څخه شمیرل کیږي.

4 ) په عرفاني تفکر باندې څیړنه اوپه ټولنه کې ددې طریقت د پیروانو تر منځ د تعادل رامنځ ته کول په ټولنه کې له خاص اهمیت څخه برخمن دی. د څیړونکو ددې برخې پهفعالیت کې باید د دیني علماوو د تجربوي او طبیعي علومو مطالعې ته هم پام وشي تر څو وښودل شي چې اسلامي نظریات په یو پراخ لیدلوري کې د ټولنیز ژوند پر ټولو اړخونو مشتمل لري، او په خرافاتو پورې یې تړل د اسلام اصلي روح ته تاوان رسوي.

5 ) د هغو قوتونو او قشرونو لپاره د شتون او مشارکت قانوني زمینې رامنځته کول چې په تېرو دیارلسو کلونو کې یې له مدني او دیموکراتیکو فکرونو سرهرا پورته شول او د یوه نوي افغانستان غږ یې پورته کړ. پهدې قوتونو کې به د ښځو د حقونو د مدافعو بنسټونو او د بشري حقونو او د ښاروندۍ د حقونو د مدافعو بنسټونو او رسنیوځانګړی ملاتړ کیږي.

6 ) پر تعلیمي نصاب او د ښوونې او روزنې پر نظام ژور او بنسټیز کار کول چې د انسانپالنې او اسلامي عدالت پر محور تدوین شوي وي. له دې لارې په ټولنه کې د افراطي او بنسټپال تفکر او رفتار ریښې وچیږي او ټولنه په شعوري او ویښ ډول پر عدالت محوره او اسلامي اسان ونکو لارو چارو رهبري کېږي.

7 ) پر اسلامي فلسفه تخصصي او هدفمندانهکار کول، ترڅو په تاریخ کېد عقلانیت او پوهې په برخه کې د اسلامي فلسفیانو او پوهانو سترې لاسته راوړنې مطالعه او وپېژندل شي او د مسلمانانو له احساساتو او عواطفو سره د افراطي چال چلند مخه ونیول شي.

8 ) په سیاسي نظام کې له پراخو اصلاحاتو سره به د سیاسي قدرت په جوړښت کې به د علماوو، روحانیونو او د ټولنې ټولو قشرونو ته د ګډون پراخه زمینه مساعده شي. په دې ډول به د بنسټپالنې او افراطي تفکر د تغذیې یو عمده عامل چې له سیاسي قدرت څخه لرې پاتې کېدل دي، حل کېږي او د ټولنې قوتونه به د منفي مقابلې او ضدیت پر ځای د سیاسي نظام په چوکاټ کې د اصلاحاتو او مثبتې ونډې اخیستې لاره نیسي.

9 ) د اساسي قانون د احکامو په رڼا کې د هېواد د اتباعود مشارکت بنسټیزه پیاوړتیا له سیاسي نظام څخه د خلکو خوښۍ او رضائیت پر لور لومړنی ګام دی. کله چې خلک دا احساس کړي چې په سیاسي نظام کې له فعالې او قانوني ونډې او حضور څخه برخمن دي نو د افراطي سیاستونو او تفکر پر لوري یې تمایلات له منځه ځي.

قومي او توکمیزه بنسټپالنه اکثراً تحصیل یافته او ځوانه انرژي بوختوي. د هېواد د لوړو تحصیلاتو په نظام کې ژور او بنسټیز تغییرات د هغو نارضایتیو او بې عدالتیو په له منځه تګ کې مرسته کولای شي چې د ځوانانو په ذهنونو کې یې ځای نیولی دی.پر دې سربېره، د تحصیلاتو د فرصتونو پراختیا او د بورسونو، او کانکور د پایلو په برخه کې اصولي اقدامات په دې برخه کې غښتلی اغېز درلودلای شي.

له قومي بنسټپالنې سره د مقابلې یوه لاره د داسې شبکو رامنځته کول دي چې پر اساس یې د مختلفو هویتونو لرونکي افراد ورته تجربې ترلاسه کړي.

ښوونځي، پوهنتونونه، دارالمعلمونه، د مدني ټولنې سازمانونه، سوداګریز شرکتونه، او بالآخره، سیاسي احزاب دې هدف ته د رسېدلو بهترینې وسیلې دي.

د بېلګې په توګه، ښوونځي داسې عیارېدلای شي چې د مختلفو ټولګیو معین زده کوونکي د کال په مختلفو فصلونو کې په دولتي لګښت له تودو سیمو څخه سړو او له سړو څخه تودو سیمو ته ولېږدېږي

او هلته د زده کړې د یوې دورې د بشپړولو ترڅنګ د یو بل د ژوندانه له طریقو، دودونو او ټولنیزو او کلتوري خصوصیتونو سره آشنا شي. دغه راز، سوداګریز شرکتونه کولای شي کرنیز تولید، مالداري، مچۍ روزنه، چرګ روزنه، او نورفعالیتونه د تودو او سړو سیمو ترمنځ د راکړې ورکړې په مشترکو ډګرونو واړوي.

د قومي بنسټپالنې د مخنیوي په برخه کې بله مؤثره لاره چاره د داسې ملي پروګرامونو ترتیبول دي چې د هغو له لارې خلک مشروعه دولتي اتوریته له نورو قومونو او اقشارو سره د وصل وسیله او ټکی وګڼي. کاناډا د دې نمونې د تطبیق ښه مثال دی. د کاناډا خلکو د افغانستان د خلکو په پرتله ډېر کم مشترک ټکي درلودل، ځکه په تاریخي لحاظ، د کاناډا وګړي له اروپا څخه را کډه شوي او د اتلانتیک سمندر پر هغې غاړې تر مېشتېدنې وروسته یې یو هېواد را منځته کړی دی. کاناډا د ملت جوړونې له اړخه یوه ډېره موفقه تجربه ترسره کړې ده، او د دې تجربې د موفقیت یو لامل هغه ملي پروګرامونه دي چې د دې هېواد ښارونه یې د هېواد له تر ټولو لرېو سیمو سره وصل کړي، او داسې یو هېواد یې رامنځته کړی چې ټول وګړي یې پر خپل ملي هویت ویاړي.

نن ورځ د کاناډا د خلکو امتیاز په دې کې دی چې کله یو نوی کډوال ورځي، هغه ته په اساسي شکل د دې فرصت برابرېږي چې د خپل اصلي هویت له لاسه ورکولو پرته خپل راتلونکی هویت په کاناډایي توب کې خوندي و ویني.

ځکه نو، د تبعه والي او ښاریتوب پر بنسټ یوه داسې ملي ټولنه رامنځته کولای شو چې په هغې کې هیڅوک د خپل قومي یا ژبني هویت د له لاسه ورکولو وېره ونه لري. پر ملي ژبو د پانګونې له لارې به مو وکړای شو چې د هېواد د قومونو تاریخي لاسته راوړنې د یوه مشترک ملي کلتور د غنامندۍ لپاره وکاروو. زموږ ملت چې له قومي او ژبني اړخه د نړۍ له بډایه هېوادونو شمېل کېږي، دا فرصت لري چې د فرعي هویتونو د تقویې له لارې د یوه ستر ملي هویت رامنځته کېدلو ته لاره هواره کړي، او بیا دې ستر ملي هویت ته په منسوبېدلو ځان ته د نړۍ د پرمختللیو هېوادونو تر ځای مقام پیدا کړي.

**شپږم:دژوندچاپیریال**

زموږ په عصرکې د ژوند د چاپیریال ګواښ له یوې فرضیې څخه په یوه واقعیت بدل شوی دی. په تېرو دیرشو کلونو کې د ټولې نړۍ پوهان دې ګډې نتیجې ته رسېدلي دي چې که چیرې د ځمکې د سمسورتیا او سرسبزۍ څار ونشي، او په دې برخه کې جدي او اصولي اقدامات ونشيپرځمکه به مو د ژوند امکانات له جدي ګواښونوسره مخ شي. د هوا د تودوخې د هرې درجې په زیاتوالي سره، د نړۍ په

اقلیمی شرایطو کې ستر بدلونونه منځ ته راځي او که چېرې د ځمکې تودوخه د اوسني حالت په نسبت تر شپږو درجو ډېره لوړه شي، د نړۍ نیږدې ټولې برخې به داسې حالت ته واوړي چې د ژوند طبیعي او معمولي امکانات به پکې له منځه لاړشي او پدې صورت کې به هغه سیمې چې اوس په کرنیزو او شنومرکزونو حسابېږي، په دښتو بدلې شي.

له تاریخي پلوه دا بدلونونه پخوا هم رامنځ ته شوي دي. د مثال په ډول تاریخي سیستان چې فراه، هلمند او نیمروز په کې شامل وو، د فردوسي په شاهنامه کې د پراخو ټپو او سترو ښکار ځایونو سیمه وه. زرنج چې د رستم پلازمینه وه، په ځنګلونو او شنو سیمو پوښلې وه. همدارنګه کابل، سمنګان، مزار او یا د بلخ پراخې سیمې چې په شاهنامې او نورو تاریخي منابعو کې په ځنګلونوپوښلی او شنې سیمې یادې شوي، اوس په یوه غیر انډولیز ډول پر دښتو بدلې شوې دي.

د ژوند د چاپیریال د بدلونونو مهمه نښه د وچکالۍ دوراني حلقه ده. په تېرو څلورو پېړیوکې، موږ په اوسط ډول په هرو دېرشو کلونو کې یوه وچکالي درلوده او په هرو سلو کلونو کې یو ځل د وچکالۍ شاهد وو چې کاختي (قحطي) یې را منځته کړې ده. د ۱۸۷۳میلادی کال په وچکالۍ کې د افغانستان ګڼې شمالي او شمال ختیزې برخې له استوګنې خالي شوې دي. په ۱۹۷۳ میلادی کال کې یو ځل بیا وچکالي راغله چې خلکو خپل ماشومان وپلورل. دې وضعیت په نیمروز کې یو انسانی ناورین را منځته کړ. مګر اوس د وچکالۍ حلقه تقریباً په هرو پنځو کلونو کې تکرارېږي. د هوا بدلونونه هم په ډېرې چټکۍ سره منځ ته راځي. ځینې کالونه د ژمي ساړه د لسګونو انسانانو د مړینې لامل ګرځي او ځینې وخت بیاایله د ژمی په منځ کې هوا دومره سړی شي چې اوبه یخې کړي. لدی امله د ژوند د چاپیریال وضعیت باید په جدی توګه په پام کی ونیسو. د نیالګیو له کښینولو او ساتلو تر شنی فضا جوړونی او پراخونې، د هوا د ککړتیا مخنیوی، د اوبو په مصرف کی له دقت او سپما څخه کار اخیستل او په فاضله اوبو او کثافاتو ټینګ کنټرول، چې د ځمکی لاندی اوبو زیرمی او د ژوند چاپیریال خرابوي، په دې برخه کې اړین او ضروري اقدامات ګڼل کېږي.

زموږپه هېواد کې ونې او ځنګلونه چې د اوبو لګولو د سیستم په ساتنه او همداراز د سیلابونو او د غرونو او تپو د ښوېدنې په مخنیوي کې مرسته کوي،وهل شوي او نن ورځ دا ګڼې سیمې چې پخوا سمسور ځنګلونه ول، په وچه بدلې شوې دي. په همدې توګه هغه بوټي او تپې چې د ژوند د چاپیریال په ساتنه کې حیاتي نقش لري، په نامناسبه توګه د څارویو په وسیله له بیخه ایستل کېږي. همدا راز په غیر فني شکل د ژورو څاګانو ایستل کېدلو نه یواځې چې زموږ د اوبولګولو دودیز سیستم له منځه یوووړ، بلکې دځمک-لاندې اوبو زېرمې مو هم متضررې شوې.

یوبل لامل چې دژوندچاپیریال ته تاوان رسوی، پر کرنیزو ځمکو باندې داستوګنې د کورونو جوړول او ښه خاوره پر اوومو او پخو خښتو بدلول دي. د دې پر ځای چې د ودانیو د جوړولو لپاره د یوه دقیق او منسجم پروګرام پر اساس او د ښاري پلان مطابق عمل وکړو چې هم مو د جوړولو په مصرف کې اوهم د هغې په ساتنه کې سپما وشي، د ښارپه هره برخه کې مو په غیر منظمه توګه د ودانیو او کورونو په جوړولو لاس پورې کړی چې هم مو د سرمایې د مصرف له نظره اوهم د هغو ستونزو له امله چې د ښاري ژوند د نظام لپاره مو رامنځته کړي، د هېواد اقتصاد ته ډېرلوی تاوان رسولی دی.

سربېره پردې چې د وچکالۍ له امله متضررکېږو، سلګونه ملیونه ډالره د سیلاوونو د راوتلو، د سیندونو د غاړو د له منځه تللو، په ځانګړې توګه د آمو سیند د څنډو د ښوېیدلو له امله تاوانی کېږو. په همدې ډول له بې کیفیته سون موادو څخه ګټه اخیستنه په هېواد کې د هوا د ککړتیا لویه برخه نیسي، چې پایله یې روغتیا،په ځانګړې توګه د ماشومانو او امیندواره میندو روغتیاته دوامدار ګواښ رامنځته کول دي. موږ د سم ترافیکي نظام د نه شتون له املهد سون مواد ډېر پرېمانه کاروو چېهم د ډېر لګښت او هم د پرېمانه روغتیایي ستونزو لاملېږي.

په دې برخه کې باید لاندې اقدامات وشي:

د ژوند د چاپیریال ساتنې لپاره د نفتي توکو کنترول هغه لومړنۍ کړنه ده چې باید زموږ په لومړیتوبونو کې راشي. د نفتی توکو د واردولو او ویشلو لپاره به د څارنې او ارزونې د لازمو مراحلو وروسته جواز ورکول کېږي. هغه معیارونه چې په دې اړه په نظر کې نیول کېږي د خلکو د ژوند ساتنې لپاره باید د دولت د جدی تعهد ښکارندوی وی. د نفتي موادو د واردونکو تر منځ سیالي باید د معینو او رڼو معیارونو پر اساس وشي چې په هغه کې به د ژوند د چاپیریال ساتنې او د وګړو روغتیا ته په ځانګړې توګه پاملرنه کېږي.

په ښارونو کې د ترانسپورت وضعیت باید منسجم شي. د ښاري ترافیکي نظامونو په برخه کې د لاتینې امریکا بریالۍ تجربې د پام وړدي ځکه زموږ په شرایطو کې د پلی کیدو وړ دي.

په دې برخه کې اوسیدونکي، خصوصي سکټور او دولت یو واضح او قانوني هوکړې ته رسیدلای شي، چې د هغې په اساس هم خدمات وړاندې شی او هم خلکو، دولت او خصوصی سکټورونو ته د عاید یوه مطمئنه سرچینه برابره شي. د منظمو او متمرکزو ښاري خدمتونو د وړاندی کولو لپاره، د مسکن او د ژوند د یوسالم چاپیریال جوړولو لپاره د یو دقیق ماسټرپلان طرح او پلی کول زموږ د حکومتولۍ په لومړیتوبونو کې راځي چې په پنځه کلونو کې به روښانه او د پام وړ پایلې ولري.

د کوچې او ګذر له سطحې څخه تر کورونو او عامه املاکو پورې د شنه چاپېریال په رامنځته کولو کې د خلکو پراخه ونډه او برخه اخیستنه ډېر زیات اهمیت لري.

د ځنګلونو په برخه کی د نورستان د خلکوکړنه چې د ځنګلونو ساتنه او پالنه یې د خلکو په اساسی وجیبه بدله کړي او له ځینو ځانګړو مواردو پرته هېڅ چاته د ځنګلونو د پرې کولو اجازه نه ورکوي، یوه ښه بېلګه کېدای شي.

د ځمکې پېژندنې په برخه کې نوې تګلارې کشف شوي چې د لاتینې امریکا هېوادونو له هغې څخه په کار اخیستنې د لسو کلونو په ترڅ کې یې وچ غرونه په شنو ځنګلونو بدل کړل. موږ په ملیونونو هکتاره ځمکه لرو چې پخوا ځنګلونه وو، او اوس بیرته درغونې وړدي. د دغوځنګلونو د رغونې لپاره به له ډېرو پرمختللو او علمي لارو څخه کار واخلو چې د هغې په اساس به د اوبو د کموالي په وجه داسې تدبیرونه نیول کېږي چې د ځنګلونو او بوټو ریښې په طبیعي ډول قوي شي.

البته په دې برخه کې به یو ډول ځنګلونه کښینول شي چې هم له اوسني چاپیریال سره موافق وي او هم یې محصولات د سیمې له بازار موندنې سره همغږي ولري. یو ډول ونې چې په ختیځه آسیا کې ښه بازارلري، له خوست څخه تر کونړه پورې چې ګرمې سیمې بلل کېږي، د کښینولو وړ دي. چې په دې برخه کې د پانګونې او یو منسجم او دقیق پروګرام جوړولو ته اړتیا ده او دا به موږ د خپل حکومت د یو ملي پروګرام په توګه په پام کې نیسو. د سیندونو په سرچینو کې د ځنګلونو پیاوړي کول هم هغه چاره ده چې ورته به پاملرنه وکړو. افغانستان د مثمرو او غیر مثمرو ونو او بوټو د روزلو یو ستر مرکز دی، مخصوصاً چنار، نمنځو او څېړیو کیدای شي له هغو څخه هم د ژوند د چاپیریال د ښه کیدلو لپاره او هم د بډاینې په رامنځ ته کولو کې ګټه واخیستل شی. د سیندونو په مسیر کې د ونو کښینول د سیندونو د غاړو د ټینګښت لامل ګرځي. د بېلګی په ډول د کابل سیند چې د چاپیریال د ککړتیا یوستر لامل ګرځیدلی، کیدلای شي چې په ډېرې آسانی د شنه چاپیریال په یوه لویه سرچینه بدل شي. د کرنې په برخه کې د اوبو لګولو انسجام هم یو له هغو کړنو څخه دی چې د ژوند د چاپیریال په ساتنه کی زموږ له جدی اړتیاوو څخه حسابیږی. موږ به په خپل حکومت کې داسې تدابیر ونیسو چې له اوبو څخه ګټه اخیستنه د هغو پرمختللو کړنلارو څخه په استفادی سره چې په نړۍ کی یې ډېرې ښې پایلې لرلې، تنظیم کړو. له اوبو څخه د مؤثرې استفادې لپاره به په لومړي قدم کې د اوبو عادلانه ویش، په دویم قدم کې له هغې څخه دقیقه او پلان شوې ګټه اخیستنه، او په دریم قدم کې به د داسې یو کلتور په رامنځته کولوپورې اړه لري چې خلک اوبو ته د خپل ژوند د یوې با ارزښته برخې په توګه پام وکړی او له هغی څخه په ډېر دقت او سپما په نظرکې لرلو سره ګټه واخلي.

د ژورو ځاګانو د خپلسرو کيندنو مخنيوی چې مستقيماً چينو او کاريزونو ته تاوان رسوي زموږ د حکومت له لومړنيو کړنو څخه به وي. د ژورو ځاګانو کيندنه سربيره پر دې چې د اوبو تر ځمکې لاندې زيرمو ته تاوان رسوي، هغې پانګې ته چې عامه ده او په سلګونو کورنۍ ترې ګټه اخلي د يوه کس او يا يو ګروپ په واک کې ورکوي.

د ښارونو په سطحه او يا د صنعتي فابريکو د موخو لپاره له اوبو څخه د ګټې اخيستنې د تنظيم لپاره يوې سراسري پاليسۍ ته اړتيا لرو چې هم د اوبو د غوښتونکو اړتياوې پوره کړي او هم د اوبو د ضايع کيدلو مخنيوی وشي. زموږ حکومت به په دې برخه کې معينې او لازمې کړنې په نظر کې ونيسي چې هم له پرمختللو علمي کړنلارو سره برابرې وي او هم يې په نوره نړۍ کې ښې پايلې لرلې وي.

د ژوند د چاپيريال سره د ژوند کولو د کلتور رامنځ ته کول زموږ د حکومت په لومړيتوبونو کې راځي چې ورته به پاملرنه وکړو. د ژوند د چاپيريال سره د ژوند کولو کلتور پدې مانا دی چې بايد د ژوند د چاپيريال سره له زياتي ډډه وکړو او په ناسنجيده کړنو طبيعت ته تاوان و نه رسوو. په نولسمې او شلمې پېړۍ کې د صنعت محورۍ د کلتور له امله انسانانو په ځانګړې توګه په اروپا او امريکا کې په ډېرې بې رحمۍ سره طبيعت ته زيان ورسوو. په دې برخه کې زموږ هېواد چې ډېر زيات معادن لري او دا معادن به په راتلونکي کې زموږ د شتمنۍ اصلي زېرمې رانغاړي، سنجول شويو او دقيقو کړنو ته اړتيا لري. له دې کانونو څخه د ګټې اخيستلو لپاره بايد خاص معيارونه جوړ کړو چې هم دولت او خصوصی سکټور او هم هغه خلک چې پدې معادنو کې کارکوي يوشان ګټه پورته کړي او د ژوند چاپيريال ته زيان و نه رسيږي.

پخوانی شوروی اتحاد، انګلستان او نور هغه هيوادونه دي چې طبيعت ته يی زيان ورسولو، اوس يی عواقب وينی. نو لدی امله د وړکتون څخه نيولی تر پوهنتونونو پوری د تعليمی نصاب يوه برخه بايد چاپيريال ساتنی ته ځانګړی شی او په دی برخه کی رسنی هم بايد خاصه پاملرنه ولری.

زموږ په لومړيتوبونو کی د ژوند د چاپيريال په برخه کی د سيمه ايزی همکاری يو سيستم رامنځته کول هم دی چې په جدی توګه به پاملرنه ورته وشی. د ژوند د چاپيريال طبيعی زيانونه سياسی سرحدونه په رسميت نه پيژنی. سرحدی ليکی چې د هيوادونو سياسی جغرافيا سره بيلوی، هغه ليکی ندی چې د ژوند د چاپيريال طبيعی زيانونه په کی ايسارکړو. د ژوند چاپيريال يو ډير پيچلی او منسجم سيستم دی چې د نړی ټول هيوادونه په ځانګړی توګه هغه هيوادونه چې په يوه اقليمی حوزه کی موقعيت لری بايد خپل سياستونه او پاليسی د هغی په اساس عياری کړی. د سيندونو ساتنه، د ځنګلونو پياوړتيا او پر معادنو پانګونه پر ټوله سيمه هر اړخيز اغېز لري.

د بېلګې په توګه زلزله او سيلابونه د هغو طبيعي پېښو له ډلې څخه دی چې د ژوند چاپېريال په ډېر شدت سره اغيزمنوي او له هغې سره د مقابلې لپاره  بايد سيمه ييزې همکارۍ ته پاملرنه وشي.

کله چې سيلاب راځي او له يوه هېواد څخه بل هېواد ته تېرېږي، نو که چيرې د هغې په وړاندې مقابله ونشي، د هغې قربانيانو ته مرسته او د هغې زيانونو ته د سيمه ييزې همکارۍ او همغږۍ په کچه پاملرنه ونشي، نو ډېرې زيان منونکی پايلې به ولري. هماغه ډول چې د پېښې د وړاندوينې او مخنيونکي کړنې کولای شي مثبتې او ګټورې پايلې ولري. د ژوند د چاپيريال ساتنې په اړه يو مثبت ټکی دا دی چې د پام وړ نړۍ والې ژېرمې ورته شته چې دولتونه کولی شي، د موثرو او عملي پروګرامونو په وړاندې کولو سره د دې منابعو له مالي مرستو څخه برخمن شي. سربېره پر دې، په نړۍ واله کچه د ژوند د چاپيريال ساتنې پر يوسيستم باندې هوکړه شوې چې دې سيستم ته کريډټ کاربن ويل کېږي. پدې مانا چې که کاربن ډای اکسايډ د نړۍ په هر ګوټ کی توليدېږي، نو په همااغه کچه د ژوند پر چاپيريال منفي اغېز کوي، بالمقابل د نړۍ په هر ګوټ کې چې د چاپيريال ساتنې په خاصو کړنو سره د کاربن ډای اکسايډ د توليد کچه کمېږي، نو په همااغه اندازه به د ژوند پر چاپيريال مثبت اغېز ولري. دې ټکي ته په پام سره، هغه صنعتي فابريکې چې د چاپيريال د ککړتيا لامل ګرځي حاضرې دي په هغو سيمو کې چې صنعتي ندې د ځنګلونو په جوړولو کې پانګونه وکړي، او پدې توګه د خپلو شرکتونو د دوام لپاره توجيه پيداکړي. موږ يو خاص تخنيکی کدر ته اړتيا لرو چې د خاصو پروژو په طرح او پلي کولوسره له دغو نړۍ والو فرصتونو څخه په موثره توګه ګټه واخلي، چې له دغو نړۍ والو مرستو څخه په استفادې سره د ملي بوديجې ترڅنګ نوې مالي منابع تر لاسه کړي چې له يوې خوا د چاپيريال ساتنې لامل شي او له بلې خوا پر ملي بوديجه باندې فشار کم شي. په داسې مملکتونو لکه کاستاريکا کې د ژوند پر چاپيريال باندې پانګونه نه يوازې د سيلانيانو پام ځانته اړولی بلکې د پوهنتونونو، مدني ټولنو او بېلابېلوهېوادونو تر منځ يې د همکارۍ زمينې برابرې کړې. دې کړنو ځوانانو ته د نړۍ والو اړيکو په شبکو کې او د مطالعې او تخصصي زده کړو لپاره د سفرونو فرصتونه برابروي. له دې امله د ژوند چاپيريال ته پاملرنه کولی شي زموږ هېواد په يوه نوې څېره کې نړۍ ته وروپېژني.

**اووم: د کډوالو وضعيت ته پاملرنه**

يوه مسأله، چې زموږ حکومت به په جدي او اصولي ډول ورته پاملرنه کوي، د کډوالو وضعه او برخليک دی. موږ نن په عربي هېوادونو، ايران، پاکستان او نورو کې نېږدې پينځه ميلونه کډوال لرو. ډېری دا کډوال اکثره افغاني پاسپورټ نه لري. زموږ لومړنی اقدام به دا وي، چې دغو کډوالو ته د خپل هويت د تثبيت زمينه سازي وکړي. دې برخې ته د رسېدو لپاره بههماغسې چې پخپل بهرني سياست کې اشاره

ورته کړي، د خپلو سیاسي نمایندګیو او په ځانګړي ډول د خپلو کډوالو په کوربنو هېوادونو کې د خپلو کونسلګریو ظرفیت او صلاحیت لوړوو، څو وکړای شي د کډوالو د اړتیا وړ خدمتونه په اصولي او مناسب ډول ترسره کړي. همدا شان به د دغو دفترونو د چلند او اجراآتو د کمزورتیا ټکیو ته جدي پاملرنه کوو. دویم اقدام هغې مرحلې ته رسېدل دي، چې پکې زموږ د کډوالو حقوق د دوی د بشري حقونو او نړۍ والو کنوانیسیونونو مطابق تأمین شي. دې برخې ته به  له دریو لوریو توجه وکړو:

لومړی، دا چې هرکډوال د افغان تبعه په توګه د افغان دولت له هراړخیزملاتړه د برخمنتوب حق لري. د دولت یوه اساسي وجیبه په ګاونډیو او نورو هېوادونو کې د کډوالو له حقونو څخه دفاع ده.

دوهم، دا چې کډوال یو لړ منل شوي نړیوال حقونه لري. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مسؤول دی چې په ټولو هېوادونو کې زموږ د کډوالو د حقونو ساتنه او پالنه وکړي.

دریم، د کوربه هېوادونو او اړوندو نړۍ والو بنسټونو په همکارۍ به مشخصې طرحې تطبیق کړو، چې د کډوالو مسلکي او بشري وړتیاوې ورسره لوړې شي.

هېواد ته راستنېدنه د هرافغان کډوال حق دی. هغه حکومت چې ونه کړای شي د خپلو خلکو د ځان و مال خوندي او امنیت او معیشیت تأمین کړي، هېڅکله د بریالیتوب ادعا نه شي کولای. په همدې دلیل به زموږ حکومت د کډوالو د بېرته راستنولو لپاره مشخص اقدامات وکړي، څو ټول هېواد وال په آبرومندانهتوګههېواد ته را ستانه او د مناسب ژوند او استوګنې په چاپېریال کې و  اوسېږي. د کډوالو د راستنېدو یو ترټولو مهم عامل ثبات دی. د نوو شرایطو له رامنځته کولو پرته نه شو کولای چې پینځه میلیونه کډوال یوځل خپلې نوې پرېښو دربېدلې ټولنې ته جذب کړو. موږ تر یوه منسجم پروګرام لاندې کډوالو را ستنېدلیوه جدي اړتیا ګڼو، او غواړو د کډوالو فردي حقونه په یوه معتبر او د باور وړ بهیر کې تأمین شي.

ترهغې چې کډوال له هېواده بهر دي، باید د هغو شرایطو په اړه فکر وکړو، چې د هغوي انساني وړتیا او پانګه ورسره پیاوړې کېږي. یوه له هغو لارو څخه چې کولای شو، د کډوالو ستونزې پرې په بنسټیزه توګه حل کړو، په ختیزه اسیا، خلیج او نورو هېوادونو کې دوي ته د کاري زمینې برابرول دي، څو دغه بشري قوت مو، چې اوس په ملي پروسو کې له هرډول ګډون څخه محروم دي، وکړی شي لاسته ورتلونکې شتمنۍ یې د باعزته او با ثباته افغانستان لپاره د پانګونې سبب شي. د ځانګړو اقتصادي پروژو رامنځته کول لکه د چورګوړو، کبانو او شاتو مچیو پالنه، چې اوس یې زموږ ډېرکډوال په ځان کې بوخت کړي، د کډوالو په اړه به زموږ د پروګرامونو نورې برخې هم وي.

**اتم: نشه يي توکي:**

د نشه يي توکيو توليد او قاچاق زموږ پر لمنې يو تور داغ دی. اوسمهال شاوخوا يو مليون ځوانان چې زياتره يې ځوانان دي، پر نشه روږدي دي. زموږ په دين، دود او دستور کې دا ناشونې کيسه وه چې کورنۍ دې خپل معتاد اولادونه له کوره وشړي. په تېرو ديارلسو کلونو کې د نشه يي توکيو د کچې د ټيټوالي لپاره په زرګونو پاڼې وليکل شوې او سلګونه مليونه ډالر ولګېدل، خو زموږ بنيادي انځور دا دی چې د افغانستان د کوکنارو توليد په دوه زره ديارلسم کې ۵۵۰۰ ټنه ترياک اټکل شوي دي.

پر ټوله هغه ځمکه چې کوکنار کرل شوي دي، ۲۰۹ زره هکتاره دی، چې ۹۸ سلنه يې په لوېديځو زونونو کې، او ۲۶۹۳ هکتاره يې په هلمند کې ده.

د اته کاله وړاندې را ټولو شويو شمېرنو پر بنسټ، د نشه يي توکيو د کر او قاچاق د کاروبار په ځنځير کې له ۲۵ تر ۳۰ تنو لوی قاچاقوړونکي، ۲۰۰ تر ۳۰۰ عادي قاچاقبر، ۵۰۰ تر ۶۰۰ متوسط سوداګر، ۱۰ تر ۱۰ زره ځايي سوداګر او شاوخوا ۳۵۰ زره بزګرې کورنۍ ښکېلې دي.

د کره سرچينو پر اساس، د مخدره توکيو له ۴۰ ځلوېښت مليارد ډالريز کلني اقتصاد څخه شاوخوا ۷ مليارده ګاونډيو هېوادونو، ۱۴, ۲ مليارد ډالره کورنيو قاچاق وړونکيو او يواځې ۵۶۰ مليونه ډالره کورنيو بزګرو ته رسېږي.

په دوه زره ديارلسم کال کې د کوکنارو توليد ۴۹ سلنه تر تېرکال زيات و، او د هغو ولايتونو شمېره چې له کوکنارو خلاص ول، له ۱۷ نه ۱۵ ته را ټيټ شوی و. پايله دا ده چې په دې برخه کې ډېری هڅې بې ثمره دي. ستونزه دا ده چې د نشه يي توکيو توليد، انتظام، او قاچاق يو منسجم نظام دی. د دې نظام ښبنتې دا دي:

اول) نړيوال مصرفوونکي/کاروونکي، چې لوی مرکز يې په اروپا، روسيه، او ايران کې دی. نړيوال بازار په چټکۍ پاکستان، هندوستان، چين او مرکزي آسيا ته په پراخېدو دی. دوی د پېرودلو لوړه قوه لري، نو ځکه دې هېوادونو ته د قاچاقو زمينه هم برابره ده.

دوهم) نړيواله مافيا: په اروپايي هېوادونو کې دوی د وېش پراخې شبکې لري، او په ورته وخت کې د قاچاقو مافيا ده چې د زر مليارده ډالرو معادل جرمي اقتصاد يې رامنځته کړی دی.

درېيم يې پياوړي قاچاقبران دي. پياوړي قاچاقبران دي،

سره له دې چې افغانستان په وچه ځمکه کې احاطه دی، ډېره برخه يې له ايران، او پاکستانه اروپا او امريکا او چين او نورو ځايونو ته رسېږي. د قاچاقو جريان په دې هېوادونو کې د قاچاقبرو نفوذ ښيي. يوازې ايران په دې برخه کې جدي اقدامات کړي، خو په هغه سربېره هم شاوخوا ۳۰٪ مخدره توکي د ايران له لارې قاچاقېږي. دا چې په اروپا کې د تجارت آزادي ده، پوليس ډېر لږ بريالي شوي چې د يوه ټن په اندازه قاچاقي مواد ونيسي.

د نشه يي توکيو بين المللي او کورنۍ کړۍ يې ډېر عميق تړاو لري.د مخدره توکيو د نظام داخلي برخه لاندې درې کړۍ لري:

- لوی قاچاقبران، يعنې د مخدره توکيو د توليد او تجارت مرکزيت؛ د دوی شمېر شاوخوا ۳۵ تنه اټکل شوي دي.
- علافان، او مينځګړي، شاوخوا ۱۰ زره تنه دي، چې هم مواد، هم تخنيکي مرستې، او هم وسلې ورکوي.
- ځلورم، ځمکوال او دايمي بزګران.
- پنځم موسمي کارګران، چې مزد يې د غنمو د کرونکيو او نورو په پرتله زيات دی.

د دې نظام لاندې درې ځانګړنې بايد جدي په پام کې ونيول شي:

- اول دا چې ترياک په کلونو ساتل کېدای شي، ځکه نو ترياک لکه نغده سرمايه ده. خو هيروين چې توليد شي، بايد استعمال شي. ځکه نو نړيواله مافيا، او کورنۍ مافيا د کوکنارو عرضه تنظيموي.
- دوهمه شاخصه دا ده چې د ګټې د وېش تر ټولو لويه برخه نړيواله مافيا او تر ټولو کمه برخه افغان کروند ګر ترلاسه کوي.
- دريمه مشخصه يې دا ده چې دا مهال ډېره برخه کوکنار په غصب شويو دولتي ځمکو يا دښتو کرل کېږي، چې ښه مثال يې د هلمند ځينې لوی زراعتي فارمونه دي.

د دې قوي مارکيټ په پرتله، زموږ قانوني کرنيز نظام ډېر کمزوری دی. مارکيټ نه لرو، قرضه نه لرو، ترويجي خدمات نه لرو، حرفوي کارګرو نه لرو، د اوبو نظام نه لرو، ښار او کلی د مارکيټ له نظره نه دي تړل شوي او لازمه اندازه پوهاوی نشته.

دوهمه دا چې امنيتي او قضايي نظام په فساد ککړ دی. دا خپله د بدامنۍ يو لوی عامل جوړوي.

زموږ اقدامات به په دې برخه کې دا وي:

1 ) زموږ اصلي موخه دا ده چې په افغانستان کې يو پياوړی، توليدي، منسجم اقتصادي نظام رامنځته کړو. د دې تفصيل په اقتصادي برخه کې دی، چې کړی يې د کرنې نظام، صنعتي نظام، ترانيزيت، او د خدماتو؛ ترانسپورت، او ساختمان سکتورونو پياوړي کول دي. دلته به زموږ تمرکز، په ځانګړې توګه، د کرنې په برخه کې وي.

2 ) دا چې د منطقې هېوادونه، اروپا، روسيه او چين وګړي او ولسونه، ټول له مافيايي نظامه زيانمنېږي، نو موږ مشترکې ګټې لرو، چې توليد او قاچاق لومړی کم او بيا محوه شي. زموږ لومړی اقدام به د افغانستان قانوني توليداتو ته د بازار پيدا کول وي. ايران، خليجي هېوادونه، اروپا، هند او چين د افغانستان د پيداوار لپاره عظيم بازارونه دي. موږ به هڅه وکړو چې هم دا هېوادونه د افغانستان توليداتو ته په امتيازاتو قايلېدلو قانع کړو، او هم تخنيکي او عملي مرسته وکړي چې د افغانستان توليدات د دوی له معيارونو سم توليد او انتقال شي.

3 ) د ګاونډي هېوادونو ملاتړ جلبول جدي اړتيا ده. دا چې موږ په وچه کې ايسار هېوادونه يو، ايران او پاکستان بايد د تازه کرنيزو په انتقال او ترانزيت کې له موږ سره په واضحو معيارونو موافقه وکړي، او د ترانزيت زمينه برابره شي.

4 ) ځمکوالو او بزګرانو ته د کريډېټ او قرضې د خدماتو د سيسټم موجوديت ضروري دی. په ځانګړې توګه، د غنمو قيمت بايد هيڅ وخت د توليد تر قيمت ټيټ نه شي. د همدې لپاره لازمه ده چې د سپلوګانو پر يوه منسجم نظام باندې کار وشي، کوپراتيفونه تأسيس او حمايه شي چې کرنيز توليدات رانيسي، پروسس کړي او صادر يا عرضه کړي.

5 ) موږ کم تر که يو نيم مليون هکتاره ځمکه لرو چې په ۱۹۷۸ کې کرل کېده، او اوس نه کرل کېږي. علاوه پر دې، د کرنې وزارت د تخمين پر اساس پنځه مليونه هکتاره ځمکه موجوده ده چې د کرنې وړ ده، خو تر آبي کښت لاندې نه ده راغلې. پر دې اساس، لږ تر لږه، لس تر پنځه ويشت مليونه جريبه ځمکه موجوده ده چې تر کرنې لاندې راتللای شي.

6 ) د قانوني کرنيز سکتور د استحکام او پراخېدا لپاره د دې ځمکو خړوبول افغانستان په يوه صادروونکي هېواد بدلولای شي. د ځمکو وېش د کرنې د يوه منسجم نظام په چوکاټ کې، او بيا په دې برخه کې د منځمهالې او اوږدمهالې اجارې پر اساس د نړيوالې پانګونې جلبول زموږ بل هدف دی.

د دې ترڅنګ، غصب شوي ځمکې ته باید یوه بنیادي حللاره پیدا کړو، چې د قانون حاکمیت په رڼا کې د حل او له دې ځمکو د استفادې یوه اصولي لاره وموندل شي.

7 ) د امریکا سفارت د څېړنو پر اساس، افغانستان یو سل او شل زره کلومتره څړک ته اړتیا لري چې د کرنې سیستم لکه د تایلېنډ، له نشه یي توکیو، په عصري، قانوني سکتور باندې بدل شي.

د تهایي لېنډ تجربه دا هم ثابتوي چې یواځې تازه کرنیز تولیدات د تریاکو ځای نشي نیولای. اصلي رقابت زراعت پروسس شوي مواد او نساجي کولای شي. همدا ده چې موږ بیا هم، هم نړیوالې پانګونې او هم نړۍ والو بازارونو ته اړتیا لرو.

8 ) د کرنې مسلکي کېدل د عصري کېدلو شرط دی.

9 ) زموږ عمده وړاندیزونه د یوه بدیل قوي مارکېټ په برخه کې دي چې د مافیایي بازار ځای ونیسي. پر دې علاوه، د قانون حاکمیت، او په امنیتي ځواکونو کې اصولي یا بنیادي اصلاحاتو ته ضرورت لري.

د دې ترڅنګ معتادین په یوه ملي غمیزه بدل شوي. د دې غمیزې حل یوه پراخ ملي پروګرام ته، چې پر نړۍ والو امکاناتو ولاړ وي، اړتیا لري. ځکه چې معالجوي روغتیا په دې برخه کې یوه خصوصي څانګه ده او هر اړخیزه څېړنه، او خاصې د حل لارې غواړي. زموږ ژمنه دا ده چې د یوه کال په چوکاټ کې یو خاص پلان جوړ کړو.

که د نېښ په موسم کې افغان کارګرانو ته بین المللي کار برابر کړای شو، نو د مافیا له تر ټولو لویې کمزورتیا، یعنې بشري قوې څخه به کار واخیستلای شو.

دغه راز باید د اساسي قانون د مواو، د اعتیاد د صحي عواقبو، او اخلاقي او دیني اضرارو په اړه کافي دیني پوهاوي ته کار وکړو. په دې برخه کې د علماوو له نقش څخه ګټه واخیستل شي.

د نشیه یي توکیو تولید یو شاقه کار دي، خو بې مهارته کارګرو ته دا شاقه کار هم د منلو وړ دی، ځکه چې اجوره یې د نورو په پرتله زیاته ده. نو اصلي خبره، په بشري قوې کې ده. په هره کچه چې د بشري قوې د مهارتونو کچه لوړه شي، د هېواد اقتصاد ته مرسته او د مخدره توکیو په مخنیوي کې مؤثریت درلودلای شي.

یو برقي د ورځې شل ډالره موندلای شي، او دې ته اړتیا نه لري چې نېښ ته لاړ شي.

نهم: هنر

موږ په ټولنه کې ټول پر دې موافق دي چې زموږ کلتور تر برید لاندې دی. ملي هنر د ملي وحدت او ملي حاکمیت مهمه برخه ده. ځکه انسان خپل انځور د هنر په ژبه وړاندې کوي، او تکراروي. له بله اړخه، هر هنر په خپل ذات کې یو لوی صنعت دی چې پراخې کاري زمینې رانغاړي. هره ورځ،د موسیقۍ، سندرو، فلمونو او نورو د پېرودلو لپاره زرګونه افغانان په ملیونونو افغانۍ تأدیه کوي.

د هنر ټولې څانګې لکه خطاطي، انځورګري، نقاشي، موسیقي، حکاکي، شعر، تیاتر او سینما د یوه نظام د پیاوړتیا، ملي یووالي، ثبات، او سولې او سوکالۍ، اروایي روغتیا، او د مدني اخلاقو د ترویج لپاره اړین دي، او په دې برخه کې ارزښتمنه ونډه اخیستلای شي.

د هنرونو د پراختیا لپاره زموږ عمومي ژمنې دا دي:

- د هنر په برخه کې له ټولو بنسټونو سره د ناستې پر بنسټ یوه عمومي او ملي ستراتیجي رامنځته کول؛
- د افغانستان د ملي اکاډومي په چوکاټ کې د هنرونو ځانګړې اکاډومي رامنځته کول؛
- له رسنیو سره د خصوصي سکتور او دولت په ګډه د هنر د ودې په برخه کې همغږي رامنځته کول؛
- د ښوونځیو او پوهنځیو په نصاب باندې په ګډه غور کول، چې ملي هنر ته د ودې او روزنې لپاره لاره هواره کړي؛
- د تمامیتونو او نړۍ والو امکاناتو د همغږي رامنځته کول.

**لسم: سپورت**

افغانستان تر دې مه په نسبتاً لږې پانګونې د سپورت په برخه کې لویې ملي، سیمه ییزې، او نړیوالې لاسته راوړنې لرلي.

نن زموږ د کرکټ او فوټبال ملي ټیمونه د نړۍ له لویو سیالو ټیمونو څخه دي، او په ملي کچه د خلکو احساسات هم په ښارونو، او هم په کلیو کې دا څرګندوي چې خلک په خپلو ملي ټیمونو باندې ویاړي. همدا رنګه، په فردي سپورتونو، لکه تیکواندو، جودو، کاراته، بوکسینګ، کیک بوکسینګ او نورو کې افغان ځوانانو غښتلې ځېرې نړۍ ته وړاندې کړې دي. د کوچنیانو او ځوانانو له نظره اوس زموږ ملي لوبغاړي هغه شخصیتونه دي چې ماشوم او ځوان غواړي د دوی کردار تکرار او لکه د دوی په څېر، مثبت شهرت وګټي.

نړیوالې تجربې ثابته کړې چې په سپورت باندې پانګونه ډېر هراړخیز مثبت تأثیرات لري. هرڅومره چې په ښوونځیو او پوهنتونونو کې ځوانان په سپورت بوختېږي، په هماغې کچه له نښه یي توکیو او نورو ناوړه عادتونو څان لرې ساتي. همدا رنګه، هغه سپورت مینان د ژوند په نورو مراحلو کې د خپلې روغتیا خیال ساتي، او دا د ډېرو ناروغیو د مخنیوي مؤثره لاره ده. همدارنګه، سپورت د ملي ځواکونو د تیارۍ لپاره یو لوی عنصر دی، او د یوه رضاکار اردو او پولیسي ځواک په روزنه او سمبالولو کې مهم کردار ترسره کوي.

سپورت له یوې خوا نظم او ډسپلین دی، او له بلې خو د ډله ییز کار همغږي تثبیتوي. هرڅومره چې د سپورت په ډګر کې د همغږۍ او ډسپلین کلتور ټینګ شي، په هماغې اندازه، وروسته، د ژوند په نورو چارو کې دا ډسپلین او همغږي ځای نیسي. د سپورت بله ښېګڼه په اقتصادي ډګر کې ده. څکه چې ولسونه هم په مستقیم ډول، او هم د رسنیو له لارې سپورت ته خاصه علاقمندي ښیي، نو د سپورت ټیمونه په اقتصادي بنسټونو او شرکتونو بدل شوي دي، او لوبغاړي د نړۍ ډېر بډایه وګړي جوړوي. زموږ په هېواد کې چې ځوانانو ته د اعتیاد ګواښ متوجه دی، او خلک د خشونت د رویې ښکار دي، سپورت د ذهنیتونو او رویو په بدلولو کې اغېزناک دی.

د دې ښېګڼو او شته لاسته راوړنو په پام کې نیولو سره، زموږ ژمنې لاندې دي:

لومړۍ ژمنه مو دا ده چې د هرې لوبې، په تېره د کرکټ او فوټبال ملي بورډونو لپاره باید د پانګې او مرستې را جلبولو یو بنسټ رامنځته شي. په دې اړه به د پانګونې د هڅولو او تشویق لپاره په مالي قانون کې د برخه اخیستونکیو سوداګرو په ګټه تغییرات راوستل شي. په لنډمهال کې، د دې ټیمونو زېربنایي

مشکلات، د لومړۍ درجې مربیانو جذبول، او د دولت د بودیجې له لارې د لوبغاړو لپاره مساعد شرایط برابرول زموږ لومړیتوب دی. دغه راز، به د دې بورډونو د هر اړخیز او اغېزناک مدیریت لپاره لنډمهال، اوږدمهال، او اوږدمهال پلان جوړ کړو، او د متقاعدو لوبغاړو لپاره به کاري زمینې برابرې کړو.

دویم، د اولمپیک کمېټې هر اړخیزه ارزونه او څېړنه وشي، او یو هلته یو مسلکي، او باوري مدیریت، له لنډمهالي، منځمهالي او اوږدمهالي پلان سره ځای پر ځای شي، او د امکاناتو د مدیریت لپاره بهترین اشخاص استخدام، او په راتلونکي کې نور اشخاص وروزل شي. د ملي اولمپیک کمېټې، او بین المللي اولمپیک بنسټونو سره اړیکې ټینګې شي.

دریم، په نورو سپورتي برخو کې د ملي ټیمونو تشکیلولو، روزنې او تقویې لپاره به هم د اولمپیک کمېټې، او هم د ځانګړیو ټیمونو د تشکیلولو او تقویې له لارې پانګونه کېږي.

د پوهنې وزارت او د لوړو زده کړو د وزارت له لارې به هم په مکاتبو او پوهنتونونو له لارې، کار وکړو، او هم به د اولمپیک کمېټې او دې وزارتونو ترمنځ همغږي رامنځته کړو. په کلیو کې به د ملي پیوستون د منابعو یوه برخه د سپورت لپاره ځانګړې شي. دا چې موږ ژمنه کړې ځلوېښت فیصده عادي بودیجه به ولایتونو ته مستقیماً انتقالوو، د سپورت د تقویې لپاره به دوه ګامه واخیستل شي:

- هر ولایت به هم د ښاروالي او هم د ولسوالۍ په کچه د سپورت بودیجه وټاکي، او خپره کړي.
- د والیانو، ښاروالانو، او ولسوالانو په کلنۍ ارزونه کې د سپورت پرمختګ به د دوی د کاري اغېزمندۍ یو معیار، او د ارزونې یو شاخص به وي.
- د اولمپک پر سپورتونو سربېره، به موږ بزکشۍ، سانګه (نېزه بازي) او د آسونو نورې لوبو د تقویې لپاره به د ولایتي او خصوصي ټیمونو ترمنځ د سیالۍ زمینه برابروو، د دوی لوبې به د رسنیو له لارې خپروو، او د سیالۍ د پرمختګ لپاره به جایزې وټاکو.
- د بزکشۍ او آس ځغاستو په برخه کې به له آسیايي او خلیجي هېوادونو سره ګډ ټورنامنټونه دایر کړو.
- سپورت د زېربناء جوړولو لپاره به ښاروالي ګانې او نورې مؤسسې دوه ډوله اقدامات ترسره کوي:

- په ټولو ښارونو کې به دولتي ځمکې د لومړيتوب پر اساس، د سپورت د ميدانونو جوړولو لپاره ځانګړې شي.
- د دولتي او خصوصي ښوونځيو ودانيو د جوړولو لپاره به معيارونه کېښودل شي. يو معيار به دا وي چې سپورت ته ځانګړی ځای ولهمري. دغه راز، د شاوخوا سيمو اوسېدونکيو ته د نيږدې دولتي ودانيو له سپورتي امکاناتو د ګټه اخيستلو اجازه ورکړل شي.

**یوولسم: د داخلي بېځایه شویو په اړه**

داخلي بې ځایه شوي زموږ د شخړو قربانیان دي. که څه هم دقیقه، احصائیه نشته، خو اټکل کېږي چې د دوی شمېر شاوخوا ۱،۵ ملیونه وګړیو ته رسېږي. دوی له خپلو کلیو او ښارونو بې ځایه شوي، او اکثراً، په نورو ولایتونو او مرکز کې په بدو شرایطو کې ژوند کوي. یواځې د جنوب د بې ځایه شویو یو غټ شمېر، له تېرو اتو نهو کلونو را هیسې په کابل کې ژوند کوي او د ژوند له ډېرو بنسټیزو اسانتیاوو، لکه د څښاک له اوبو محروم دي.

تر هغو چې، موږ د داخلي بې ځایه شویو لپاره یوه پایداره حللاره ونلرو، سوله، ثبات او سوکالي نشي ترلاسه کېدای. د دې غمیزې د حل لپاره زموږ ژمنې دا دي:

موږ به په شپږو میاشتو کې د ټولو بې ځایه شویو یوه منسجمه احصائیه چمتو کړو. په دې احصائیه کې باید د بې ځایه شویو دقیق شرایط؛ لکه عمر، جنسیت، اصلي ټاټوبی، فعلي موقعیت، او د همدوی له نظره د دوی د بې ځایه کېدلو عمده لاملونه ثبت شي.

د بې ځایه شویو په اصلي ټاټوبیو کې، یوه دوهمه دقیقه احصائیه چمتو کول چې معلومه کړي د دوی هستوګنځې او جایدادونه د چا تر تصاحب لاندې، او په کوم حالت کې دي.

هم د بې ځایه شویو په اوسني موقعیت، هم د دوی په اصلي موقعیت، او هم په هغو سیمو کې چې دولت ډېرې ځمکې لري، د بې ځایه شویو د ځای په ځای کولو لپاره دولتي جایدادونه او امکانات په دقیقه توګه وسنجول شي.

د دې دریو احصائیو پر اساس به د یوه خاص زماني چوکاټ په دننه کې یو مشخص او عملي  پلان جوړ شي، چې د دې پلان پر اساس به بېځایه شویو ته دوه انتخابه ورکړای شو:

بې ځایه شوي په اوسني موقعیت کې مېشت شي، او خدمات ورته برابر شي؛

بې ځایه شوي بیرته خپل اصلي ځای ته، خو د نویو پروژو له لارې ولېږدول شي.

پر دې سربېره، بې ځایه شویو ته باید په ټولو کرنیز پروژو کې، چې د دولتي ځمکو خړوبولو لپاره پلې کېږي، د کار او ځمکې د ترلاسه کولو د حق لومړیتوب ورکړل شي. تر هغو چې بې ځایه شوي د یوې دوامدارې پروسې له لارې بیامېشتېږي، د هغوی لپاره په فعلي ځایونو کې خدمات، په ځانګړې توګه، د ژوند ابتدائي شرایط، د ماشومانو تعلیم، روغتیایي خدمات او نور برابر کړل شي. پر دې سربېره دولت د

بې ځايه شويو ځوانانو د مسلکي زده کړې لپاره تدابير ونيسي تر څو وکړای شي هم په اوسنيو شرايطو کې، او هم په راتلونکې کې آبرومندانه او باعزته ژوند وکړي.

له نړۍ سره زموږ د نظام ثبات زموږ د اړیکو له نظام او نظم سره تړلی دی.

د افغانستان کورنی سیاست، په ځانګړي ډول په تېرو څلوېښتو کلونو کې له بهرني سیاست څخه ډېراغېزمن و. زموږ د ژوند مختلف اړخونه د پخواني شوروي اتحاد له موجودیت، بیا د سیمې او نړۍ د قدرتونو د سیالۍ او په وروستیو دیارلسو کلونو کې د امریکا او ناټو له مستقیم حضور سره تړلي وو.

له دې کبله ډېرکم لیدل کېږي، چې د یوه هېواد ټولنیزې، اقتصادي، فرهنګي او سیاسي اړیکې په هېواد کې دننه په دومره پراختیا سره له نړۍ والو مناسباتو سره تړلې وي. د ۲۰۱۴ له پیل او په ځانګړي ډول د نوي حکومت له رامنځته کېدو سره زموږ هېواد له نړۍ سره د یوې نوې اړیکې پړاو ته داخلېږي. په دې پړاو کې باید زموږ بهرنی سیاست د یوه مستقل او ملي حاکمیت لرونکي هېواد په توګه زموږ ملي، سیمه ییزو او نړۍ والو ګټو ته په پام له سره تعریف او تنظیم شي. د دې لپاره، چې زموږ د هېواد بهرنی سیاست د نړۍ والو دیپلوماتیکو معیارونو مطابق له دقیقو او اصولي برخو څخه سرچینه واخلي، د هغو ټولو هېوادونو په اړه چې موږ سره لا پراخې او تلپاتې اړیکې غواړي، ځانګړې شعبې جوړو. په دې شعبو کې به مسلکي کارپوهان او هغه کسان پردندو وګومارل شي چې د دغو هېوادونو په اړه بنه پوهېږي.

د دغو شعبود پیاوړتیا لپاره به لومړی د ملګرو هېوادونو لېوالتیا او مرستو ته په کتو سره خپلوځوانو کدرونو ته د مسلکي زده کړو بورسونه برابروو، څو دا کدرونه د یوه منظم او هدفمند پروګرام په چوکاټ کې وکړی شي د هېوادونو د تاریخ، فرهنګ، سیاسي نظام، اقتصاد او ټولنیز حالت په اړه لازم معلومات ترلاسه او په دې ډول زموږ د بهرنیو چارو وزارت مېزونه د دغو هېوادونو په اړه بډایه شي.

د هېواد د ثبات او سوکالۍ د مرستندوی بهرني سیاست د انسجام او بنه مدیریت لپاره اړتیا ده، څو د سیمې او نړۍ په کچه د خپلو اړیکو پنځه حلقې مشخصې او د هرې یوې لپاره ځانګړې طرحې او هراړخیزاقدامات ولرو، دا پنځه کړۍ عبارت دي له:

**لومړۍ کړۍ:ګاونډي هېوادونه**

زموږ د شپږو ګاونډیو هېوادونو له ډلې پنځه یې د اسلامي هېوادونو د حلقې اړوند دي.

له دې پنځو هېوادونو سره نه یوازې مشترک دین لرو؛ بلکې ځانګړې جغرافیایي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ځانګړنې مو هم شته دي. تر ټولو مهمه داچې د هېواد ثبات مو له هردغه هېواد سره په زنځیري بڼه اړیکه لري او له دې هېوادونو څخه په هریوه کې بې ثباتي زموږ ثبات ته هم ګوانښ دی، هماغسې

چې زموږ په هېواد کې بې ثباتي دوی ته خطردی. له دې کبله دغو هېوادونو سره د ثبات په برخه کې ښه ونډه لرونکي او شریک یوو، هماغسې چې د بې ثباتۍ او نا امنۍ تاوان په ګډه ګالو. دا عمومي لیدلوری په سیمه ییزو همکاریو کې زموږ د پالیسۍ بنسټ جوړوي.

زموږ هراړخیزه هڅه به دا وي، چې په لومړي قدم کې له خپلو ټولو ګاونډیو هېوادونو سره د سیمه ییز ثبات، امنیت او اقتصادي پراختیا په اړه د همکاریوه تړون ته ورسېږو.

د هردولت لخوا د بل دولت د مشروعیت منل به د سیمه ییزو همکاریو د دغه تړون بنسټ جوړوي او دولتونه به یو د بل حقونه او وجایب د سیمه ییز ثبات او سوکالۍ د معیارونو له مخې په جدي ډول رعایتوي. هېڅ دولت به د خپل ګاونډي دولت په چارو کې د مداخلې حق ونه لري او ټولې دوه اړخیزې ستونزې به د سیاسي مذاکرو او دولتونو ترمنځ د همکارۍ له لارې حلېږي. له ګاونډیو هېوادونو سره ټینګې او هراړخیزې اړیکې په لومړي قدم کې د دولتونو په کچه پیلېږي. د دې اړیکې له مخې په دواړو لوریو کې د همکارۍ او ملګرۍ حس پیاوړی کېږي او په پراخه ولسي او اقتصادي همکارۍ بدلېږي.

د اسیایي هېوادونو په حلقه کې به د خپل لوی ګاونډي چین پر ونډه بحث وکړو. په دې برخه کې زموږ تمرکز منځنۍ اسیا پرجمهوریتونو یانې تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، له شمال ختیځ څخه ترشمال لویدیزه پورې او له سویله ترختیزه پورې به پرایران او پاکستان وي. له دغو پنځو هېوادونو سره اړیکه موږ ته حیاتي ارزښت لري او زموږ حکومت له هردغه هېواد سره د اړیکو په برخه کې لاندې ټکي په مشخص ډول په پام کې نیسي.

**۱-تاجکستان**

تاجکستان زموږ لومړنی ګاونډی هېواد دی، چې ژوند، مناسبات او فرهنګ مو ورسره په حیاتي ډول اړیکې لري. پرآمو سیند د پلونو جوړول د دې ښودنه کوي، چې سیمه ییزې همکارۍ کولای شي د زیاتو اسانتیاوو سبب شي. د دغو پلونو له جوړېدو سره د سیند دواړو غاړو ته هغه برخې، چې سره بېلې وې، نن په منظم ډول یو بل ته رسېږي، هره اونۍ د همکارۍ بازارونه جوړوي، چې یو ځل په افغانستان او بل ځل په تاجکستان کې وي.

په خدماتي برخه کې هم دواړه لوري همکاري لري، له تاجکستان سره زموږ د همکارۍ بېلګه له ټولو سرحدونو څخه د ازادو سرحدونو مفکورې ته د اوښتو ښه بېلګه ده، په دې مانا چې منسجمه همکاري په ډېرو ستونزمنو جغرافیايي برخو کې هم د خلکو د ژوند ښه کولوسبب کېدای شي.

بله مهمه موضوع د برېښنا په تولید کې د افغانستان او تاجکستان د ګډ ظرفیت لرل دي.

د آمو او پنج سیندونه د برېښنا د تولید لوی ظرفیت لري، چې تراوسه همداسې پټ پاتې دي، هغه پروژې چې شوروي اتحاد په پام کې لرلې، په بشپړ ډول نه دي تطبیق شوې او تر اوسه پورې د برېښنا د تولید او وېش لپاره د سیمه ییزو همکاریو سیستم نه دی رامنځته شوی.

زموږ طرحه دا ده، چې افغانستان تاجکستان، پاکستان، چین اوهندوستان دې د برېښنا د تولید لپاره ګډه پانګونه وکړي، په مشترک ډول دې د برېښنا د تولید سهم لرونکي وي او بیا دې د برېښنا د وېش په سیستم کې د سیمه ییزې همکارۍ د پروژې په بڼه برخه واخلي.

د دې موخې لپاره ضرور ده، چې د برېښنايي انرژۍ د تبادلې په اړه پریوه سراسري نظام هوکړې ته ورسېږو. د تاجکستان د برېښنا صادرولو ستونزه له موسمي اغېزو څخه سرچینه اخلي، یانې په ځینو موسمونو کې د بریښنا صادرولو وړتیا لري او په ځینو نورو کې خپله دا هېواد برېښنا ته اړتیا لري.

دا ستونزه د نړۍ په زیاتو برخو کې شته، خو هلته د سیمه ییزو همکاریو د شبکو له لارې حل شوې ده.

پردې سربېره دا ډول سیمه ییزه همکاري زمینه مساعدوي، چې د نورو ستونزو د حل لپاره هم په ګډه او همکارۍ سره هراړخیزعمل وکړو. د آمو سیند درې واړه ګاونډي هېوادونه یانې تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان د آموپه سواحلو کې مشترکې ګټې او اندېښنې لري.

په تېرو دوو لسیزو کې دا سواحل ترډېره د افغانستان خوا ته په پراخ ډول تخریب شوي او دا کار زموږ د زرګونه هېوادوالو د بې کوره کېدو سبب شوی. په دې برخه کې اړتیا لرو، چې د دغو سواحلو د نړېدو په مخنیوي کې له یو بل سره په ګډه اقدام وکړو.

همدا شان اړتیا ده، چې د آمو سیند له اوبو څخه د استفادې لپاره څلور واړه هېوادونه یوه بنسټیز تړون ته ورسېږو، چې د دغه تړون په مرسته له اوبو څخه د سیمه ییزو همکاریو په چوکاټ کې عادلانه ګټه واخیستل شي.

البته د برېښنا د تولید مسله له اوبو څخه جلا ده، ځکه د لویو شبکو په وسیله د برېښنا د تولید سیستم د دې لامل کېږي، چې اوبه د ټولو لخوا په مشترک ډول وکارول شي، په داسې حال کې چې دا استفاده د اوبو د ضایع کېدو سبب نه ګرځي.

خو په کرنیزو او ورته برخو کې له اوبو څخه استفاده د اوبو د ضایع کولو سبب هم ګرځي، په دې برخه کې ناچاره یوو، چې جلاتړون او هوکړه لیک ولرو، څو نړۍ والو موازینو ته په کتو په عادلانه ډول دا کار شوی وي.

له دې کبله په اوسني وضعيت کې زموږ ټينګار د لومړني ګام په توګه ترډېره د بريښنا پرتوليدي نظام دی، که داسې وشي له آمو سيند څخه د لسګونه زره ميګاواټه برېښنا ظرفيت به د پراخو سيمه ييزو همکاريو سبب شي.

په دې پروژه کې نه يوازې د منځنۍ اسيا هېوادونه؛بلکې کېدای شي د سويلي اسيا هغه او ايران هم شريک شي. له تاجکستان سره زموږ په همکارۍ کې بله اشتراکي مسله پاميرده. دلته د پامير لوړې نقطې چې دواړه هېوادونه يې د ور رسېدلو څخه محروم دي.

همدا راز د پاکستان په چترال او ګلګيت کې زموږ هم جواره نقطې د پامير له لارې ورته اشتراکات لري.

په نورو برخو کې مو توضيح ورکړه، چې جغرافيه د محروميت يوه عمده برخه وه او موږ د جغرافيايي محروميت پروړاندې د مقابلې لپاره مشخصې طرحې لرو، چې د پامير لوړې نقطې هم پکې شاملېږي.

د دې ټکي درک مهم دی، چې په ټولنه کې د محروميت ختمول پرمثبتو سياسي او ټولنيزو اغېزو سربېره مثبتې اقتصادي اغېزې هم لري، په همدې دليل په دې برخه کې پانګونه د ټولنې د اقتصادي پراختيا په برخه کې هم پانګونه ده.

د پامير لوړو سيمو وضعيت ته رسيدګي په دري واړو ګاونډيو هېوادونو کې له سيمه ييزې همکارۍ پرته شونې نه ده.

پر همدې دليل د دغو سيمو د وضعې ښه کولو او ټولو ګاونډيانو له امکاناتو څخه د استفادې لپاره به ځانګړې پروګرام برابر او عملي کړو، چې د هرهېواد د کارپوهانو نظر به پکې شامل وي او د پراختيايي پروژو د تطبيق اسانه لارې به ښودل شوې وي.

له تاجکستان سره زموږ فرهنګي ميراث دري او پاميري ژبه ده، په دې برخه کې سربېره پردې، چې د دري فرهنګ د پراختيا لپاره د افغانستان او تاجکستان د مشترکې پديدې په حيث هراړخيزه پاملرنه او همکاري ولرو، ورسره به د پاميري ژبې پياوړتيا او له بډايې زېرمې څخه يې استفاده به هم خپله وجيبه ګڼو او د اساسي قانون مطابق عمل ورسره کوو.

### ۲-ازبکستان

ازبکستان زموږ دويم ګاونډی هېواد دی، چې د تاجکستان څنګ ته پروت او په سيمه ييزو همکاريو کې زموږ له مهمو د پام وړ نقطو څخه دی.

د ازبکستان د رېل ګاډي شبکه موږ له اوکراين، روسيې او اروپا سره نښلوي.

لومړنۍ رېل پټلي چې زموږ په هېواد کې بشپړه شوې، د حیرتان او مزارشریف ترمنځ ده.

د صادراتو او وارداتو له پلوه له ازبکستان سره زموږ اړیکه او همکاري تراروپا پورې غځېږي، چې دا زموږ په اقتصادي پروګرامونو کې حیاتي ونډه لري.

همدا اړیکه بلې خوا ته تر پاکستان او هند پورې رسېږي، چې کولای شي په سیمه ییزه کچه د اړیکو لا پراخه شبکه رامنځته کړي.

د ازبکستان لخوا چې په ترانزیتي برخه کې هرډول اسانتیاوې موږ ته رامنځته شي، د افغانستان د خلکو د سوکالۍ سبب به شي.

په ورته وخت کې موږ پروګرام لرو، چې د ریل پټلۍ شبکه مو له منځنۍ اسیا او ایران سره هم وصل شي، څو د ازبکستان خلک ګټه ترې واخلي.

د ازبکستان د دولت یوه لویه طرحه د سیمه ییزو همکاریو د پراختیا په برخه کې سیمه ییز بازار ته د دغه هېواد د برېښنا لېږدول دي، دا طرحه یوازې په همکارۍ سره عملي کېدای شي.

ازبکستان اوس افغانستان ته له لویو برېښنا صادرونکو څخه دی، د دې هېواد د همکاري له امله کابل ښار او هغه ولایتونه چې د دې شبکې په لاره کې پراته دي، د برېښنا له رڼا څخه برخمن شوي دي.

سیمه ییزه همکاري په لومړي قدم کې د بریښنا انرژۍ د تولید او استفادې په یوه سیمه ییز بازار جوړولو کې وینو، پاکستان او هند د بریښنا انرژۍ د اړتیا لپاره نامشبوع شوي بازارونه دي.

موږ له ازبکستان سره په همکارۍ کې نه یوازې موجوده برېښنا مرکزي او جنوبي آسیا ته پراخوو؛بلکې پرآمو سیندبه، چې زموږ ګډه پوله جوړوي، له ازبکستان سره د مشترکې برېښنا په تولید کې هراړخیزه همکاري وکړو.

ازبکستان په ساختماني برخه کې لوی ظرفیت لري، د شوروي اتحاد پرمهال د دغه اتحاد په ټولو غړو هېوادونو کې د سړک جوړونې برخه د ازبکستان له تخصصي برخو څخه حسابېده.

ترکندهاره د هرات سړک هم ازبک انجینرانو جوړ کړ، له دې کبله موږچمتوو یوو، چې له ازبکستان سره مشترک سړک جوړونکي شرکتونه جوړ کړو، څو له تخنیکي پوهې او وړتیاوو څخه یې په مشترکو پروژو کې ګټه واخلو.

ازبکستان همدا شان په سیمه او نړۍ کې د پنبې له لویو تولیدونکو هېوادونو څخه دی، په دې برخه کې موږ کولای شو، چې دوه ډوله همکاري ولرو.

لومړی به د هېواد په شمالي او شمال ختیزو ولایتونو کې د پنبې د تولید د فرهنګ په پیاوړي کولو کې د ازبکستان له تجربو څخه ګټه واخلو.

همداشان په هلمند، فراه او نیمزو ولایتونو کې چې شرایط مناسب دي، دا پروژې عملي کوو.

پاکستان د پنبې د یوه لوی واردونکي هېواد په توګه هرکال تردوه میلونه ټنو زیاته پنبه واردوي، زموږ پروګرام دا دی، چې په دې برخه کې به هڅه کوو، څو د یوې پراخې او اغېزناکې اړیکې زمینه برابره شي.

کومې برخې مو چې د بېلګو په ډول یاد کړې، یوازې د همکارۍ د رامنځته کولو لپاره زموږ د ظرفیتونو ځینې برخې وې.

په دې اړه له هوکړو او رامنځته شوې فضا سره به په نورو برخو کې هم طرحې او مشخص اقدامات ولرو، چې د دواړو لورو په خوښه به وي او دواړه لوري به پرې ګډه پانګونه کوي.

افغان سوداګر په ازبکستان کې فعال دي، ازبک سوداګر هم کولای شي په افغانستان کې فعال شي.

دواړه دولتونه به هڅه کوي، چې د سوداګرو ترمنځ د همکارۍ زمینه برابره کړي.

په ورته وخت کې ازبکي ژبه چې زموږ دربیمه ژبه ده، له ازبکستان سره زموږ مشترکه فرهنګي وجه جوړوي.

د اساسي قانون حکم ته په پاملرنې سره به د افغانستان د ټول ژبو د پراختیا لپاره کار کوو، له هغې ډلې څخه به په ازبکي ژبه هم چې زموږ میلیونونه وطنوال پرې غږېږي، د ازبکستان په مرسته پانګونه کوو او د افغانستان د ترک تبارو د فرهنګ د پیاوړتیا او معرفۍ لپاره به ګټه ترې اخلو.

په دې برخه کې موږ په تاریخي کچه د امیرعلي شیرنوایي، ګوهرشاد او بابرشاه په شان شخصیتونه لرل.

### ۳- ترکمنستان

ترکمنستان په تېرو دیارلسو کلونو کې زموږ له لویو اقتصادي شریکانو څخه و او زموږ هېواد ته یې د نفتي، خوراکي او ساختماني موادو په صادرولو کې بنسټیزه ونډه لرلې ده.

د اړیکو په برخه کې د یوې بنسټیزې زېربنا لپاره د ترکمنستان د هراړخیزې پانګونې په پایله کې افغانان او نړیوال همکاران یې د کسپین سواحلو سره په زنځیري ډول وصل شوي دي.

له آذربایجان څخه زموږ د نفتي موادو واردول یو ژوندی مثال دی، په نورو برخو کې له همدې لارې څخه له قزاقستان، اوکراین او روسیې سره په اړیکه او همکاری کې یوو.

له ترکیې سره زموږ اړیکې هم د کسپین ارتباطي شبکې له لارې ترسره شوي.

له دې کبله په لومړي قدم کې، زموږ لومړنی هدف له ترکمنستان سره د ترانزیتي سوداګری پراختیا او له دې لارې د کسپین له پراخې ساحې سره دی.

دا اقتصادي طرحه نه یوازې د نړۍ والو قیمتونو پروړاندې زموږ د اقتصادي وضعې د بیمې سبب کېږي؛بلکې په یو شمېرولایتونو لکه بادغیس، هرات او فاریاب کې هم د پرمختګ زمینه برابروي.

زموږ دویم هدف د بندرونو پراختیا او پردغو بندرونو پانګونه ده، زموږ د هېواد د ریل پټلۍ شبکه د ترکمنستان له لوري له تورغونډۍ سره وصل شوې ده، هماغسې چې د ریل پټلۍ شبکه مو له حیرتان څخه مزار ته رسیدلې، له هرات څخه تورغونډۍ او اسلام قلعه ته د دغې شبکې د نښلولو هڅه هم کوو، څکه دا شبکه نیمګړې پاتې ده.

دا طرحه به هم په سیمه کې پراخې اړیکې رامنځته کړي.

آقینه اوس موږ ته په یوه مهم بندر بدل شوی، البته د دغه بندر تاسیسات د سوداګریزې همکارۍ د پراختیا ځواب ویونکي نه دي، موږ په پام کې لرو، چې په بادغیس کې یو مهم بندر جوړ کړو، ترڅو د هراړخیزې پراختیا زمینه مساعده شي.

موږ له ترکمنستان څخه د برېښنا واردونکي یوو، دا شبکه له هراته پیل شوې، خو نورو سیمو ته یې د غځولو اړتیا او امکان موجود دی.

هماغسې موچې له تاجکستان او ازبکستان سره د همکاریو په برخه کې توضیح ورکړه، د برېښنایي نظام د تبادلې او پراختیا لپاره به د سیمې په کچه جدي او بنسټیزاقدامات وکړو.

په راتلونکي کې له ترکمنستان سره زموږ د همکاریو د پراختیا یوه مهمه برخه د ترکمنستان او پاکستان ترمنځ د افغانستان له لارې د پایپ لاینونو د شبکې جوړول او وروسته یې هند ته پراخول دي.

دا پروژې د سیمې د اقتصادي پرمختګ؛په ځانګړې ډول د افغانستان لپاره له حیاتي پروژو څخه دي.

په شبرغان کې د ګازو د یوې پام وړ برخې کشف په ځانګړي ډول موږ ته د دې امکان راکوي، چې د ټاکلو او دقیقو طرحو له عملي کولو سره دا شبکه ورځ تربلې لا اقتصادي او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د هراړخیزو همکاریوزمینه پراخه کړو.

په فرهنګي برخه کې ترکمني د افغانستان یوه مهمه ژبه ده، لکه له ازبکستان سره چې د ازبکي او تاجکستان او ایران سره د دري ژبې له کبله اړیکې موږ ته ارزښت لري، داسې له ترکمنستان سره هم د ترکمني ژبې لپاره د ګډ کار پراخې برنامې جوړو.

دوه نورې موضوع ګانېچې د ترکمنستان په اړه ارزښت لري، زموږ د صادراتو پراختیا په ځانګړي ډول د مرمر ډبرو او ساختماني توکیو په برخه کې دي.

ترکمنستان د زېربناوو په جوړولو کې یوه لویه پانګونه کوي، ښوساختماني توکیو ته د دې هېواد اړتیا به زموږ د محصولاتو د خرڅلاو لپاره ښه وي، همدا شان ترکمنستان زموږ د زراعتي او مالداري پیداوارو لپاره ښه مارکېټ کېدای شي.

د منځنۍ اسیا له درې جمهوریتونو او قزاقستان سره زموږ یوه بله مشترکه نقطه اس ځغلونه، وزلوبه او اس پالنه ده، چې په سیمه ییزو او نړۍ والو ورزشونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.

دا برخه هم فرهنګي او هم اقتصادي اړخونه لري، زموږ حکومت به د دغو برخو د استفادې لپاره دقیق او منسجم پروګرامونه ولري او د تطبیق لپاره به یې له هغو ټولو هېوادونو سره چې یادونه مو وکړه، تعامل او ګډه پانګونه وکړي.

د آس ځغلونې او وزلوبې تورنمنټ او سیالۍ د سیمه ییزو او عربي هېوادونو او په نړیواله کچه د همکاریو لویه وسیله برابروي.

زموږ په سیمه کې اس لرل، څو زره کلنه ریښه لري او د حماسي فرهنګ یوه برخه مو حسابېږي.

د دې فرهنګ په فورم او محتوا کې کېدای شي له لږو اصلاحاتو سره هغه عصري او په سیمه ییزه او نړیواله کچه د هراړخیزو همکاریو په ګټه وکاروو.

د مرکزي اسیا له هېوادونو سره د همکارۍ په پایله کې ویلای شو، چې له دغو هېوادونو سره په بنسټیزو همکاریو کې هېڅ ستونزه موجوده نه ده.

یوازینۍ موضوع، چې له حقوقي پلوه پرې نتیجې ته رسېږو، د آمو سیند د اوبو وېش دی.

دا موافقه کولای شو، د عدالت د اصل، نړۍ والو نورمونو او قواعدو او د چاپېریال له خوندیتوب سره عملي کړو.

په لومړي قدم کې د انرژۍ تولید او د ترانزیت اسانتیا برابرول زموږ له حیاتي ګټو څخه حسابېږي، په دې برخه کې به د سیمه ییزو پروژو د طرحې او تطبیق لپاره له خپلو ټولو ظرفیتونو څخه استفاده کوو.

موږ باید پرهغو اصولو موافقې ته ورسېږو، چې وکړی شو په یوه دوامداره باثباته فضا کې ژوند وکړو.

له ټولو اسیایي جمهوریتونو سره به زموږ مشخص تعهد دا وي، چې د افغانستان خاوره به هیڅکله د هغوی د ګټو خلاف نه کارول کېږي.

په ورته وخت کې ډاډه یووچې دا هېوادونه به هم پخپله خاوره کې د افغانستان د بې ثباتۍ لپاره د هڅو اجازه نه ورکوي.

**۴-ایران**

ایران زموږ مهم ګاونډی دی، چې هم له فرهنګي او هم له تاریخي پلوه ورسره پراخې اړیکې لرو.

په اوسنیو شرایطو کې په سیمه ییزه کچه دا هېواد زموږ یو مهم شریک دی او په راتلونکي کې به دا ونډه پراخه شي.

خلیج ته زموږ د صادراتو لار ایران دی. په تېرو کلونو کې زموږ د مېوه جاتو د صادراتو په برخه کې ستونزې وې، ځکه زموږ سوداګرو او ټرانسپورټرانو ته د ایران معیارونه واضح نه ول. هر څومره چې د افغانستان د کرنې او مالدارۍ صادرات زیات شي، په هماغې اندازه به د مخدره توکیو کښت ته بدیلونه پیدا شي، نو نړیوال مارکیټ ته د افغانستان د پیداوار لاره پیدا کول د افغانستان او ایران؛ دواړو په ګټه ده. په دې برخه کې به موږ د ایران له دولت سره په یو لړ بنسټیزو اصولو وغږېږو.

د افغانستان د ترانزیت د سهولت د روښانه معیارونو وضع کولو لپاره، چې افغان صادروونکي او ایراني چارواکي پرې په ګډه پوه شي، په یو لړ اصولو موافقه پکار ده.

د اختلافاتو د حل لپاره یوه مشترک کمیسیون ته اړتیا ده، چې هم په ملي کچه وي او هم د صادراتو د موسم له مخې وکړای شي چټک او شفاف تصامیم ونیسي او د باور فضاء رامنځته کړي.

د افغان او ایراني ترانسپورتي او صادراتي شرکتونو په منځ کې د مشارکت زمینه برابرول چې منطقوي اقتصادي همغږۍ چټکه شي. له ایران سره زموږ د اړیکو له مثبتو او خوشبینوونکو ټکو څخه یو دا دی،

چې له دې هېواد سره پخپلو پولو او سرحدي کرښو کې هېڅ ستونزه نه لرو. زموږ سرحدونه د موافقې وړ او د نړۍ والو سرحدونو په توګه منل شوي، په دې برخه کې هېڅ کومه منازعه نه ده موجوده. په ورته وخت کې د تېرې دیارلس کلنې حکومتولۍ یو مثبت میراث د ایران له اسلامي جمهوریت سره د ښو اړیکو ساتل او پراخول دي. له دې کبله د افغانستان دولت خپلو ملي ګټو ته په کتو له ایران سره ښې اړیکې د خپلو لومړیتوبونو په سرکې راوستي او د دې اړیکو ساتنه او پراختیا به د افغانستان د ملي سیاستونو له بنسټیزو اصولو څخه وي.

له اقتصادي پلوه ایران د افغانستان دویمه ترانزیتي سرچینه ده، عباس بندرموږ ته له حیاتي ارزښته برخمن او د فارس خلیج له لارې له نړۍ سره موږ ته اړیکې ارزښتناکې دي. په همدې دلیل یوه هغه پروژه چې زموږ او سیمې په اړیکو کې حیاتي ارزښت لري، د چابهار پروژه او د یوه بندر ایجادول دي، چې د هراړخیزو عصري تاسیساتو لرونکی او د ایران د موجوده بندرونو هومره ګڼه ګوڼه ونه لري. له دې کبله به زموږ دولت هڅه کوي، چې د ایران د دولت له رامنځته کړو ګټورو اسانتیاوو څخه په استفادې سره د دواړو دولتونو او متشبثینو ترمنځ د مشترکو تاسیساتو پر رامنځته کولو پراخه پانګونه وکړي.

د دې پروژې دویمه برخه د لویو لارو پراخول په ځانګړي ډول د ریل پټلۍ رامنځته کول دي. په دې پروژه کې د هند دولت هم زموږ همکار او شریک دی.

موږ به دا درې اړخیزه همکاري له هره پلوه پراخوو او د پیاوړتیا هڅه به یې وکړو. د بېلا، بېلو بندرونو له لارې د ایران او افغانستان د سوداګرۍ پراخول به زموږ د مختلفو ولایتونو د پراختیا سبب شي. دا پروژې په ځانګړي ډول د هرات، نېمروز، فراه او هلمند د پرمختګ لپاره حیاتي ونډه لري.

له ایران سره زموږ د همکارۍ درېیمه پروژه د قاچاقو مخنیوی دی، چې د دواړو دولتونو ګټو ته تاوان اړوي.

د قاچاقو د مخنیوي لپاره زموږ یوه مشخصه طرحه دا ده، چې ځینې مشخصې نقطې په رسمي بندرونو بدلېدو ته په نښه کړو.

دا نقطې اوس په ناقانونه ډول د ګټې اخیستې وړګرځي، د سرحد د دواړو غاړو په همکارۍ به ښه زېربنایي امکانات برابر کړو، څو د همکارۍ د پراختیا ترڅنګ د دغو سیمو د پرمختګ زمینه هم برابره کړو.

زموږ د همکارۍ څلورمه پروژه د نیشه یي توکیو له کښت، تولید، استفادې او قاچاق سره مبارزه ده.

ایران هغه هېواد دی، چې له نشه یي توکو څخه یې ډېره صدمه لیدلې او ډېره پانګه یې له نشه یي توکو سره په مبارزه کې مصرفېږي.

په روغتیا او امنیت کې د ایران کلنۍ پانګونه هم میلیاردونو ډالرو ته رسېږي، له دې کبله له دوی سره ډېرې مشترکې نقطې لرو.

په افغانستان کې د اعتیاد فرهنګ مخ په پراختیا دی، اټکل کېږي چې په افغانستان کې تر یو میلون ډېر روږدي کسان لرو، د روږدو کسانو درملنه او هم د اعتیاد د مخنیوي فرهنګ رامنځته کول له ایران سره زموږ ګډه پروژه ده، چې د ایران په هراړخیزه او جدي همکارۍ به یې مخته وړو.

پردې سربېره ایران په سیمه کې د خوراکي توکو یو لوی واردونکی هېواد دی، د کوکنارو  او نشه یي توکو د بدیل کښت لپاره د افغانستان او ایران هراړخیزې همکارۍ د دواړو لورو مشترکې ګټې خوندي کوي.

د کوکنارو د بدیل په توګه پردودیزو خوراکي کښتونو تکیه سم بدیل نه شي کېدای، پکار ده چې له نوې ټیکنالوژۍ او عصري علمي اصولو څخه هراړخیزه استفاده وشي، دا استفاده خورا ارزښت لري.

له دې کبله زموږ لخوا پر صادراتي او د ایران لخوا پر وارداتي پالیسیو په جدي ډول غور کوو، څو نه یوازې د دواړو لورو لنډمهالې او اوږد مهالې ګټې په پام کې ونیول شي؛بلکې د سیمې په کچه لويې منځ مهالې او اوږدمهالې ګټې هم د پام وړ وګرځي، تر څو د څو ټاکلو او معلومو پروګرامونو په ترځ کې د دواړو هېوادونو د همکارۍ زمینې پراخې او له مشترکو ظرفیتونو څخه په اصولي ډول ګټه واخیستل شي.

خلیج او منځنۍ اسیا ته ترانزیت موږ او ایران دواړو ته ارزښت لري، ځکه د دواړو هېوادونو د اقتصادي پرمختګ او د نشه یي توکو د کښت، تولید او قاچاق د کمزوري کېدو سبب کېدای شي.

زموږ د همکارۍ د پروژې پنځمه برخه په کورني نظام کې پلان جوړونه ده. ایران په دې برخه کې یو له ډېرو بریالیو تجربو څخه دی، چې په نړیواله کچه لاسته راوړنې یې پخپل نوم کړې. هغه کارچې امریکا په ۱۰۰ او هند په ۴۰کلونو کې د کورنیو د کنټرول او تنظیم په برخه کې کړی، ایران په لسو کلونو کې کړی او نن په دې هېواد کې د نفوس وده تریوې سلنې کمه ده. موږ چې د نفوس وده مو سرسامونکې او د جدي اندېښنې وړ ده، د ایران تجربې ته پاملرنه راته حیاتي ارزښت لري.

د شویو وړاندوینو مطابق زموږ د هېواد نفوس په ۳۰ کلونو کې دوه برابره کېږي. د ایران تجربه او د دې هېواد د علماوو او مدني ټولنې ونډه د کورنۍ د تنظیم په پلان جوړونه کې د یوه منل شوي نړیوال او پراسلامي احکامو د ولاړ اصل په توګه کولای شي زموږ په هېواد کې هم په جدي ډول ګټور تمام شي. په دې برخه کې موږ د ایران هراړخیزه همکاري جلبولای شو.

د همکارۍ د پروژې شپږمه برخه په ایران کې د مېشتو او فعالیت کوونکو افغان متشبثینو د را ستنولو لپاره په افغانستان کې د زمینې برابرول دي. د ثبات له ټینګولو او د ښه ژوند د زمینې برابرولو سره کولای

شو د همکارۍ یوه داسې روښانه او شفاف تړون ته ورسېږو، چې په مختلفو برخو کې د مشترکو پانګونو زمینه برابره او پراخه کړي، په دې برخه کې د یو بل له تجربو څخه سمه او موثره استفاده کولی شو.

د همکارۍ د پروژې اوومه برخه په ایران کې د څه باندې دوه میلونه افغان کډوالو وضعیت ته پاملرنه ده. د ایران د کار بازار د هغه مقناطیس په شان دی، چې غریب افغانان په چټکۍ سره ځانته جذبوي، زموږ د دولت هدف د هغو مناسبو زمینو رامنځته کول دي، چې وکړی شي کډوال په مطمین او باعزته ډول پخپل هېواد کې جذب کړي. د شته ستونزو له درک سره په دې برخه کې به زموږ طرحې د اصولي پروسې مطابق او په تدریجي ډول عملي کېږي. زموږ یو لومړنی اقدام به دا وي، چې د خپلې نمایندګۍ دفترونه په ځانګړي ډول د ایران په اسلامي جمهوریت کې خپلې قونسلي چارې په جدي او بنسټیز ډول د پاملرنې وړ او کفایت او اغېزناکتوب یې د کډوالو په برخه کې لوړ کړو. د کډوالو د را ستنولولپاره د افغانستان په اوسني اقتصادي بازارکې د کارګرانو موجود ظرفیت ته په کتو سره د نړۍ والو منشورونو او کنوانسیونونومعیارونو ته به جدي توجه ولرو. په ایران کې د افغان کډوالو د عزت له تامین پرته د دواړو هېوادونو مناسبات له خطرسره مخ کېږي، ځکه زموږ ټولنه د بلې هرې ټولنې په شان د خپلو کډوالو خوښۍ او خپګان د خپلې خوښۍ او خپګان یوه برخه ګڼي او حساس چلند ورسره کوي. هرډول چلند چې پکې د نړۍ والو کنوانسیونو لخوا د کډوالو مشروع او منل شوي حقونه نقض کېږي، د دواړو غاړو پرمناسباتو به منفي اغېزپرېباسي.

د همکارۍ د پروژې اتمه برخه په ایران کې افغان کډوالو ته زموږ پاملرنه ده، په ایران کې زموږ د کډوالو حضور او ونډه ډېره ارزښتناکه مسله ده. د ایراني متخصصینو څېړنو ښودلې ده، چې د ایران په ساختماني او نورو کاري برخو کې بوخت افغان کډوال د ایران په ناخالصو ملي عوایدو کې ونډه لري. مهمه خبره دا ده، چې افغان کډوال هغه کارونه ترسره کوي، چې ایراني کارګران یې نه شي ترسره کولای. له دې سره په ایران کې ځینې خاصې کړۍ شته، چې د افغان کارګرو د کار پروړاندې حساسیت رامنځته کوي او وایي دې کارګرانو د ایراني هغو کاري فرصتونه محدود کړي دي.

موږ په دې برخه کې روښانه او شفافو هوکړو ته اړتیا لرو، چې له مخې یې د دواړو غاړو متقابلې اړتیاوې د خصوصي سکتور په همغږۍ او د دواړو دولتونو د مدیریت او همکارۍ په کچه په نظرکې ونیول شي، څو وکړی شو د قاچاقو مخنیوی وکړو او هرڅه د تفاهم له لارې مخته یوسو.

د همکارۍ د پروژې نهمه برخه په فرهنګي او ژبنیو برخو کې ده. فارسي ژبه زموږ مشترک فرهنګي ارزښت دی، دواړه هېوادونه له یو بل سره تړلی ملي غني فرهنګ لري. موږ د ایران د فرهنګ درناوی کوو، په عین حال کې تمه لرو چې ایران هم زموږ ملي فرهنګ ته درناوی ولري. موږ به پخپل دولت کې

داسې تدابير رامنځته کړو، چې د ايران له اسلامي جمهوريت سره په همکارۍ د ژبنيو او ورسره اړوندو ښوونيزو، روزنيزو، فرهنګي او تاريخي برخو کې د پياوړتيا مشخص پروګرامونه ترلاس لاندې ونيسي. موږ د ايران نظام مشروع ګڼو او تمه لرو، چې زموږ نظام هم د ايران د اسلامي جمهوريت لخوا لکه څنګه چې تراوسه مشروع ګڼل شوی، په راتلونکي کې هم مشروع وګڼل شي او د منل شويو نړۍ والو نورمونو مطابق له يو بل سره اړيکې ولرو. زموږ اړيکې او مناسبات يوازې د متقابل درناوي پربنسټ د دوو ملي واکمنيو لرونکو دولتونو له ادرسه پراختيا موندلای شي. له دې کبله دواړه دولتونه بايد ژمن وي، چې د خپلو اړيکو په برخه کې به هيڅ هغه اقدام ته اجازه نه ورکوي، چې د يو بل د ملي ګټو او ملي واکمنۍ خلاف وي.

له امريکا سره زموږ په امنيتي تړون کې په واضح ډول ويل شوي، چې د افغانستان له خاورې د کوم ګاونډي هېواد د بې ثباتۍ لپاره هيڅ ډول استفادې ته اجازه نه ورکول کېږي. هماغسې چې په تېرو څو لسيزو کې ايران له هغو هېوادونو سره چې افغانستان ورسره تودې اړيکې نه لرلې، نږدې مناسبات لرل، همداسې زموږ د بهرني سياست درېيمه حلقه چې له امريکا او اروپا څخه عبارت ده، دا به د دې لامل نه شي، چې له ايران سره اړيکې او مشترکې ګټې مو له خطر سره مخامخ شي. هردولت د خپلې ملي واکمنۍ د ساتنې او سوکالۍ لپاره بايد حق ولري، خپل مناسبات له هغې حوزې سره تنظيم کړي، چې ګټې او ملي واکمني يې تقاضا کوي. يوازينی شرط دا دی، چې دا ډول مناسبات د ګاونډي هېواد د بې ثباتۍ او بې امنيتۍ سبب نه شي.

موږ ډاډمن يوو، چې د ملي واکمنۍ په برخه کې له شته لاسته راوړنو سره به خپل مستقل سياست له ايران سره مخته وړو او په کومو برخو کې مو چې ګټې سره ټکرکې وي، که په لنډ مهال کې د دې ټکر د حل لپاره پايلې ته ونه رسېږو، هيله من يوو، چې د منځ مهالې او اوږد مهالې همکارۍ په ترڅ کې د ښو اړيکو له غځولو سره پرې پايلې ته ورسېږو.

### ۵-پاکستان

پاکستان زموږ ګاونډی هېواد ديچې د جهاد پرمهال يې زموږ زرګونه کډوالو ته پناه ورکړه او د جهاد په برياليتوب کې يې اساسي ونډه لرله. همدا شان ميلونونه وګړي له پولې اخوا خپلې شجرې له افغانستان سره تړي او پخپل افغانيت وياړي، موږ له پاکستان سره هم د ايرن په شان له فرهنګي پلوه ژور علايق لرو، اوس هم تردرې ميليونو ډېرافغان کډوال په پاکستان کې اوسېږي. د نړۍ د نورو برخو د کډوالو د ترخو تجربو خلاف په پاکستان او ايران کې افغان کډوال هيڅکله په اغزنو کمپونو کې محاصره او فعاليتونه او حرکتونه يې محدود نه شول. د افغانانو او پاکستانيانوترمنځ فردي مناسبات هم ښه وو، په ورته وخت کې پاکستان له اقتصادي پلوه اقيانوس او هند براعظم ته زموږ د رسېدو غوره لاره ده. په

مساعدو سیاسي شرایطو کې ډیلي له کابل څخه اته ساعته واټن لري او په ډېرې چټکۍ سره د افغانستان، پاکستان او هند ترمنځ د درې اړخیزو اقتصادي همکاریو پراختیایي امکانات موجود دي.

له دې سره د پاکستان او افغانستان سیاسي مناسبات په مختلفو تاریخي دورو کې ځینې لوړې ژورې لرلې. دافغانستان تاریخي سابقه د مستقل دولت له لرلو سره ترپاکستان سلګونه کاله مشره ده. پاکستان د یوه نوي جوړشوي هېواد په توګه ترپنځوسو کلونو لږ ډېرعمر لري. د یوه اسلامي جمهوریت په توګه د پاکستان سیاسي موجودیت د هندوستان براعظم د وېشل کېدو نتیجه ده. دا پېښه خورا په وینو لړلې وه، چې میلونونو کسانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

دا پېښه په پاکستان کې د یوه بې اعتماده سیاسي فرهنګ د رامنځته کېدو سبب هم شوه. پاکستان پرهند سربېره له افغانستان څخه هم تل په وېره کې پاتې شوی دی. د جهاد په کلونو کې د پاکستان پوځي حکومت کوونکو فکر کاوه، چې د افغانستان د جهاد واحده رهبري یې په ګټه نه ده. هغوی د افغانانو له ملت پالونکي احساس څخه وېره لرله، د دې په پایله کې یې د مجاهدینو ګڼ سازمانونه چې خپلو کې همکار او رقیبان وو، رامنځته او پراخ کړل. د مجاهدینو ډلې بریالۍ نه شوې، چې د یوې واحدې رهبرۍ او حکومت په جوړولوچې د جهاد ویاړونه پیاوړي او وساتي هوکړې ته ورسېږي. کله چې روښانه شوه، روسان افغانستان پرېږدي، یوشمېرپاکستاني امنیتي متفکرینو تصور وکړ، چې په افغانستان کې یو کمزوری دولت کولای شي د پاکستان ګټې خوندي کړي. دوی افغانستان په سیمه کې د پاکستان د سیاست ستراتیژیک عمق باله. دا لیدلوری نوی نه و، ځکه بریتانوي هند هم هندوکش ته د خپل ستراتیژیک سرحد په سترګه کتل او لارد کرزن چې د ۱۹مې پېړۍ په پای کې د هند بریتانوي نایب السطنه و، درې سرحدونه سره بېل کړي وو:

اداري سرحد چې ورته نیږدې سیمې پکې راتلې، سیاسي سرحد چې له ډیورنډ کرښې وروسته رامنځته شو او ستراتیژیک سرحد چې هندوکش یې د تزاري روس د احتمالي بریدونو پر وړاندې د اتکا د یوې نقطې په توګه کاراوه.

د دې فرضیې په تعقیب د پاکستان لاسوهنه د افغانستان د خلکو لخوا یوه منفي لاسوهنه ګڼل شوې او د دواړو دولتونو په مناسباتو کې د بې اعتبارۍ سبب شوې ده.

د بن پروسې او په ځانګړي ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت له پیل څخه وروسته پاکستان د افغانستان وسله والو مخالفینو ته پټنځی ورکړ، دا پټنځي د افغانستان د دولت او خلکو پروړاندې د پاکستان د مسلسلو فشارونو یوه وسیله وه. د دغه سیاست رامنځته کول که له یوې خوا د افغانستان دولت او ملت له لویو ستونزو سره مخ کړ، له بلې خوا یې پاکستان هم د یوه خطرناک ناورین ګرداب ته

یووړ. طالبان چې د پاکستان لخوا د افغانستان د دولت او ملت د کمزوري کولو لپاره د فشار د یوې وسیلې په توګه د استفادې وړ وګرځېد، په پاکستان کې دننه یې هم په پراخ ډول اغېزې وکړې. پاکستاني طالبان اونورې افراطي کړۍ، چې په دغه هېواد کې رامنځته شوې، د القاعدې په مرسته یې د اسلام له سپېڅلي دین څخه د افراطیت او نړۍ سره د دښمنۍ د فرهنګ لپاره ګټه واخیسته.

پاکستاني سیاستوال چې په لومړي ځل یې د یوه منتخب حکومت د ماموریت له بشپړېدو سره د واک واګې په لاس کې ونیولې او قدرت په سوله ییزډول ولېږدول شو، دې پایلې ته رسېدلي، چې افراطیت او نادولتي وسله وال سازمانونه د پاکستان خپلو ګټو او ثبات ته په یوه خطربدل شوي دي. که دا نتیجه ګیري واقعیت ولري، هغه زمینه برابره شوې، چې په ریښتیا وکړی شو د سیمه ییزې همکارۍ پر چوکاټ په جدي ډول فکر وکړو.

دا باید روښانه شیچې په افغانستان کې بې ثباتي له شک پرته د پاکستان د بې ثباتۍ سبب کېږي، هماغسې چې په پاکستان کې بې ثباتي زموږ د ژوند پرمختلفو اړخونو منفي اغېزې لري. له دې کبله د سیمه ییزې همکارۍ د نظام پرجوړولو له هوکړې پرته بله چاره نه لرو. چې دا ډول نظام د دوه اړخیزې همکارۍ په نتیجه کې رامنځته کېدی شي.

دا چې دیموکراتیک سیاسي نظامونه یو له بل سره په ټکر کې نشي پاتې کیدی، نو د دې اړتیا محسوسیږي چې د ترورزم او افراطیت د ګډ خطر په مقابل کې مشترکه مبارزه وشي. او له دې لارې، په ځانګړې توګه، په قبایلي سیمو کې عادي ژوند ته د راستنېدا او پراختیایي پروګرامونه پلي، او دولتي حاکمیت ټینګ شي او په دې سیمو کې د تروریستانو ټولنیز پناه ځایونه محوه او ددواړو هیوادونو ثبات او هوساینه تأمین شي.

د دې ګډ هدف له درک سره غواړو چې د اروپا او په ځانګړي ډول د المان او فرانسې د بریالۍ تجربې له مخې له پاکستان سره خپلې اړیکې او مناسبات داسې تامین کړو، چې د دواړو دولتونو د اعتبار سبب وي او د منازعې وړقضیې د دوامدارو مذاکرو له لارې حل و فصل شي.

په داسې حال کې چې په پاکستان کې ځانګړې کړۍ لا هم د افغانستان د بې ثباتۍ لپاره د قوې د کارولو په فکرکې وي، دا ټکی باید روښانه وي، چې افغانستان په هره بیه له خپلو ګټو او ملي واکمنۍ څخه دفاع کوي.

زموږ لومړنی انتخاب همکاري ده، په همکارۍ کې د سیمې د سوکالي او د اسلامي ارزښتونوتامین تضمین دی. هردولت د خپلو ګټو له ساتنې سره کولای شي، چې په اسلامي نړۍ کې د همکارۍ بېلګه وي.

زموږ بنسټیزهدف په منځ مهالې بڼه د افغانستان او پاکستان د دولتونو ترمنځ د ځانګړو اړیکو رامنځته کول دي، داسې اړیکې لکه فرانسې او جرمني چې په پنځوسمه او شپیتمه لسیزو کې لرلې.

**د ډیورنډ کرښه**

زموږ په سیاست کې بنسټیزتکی له ټولو سیمه ییزو هېوادونو او په ځانګړي ډول له پاکستان سره د داسې فضا رامنځته کول دي، چې د ستراتیژیکې همکارۍ له لارې وکړی شو، د سیمې فضا له ناندریو او بې ثباتیو څخه وژغورو او پرځای یې امنیت او سوکالي د همکارۍ له لارې حاکم کړو.

له دې کبله ډیورنډ کرښه، چې دواړو هېوادونو ته د استعمارمیراث دی، موږ ته کاري لومړیتوب حسابېږي، ځکه دا کرښه یوه تړلې پوله نه ده او د ۲۱مې پېړۍ شرایطو او امکاناتو ته په کتو سره هیڅکله په داسې پولې بدلېدی نه شي.

د ډیورنډ کرښې د برخلیک په اړه وروستۍ پرېکړه په افغانستان کې د ملي اجماع او د کرښې دواړو غاړو ته د مېشتو خلکو له رضایت سره تړلې ده. دې هدف ته د رسېدو لپاره لاندې مشخصو طرحو ته اړتیا لرو.

۱-د کرښې دواړو غاړو ته خلک هراړخیزې ژورې اړیکې لري. د رسمي کرښو او سرحدونو له لارې څوک دا اړیکې له منځه نه شي وړلی.

۲-هغو خلکوچې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته ژوند کړی دی، دا کرښه یې د خپل بېلتون د یوه اصل په توګه نه ده منلې. له دې کرښې څخه سلګونه تنه هره ورځ تګراتګ کوي.

د اروپا د ۲۱مې پېړۍ بریالۍ تجربې ښودلې ده، چې پرانیستي سرحدونه ترټولو هغو ډېراغېزناکتوب او ګټه لري، له دې کبله د ازادۍ اصل باید د کرښې د دواړو غاړو خلکو لپاره یو منل شوی اصل وي.

۳-د نړۍ یو شمېرترټولو محروم خلک د کرښې دواړو غاړو ته ژوند کوي. هغه معیاري خدمتونه چې یو دولت یې خپلو خلکو ته برابروي، په دې سیمه کې نشته. له دې پلوه لویې پروژې ضرور دي، څو دا خلک د سوکالۍ او ثبات خوا ته لاړشي.

۴-په تېره یوه لسیزه کې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د دودیزو او کلتوري مشرانو د له منځه وړلو خطرناکه طرحه روانه وه. سلګونه ځوانان، مخور او علما په ځانګړي ډول د کرښې هغې غاړې ته چې پاکستان پورې اړوند دی، ووژل شول او دا ګواښ د کرښې دې غاړې ته هم مشهورې څېرې تهدیدوي.

د دغه خطرختمول او د خوندي چاپېریال رامنځته کول د پاکستان او افغانستان د دولتونو هراړخیزې همکارۍ ته اړتیا لري. په دې برخه کې مسله نه یوازې دوو هېوادونو پورې تړلې؛بلکې د القاعدې وجود د یوه نړیوال ګواښ په توګه هم مطرح ده. تردې چې سعودي عربستان او نور اسلامي هېوادونه هم ګواښي.

له دې کبله هراړخیزه همغږي کولای شي، چې له دغه ګواښ سره مبارزه د سیمه ییزو همکاریو د پراختیا په یوه لوی فرصت بدل کړي.

**پښتو ژبه؛ د دوو ملتونو نښلوونکې وسیله**

پښتو ژبه د افغانستان او پاکستان د پام وړ برخې خلکو ترمنځ د اړیکو یوه لویه فرهنګي وسیله ده. دا ژبه نه یوازې په بلوچستان او خیبرپښتونخوا کې د سیاست او فرهنګ لویه ژبه ده؛بلکې په کراچۍ ښارکې چې د پاکستان یو لوی ښار دی، د پام وړ پښتانه ژوند، کار او سوداګري کوي.

په تېرو دیارلسو کلونو کې پښتو ژبه ډېرمهم پرمختګونه لري او د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د مجازي فضا په رامنځته کېدو سره یې د پام وړ پراختیا موندلې ده.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د مناسباتو ښه کېدل او د دواړو لورو د همکارۍ فضا رامنځته کېدل به د دغې مهمې سیمه ییزې ژبې د پراختیا سبب شي او د دواړو لورو فرهنګي راکړې ورکړې سره به د پام وړ مرسته وکړي.

**د سیمه ییزو منازعاتو حل:**

هغه موضوعات، چې له مختلفو لیدلورو څخه متنازع دي، غواړو د سیمه ییزو همکاریو په چوکاټ کې په سم ډول حل شي.

که له ایران او پاکستان سره خپل منازعات جمع بندي کړو، د یوه لوی ظرفیت ترکشفولو پورې رسېږو. هغه دا چې زرګونه افغانان د دواړو هېوادونو په علمي او فرهنګي بنسټونو کې روزل شوي دي.

له دې کبله د ښې سیمه ییزې همکارۍ د زمینه سازۍ لپاره د ایران پېژندنې او پاکستان پېژندنې د برخو جوړول زموږ له لویو پروګرامونو څخه دي. موږ تراوسه له دغه ظرفیت څخه بنسټیزه ګټه نه ده اخیستې.

همدا شان ځانګړې برخې به د مختلفو براعظمونو د هېوادونو د هراړخیزې او دقیقې پېژندنې لپاره جوړې، چې د ټولنې پرسلګونه نخبه ګانو سربېره ډېرو کدرونو ته پکې د کارزمینه مساعده شي.

دوی به د هغو هېوادونو په همکارۍ، چې د تاریخ او فرهنګ په اړه یې د مطالعې او شناخت لېواله یوو، څېړنې او مطالعې کوي. دوی ته به د زده کړو بورسونه هم مساعدو.

دا کدرونه به مو له خپلو څېړنو او مطالعاتو سره زموږ د هېواد سیاسي فرهنګ هم بډای کړي.

ځوان نسل مو، چې په دې هېوادونو کې یې زده کړې کړي د دغو شعبو په فعالولو کې لویه پانګه ګڼل کېږي، ځکه دوی نه یوازې له یادو شویو هېوادونو سره شناخت پیدا کړی؛ بلکې له ډېرو خلکو سره یې په پراخه کچه ملګرتوب او اړیکې هم پیدا شوي دي.

موږ له دغو کدرونو څخه د افغانستان د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو سرچینو په توګه د سیمه ییزو همکاریو د پراختیا لپاره ګټه اخلو.

د سیمې وضعیت له اقتصادي او امنیتي پلوه ښیي، چې سیمه ییزه همکاري نه یوازې د اقتصادي ګټې اخیستو لپاره یو ګټور شرط دی؛بلکې د پایښت یو ضروري اصل هم دی.

د هغو بدلونونو له مخې چې په نننۍ نړۍ کې رامنځته شوي، هیڅ هېواد نه شي کولای د اوسپنیزو سرحدونو په منځ کې ژوند وکړي یا د سرحد په نوم د دنګو دېوالو او کلکو اوسپنیزو کلاګانو په منځ کې ځان خوندي وساتي.

له دې کبله یوازینی څه چې عمومي ثبات او خوندیتوب تامینوي، هغه سیاسي لیدلوري ته رسېدل دي، چې له مخې یې سیمه ییزه همکاري یو منل شوی بنسټیزاصل وي او په چوکاټ کې یې ټولې هغه ستونزې، چې غړو هېوادونو ته مهمې دي، مشترکې حل لارې پیدا کړي.

تر ټولو مهمه دا چې لاسته ورتلونکي فرصتونه په واقعیت بدل کړي.

له دې پلوه زموږ وړاندیز دا دی، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې په یوه سیمه ییزتړون موافقې ته ورسېږو، چې پکې د ثبات، امنیت، ترانزیت، فرهنګ، انرژۍ، طبیعي پېښو سره مبارزه او اقتصادي همکارۍ شاملې وي.

په دې برخه کې زموږ مشخص وړاندیزونه دا دي:

۱-هردولت د ګاونډي هېواد ملي واکمنۍ او نظام ته درناوی ولري او تعهد وکړي، چې له خاورې او امکاناتو څخه به يې د هغه د ملي واکمنۍ، د نظام د ارزښتونو، امنيت او ثبات خلاف هېڅ ډول منفي استفاده نه کېږي.

سيمه ييزې همکاري په ۲۱مه پېړۍ کې د ملي واکمنۍ يو مهم بنسټ جوړوي، له ۱٦مې تر ۲۰ مې پېړۍ پورې د ملي واکمنۍ مانا دا وه، چې هردولت يوه جزيره ده او هرڅه چې په دغه جزيره کې تېرېږي، له نورو دولتونو سره کوم تړاو نه لري.

هغه مهال واکمني هم د يوه حکومت په ساحه کې پرخلکو د بشپړ تسلط په مانا وه. هغو ګواښونو چې په هغو پېړيو کې دولتونه ګواښل، د ۲۱مې پېړۍ له ګواښونو سره توپيرلري. د خپلو خلکو پروړاندې د هغو دولتونو دندې هم محدودې وې، له دې کبله هرمطلق العنان واکمن کولای شول، چې په اسانۍ سره پخپله خوښه يو مطلق دولت جوړ کړي.

مګر کوم ګواښونه چې په ۲۱مه پېړۍ کې شته، له پاسپورته د باندې ګواښونه دي.

دا ګواښونه پولې نه پېژني او نه ورته په ارزښت قايل دي. همدا شان دا ګواښونه تردولتونو پورې نه محدودېږي؛بلکې لويې پراخې شبکې د‌پردولتونه د ۲۱مې پېړۍ د زنځيري ټيکنالوژۍ په مرسته ګواښي او د بشري ټولنې ژوند او امنيت ځپلای شي.

دا شبکې په چټکۍ سره عمل کوي او کولای شي په لږ لګښت سره د ډېرو روحي، امنيتي او اقتصادي ستونزو سبب شي.

د حکومتولۍ بهيرونه په ځانګړي ډول په امنيتي برخه کې ګران بيه دي او ډېروخت نيسي. د حکومتولۍ د بهيرونو پروړاندې د موجودو ګواښونو ځواب يوازې د سيمه ييزو همکاريو له لارې ممکن دی.

د دې همکاريو اصل او لومړنۍ د پام وړ ټکی ثبات وي. د ثبات د تامين لپاره په لومړي ګام کې سيمه ييز ثبات ته د رسيدو، مشترکو ګټو او هدفونو لپاره ګډ ليدلوری ضرور دی.

کله چې د سيمې دولت داران دې پايلې ته ورسېږي، چې سيمه ييز ثبات د ملي واکمنۍ د ټينګښت وسيله ده او په ګاونډېيو هېوادونو کې ثبات د دوی په هېواد کې د ثبات يوه اساسي اړتيا ده، دا د دولت دارانو د ليدلوري بدلېدل ښيي.

دا ليدلوری همکاري د زور، توطيې او فشار پرځای د ګټو په خوندي کوونکي انتخاب بدلوي.

۲-د سیمه ییز امنیت د ساتنې لپاره د قوې مشروع کارونه هم باید د سیمې د هېوادونو ترمنځ د یوه روښانه تړون له مخې ترسره شي. په دې حالت کې د سیمې هیڅ هېواد یا خلک دا فکر او اندېښنه نه شي لرلی، چې ګواکې ګاونډې هېواد د دوی د اقتدار، ملي واکمنۍ یا ملي ګټو د کمزوري کولو په تکل کې دی.

د امنیتي قوتونو ترمنځ همکاري کولای شي، چې افراطیت ځنډې ته او ګواښونه را کم کړي.

۳- د فقر او محرومیت له عواملو سره بنسټیزه مبارزه په کار ده، ځکه په ډېرو مواردو کې دا ستونزه د قوې د کارونې او ترېوښتنې لاندې د نظامونو د راتلو سبب کېږي. دا عوامل باید د سیمه ییزو هېوادونو ترجدي پاملرنې لاندې راشي. یانې سیمه ییز هېوادونه د فقر او محرومیت له عواملو سره د داسې ستونزې په توګه چلند وکړي، چې د یوه یا څو هېوادونو ترپولې پورې محدوده نه ده او پرټولو برخو منفي اغېزې کوي.

په دې برخه کې مثبته او جدي همکاري د سیمې د هېوادونو ترمنځ د باور او اعتماد فضا د رامنځته کېدو یو لوی سبب هم کېدای شي.

۴-له طبیعي پېښو سره مبارزه د سیمه ییزو همکاریو یوه بله زمینه ده. په کومه سیمه کې چې موږ ژوند کوو، زلزله او سېلاب عام آفتونه دي.

د کشمیرزلزلې او د پاکستان په مدهش کې سېلابونو وښوده، چې طبیعي پېښې سیاسي سرحدونه نه پېژني.

په چاپېریال کې بدلون د ۲۱مې پېړۍ یو د اندېښنې وړ واقعیت دی. منځنۍ اسیا، سویل ختیزه او سویلي اسیا د چاپېریال او هوا د وضعې له پلوه د لویو بدلونونو په حال کې دي.

له طبیعي پېښو سره د سیمه ییزې مبارزې لپاره د یوه سیستم د جوړولو هڅه، چې پکې د دغو هېوادونو امنیتي ځواکونه په منسجم ډول ورزول شي، د دغې مقابلې لپاره به یو لوی ګام وي. زموږ دولت به دا پلان هم وړاندیز او د عملي کېدو لپاره یې د اړوندو وزارتونو له لارې اقدام وکړي.

۵-ترانزیت د سیمه ییزو همکاریو د زمینه سازۍ یوه بله برخه ده. په سیمه کې د ترانزیت اوسنۍ زېربنا بهترینه زیربنا نه ده. د نړیوال بانک او نورو پرمختیایي بنسټونو شننو ښودلې ده، چې په دې برخه کې ستونزې پخپله زیربنا کې نه؛بلکې د ترانزیت په اړه د همکارۍ په پالیسیو او سیاستونو کې دي.

که موږ د پالیسۍ او لیدلوري اړوندې ستونزې حل کړو، زیربنایي ستونزې ډېرې اسانېدای شي.

له دې پلوه د ترانزیت په اړه زموږ لومړی وړاندیز دا دی، چې دولتونه دې په دې اړه پخپلو پالیسیو کې مساعدې فضا ته کاروکړي.

افغانستان پاکستان او ایران پورې له تړلي یو طرفه وضعیت څخه د اسیا په څلورلارې د بدلېدو په حال کې دی. په همدې دلیل موږ له ټولو هېوادونو سره د مثبتو دوه اړخیزو مناسباتو د لرلو پړاو ته داخلېږو.

په هماغه کچه، چې افغانستان اقیانوس او خلیج ته د لاسرسي لپاره پاکستان او ایران ته اړتیا لري، پاکستان او ایران بیا مرکزي او سویلي اسیا ته د لاسرسي په خاطر افغانستان ته اړتیا لري.

د اروپا او ختیزې اسیا تجربې ښودلې ده، چې ترانزیت د شتمنۍ او مشترک کار لپاره د همکارۍ په رامنځته کولو کې مهم عامل کېدای شي.

له دې کبله موږ نه یوازې د ترانزیت په برخه کې د مناسبو پالیسیو د جوړولو؛بلکې د مختلطو سیمه ییزو شرکتونو د جوړېدو پلوي هم یوو، چې پکې سیمه ییزه پانګونه په ګډه را ټوله او لوی شرکتونه رامنځته کړي.

دوی دې لویې پروژې عملي او په دې ډول ترانزیتي راکړه ورکړه مدیریت او اجرا کړي.

٦-د انرژۍ ستونزه، لکه مخکې چې یادونه وشوه، له سیمه ییزې همکارۍ پرته نه شي حلېدای.

سیمه ییزو بازارونو ته د انرژۍ په تولید او لېږدولو کې یوې لویې ارتباطي شبکې ته اړتیا ده، څو عرضه او تقاضا سره ونښلوي او د انرژۍ د تبادلې یو منسجم نظام رامنځته کړي.

انرژي په نننۍ نړۍ کې یوه مهمه زیربنا حسابېږي، د اقتصادي فعالیتونو او مبادلاتو هیڅ برخه له انرژۍ پرته ممکنه نه وي.

له دې کبله موږ د داسې چاپېریال رامنځته کېدو ته اړتیا لرو، چې پکې زموږ د ژوند ټول اړخونه له شرکتونو څخه نیولې تر بازارونو پورې، له دولتي ادارو څخه تر خصوصي سکتورپورې، له تحصیلي بنسټونو څخه تر مسجدونو او مدرسو پورې د ۲۱مې پېړۍ په ټیکنالوژۍ مجهز وي او د خپلو فعالیتونو د اغېزناکتوب او اسانتیاوو لپاره ګټه ترې واخلي.

۷-فرهنګي مبادلات او همکارۍ د سیمه ییزې همکارۍ یوه مهمه برخه برابروي. مخکې مو وویل چې افغانستان ګڼ شمېر ایران پېژندونکي او پاکستان پېژندونکي لري. زموږ دولت به له دې لویې بشري زېرمې څخه د داسې زمینې په رامنځته کولو کې ګټه اخلي، چې هم مو فرهنګي اړیکې پیاوړې کړي او هم مو په سیمه ییزه اقتصادي برخه او حکومتولۍ کې د سیاست او طرحو جوړولو لپاره ګټور ثابت شي.

۸-سلگونه زرو افغان کډوالو په مختلفو هېوادونو کې د استوګنې پرمهال د دغو هېوادونو په ښوونیز او روزنیز نظام کې زده کړې کړي او نن هم زرګونه افغانان په دغو هېوادونو کې پرزده کړو بوخت دي.

په همدې ډول زموږ سلګونه کدرونه شته، چې په نورو سیمه ییزو هېوادونو کې یې زده کړې کړي او د دغو هېوادونو له تاریخ، فرهنګ، د حکومتولۍ نظام، د ژوند بڼې او ټولو نورو برخو کې له نیږدې څخه اشنایي لري.

دا ظرفیت مو د دوستو هېوادونو د پېژندلو په پیاوړتیا کې د استفادې وړ دی. موږ به پخپل دولت کې له دې ظرفیت څخه د سیمې او نړۍ والو چارو د کارپوهانو په توګه کارواخلو.

زموږ له پوهنتونونو او ښوونځیو سره د منظمو ارتباطي وسیلو له لارې د همکارۍ د شرایطو رامنځته کول د سیمې په کچه زموږ په سیاست اوهمکارۍ کې له بنسټیزو لومړیتوبونو څخه دی.

موږ باید د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو په برخو کې پرسیمه ییزو او نړۍ والو معیارونوموافقه وکړو، څو د تعلیمي مؤسساتو شهادت نامې او سندونه مو یو بل ته د اعتبار وړ وي. د دوی ترمنځ اړیکې په اسانۍ سره رامنځته شي او د ویزې او سفر لازم سیمه ییزې اسانتیاوې رامنځته شي.

دا هرڅه هغه وخت کېدای شي، چې د اطمینان چاپېریال رامنځته شي، څو د افرادو حرکت او لېږد له یوه هېواد څخه بل ته د امنیتي وضعیت د ګډوډېدو سبب نه شي.

**دویمه کړۍ. اسلامي هېوادونه**

د اسلامي هېوادونو کړۍ مهمه کړۍ ده، چې څه په مثبت او څه په منفي ډول زموږ د هېواد په کورنې وضعیت اغېز کوي؛ ځکه چې زموږ لیدلوری، تفکر او ټولې کړنې د اسلام د مبین دین په ارزښتونو او باورونو باندې ولاړې دي او زموږ د ژوند هېڅ یوه داسې برخه نشته، چې اسلامي فرهنګ پرې واکمن نه وي په دې برخه کې لاندې ټکو ته پاملرنه کوو:

**حج او عمره**

حج د اسلام له پنځو بناووڅخه یوه بناء ده، چې هر مسلمان انسان یې د توان په صورت کې په ادا کولو مکلف دی. د دې فریضې د ادا لپاره به زموږ حکومت ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته کړي. موږ به له سعودي عربستان سره خبرې وکړو، چې زموږ د حاجیانو ونډه زیاته کړي او په دې برخه کې زیاتې اسانتیاوې رامنځ ته کړي. موږ به په سعودي عربستان کې په خپل سفارت کې د حاجیانو لپاره د دوامدارو اسانتیاوو لپاره یوځانګړی دفتر پرانیزو او له حاجیانو به هم وغواړو، چې د هرحج په پای کې د

سفارت، اړوندو ادارو او د حج د خدمتونو وړاندې کوونکیو شرکتونو چارې په بشپړه توګه و ارزوي او خپل معلومات او نظریات د افغانستان د اسلامي دولت اړوندو ادارو ته وسپاري، چې پر بنسټ یې د حج د چارو مسؤولین مکافات او مجازات شي.

موږ به د هېواد دننه هم د حج د سهمیې د عادلانه وېش او سمون لپاره ځانګړی دفتر رامنځ ته کړو، تر څو و کولای شو د حج د سهمیو د وېش په اړه د ټولو حاجیانو باور او رضایت تامین کړو. د دې لپاره چې دا دیني فریضه په کفایت، درایت او روڼوالي سرته ورسېږي، موږ به د حج په برخه کې هېڅ ډول اداري فساد ونه زغمو او په دې برخه کې به تر ټولو زیات اداري مجازات او مکافات عملي کړو. د دې لپاره چې د حج مراسم ښه ترسره شي، په دې برخه کې به د ښه نظم او مدیریت لپاره د بریالیو اسلامي هېوادونو له تجربو هم ګټه واخلو.

### دیني علماء

دیني علما د اسلامي امت ستره معنوی پانګه بلل کیږي، خو له دې سره، سره بیاهم له عمده اسلامي مرکزونو سره زموږ د علماوو اړیکې د ډاډ او رضایت وړ نه دي. د اسلامي نړۍ له علماوو او د اسلامي څېړنو له عمده مرکزونو سره به زموږ د علماوو د اړیکو د تامین لپاره په لویه کچه پانګونه وکړو. له اسلامي هېوادونو سره به زموږ د اړیکو یوه لویه برخه د نظریاتو تبادلې او اسلامي زده کړو ته ځانګړې شوې وي. همدارنګه زموږ په تحصیلي موسساتو کې د نړۍ د سترو دیني علماوو جذب زموږ له لومړیتوبونو څخه دی. د اسلامي فرهنګ، معارف او اسلامي تاریخ په برخه کې به منظمو کنفرانسونو ته لاره هواره کړو او اسلام پېژندنه به د یوه مهم فرهنګي اړخ په توګه په خپلوپرمختیایي او پراختیایي پروګرامونو کې په پام کې نیسو.

### په اسلامي هېوادونو کې هېوادوالو ته پاسپورت ورکول

زموږ په سل ګونو زره هېواد وال په اسلامی هېوادونو په ځانګړې توګه په عربي مملکتونو کې ژوند کوي، چې یو زیات شمېر یې افغاني پاسپورت نلري او له همدې لامله یې ژوند ستونزمن دی. زموږ لومړۍ ژمنه دا ده، چې خپلو دې هېوادوالو ته، چې توپیري چلند ورسره شوی، د پاسپورت د ترلاسه کولو زمینه برابره کړو، څو دوی وکولای شي د هغو له ښېګڼوپه کوربه هېوادونو کې ګټه واخلي او هېوادونه هم پوه شي، چې دا افغانان دي او د افغانستان دولت یې له ټولو حقوقو او امتیازاتو استازولي کوي. همدارنګه به د پاسپورت د اعتبار موده لسو کلونو ته اوږده کړو.

## په اسلامي هېوادونوکې کارمون‌دنه

عربي هېوادونه اومالیزیا افغان کارګرو ته ډېره اړتیا لري او له نېکه مرغه افغان کارګران په عربي هېوادونوکې د اعتبار او نیک نوم لرونکي دي او تل د نورو هېوادونو د کارګرانو په پرتله برتري ورکول کیږي. د افغانانو امانت داري او کاري وړتیا په ځانګړې توګه ستایل کیږي. په دې برخه کې به موږ دوه اقدامه وکړو:

۱- د اوسنیو کارګرانو د ستونزو او اړتیاوو رفع کول او د دې کارګرانو، سیاسي نماینده ګیو او سفارت خانو ترمنځ د همکاریو رامنځ ته کول.

۲- دویم د داسې شرکتونو او موسساتو رامنځ ته کول، چې لومړی په افغانستان کې کارګران په مسلکي توګه وروزي او بیا په کوربه هېوادونو کې د دوی فني او مسلکي روزنې ته دوام ورکړي او د دوی لپاره مناسب کاري فرصتونه برابرکړي.

## په اسلامي هېوادونو کې د لوړو زده کړو په برخه کې پانګونه

یو زیات شمېر اسلامي هېوادونو په ځانګړې توګه عربي ممالکو د لوړو زده کړو په برخه کې په پراخ ډول پانګونه کړې. متحده امارات، قطر او سعودي عربستان د دې ډول هېوادونو بېلګې دي، چې نن لوی امریکایي او اروپایي پوهنتونونه غوره بولي، چې خپلې مهمې څېړنیزې برخې د دې هېوادونو له پوهنتونونو سره په همکارۍ او ارتباط کې رامنځ ته کړي. د دې لپاره، چې موږ له دې پانګونې برخمن شو درې اقدامه ترلاس لاندې نیسو:

۱- د افغان ممتازو محصلینو لپاره په دې پوهنتونونوکې د بورسیو اخستل.

۲-د داسې شبکو رامنځ ته کول چې د افغانستان په سراسر کې پوهنتونونه وکولای شي د تکنالوژۍ په وسیله له لرې واټن څخه د نورو هېوادونو له پوهنتونونوسره وصل شي. دا همغږي د امریکایي او اروپایي پوهنتونونو په پرتله د عربي هېوادونو له پوهنتونونو سره په اسانۍ سره امکان لري ، ځکه چې زماني تفاوت له نیم څخه تر یو ساعت پورې دی، چې په ساده ګۍ سره یې مدیریت کېدای شي.

۳- د دې لپاره، چې زموږ محصلین وکولای شي د نورو پوهنتونونو له امکاناتو ګټه واخلي زموږ د پوهنتونونو تعلیمي نصاب په ځانګړې توګه د طبیعي علومو او ریاضیاتو په برخه کې باید د هغو پوهنتونونو له نصاب سره مطابقت ولري، څو زموږ محصلین وکولای شي د خپلو شهادتنامو له امتیازاتو څخه په نورو هېوادونو کې ګټه واخلي.

عربي ژبه نه یوازې زموږ د عدلي او قضایي نظام بنسټ جوړوي بلکې له ادب نه نیولې تر فلسفې او عرفانه پورې زموږ د علومو ټولې برخې په بر کې نیسي. په همدې دلیل د عربي ژبې زده کړه به په اقتصادي، سیاسي او بهرنیو اړیکو او فرهنګ کې زموږ د حکومتدارۍ او پالیسۍ یوه برخه وِي او په خپلو پوهنتونو کې به د عربۍ ژبې زده کړې ته ځانګړې پاملرنه وکړو.

### د کرنیزو محصولاتو په برخه کې پانګونه

نن ډیرې شتمن عربي هېوادونه په ټوله نړۍ کې پانګونه کوي. یو له هغو مواردو چې د نړۍ له اقتصادي بحران وروسته یې د دې هېوادونو په پانګونه کې بدلون راوړ د خوراکي او زراعتي محصولاتو د قیمتونو زیاتوالی و.

په تېرو لسیزو کې عربي هېوادونو د خوراکي توکو په برابرولو کې په ازاد بازار تکیه کوله، دلیل یې دا و چې عربي هېوادونه په ټوله نړۍ کې د غذایي موادو لوی واردوونکي دي. خو په نړۍ کې اقتصادي بحران او د خوارکي موادو په ځانګړې توګه د غنمو د بیو لوړېدل د دې سبب شول، چې عربي هېوادونو د زراعتي محصولاتو او مالدارۍ په برخه کې د پانګونې سیاست ته مخه کړي. دا ډول پانګونه مخ پر ودې هېوادونو کې چې د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د ښو وړتیاوو لرونکي دي په منځ مهاله او اوږد مهاله توګه صورت مومي له دې جهته زموږ یو هدف د زراعت او مالدارۍ په برخه کې د عربي هېوادونو د پانګونې را جذبول دي څو زموږ کرنه میکانیزه او د نړۍ په کچه د کرنې له مودرنو نورمونو سره برابره شي او مالداري هم له عنعنوي حالت څخه عصري حالت ته ننوځي او د مالدارانو لپاره د آسانتیاوو او پرمختګ سبب شي.

په همدې ډول د عربي هېوادونو پانګونه د مېوې د تولید په برخه کې هم مهمه ده. زموږ د هېواد مېوې د ټولې نړۍ په ځانګړې توګه په عربی هېوادونو کې ډېر او ښه پېرېدونکي لري، خو دا شهرت په یوازې ډول بسنه نه کوي. په دې هېوادونو کې د مېوو مستهلکین د نړۍ په ښو او معیاري محصولاتو عادت کړي دي د همدې لپاره باید زموږ مېوې د منلو وړ روغتیایي معیارونو لرونکې وي څو وکولای شي د عربي هېوادونو په بازارونو کې د مېوو د پېرودونکو رضایت جلب کړي. د سبزیجاتو په برخه کې هم پانګونه په همدې ډول مهمه ده، دا چې زموږ مېوې او سابه په عنعنوي ډول هېڅ هېواد ته د صادرېدو قابلیت نلري موږ باید د بازار حساسیت او د بازار د علاقه مندانو اړتیاوو ته په پام سره دقیقو او حساب شویو سیاستونو ته اساسي پاملرنه وکړو او د تولید، بسته بندۍ او لېږد د پروسې د معیارونو په بشپړولو سره نه یوازې خپلو محصولاتو ته بازار موندنه وکړو بلکې دننه په هېواد کې هم په سل ګونو زره کارونه رامنځ ته کړو.

پر دې سربېره نن عربي هېوادونه د نفت او ګازو، ترانزيت، بانکدارۍ او نورو برخوکې مخکې دي او زموږ د نفتو، ګازو، کانونو او نورو زېربنايي چارو کې د دې هېوادونو پانګونه عمده او اساسي لومړيتوب لري، چې زموږ د حکومت په سياستونو کې به په دې برخه کې تمرکزکيږي.

زموږ د بهرني سياست د دويمې کړۍ په برخه کې زموږ جمع بندي دا ده، چې له نېکه مرغه، د تاريخ، فرهنګ او اقتصاد يوه روښانه دايره او د همکارۍ شرايط شته دي، چې د اسلامي فرهنګ د پراخېدو او ځواکمنتيا او د وګړو، بنسټونو او دولتونو د هراړخيزو مناسباتو او زموږ له اقتصادي ودې سره مرسته کوي.

**درېيمه کړۍ اروپا، امريکا، کانادا او جاپان**

د تېرو پېړيو په اوږدو کې سترو دولتونو هرهغه ګواښ، چې د دوی ګټو ته تهديد بلل کېده نورو دولتونو ته منسوبول. لويو قدرتونو د استيلا او تفوق غوښتنې په موخه په خپلو کې مقابله کوله او له دويمې نړيوالې جګړې وروسته دوو زبرځواکونو د امريکې متحدوايالتونو اوشوروي اتحاد، چې له فکري پلوه په دوو مخالفو اړخونوکې ولاړ وو نړۍ دوه قطبي کړه.

د سړې جګړې پر مهال د امريکې متحدو ايالتونو د هغه ګواښ په دفع کولو تمرکز کړی و، چې د پخواني شوروي اتحاد له خوا يې سرچينه اخستله، همدا راز، د شوروي اتحاد ټوله پاملرنه هغو ګواښونو ته مخامخ و، چې د امريکې د متحدو ايالتونو له خوا يې سازماندهي کېدله. د نړۍ په مختلفو برخو کې د امريکې او شوروي متحدينو او همګټو ترمنځ توند برخورد د سړې جګړې پر مهال د دې زبرځواکونو په خپل منځ کې و. د شوروي اتحاد په پاشل کېدو سره د امريکې متحده ايالات د نړۍ د يوازني زبرځواک په توګه رامنځته شو خو د يوويشتمې پېړۍ په پيل کې له افراطي افکارو سره د غيردولتي شبکو رامنځ ته کېدو چې له بين المللي سرحدونو يې عبور وکړ، د ګواښ ډول اود رقيب پېژندنې ته په بنيادي ډول تغيير ورکړ.

دې شبکو په عين حال کې د ناکامه دولتونو تعريف ته هم بدلون ورکړ. افراطي شبکو ناکام دولتونه د پرازيت په ډول د خپلې تغذيې د محل په توګه وکارول. ناکامو دولتونو له امنيتي پلوه د قوي مشروع انحصار له لاسه ورکړ او يا د لاسه ورکولوپه حال کې وو. له همدې لامله افراطي شبکې په ساده ګۍ سره وتوانېدلې، چې د رسمي سرحدونو تر پښولاندې کولو سره په دې جغرافيايي نقطو کې تمرکز وکړي او خپلو فعاليتونو ته سازمان ورکړي. په همدې ترتيب نړۍ والو جرمي شبکو هم فرصت وموند، چې د فکري افراطي شبکو په څېر په ناکامو دولتونو تسلط پيداکړي او نړۍ وال اقتصاد او امنيت په جدي ډول له ګواښ سره مخامخ کړي.

معلوماتي تکنالوژي هم د یوه نوي لامل په توګه که له یوې خوا نړیواله وده او توسعه او د نړۍ په کچه پراخې اړیکې رامنځ ته کړې له بلې خوا د افراطي او جرمي شبکو له خوا د تکنالوژۍ ابزاري استفاده مشروع اقتصاد، مدني فرهنګ، او بشري ارتباطاتو ته د یوه عمده او نړیوال ګواښ په توګه مطرح شوه.

دا ټول عوامل د سپټمبر د یوولسمې په پېښه کې په نیویارک کې د سوداګرۍ د نړۍوال مرکز او د امریکا پر دفاع وزارت باندې د حملې په قالب کې را څرګند شول. د سپټمبر د یوولسمې پېښې دا وښودله، چې دا د نویو شبکو ګواښ نه جزئي دی او نه فرعي په همدې دلیل د دې شبکو په رامنځ ته کېدوسره د ګواښ تعریف هم په بنیادي ډول بدلون وموند او په پایله کې یې هغه تیارۍ، چې په تېرو لس ګونو کلونو کې په سنتي ډول د مقابلې لپاره نیول شوې وې د بیا کتنې لاندې ونیول شوې. افغانستان هم د سپټمبر له یوولسمې وروسته د همدې معادلې د بدلون په پایله کې نړیواله پاملرنه ځان ته راوګرځوله.

د سپټمبر له یوولسمې وروسته د ټولو تحولاتو هر اړخیزه شننه پراخ کار ته اړتیا لري، خو واضح ټکی دادی، چې د افغانستان په بهرني سیاست کې له دربیمې کړۍ سره زموږ د اتصال ټکی په بین المللي ماحول کې د بدلون له دقیق درک څخه سرچینه اخلي.

افغانستان د سپټمبر له یوولسمې وړاندې په نړۍ کې د ناکامو دولتونو د ژوندۍ بېلګې په توګه مطرح شوی و. له همدې امله و، چې نړۍوالو او سیمه ییزو افراطي او جرمي شبکو د دې فرصت وموند، چې له جنګ ځپلي او بې وزله افغانستان څخه د خپلې تغذیې د محل په توګه ګټه واخلي.

په کوم ډول چې په دې منشور کې په تفصیل سره بیان شوې زموږ عمده موخه د یوه ځواکمن، اغېزمن او کاري دولت رامنځ ته کول دي. د دې هدف تر لاسه کول په هوښیارۍ سره د کورني، سیمه ییز او بهرني سیاست له مدیریت پرته تحقق نه مومي. په همدې دلیل زموږ په بهرني سیاست کې له دربیمې کړۍ سره اړیکې زموږ د ملي ګټو د تامین لپاره حیاتي رول لري او له دربیمې کړۍ سره اړیکې په راتلونکې یوې لسیزې کې زموږ د ملي حاکمیت د ټینګښت په عمده عواملو کې شمېرل کېږي.

د همدې لیدلوري پربنسټ له دربیمې کړۍ سره د خپلو اړیکو عمده ټکي په لاندې توګه تشریح کوو:

زموږ د امنیتي ارګانونو رامنځ ته کېدل، چې د ټولو نظرپوښتنو پر بنسټ یې نن د اکثریت خلکو باور تر لاسه کړی د دربیمې کړۍ له بې دریغه مرستې پرته ناممکن و، دا کار له دربیمې کړۍ سره د اړیکو د مدبرانه مدیریت اړتیا مطرح کوي. په عین حال کې مهم ټکی دا دی، چې اوس موږ په داسې شرایطو کې یو، چې د نړۍوالو ځواکونو په پراخ حضور باندې د اتکا پرځای په خپلو ملي امنیتي ځواکونو باندې د

اتکا پر لور روان یو. او ټاکل شوې د ۲۰۱۴ کال تر پایه پورې د امنیت سراسري او بشپړ مسوولیت زموږ خپلو ملي ځواکونو ته ولېږدول شي.

د افغانستان او امریکې د متحدو ایالتونو تر منځ د امنیتي قرارداد په چوکاټ کې به د قوې د استعمال د انحصار پرېکړه د افغانستان دولت ته وسپارل شي. نړیواله ټولنه د سپټمبر د یوولسمې نېټې له پېښې وروسته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړې پر بنسټ په افغانستان کې حضور لري او د همدې پرېکړه لیک په پایله کې یې د قوې د کارولو حق ترلاسه کړی. نړۍ والو ځواکونو په تېرو دیارلسو کلونو کې د همدې پرېکړه لیک پر بنسټ د وسله والو مخالفانو او تروریستي شبکو پر وړاندې عملیات کړي او حتی د خپل تسلط په حوزه کې یې زندانونه هم درلودل، چې په هغو کې یې جنګي اسیران او له وسله والو مخالفانو سره په همکارۍ باندې د شکمنو کسانو ساتنه کوله.

د ترهګرو شبکو او وسله والو مخالفانو پر وړاندې د نړۍ والو ځواکونو په عملیاتو کې غیر پوځي وګړو ته اوښتي زیانونه هم د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیک پر بنسټ د نړۍ والو ځواکونو د شتون په چوکاټ کې توجیه کېدل. په همدې ترتیب له نړۍ والو ځواکونو سره د مرستې په موخه په لس ګونو کورنۍ او بهرنۍ امنیتي کمپنۍ په خپلواک ډول رامنځ ته شوې، چې په پراخ ډول یې د افغانستان پر امنیتي وضعیت اغېزدرلود.

په ستراتیژیک تړون او امنیتي قرارداد باندې له هوکړې وروسته د نړۍ والو ځواکونو د حضور له پلوه زموږ چاپیریال په بنیادي ډول بدلون موندلی او زموږ لپاره د دې بدلون درک اساسي اهمیت لري. موږ باید د امریکې له متحدو ایالتونو سره خپل اړیکي زموږ په ملي واکمنۍ او ملي ګټو باندې د هغو د اغېز له پلوه په پام کې ونیسو. موږ په تېرو دولسو کلونو په ځانګړي ډول له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې د نړۍ والو ځواکونو له پراخ شتون سره سروکار درلود. له دې وروسته به د شمېر له مخې د نړۍ والو ځواکونو حضور محدود شي او د هغو عمده تمرکز به له هغو مواردو پرته چې د افغانستان دولت یې اړین بولي، د افغاني ځواکونو په روزنې، تمویل او تجهیز باندې وي او د هغو ډېری به د افغانستان د ملي اردو په قول اردو ګانو او فرقو کې اوسېږي.

په همدې توګه به نړیوال ځواکونه د ترهګرۍ پر وړاندې په مبارزه کې د افغان ځواکونو له مخکښ رول څخه متابعت کوي. وړاندې تردې، چې د نړۍ والو ځواکونو له خوا د قوې د انحصاري رول په پایله کې کومې پېښې په افغاني ټولنه کې د اندېښنې او زورېدلو سبب کېدلې له دې وروسته پای ته رسېږي او د تروریستي شبکو او وسله والو مخالفانو پر وړاندې د ټولوعملیاتو مسوولیت به د افغانستان ملي اردو ته لېږدول کېږي. د زندان د لېږد مساله هم د بګرام د هوکړه لیک په چوکاټ کې هواره شوې او د افغان

ځواکونو د نقش په محوري کېدو سره به نړۍ وال ځواکونه د مرستندویه او تمویل کوونکي ځواک په توګه عمل کوي. دا چاره په دوه اړخیز امنیتي تړون کې په څرګند ډول ځای شوې ده، چې د نړۍ والو ځواکونو فعالیتونه به ټول د افغانستان د قانون او ملي واکمنۍ په چوکاټ کې صورت نیسي.

له نړۍ والې ټولنې سره زموږ د مناسباتو د تعریف په بدلون سره موږ یو نوي پړاو ته ننوځو، چې له دولت سره د دولت له ارتباط څخه عبارت دی. افغانستان د یوه دولت په توګه د امریکې او جاپان له دولتونو او د ناټو او اروپایي اتحادیې له غړو دولتونو سره اړیکو ته ننوځي. په دې ترتیب سره به زموږ دولت، چې د یوه ناکام دولت په توګه د نړۍ والې ټولنې لپاره د ګواښ ټکی بلل کېده او پر همدې استناد د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پرېکړې پربنسټ په کې د قوې استعمال جایز بلل کېده، د بین المللي حقوقو او وجایبو لرونکي دولت په توګه صحنې ته ننوځي. د موقعیت دا بدلون د تېرو دوولسو کلونو یوه ستره لاسته راوړنه ده او د افغانستان راتلونکی منتخب حکومت به د دې لاسته راوړنو پر بنسټ له درېیمې کړۍ سره خپلې اړیکې تعیین کړي.

په نوي پړاو کې له درېیمې کړۍ سره زموږ د همکارۍ ټکي:

**لومړی: سوله او امنیت**

امنیتي تړون زموږ د ملي حاکمیت د ټینګښت وسیله بلل کېږي او هیله من یو، چې یا جمهور رئیس کرزی هغه لاسلیک کړي او یاپې موږ لاسلیک کړو.

سوله زموږ ستراتیژیکه موخه ده. له درېیمې کړۍ سره زموږ د مناسباتو ټینګښت به مرسته وکړي چې د دایمې سولې او ثبات لپاره یوه سیاسي طرح رامنځ ته کړو. په ۲۰۱۳ کال کې امریکا ته د ولسمشر کرزي د سفر پر مهال بارک اوباما په څرګند ډول اعلان وکړ، چې متحد ایالات د افغاننستان د نا آرامۍ د حل لپاره سیاسي هوارۍ غواړي. د امریکې متحدو ایالتونو له هغې وروسته د سولې دخبرو اترو لپاره ځینې هڅې وکړې، چې تراوسه بې پایلې دي. موږ به په خپل حکومت کې د درېیمې کړۍ په مرسته په سیمه ییزه، او نړۍ واله کچه د سولې د خبرو اترو لپاره د پایلو لرونکې ځانګړې طرح وړاندې کړواو د درېیمې کړۍ له هېوادونو به وغواړو، چې موږ سره دې هدف ته په رسېدو کې مرسته وکړي.

سراسري امنیت د ټولو افغانانو غوښتنه ده. افغان امنیتي ځواکونو په ځانګړې توګه ملي اردو په تېرو دوولسو کلونو کې دپام وړ پرمختګ کړی او د خلکو باور یې تر لاسه کړی، له دې سره سره بیاهم زموږ امنیتي ځواکونه په اوسنیوشرایطو کې هغه پړاو ته نه دي رسېدلي، چې په دولت کې د قوې مشروع انحصار تامین کړي. د امریکې له متحدو ایالتونو سره به امنیتي قرارداد د دې سبب شي، چې په

راتلونکو نهو کلونو کې به ۳٦، ۹ میلیارده ډالره زموږ د امنیتي ځواکونو د روزلو، سمبالولو او تمویل لپاره ولګول شي. پر دې بنسټ به د نړۍ والو مرستوپه معقول لګښت سره د دې فرصت ومومو، چې خپل امنیتي ځواکونه د خپل ملي حاکمیت او د هېوادوالو د حقونو د ساتنې لپاره په یوه اغېزمن او مسلکي ځواک بدل کړو.

زموږ موخه د ملي اردو، ملي پولیسو او ملي امنیت د بنسټیز کولو لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو او د دریېمې کړۍ د نورو هېوادونو د مرستو مشروع، ګټور او اغېزمن لګښت دی. یوازې په همدې وسیله کولای شو مسلکي او ملي ځواک ولرو، چې د ملت د باور او درناوي وړ وي او ملت هغوی د خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو د ساتنې وسیله وبولي. د ملي اردو په برخه کې عمده اسلامي ارزښتونه امانت داري، د دندې پېژندل، اصولو ته درناوی، د ښځو، ماشومانو او ملکي وګړو حقوقو ته درناوی او له بیت المال څخه مشروع ګټه اخستل دي. په دې اساس په امنیتي ارګانونو کې هر ډول فساد د اسلامي ارزښتونو د پښولاندې کولو په مانا دی او په هېڅ صورت به د زغم وړ نه وي. هغه څه چې د یوه دولت د بریالیتوب سبب کیږي. د دولت، وسله والو ځواکونو او ملت ترمنځ د واحد صف رامنځ کېدل دي.

راتلونکي ۹ کاله د دریېمې کړۍ د مرستې په چوکاټ کې موږ د دې امکان پیدا کوو، چې د خپل ملي حاکمیت د ساتلو لپاره خپله اردو ځواکمنه کړو. ترڅو زموږ د نوي نسل افسران داسې یو ځای ته ورسي، چې په هغه کې د ټولو راتلونکو نسلونو ستونزو ته د پای ټکی کیږدي. د افسرانو دا کهول به، چې زموږ د امنیتي ځواکونو رهبري کوي د بن له پرېکړې لیک څخه د وروسته شرایطو محصول وي او دهغوی لیدلوری به په اساسي ډول افغانستان شموله اوسراسري وي.

د یادونې وړ ده، چې په امنیتي قرارداد کې یو منل شوی اصل د منابعو د وېش او کارونې د څرنګوالي کلنی مرور دی. له دې جهته هر ډول سالم مدیریت، چې د منابعو د استفادې په برخه کې یې رامنځ ته کوو د دې سبب کیږي، چې د خپلو امنیتي ځواکونو امکانات ډېروو او دهغو اغېزمن توب پیاوړی کوو.

موږ په ځانګړې توګه د ملي امنیت د ځواکونو د تعلیم په برخه کې د دې امکانات لرو، چې وکولای شو د سیمې په کچه اغېزمن امنیتي ځواکونه وروزو. هغه امنیتي اکاډمي، چې په قرغه کې جوړه شوې د سیمې په کچه بې سارې اکاډمي ده. هغه پوهنځي، چې په دې اکادمۍ کې تاسیس شوي، نه یوازې د قوې د استعمال بلکې د اردو ټولې مدیریتي څانګې له انجینرۍ څخه نیولې تر ټولو مالي او تخنیکي چارې به چې په یوویشتمه پېړۍ کې امنیتي ځواک ورته اړتیالري ولري. له دې اړخه به زموږ انساني ځواک له مدیریتي او معلوماتي امکاناتو او لیدلوري سره، چې د یوویشتمې پېړۍ له ګواښونو سره متناسب وي تجهیز شي.

د درېیمې کړۍ هېوادونه د سیمې په کچه په ځانګړې توګه له پاکستان سره ښې اړیکې درلودې. له دې سره بیاهم د ستراتیژیک ګواښ مرکز، چې هم امریکا او هم سیمه ګواښي د پاکستان د دولت په ساحه کې دی. د امریکا، اروپا او ناتو اړیکو له ایران سره مختلف مد وجزرونه تجربه کړي دي. د شاه د زمانې له شریک ستراتیژیک څخه ترهغه حریف پورې، چې هېڅ ډول سیاسي مناسبات نلري. سره له دې چې د امریکا او ایران تر منځ لومړنۍ مذاکرې پیل شوې، خو تر اوسه هم د ایران ملي نظام د امریکې د متحدو ایالتونو له خوا په رسمیت نه دی پېژندل شوی. په همدې دلیل د داسې یوې طرحې رامنځ ته کول، چې وکولای شي سیمه ثبات او ښېرازۍ ته ورسوي او د ستراتیژیکو ګواښونو د دفع کولو لپاره د اجماع سبب شي. د درېیمې کړۍ له هېوادونو سره فعالې او هر اړخیزې ډیپلوماسۍ ته اړتیا لري. چې نه یوازې افغانستان بلکې د سیمې د هېوادونو د ډاډ سبب شي. د دې ستراتیژیک هدف په تامین سره به په تدریج سره د نړۍ والو ځواکونو حضورپه افغانستان کې له منځه لاړ شي. په دې اساس د درېیمې کړۍ د ځواکونو فزیکي حضور هدف نه بلکې وسیله ده.

هدف په افغانستان کې د سولې، ثبات او د سیمې په کچه دهمکارۍ د نظام رامنځ ته کول دي، چې پر بنسټ به یې ټوله سیمه سولې او ثبات او ښېرازۍ ته ورسېږي.

### دویم: اقتصادي پراختیا او وده:

زموږ د پراختیا، خدمتونو د وړاندې کولو او اقتصادي ودې لپاره د درېیمې کړۍ  هېوادونو د مرستې له اړخه هم  له نوموړو هېوادونو سره  زموږ اړیکي  بنستیز ارزښت لري. په داسې حال کې چې د شیکاګو کنفرانس په امنیتي برخه کې د مرستو لپاره بنسټ رامینځ ته کړ او امنیتي قرارداد د هغه د ترلاسه کولو وسیله مساعده کړه، په ۲۰۱۲ کال کې د توکیو کنفرانس اقتصادي مرستې برابرې کړې. د یادونې وړ ټکی دا دی چې د توکیو کنفرانس د دوه اړخیزې مسؤلیت منني پر بنسټ رامینځ ته شوی دی. د افغانستان د دولت ژمنه دا ده چې د غوره دولتولۍ او حکومتولۍ په برخه کې به بنسټیزه سمونه رامینځ ته کوي چې نړیواله ټولنه و کولای شي خپلې مرستې د افغانستان د بیارغاونې او رغاونې لپاره هم د دولتي څارونکو بنسټونو او هم د خپلو خلکو په وړاندې توجیه کړي.

د سمونونو لپاره زموږ وړاندیز شوې موخې د توکیو په کنفرانس کې د افغانستان د دولت له ژمنو څخه اوړي او پراخه دي. زموږ باور دا دی چې موږ د دولتولۍ او حکتولۍ په برخو کې پراخو سمونونو ته اړتیا لرو او زموږ د دولتولۍ نظام باید پر بنستیز ډول بدلون ومومي ترڅو نه یوازې نړۍ والې مرستې په اغېزمنه توګه را جلب کړو او ګټه ترې پورته کړو، بلکې دې ته هم تیاری ونیسو چې زموږ راتلونکې پرمختیا پر نړۍ والو مرستو پورې تړلې نه وي.

لکه څرنګه موچې د دې منشور په بېلابېلو برخو کې توضیح کړل، پراخ اصلاحات هم زموږ د ملت غوښتنه ده او هم یوه داسې اړتیا ده چې دهغه په پوره کولو سره به دا شونتیا ترلاسه کړو چې د یوه دولت په توګه خپله بنسټیزه وجیبه ترسره کړو او د وګړیو بنسټیز حقوق چې له امنیت، آسانتیا او هوساینې څخه عبارت دي، تأمین کړو. پر دې بنسټ، زموږ اړیکي له دریېمې کړۍ سره د پراختیا او اقتصادي ودې موخو د ترلاسه کولو لپاره هم زمینه جوړوونکي دي.

خو په ټینګار سره وایو چې اصلاحات یو داسې جبري څیز نه دی چې د نړۍ والې ټولنې لخوا پر موږ تحمیل او وتپل شي، د دې په عکس، موږ به د سمونونو او له فساد سره د مبارزې په برخه کې هم مخکښ وو؛ ځکه چې اصلاحات او له فساد سره مبارزه زموږ د ژوند اړتیا ده او له هغه پرته به د یوه هېواد او ملت په توګه زموږ شتون تر پوښتنې لاندې راشي. نړیواله ټولنه به په دې برخه کې زموږ د مرستندوی او ملاتړي په توګه رول په غاړه ولري.

زموږ او نړۍ والې ټولنې تجربې څرګندوي چې له سرچینو څخه د ګټه اخیستنې ترټولو غوره لاره، د ملي بودجې له لارې یې مدیریت دی؛ ځکه د سرچینو دا ډول مدیریت د ملي بنسټونو د پیاوړتیا او د حساب ورکولو او حساب اخیستلو د کلتور د ځواکمنتیا سبب ګرځي. نړۍ واله ټولنه تل د ناکامو حکومتونو په شتون کې پر موازي بنسټونو باندې تکیه کوي ترڅو وکولای شي ځان او حساب اخیستونکو بنسټونو ته قناعت ورکړي چې د دوی پیسې په اغیزمن ډول لګول کیږي.

سره له دې، نړۍ والو تجربو څرګنده کړې ده چې دا اقدامات د یو هېواد د پراختیا او اقتصادي ودې ستونزه  په بنسټیز ډول نه حل کوي. هغه طرحه چې موږ وړاندیز کړې ده، او هغه تجربه چې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۰۵ کلونو پورې موږ ترلاسه کړه، هیله من یو چې د ملي بودجې په چوکاټ کې د نړۍ والو مرستو په بریالي جذب سره به له دې مرستو څخه د اغیزمنې ګټه اخیستنې کچه په داسې توګه لوړه کړو چې د هېواد په اقتصادي پراختیا او ودې پورې اړوندې ټولې پروژې، پروګرامونه او فعالیتونه په منځمهالې او اوږدمهالې بڼه تنظیم شي او موږ وکولای شو له دې موقع څخه په ګټه اخیستنې سره خپل ملي ظرفیتونه د اقتصادي پراختیا او ودې لپاره رامینځ ته او پیاوړي کړو.

نړۍ والې تجربې دا ټکی هم ثابت کړی دی، هغه دولتونه چې و یې کولای شول له نړۍ والو مرستو څخه اغېزمنه ګټه پورته کړي، نه یوازې ستړې سرچینې او خپل پټ ملي ظرفیتونه یې  په کار اچولي دي، بلکې نورې ډېرې نړیوالې مرستې یې هم ترلاسه کړې دي او دا اعتبار یې ترلاسه کړی دی چې له دولت سره د دولت له مرستو څخه د نړۍ والې پانګې اچونې په لوري پر مخ لاړ شي.

پر همدې دلیل، د بهرني سیاست په برخه کې له درېیمې کړۍ سره زموږ د اړیکو یوه تر ټولو محوري موخه د خصوصي پانګې را جذبول دي. زموږ د نفتو، غازو او کانونو سرچینې په ځانګړې توګه پراخې نړۍ والې پانګونې ته اړتیالري. په تېرو ۱۳ کلونو کې په افغانستان کې د درېیمې کړۍ اړوندې پانګونې علاقه لږ وه؛ ځکه چې د نړۍ والې پانګې اچونې لپاره خوندي چاپېریال نشته. په پام کې باید ولرو چې په شلمه پېړۍ کې د واکمنو نظریاتو پر خلاف، لوی نړۍ وال شرکتونه د پانګونې لپاره سالم، کارنده او باثباته چاپېریال ته اړتیا لري. د شلمې پېړۍ د پیل په خلاف غېر متخصص بشري ځواک، د یوویشتمې پېړۍ د پانګونې اړوندو فعالیتونو کې د علاقې وړ نه ګرځي. صنعت، سوداګري او ټکنالوژي ټول عصري شوي دي او ټول یوه فعال بشري ځواک ته اړتیا لري. موږ د نړۍ والې پانګونې د جذب په برخه کې له ختیزې آسیا، هند او خلیج سره سیالي کوو. په همدې دلیل، د بهرنې پانګې د جذب لپاره موږ د بشري ځواک د ښوونې او روزنې او حقوقي او قانوني بنسټونو په برخو کې بنسټیزې پانګونې ته اړتیا لرو.

موږ داسې امکانات په لاس کې لرو چې د یوه اغېزمن چاپېریال په رامنځ ته کولو سره د لویو شرکتونو په پانګونه کې ترې ګټه پورته کړو. هغه افغاني شرکتونه چې د نړۍ والو رایجو او منل شویو معیارونو پر بنسټ جوړ شوي وي، کولای شي د یوه مقناطیس رول ولوبوي او په پانګونه او اقتصادي فعالیتونو کې د ګډون لاره برابره کړي.

### درېیم: فرهنګ او هنر:

زموږ په بهرني سیاست کې درېیمې کړۍ سره اړیکې دهنر او فرهنګ په ډګر کې دلوی تغییر لپاره ښه زمینه سازي ده، په بېلابېلو برخو کې دانساني قواوو سمه روزنه یو هم له هغو سترو موخو څخه ده چې ددرېیمې ډلې هېوادونو سره زموږ داړیکو په ټینګولو کې اړین رول لوبوي. درېیمه ډله هېوادونه لا هم په نړۍ کې دنوښت او کشف په نامه شمېرل کېږي، له همدې وجهې زموږ پوهنتونونو ته ښه زمینه برابره ده چې له لرې څخه دزده کړې په ترلاسه کولو، له وروستیو علمي څېړنو، لاسته راوړنو او تجربو ته په پام سره خپلې علمي چارې غني کړي او په سمه توګه دې ترې خپلې اړتیاوې بشپړې کړي، خپلو ظرفیتونو ته وده ورکړي. په دغه برخه کې دتر یومیلیونه ډېرو سرتېرو، لسګونه زرو ملکي امریکایي سرتېرو، ناټو پوځونو او اروپایي غړو نیک نظر زموږ او دهغو ټولنو په اړیکو ټینګولو کې اړین رول لوبوي.

### څلورم: لهدرېیمه کړۍ او آسیایي هېوادونو سره مشارکت:

درېیمه کړۍ له امریکا او اروپا څخه اسیاته د نړۍوال اقتصاد بدلولو او تغییر یوه برخه ده، هغه نړۍوالې کمپنۍ چې په درېیمه ډله هېوادونو(امریکا، کاناډا او جاپان)کې موقعیت لري، د ختیځې، خلیج او حتا جنوبي اسیا په اقتصادي تحولاتو کې مهم رول لري، خو د دې هېوادنو د اړیکو ډول د نورو حلقو

سره ډېره ژوره او د یو بدلون په لور وه او د مبادلاتو او همکاریو په تېره داقتصاد په برخه کې دیو لوی بدلون په اړه خبرې کوي.

نن په هندوستان کې شخصي کمپنیو زرگونه انجینران استخدام کړي، تر څو په تکنالوژۍ کې دنوښتونو په رامنځته کولو سره هغو اړتیاوو ته رسیده گي وکړي چې ددې ټولنې اقتصادي شرایطو سره چې پنځه سوه میلیونه ډېر وگړي یې غریبان دي برابر اوسي. په چین کې هم داقتصاد دښه والي یو ستر عنصر همدا شخصي کمپنۍ دي چې دچین هېواد او خلک یې په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو درولي دي.

دا ډول په خلیج کې هم همدا شخصي کمپنۍ د دې لامل شوي چې خلک یې په نړۍ‌واله کچه پانگونه وکړي، ددغو اړیکو له تجربو څخه گټه اخیستنه کولای شي چې زموږ هېواد هم ددربیمې ډلې او اسیایي هېوادونو تر منځل دوصل او ترېښت یوه حلقه وگرځوي، له ارزانو او دخپل هېواد له شرایطو سره برابرو تکنالوژیو څخه استفاده کولای شي دپوهنتونونو، روغتونونو، کمپنیواو هغو شرکتونو چې دکانونو او برېښنا په برخه کې کار کوي له موږ سره همکاري وکړي.

پورتنیو ټکوته په پام سره که وغواړو چې دربیمې ډلې سره خپلې اړیکې په نچوړ سره وړاندې کړو نو کولای شو چې ووایو زموږ ملي منافع د دې ایجاب او غوښتنه کوي چې موږ باید ددربیمې ډلې هېوادونو سره همکاري ولرو، داهمکارۍ په لومړي سرکې امنیتي همکاري ده چې زموږ ملي حاکمیت تامین شي او پر همدغه مهال سولې ثبات او سیمه ییزې لویې همکارۍ ته لاس رسی پیداکړو. په دویم قدم کې زموږ همکاري له امنیتي برخو څخه اقتصادي برخې ته ده، دپانگې اچونې هڅول او هنري او فرهنگي بدلونونه پراختیا مومي، څو دهغې په پایله کې په اسیا کې دیو لوی اقتصادي براعظم چې دیوویشتمې پیړۍ ټولو اړتیاوو او شرایطو سره سمون ولري، په جوړولو کې پراخه ونډه ولرو.

دچین هېواد دخپلو گاونډیو هېوادونو د اقتصادي پیاوړتیا سیاست د یو اصل په توگه په خپلو سیمه ییزو اړیکو کې په پام کې نیولی دی، پر همدې مهال د پاکستان اوهندوستان ترمنځ په ترانزیت کې داړیکو رغاول په واگه بندر کې د تعاملاتو دځواکمنتیا لامل گرځېدلی دی.

هغو بازارونو ته په پام سره چې په چین او هند کې موجود دي او په سیمه کې دگاونډیو سیاست ته په پام سره افغانستان د دې ښه وخت لري چې دختیځې او جنوبي اسیا بازارونه په ډېرې ځیرکتیا سره بررسي کړي او خپل تولیدات ددغو دوو بازارونو داړتیاوو او غوښتنو په نظر کې نیولو سره برابر کړي.

بل اړخ چې اسیا سره زموږ داړیکو له پلوه ډېر ارزښت لري، له نویو او نوښت ډوله تکنالوژیو څخه گټه اخیستنه ده چې په ختیځې او جنوبي اسیا کې مخ په پرمختگ روانې دي، په دربیمه ډله هېوادونو کې

تکنالوژي ډېره ګرانه او ارزښتمنه ده، ددرېیمې حلقې هېوادونو په تېره چین، هند او یامالیزیا او سنګاپور یوه ځانګړنه ددې تکنالوژیو داده چې موږ یې داخیستلو توان لرو، جغرافیوي موقعیت، ښاریتوب پراختیا، عصري زده کړې او ورته نورې برخې هم همدې تکنالوژیو پورې تړلې دي، له دې تکنالوژیو څخه ګټه اخیستنه په دې مانا ده چې موږ د دې هېوادونو له لس ګونه کلونو تجربو څخه ګټه پورته کوو او په حقیقت کې هغه سخته اوپېچلې لاره چې نور هېوادونه پرې تللي دي په اسانۍ سره یې له پښو ایستلې شو. داډول ډېر شمېر افغانانو په هند کې زده کړې کړې او موږ کولای شو هغو ته په چین کې هم دزده کړې اسانتیاوې برابرې کړو څو ددغو هېوادونو تجربې په دقیقې مطالعې سره زموږ هېواد ته هم راولېږدوي.

بل اړخ چې له چین او هندوستان سره زموږ پر اړیکو ډېر ارزښتمن رول لري هغه په هندوستان کې داقتصادي ټولنو او په چین کې دکلیوالو او ښاري شرکتونو په رامنځته کولو کې دهغو هېوادونو له بریالیو تجربو څخه ګټه اخیستنه ده، دنړۍ له بریالیو تجربو څخه یوه هم په هندوستان کې دشیدو دتولیدولو ټولنې تجربه ده چې ټول لبنیات په معیاري او بنسټیزه توګه تولیدوي، په دغه ټولنه کې تولیدونکي په منظمه توګه تر څرګندو شرایطو لاندې یو بل سره تړلي او دښې بازار موندنې لپاره له عصري تکنالوژۍ څخه ګټه پورته کوي، په چین کې تولیدي شرکتونه هم په کلیوالي کچه او هم دوړو ښارونو په کچه رامنځته شوي دي، دغه شرکتونه د دې هېواد داقتصادي پرمختګ یواځینی لامل ګڼل کېږي، له همدې پلوه چین او هندوستان داقتصادي ودې په برخه کې موږ دتولیدي شرکتونو په رامنځته کولو کې، داقتصادي خوځښتونو په رامنځته کولو کې او حتا دپانګه اچوونکو په راماتولو کې له موږ سره تخنیکي مرسته کوي او زموږ دشرکتونو کارکوونکي به وروزي.

داډول دبشري قواوو په برخه کې چې وکولای شي دتاریخي، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو شرایطو او اسانتیاوو سره بلدتیا ولري، داسیا پېژندنې ځانګړو برخو ته اړتیا لرو چې ددې هیوادونو لکه ګاونډیانو دپېژندنې په اړه مطالعه او څرګنده څېړنه ترسره کړي او دې هېوادونو سره دمرستو شرایط په ځیرکتیا سره وپېژني. دغه مرستې موږ سره دهندپېژندنې او چین پېژندنې په برخه کې مرسته کوي څو خپل اقتصادي سیاستونه دغو هېوادونو سره په تېره دصادراتو او وارداتو په برخه کې په سمه توګه برابرکړو.

زموږ موخه له اسیا پېژندنې څخه یوازې دا نه دی چې پوهنتوني کدرونو ته محدود وي او یوازې تیوریکي او علمي فعالیتونه ترسره کړي، زموږ خصوصي سکتور په دې برخه کې ارزښتمن او ګټور معلومات لري چې له هغو څخه په معیاري ګټه اخیستنه کولای شو خپل اقتصادي سیاست په منسجمه توګه تنظیم

کړو. په همدې ترتیب په ټولو نورو برخو کې معلوماتي شبکې موجودې وي چې مزرعه او فابریکې او مستهلک خو داسیا پرمختګ درک کړي او خپل تولیدي فعالیتونه دهغې له مخې برابر کړي.

اسیا سره په تېره هندوستان او چین سره زموږ داړیکو یو ارزښتمن ټکی دادی چې موږ دسیمې دثبات لپاره سیاست رامنځته کړو. دغه دوه اسیایي ځواکمن هېوادونه چې یو یې زموږ ګاونډی هم دی او بل یې له تاریخي شالیده زموږ ګاونډی و او یوازې په وروستۍ نیمه پېړۍ کې زموږ تر منځ دپاکستان درامنځته کېدو په دلیل دیو هېواد په توګه له یو بل لرې شو.

په پاکستان کې دثبات رامنځته کېدل او د دې هېواد دمشرانو باور پریو سیمه یز مرستندویه نظام باندې چې په هغه کې دولتونه یو بل ومني او دیو او بل په کورنیو چارو کې له لاسوهنې ځان ساتنه وکړيدسیمه یزې همکارۍ او ثبات په رامنځته کولو کې په سیمه کې ارزښتمن رول لري.

زموږ هېواد دسیمه ییزې همکارۍ او ثبات دپالیسۍ په تعقیب کې دغو دوو ځواکمنو هېوادونو دا راز روسیې او ترکیې سره چې دسیمې نور دوه لوی ځواکمن هېوادونه ګڼل کېږي، نږدې مرسته به ورسره ولرو.

**پیاوړې کړۍ: نړیوال ستر بنسټونه:**

زموږ په بهرني سیاست کې پینځمه ډله په سترو نړیوالو پراختیایي بنسټونو او لویو پانګوالو پورې اړه لري، نړۍ وال بانک، اسیایي پرمختیایي بانک، نړیوال وجهي صندوق، اروپایي ټولنهاو بهرني مرستندویه بنسټونه لکه امریکا، کاناډا، انګلستان، جاپان او نورنړۍ وال بنسټونه دي چې تلپاتې نړۍ والې مرستې منسجموي، دغه ډله زموږ په بهرني سیاست کې له ځینو ځانګړتیاوو برخمنه ده چې باید هغو ته جدي پام ولرو.

ددغو بنسټونو دمرستو را جلبول په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او ټولنیزو برخو کې پر څو اصولو باندې ولاړ دی چې تر ټولو لومړی پر هغو معیارونو حرکت کول دي چې مرستو روڼوالی او اغېزمنتوب تضمین کړي. هغه ډوله هېوادونه چې دملت جوړونې او دولت جوړونې په برخه کې یې څرګندې طرحې او برنامې لرلې وکولای شول چې له دې مرستو څخه په لویه پیمانه ګټه پورته کړي، په آسیا کې ددې هېوادونو ښې بېلګې: جاپان، کوریا او مالیزیادي او په اروپا کې هالنډ اواسپانیا دي چې له بهرنیو مرستو څخه یې ددولت جوړونې په برخه کې لویې ګټې پورته کړي دي، برعکس یو شمېر هېوادونه چې اداري فساد په کې شتون درلود ونه شوکولای چې دکاغذ پرمخ دشویو قراردادونو له مخې دغه اقتصادي پرمختګ وکړي او ځان په دې برخه کې موخو ته ورسوي.

زموږ دحکومت اصلامي برنامه ددې غوښتنه کوي چې موږ وکولای شو دروښوالي او اغېزمنتوب تضمين وړکړو او په خپل حکومت کې يې پلی کړواو يا دهغو فورمولونو له مخې چې په نړۍوالو بنسټونو لکه نړۍوال بانک، اسيايي پرمختيايي بانک او نړۍ وال وجهي صندوق کې موجود دي؛ددوی شوې مرستې چې زموږ په اختيار کې راکول کېږي ترلاسه او بېرته يې په مصرف ورسوو، دوه اړخيزې مرستې سربېره دروښوالي او اغېزمنتوب پر معيارونو، ديوهېواد دملي منافعو پراساس هم ولاړ ي وي.

ډېر شمېر مرستندويه هېوادونه اوس ځينو نورو مشخصو هېوادونو سره دخپلو مرستو دمحدودولو په حالت کې دي، دليل يې دادی چې مرستندويه هېوادونه احساس کوي  چې ددوی دمرستو دوام دهغو ملي منافعو سره همغږي نه لرله او ددوی دمنابعو او پانګو دبې ځايه مصرفولو او له منځه تللو يوه نښه ګڼل کېده.

له هغه ځايه چې دمرستندويو هېوادونو يا هم دافغانستان دګټو حامي هېوادونو سرتېري له هېواده وتلي او يا هم دوتلو په حال کې دي، په دې سره موږ هم دهغو دمالي او اقتصادي مرستو کمښت سره مخامخ يو، په همدې دليل خپل داخلي او بهرنی سياست بايد دداسې معيارونو پربنسټ وټاکو چې زموږ دملي ګټو پرساتلو سربېره دمرستندويه هېوادونو اعتبار او باور هم ترلاسه کړو، څو دې لامل شي چې دهغوی اقتصادي مرستې زموږ له هېواد سره پايښت پيداکړي.

برخلاف دتېرې يوې لسيزې چې مرستندويه هېوادونو دخپلو مرستو دستراتيژۍ په اړه يې بهړني تصميمونه نيول اودخپلو مرستو په کولو کې يې ځانګړې ملاحظې نه لرلې، له دې وروسته به موږ په ډېر حساس پړاو کې دلسګونه هېوادونو سره په سيالۍ کې واوسو، چې هم دخپلو اړتياوو له پلوه او هم د نړۍ والو معيارونو له مخې دخپلو سياستونو دبرابرولو له پلوه او حتا هم دمرستندويه ټولنو پر عامه افکارو داغېز لرلو له پلوه، هڅه به وکړي چې له موږ تضمين واخلي.

په همدې دليل دبهرني سياست په برخه کې زموږ يو له بنسټيزو اړتياوو څخه داده چې نړۍ وال په تېره مرستندويه هېوادونه په دې پوه کړو چې افغانستان کولای شي له خپلو سرچينو څخه په ړڼه او اغېزمنه توګه ګټه پورته کړي او نړۍ والو سرچينو سره په سمه توګه رغوونکې مرستې ولرو، زموږ دحکومت قاطع طرحه همداده چې په دې برخه کې دځانګړو او مشخصو طرحو په لرلو سره نړۍوالو بنسټونو سره تعامل وکړو او له خپلو ځانګړو پرمختيايي او پراختيايي برنامو څخه دملاتړو په موخه دهغوی ډاډګيرنه او باور ترلاسه کړو.

له نړۍ والو مرستو څخه دګټې اخيستنې له معيارونو څخه يو دادی چې ايا دولت په ړڼه او اغېزمنه توګه کولای شي خپله پراختيايي بودجه مصرف کړي؟دملګرو ملتونو پرموازي ارګانونو باندې داړمن هېواد اتکا

یو له هغو دلایلو څخه دی چې مرستندویه هېوادونه پر اړمن هېواد د دې باور نه لري چې هغه به خپله پراختیایي بودجه ولګولای شي، دملګرو ملتونو اکثره اداري له خپلو اړتیاوو ډېرې پیسې نه لري چې اړمنو هېوادونو سره مرسته وکړي، دغه بنسټونه په حقیقت کې خپلو کوربه هېوادونو سره سیالي کوي څو مرسته کوونکې سرچینې خپل لوري ته راکش کړي.

دپرمختیایي هېوادونو عامه ذهنیت داسې دی چې دمرستندویه هېوادونو مرستې دملګرو ملتونو دادارو له لوري اغېزمنې نه دي، سره له دې چې ملګري ملتونه ددغو مرستندویه هېوادونو په پارلمانونو کې له ځانګړي شهرته برخمن دی، نیک نظر ورته موجود دی او په همدې دلیل مرستندویه هېوادونه پرې تکیه کوي.

موږ په خپل حکومت کې څرګنده ژمنه لرو چې ملګرو ملتونو ته شپږ میاشتې وخت ورکو څو خپل ټول بنسټونه په یو ځانګړي اوټاکلي چوکاټ کې داخل کړي چې په هغه کې ددولتي ادارو په پرتله ددوی داجرااتو روڼوالی او اغېزمنتوب تثبیت شي. پرته له دې له دوو کالو څخه وروسته دهغوی دفعالیتونو د ارزونې او بررسۍ په صورت کې هغه بنسټونه چې دخپلو فعالیتونو اغېزمنتوب او روڼوالی یې نه وي ثابت کړی کارونه به یې محدودکړو او دا صلاحیت او حق به ورته ورنه کړو چې دافغانستان دحکومت داعتبار او دملګرو ملتونو له مرستو څخه په ناجایزه توګه ګټه پورته کړي. له نړۍ والو مرستو څخه دګټې اخیستنې ارزښتمن اصل دپراختیایي برنامو سم مدیریت اوپه مستقیمه توګه یې ترسره کول او داراز دبودجې له لارې پراختیا ورکول دي.

زموږ ژمنه داده چې خپله ملي بودجه په ځیرکتیا او روڼوالي سره درجه بندي کوو او له مخې یې خپل لومړیتوبونه په نښه کوو او ټولې ملي پروژې په یوه اوږدمهال پلان کې ځای پرځای کوو او بیا یې په هېواد کې پلي کوو.

هغه یو شمېر پروژې چې له موږ سره په نه همغږۍ کې ترسره کېږي، زموږ هېواد له سیاسي او اقتصادي پلوه دجداکېدو او نامنظموالي لورته بیايي، په هېواد کې اقتصادي ثبات په ټولو هغو برخو کې دمتوازنې پراختیا محصول دی چې انساني نظام پرې ولاړ دی او موږ ته بنسټیز ارزښت لري.

که دا توازن او عدل دپروژو دپلي کېدو پرمهال په پام کې ونه نیول شي، هېواد به دمدیریت یو لوی بحران سره مخ شي او ټولې سرچینې او امکانات به یې بې ځایه لاړ شي.

دې ټکي ته مو باید پام وي چې نړۍ والې مرستې دلنډ مهال لپاره کولی شي دیوې وسیلې په توګه زموږ داقتصادي پرمختګ لپاره موجودې وي، دهېواد دپرمختګ او اقتصادي بدلون ستر عامل منسجمه،

اغېزمنه او اوږدمهاله پانګه اچونه ده، له منسجمې، اغېزمنې او اوږدمهالې پانګونې څخه موخه داده چې يو قانوني بازار ولرو، يعنې داسې يو بازار ولرو چې په هغه کې دبازار قانون، اصول او قواعد موجود وي او دقانون موجوديت په بازار کې دثبات او باور رامنځته کېدو لامل ګرځي، انارشي اوګډوډي دازاد بازار خلاف کار دی، ازاد بازار دقانون په حدودو کې مثبته سيالي ده.

په راتلونکو برخو کې به په ډېر تفصيل سره ووايو چې موږ به دولتي او خصوصي سکتور په يو منسجم ترون کې ځای پرځای کړو او دنړۍ والې ستړې پانګې اچونې لپاره زمينه برابروو، څو زموږ دهېواد اقتصادي نظام دکورنيو او بهرنيو پانګې اچوونکو لپاره داعتماد او باور وړ وي او هم دمستهلکينواوعامو وګړو لپاره مو دبازار ثبات او کيفيت دډاډ وړ وي.

دنړۍ والې پانګې اچونې جلبول څو اصله پورې تړلې ده:

۱- دباور وړ قوانين او پاليسي: دنړۍوالې پانګې اچونې دجذب لپاره لکه دننه په هېواد کې دخصوصي سکتور پانګې اچونې لپاره تر ټولو اړين دقوانينو او پاليسيو رامنځته کول دي. هغه قوانين او پاليسۍ چې دنړۍ والې پانګونې او خصوصي سکتور دفعاليت حدود ټاکي، بايد دغه هرڅه دباور وړ، څرګند، دقيق او دمحاسبې وړ وي. هغه قوانين او پاليسۍ چې په اقتصادي برخه کې رامنځته کېږي په تېره دکرنې، کانونو او يا توليداتي برخوکې بايد داسې چاپيريال رامنځته کړي چې پانګوال په کې منځمهاله او اوږد مهاله پانګونه وکړي چې په اساس يې خلک بډايه او ماړه شي. داراز پانګونه بايد وهڅول شي او له ثباته برخمنه وي، چې پانګوال وکړی شي حساب شوې ګټې ته لاسرسی پيداکړي.

۲-پانګونه دبنسټونو په رامنځته کولو کې يو بل مهم اصل دی چې بايد دخصوصي سکتور دپانګه اچوونکې او نړۍوالې پانګونې لپاره دپام وړ وي. دبېلګې په توګه دامنيت او ټيکاو لپاره پانګونه چې دهغې په سر کې قرار لري. امنيت ددې لامل ګرځي چې اوږدمالې پانګونې داعتماد او ډاډ په فضاکې ترسره شي. که چېرې پانګه اچوونکي په تېره نړۍ وال پانګه اچوونکي دخپلې پانګونې مصونيت احساس نه کړي هېڅکله هم خپله پانګه په خطر کې نه اچوي.

۳-انساني قوه:دپانګې اچوونې دجذب يو بل مهم اصل انساني قوه ده چې دپام وړ نظم او معلومات ولري. په همدې بنسټ په کومه کچه چې دپانګونې کچه پرمختګ کوي په همغه کچه انساني قواوو ته يې اړتيا ډېرېږي. انساني قوه ډېره مجهزه کېږي، له لوړو زده کړوبرخمنه کېږي او په دې برخه کې وړتيا تر لاسه کوي.

نن په توليدي شرايطو کې په چيلي، ماليزيا، کوريا او سنګاپور کې هغه کس چې لا له دولسم ټولګي څخه په مسلکي او تخنيکي زده کړو نه وي فارغ شوی د کار کوونکي په توګه نه نيول کېږي او دکار اجازه ورته نه ورکول کېږي. پرهمدې اساس زموږ محاسبه بايد چې دنفوسو او ځوانانو پرشمېر نه وي، بلکې دخپلې انساني قوې پر کيفيت او ځرنګوالي باندې په هغه ډول پانګونه وکړو چې وکولای شي له کوريايي، چينايي او هندي سره سيالي وکړي. بايد چې هېره نه کړو چې نړۍ‌واله پانګه ګرځنده يا سيار ده.

د۲۰۰۸کال له بحراني اقتصاد څخه وروسته شرايطو کې لسګونه هېوادونه ددې لپاره سيالي کوي چې منابع او مشخصې ګټې لاسته راوړي، نو پر همدې اساس ښې اړخي او کيڼ اړخي افراطي افکار په دې عقيده وو چې پانګونه په هېوادونو کې وروسته پاتې ساتي او نړۍ‌وال پانګه اچوونکي دهغې دچور او چپاول لپاره سيالي کوي، په ټوليز ډول دنړۍ داوسنيو شرايطو سره سمون نه لري.

نو پرهمدې بنسټ دپانګونې شرايط او زمينه برابرول بايد په ځيرکتيا سره تعريف شي، د مبتذلو او تکراري خبرو مخنيوی دې وشي.

سنګاپور يو له هغو هېوادونو دی چې په ۱۹۶۰کال يې ټول ځواکمن خيالونه او تصورات رد کړل او دنړۍ‌والې پانګونې لپاره يې ګټور او اغېزمن شرايط برابر کړل، دغې جزيرې چې هيڅ ډول طبيعي امکانات يې نه لرل ددې پاليسې په پايله کې اوس دنړۍ له ځواکمنو اقتصادي هېوادونو څخه شمېرل کېږي او دغه هېوادونو وکولای شول خپل خلک او ټول هېواد له يو داسې غربت او بې وزلۍ څخه وباسي چې خلکو هغه دسنګاپور دله منځه تلو لامل ګڼه او دا هېواد يې اقتصادي اوج ته ورسوه، نو له همدې کبله اړتيا لرو چې دخپلو نړۍ‌والو اړيکو او بهرني سياست دغه پنځمه دايره په ځيرکتيا سره بررسي کړو، څو وکولای شوله هغو شرايطو او امکاناتو چې زموږ دهېواد دهراړخيزې ودې او پراختيا سره مرسته کوي په سمه توګه او ځېرکتيا سره ترې ګټه پورته کړو.

په خپل بهرني سياست کې دپنځو دايرو يا ډلو په احساسولو او پېژندلو سره چې هره برخه يې زموږ داخلي اړيکو پورې تړلې ده، په خپلې حکومتدارۍ کې يې څو اصله په پام کې نيسو:

۱-دافغانستان پرمختګ او بدلون دچاپيريال له هغو شرايطو پرته چې په دغو پنځو دايرو کې موږ شرحه کړل، نه شي ترسره کېدای. زموږ حکومت سره له دې چې ځان دملت جوړونې او دولت جوړونې دپروسې دترسره کولو لپاره ژمن بولي، ددغو پنځو دايرو پېژندنه په خپلو کاري لومړيتوبونو کې راولي. بناً موږ ددغو پنځو دايرو په پېژندنه کې له خپلو ټولو وړتياوو، دمعلوماتو دانسجام او دخپلو ملي ګټو دتامين لپاره ګټه پورته کوو.

۲-هغې انساني قوې ته چې په دې برخه کې ورته اړتيا لرو، زرګونه بالغو کسانو ته رسېږي، نو کولای شو چې په لومړي سر کې له هغو بشري قواوو څخه ګټه پورته کړو چې په دې برخه کې کافي او ټاکلي معلومات او پېژندنه لري. په دويم قدم کې بايد خپلو بشري قواوو ته يو منسجم پلان ترتيب کړو چې ددغو ډلو يا حلقو دهرې يوې له اهدافو سره سمون ولري او دهغې دمړښت او پرمختګ لپاره اغېزمن تمام شي.

۳-لکه څنګه چې په داخلي برخو کې وويل شول موږ يو مديريتي کدر ته اړتيا لرو چې دمديريت په برخه کې تخصص ولري، چې زموږ ددولت جوړونې او اصلاحي برنامو ستر تصوير درک کړي او دهغې دموخو له مخې دې عمل وکړي. پرهمدې دليل دخپل نړۍ وال زعامت او مديريت لپاره دنخبه يا محور کدر يو نظام ته اړتيا لرو، چې په بهرني سياست کې دې ددغو پنځو دايرو سره زموږ دنړۍ وال کېدلو تصوير په سمه توګه درک کړي، يوازې او يوازې دهمداسې کدر نظام په لرلو سره کېدای شي زموږ ملي ګټې له تحکيم او انسجام څخه برخمنې وي.

دلوی بهرني سياست له مخې زموږ دولت نه شي کولای چې دبهرنيو چارو وزارت اوسنۍ وضعې او محدودو امکاناتو ته په پام سره ورته ټول مسوليتونه وسپاري. د بهرنيو چارو وزارت بايد په بنسټيزه توګه جوړ شي، څو دهغو دندو له عهدې څخه ووځي چې دهغو په تنظيم اود بهرني سياست په مديريت کې ورته اړتيا لري او په دې پنځو دايرو کې دې ښه رول ادا کړي.

ترهغه چې زموږ دژوند برخې په ښوونه او روزنه، مديريت، تجربو او نورو برخو کې کورنيو چارو وزارت، دفاع وزارت، کار او ټولنيزو چارو وزارت او ماليې وزارت پورې تړاو لري، رامنځه او په دې هر وزارت کې بايد دظرفيتونو لوړاوی او ارتقا رامنځته کړو. لومړی داکار په مرکز کې وروسته په ولاياتو او بيا په ولسواليو کې ترسره کوو او دا کار اړين دی.

يوبل ټکی چې بيا هم پرې ټينګار کوو، هغه دادی چې نړۍ وال معاملات او دحقوقو پوهه په دې ټولو برخو کې اړينه ده، دنړۍ والو اړيکو مديريت يواځې دافرادو او دولت دحقونو په پلي کولو کې نه شو شمېرلی. نړۍوال قراردادونه يو له هغو مواردو څخه دي چې کېدای شي زموږ دحقونو دتامين لامل شي. دمذاکرې داصولو پېژندنه او يا دنړۍوالو تړونونو تړل، په نړۍوالو اړيکو کې زموږ دتعامل له مهمو برخو څخه شمېرل کېږي. که مو په دې برخه کې لازم ظرفيت نه درلود، ددې امکان شته دی چې ديوغلط برداشت او پايلې اخيستنې پراساس بې له دې چې له فساده سلګونه ميليونه ډالر له لاسه ورکړو او يا برعکس دتړونونو پر اصولو دپوهېدلو له وجهې دهغو تړونونو ژمنې ته ورسېږو چې زموږ اوږدمهالې او منځمهالې ګټې تامين کړي او ميليونونه ډالر ګټه پورته کړو.

دنړۍ والې پانګونې په اړه دبنسټیزو اړتیاوو یوه بله برخه دعدلي او قضایي بنسټونو پر کارونو اعتماد او باور لرل دي. په هره کچه چې زموږ عدلي او قضایي ارګانونه په فساد کې ککړ اوسي په همغه اندازه نړیوال پانګه اچوونکي ټینګار کوي چې ددوی دعواوې له افغانستان نه بهر ترسره شیاو یا دهغه هېواد عدلي او قضایي ارګانونه په دې قضیه کې دخالت وکړي چې پانګه اچوونکي په هغه کې اوسي او یا بې طرفه نړیوال عدلي او قضایي بنسټونه په کې دخالت وکړي. داسې هم شوي هغه هېوادونه چې دپرمختګ په درشل کې دي، په دې ډول دعواوو کې یې میلیاردونه ډالره زیان لیدلی او یا یې ډېر فرصتونه له لاسه ورکړي دي، نو پر همدې اساس یو کدر او پیاوړي نظام ته اړتیا لرو، چې دسوداګرۍ او پانګونې پر حقونو پوه وي او په دې برخه کې تخصص ولري او هره یوه له هغو دایرو څخه چې غواړو په کې پانګونه وکړو په علمي او دقیقه توګه مدیریت کړي.

دغه کدر په هغه برخه کې موقعیت لري چې ددغې دایرې ټولې اجزاوې سره نښلوي. زموږ حکومت دخپل بهرني سیاست په مدیریت کې داډول ظرفیت او شایستګۍ ته ژمن دی.

## سیاسي ثبات څه شی دی؟

سیاسي ثبات دهغه نظام پایله ده چې دخلکو په اراده، دقانون په رڼاکې دعدالت د ټینګښت او دټولو هېوادوالو په پراخ ګډون رامنځته شوې وي. سیاسي ثبات یوه پېښه نه ده چې ناڅاپه رامنځته شي، بلکې هغه پروسه ده چې دوخت په تېرېدو سره پرمختګ کوي او ثمر ته رسېږي.

دسیاسي ثبات درامنځته کولو لپاره تر هرڅه وړاندې دنظام مشروعیت ته اړتیا ده، خو دنظام مشروعیت هم داسې پېښه نه ده چې په هرو پنځو کلونو کې یو ځل رامنځته شي، بلکې سیاسي ثبات او دنظام مشروعیت هغه پروسه ده چې په پایله کې یې خلک حکومت خپل بولي او دولت هم ځان دخلکود خدمت وسیله جوړوي. په دې ترڅ کې ټولنه او دولت یو غښتلي او دوامداره پیوند ته رسېږي.

د باثباته ټولنې او ټولمنلي دولت رامنځته کولولپاره باید سیاسي ثبات دټولنې دسیاسي قشر موخه وي. سیاسي ثبات یو لوی هدف دی چې د ترلاسه کولو لپارهیې د داسې فکري چاپیریال د رامنځته کولو اړتیا ده چې پر منل شویو ارزښتونو ولاړ وي. زموږ ټولنه ګډ اسلامي او ملي  ارزښتونه لري. اسلامي ارزښتونه په دې مانا چې ددې ټولنې دوګړیو ټولې کړنې او عقیدې داسلام د سپیڅلي دین دي او اسلامي فلسفه هم دټولو مسلمانانو تر منځ پر برابرۍ او دهر ډول ژبنی، مذهبي، سمتینورو توپیرونو پر رد ولاړه ده.

"ملي ارزښتونه" په دې مانا چې موږ پنځه زره کلن وياړلی تاریخ لرو او موږ ټول دګډ کلتور، تاریخ، ګډ سیاسي او ټولنیزبرخلیک په لرلو سره دیوې ټولنې درامنځته کولو لپاره سره یو ځای شوي یو. هغه ټولنه چې په هغې کې یو افغان له بل افغان سره توپیر ونلري او له هر ډول سیاسي، ټولنیز، قومي، مذهبي، ژبني، اقتصادي او کلتوري توپیرڅخه پاکه وي.

موږ خپلو دیني او ملي ارزښتونو ته په کتنې سره دې مشترک سیاسي درک ته رسېدلي یو چې د افغان وګړي لپاره له هېواده د باندې ژوند کول خورا ستونزمن دي. دا ګډ سیاسي درک هغه اړتیا ده چې د سیاسي ثبات خوب په ربښتیا بدلوي او دعمل جامه وراغوندي.

## ولې سیاسي ثبات ته نه یو رسیدلي؟

سیاسي ثبات ته د نه رسیدلو لاملونه هغه ستونزې دي چې موږ په خپل سیاسي تاریخ کې ورسره لاس او ګرېوان یو. موږ په همدې لاملونو په دولتدارۍ کې د انقطاع او نه تسلسل له ستونزې سره مخ یو.

زمونږ سیاستوال هېڅکله پر دې نه دي بریالي شوي چې یو بل ته د خپلې تجربې او ښه دولتدارۍ ولېږدوي. داحمدشابابا له واکمنۍ بیا د طالبانو تر نظام پورې په هرو دېرشو کلونو کې زمونږ دسیاستوالو تر منځ بې اتفاقۍ دولتي جوړښتونه له منځه وړي دي. جګړې، کودتاوې، اختلافات او بهرنۍلاسوهنې ددې لامل شوي چې هرڅو لسیزې وروسته ددولت جوړولو چاره له سره پیل شي. که دخپل هېواد سیاسي قشر په سمه توګه مطالعه کړو، دې پایلې ته رسېږو چې زمونږ سیاسي قشر هیڅکله دګډو اصولو په رامنځته کولو چې پرښسټ یې دسیاسي نظام تسلسل او په نظام کې دخلکو ګډون باوري شي، نه دي بریالي شوي.

### لومړی: د شاهي کورنیو تر منځ اختلافات:

له احمدشاه بابا نه دمحمدظاهر شاه تر واکمنۍ پورې دشاهي کورنیو غړي پر دې بریالي نه شول چې دځایناستي په ټاکنه کې یوې ګډې هوکړې ته ورسېږي، نو له همدې امله مونږ ددې شاهدان یوو چې دشاهي کورنۍ غړي په پرلپسی توګه په کورنیو خونړیو شخړو کې ښکېل ول. دا شخړې د وروڼو، ترونو، دتره زامنو او نورو تر منځ دخونړیو او ورانوونکو جګړو سبب شوې دي.

### دویم:د دولت او قومي مشرانو تر منځ شخړې:

قومي مشران په یوه ځانګړي قوم پورېنه، بلکېد افغانستان په ټولو قومونو پورې اړه لري او د هر قوم خپل سیاسي مشران لري چې دخان، ملک، ارباب او نورو په نومونو یاېږي. د دې مشرانو ټولنیز مقام ته په پام سره دوی په یو نه یو ډول د سیاسی واک برخه ګڼل کېده، خو لکه په اروپا کې چې قومي مشران او شاهي کورنۍ دحکومتولۍ له اصولوسره سم پر یو لړ اصولو موافق شول او دیو طبقاتي نظام ځانګړی ډول یې رامنځته کړ، چې دوخت په تېرېدو سره یې په حکومت کې دنورو وګړودورګډولو لپاره زمینه برابره کړه، په افغانستان کې دقومي مشرانو او حکومت تر منځ په رسمي بڼه داسې تړون رامنځته نه شو او په پایله کې دحکومت او قومي مشرانو تر منځ اختلاف دبې ثباتۍ لامل شو.

### درېیم:د دولت، دیني عالمانو او روحانیونو ترمنځ اختلاف:

دیني عالمان او روحانیون دافغانستان  یوه مهمه برخه جوړوي. که توره، پیسې او زمکه د شاهي کورنیو او قومي مشرانو دواک بنسټ جوړوي، نو دیني عقیده او باور د دیني عالمانو او روحانیونو دواک بنسټ ګڼل کېږي. وروسته له هغې چې افغانان داسلام په سپیڅلي دین مشرف شول جوماتونه، تکیه خانې، خانقاوې او آن د علماوو او روحانیونو سراسري ټولنې دوخت په اوږدو کې دسیاسي او اقتصادی مرکزونو په توګه دپام وړ وګرځېدې.

په همدې حال کې دعلمانو او روحانیونو ډله له قومي مشرانو او دربار سره دسیاسي  ثبات درامنځته کولو په موخه هوکړې ته ونه رسېدل، چې په پایله کې دهر سیاسي نظام  او مشروعیت په ړنګېدو کې علماوو او روحانیونو بنسټیز رول و نه لوباوه.

### څلورم:د حکومت او لوستي قشر ترمنځ اختلاف:

دنولسمی پیړی په پای او د شلمې پیړی په پیل کې لوستیقشر دیوه نوي قشر په توګه په سیاسي ډګر کې راڅرګندېږي. په افغانستان کې دلوستې قشر درامنځته کېدو او پرمختګ بنسټ لومړی مدرسه او بیا ښوونځی وو. دا قشر دوه ځانګړنې لري. لومړی، دوی په نظام کې د هر ډول بدلون مدیریت او اداره پر غاړه درلوده، ځکه کله چې سیاسي نظام دتیوری او لیک له مخې رامنځته کېږي، نو د مسلکي ډلې درامنځته کېدو اړتیا هم ډېرېږي. دویم، دا قشرله لومړی مشروطې راهیسې دنظام دجوړښت او ډول په اړه دیوه ځانګړي سیاسي فکر لرونکی وو، خو ددوی نظریات دنوروسیاسي ډلو، په ځانګړې توګه دشاهي کورنی، علماوو او روحانینو له نظریاتو سره په ټکر کې وو. له همدې امله د افغانستان ډېرلوستي په پرلپسې ډول زندانونو ته استول کېدل، خو د زندان ددورې له تېرولو وروسته به همدا ډله دمدیریت په برخه کې له لومړي وزیره نیولې تر ټیټې رتبه کارکوونکي پورې، پر دندو ګومارل کېدل.

### پنځم:د حکومت او اقتصادي ډلې ترمنځ اختلاف:

دنادرشاه او ظاهر شاه دواکمنی له یوې لنډې دورې پرته زموږ سیاسي قشر هېڅکله له اقتصادي قشر سره دځانګړو اصولو له مخې همغږي شوی نه دی. زموږ اقتصادي قشر تر ډېره له سوداګرو جوړ وو، خو دولت هغوی ته هېڅکله له ټولنیز او سیاسي پلوه په ښه سترګه نه کتل او نه یې خپل ملګري بلل. یوازې عبدالمجید خان زابلی او نادر شاه دسیاسي او اقتصادي ډلو ترمنځ دهمغږی یوې هوکړې ته رسېدلي وو، چې په پایله کې یې یوملي اقتصادي نظام رامنځته شو. همدې نظام له لومړی نړیوالی جګړی وروسته او ددویم نړی وال جنګ په درشل کې افغانستان دیو اقتصادي نظام پر لور چې په هغه کې بانګه درامنځته کېدو او پراختیا په حال کې وه، مخ پر وړاندی روان کړ. له دې بېلګی پرته په افغانستان کې هېڅکله هم بېلابېلو سیاسي او اقتصادی ډلو په ملګرتوب او همغږی کې وخت نه دی تېر کړی.

### د سیاسي ثبات د نه شتون دوام او د افراطي ډلوپرمختګ

دبېلابېلو سیاسي ډلو تر منځ دهمغږی نه شتون او دحکومت د ډول او جوړښت په اړه د فکرونو اختلاف دافغانستان  دروان سیاست یوه برخه ده. ددې وضیعت په پایله کې ددې پړاو کې ددې پړځای چې په تدریج سره دسیاسي نظام د ستنیو ټینګولو او پراختیا لپارهیو منظم سیاسي چوکاټ رامنځته شوی وای، د

افراطي سیاستونو دپراختیا زمینه برابره شوه چې د۱۳۵۷کال کودتا او دسیاسي نظام بدلون یې ځرګنده بېلګه ده. په داسې حال کې ډېری هغه وګړي چې له دا ډول نظرونو سره یې هېڅ لیوالتیا نه لرله، دوخت په تېرېدو سره ددې مفکورو ښکار شول. په بېلابېلو سیاسي، مذهبي، قومي او نورو بنو بنسټپالنه په هېواد کې دسیاسي ثبات دنه شتون زېږنده ده چې ددې طرحې په وروستي ځپرکي کې به یې په تفصیل یادونه وشي.

## د خلکو مشارکت، د سیاسي ثبات اساس:

یو اصل چې دسیاسي ثبات لپاره اړین دی، خو د افغانستان په سیاست کې ورته چندان پام نه دی شوی، هغه دخلکو پراخ ګډون ته دسیاسي زمینې برابرول دي، چېد سیاسي ګوندونو پرمختګ ته لاره هواره کړي او دقانون په رڼا کې ساکت او بې غږه اکثریت، په اداري او سیاسي نظام کې په اغېز لرونکي اکثریت واړوي.

دخلکو پراخ او فکري ګډون په حکومتولۍ کې د چوکاټ او منځپانګې له اړخه بدلون راوستلای شي. دسیاسي ثبات نه شتون دښېحکومتولۍ دنه رامنځته کېدو ځرګند لامل دی. زموږ له نظره دښېحکومتولۍ شتون د ولس بنسټیزحق دی. په دې کې ټول هغه حقونه رانغاړل شوي چې دملګرو ملتونو په کنوانسیونونواو د بشری حقونو په اعلامیو کې ورته ځای ورکړل شوی دی او زموږ داساسي قانون په دویم ځپرکي کې یې هم یادونه شوې ده، خو دیوه ولسواک سیاسي نظام له شتون پرته دا حقونه یوازی دکاغذ پر مخ پاتې کېږي او هېڅ ډول اجرایې ضمانت نه ترلاسه کوي. همدا لامل دی چې ښه حکومتولي د ولس دیو بنسټیز حق په توګه مطرح شوې ده. ولس حق لري چې ښه حکومت ولري، ځکه ښه حکومتولي د ثبات لپاره ښه وسیله ده. په تاریخ کې زموږ پرلپسې ماتې بیا هم ددې شاهدي ورکوي چې موږ دښېحکومتولۍ درامنځته کولو لپاره یوې هوکړې ته نه یو رسېدلي. زموږ دسیاسي تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې دحکومتولۍ ستونزې دخلکو او واکمنې ډلې تر منځ لوی درز او واټن رامنځته کړی دی.

## ثبات په سیمه ییزو او نړۍ وال پس منظر کې

په افغانستان کې دسیاسي ثبات رامنځته کول یوازې کورنی موضوع نه ده بلکې نړۍ وال اړخ هم لري. زموږ د سیمې دولتونه باید دې اجماع ته ورسېږي چې په اصولو کې یو بل ددولت په توګه ومني او پر همدې بنسټ خپله کورنۍ، سیمه ییزه او بهرنۍ تګلاره برابره کړي.

په دې برخه کې موږ داروپا دشلمې پېړۍ ددویمې نیمايي له تجربو څخه ګټه پورته کولی شو. دا تجربې له خونړیو جګړو او دحکومتونو د پیاوړې کېدلو له لړۍ څخه ترلاسه شوې دي چې وروستهله یوې خوا د دوو سترونړۍ والو جګړو سبب شوې او له بل پلوه یې له انساني او مالي پلوه درانه زیانونه واړول. زموږ د سیمې سیاسي دود دا دی چې له دنادولتي ځواک څخه د دولتي ځواک په توګه دفشار دوسیلې په توګه کار اخیستل کېږي. له همدې امله دسیمې په ډېری هېوادونو کې ددولتي او نادولتي بنسټونو تر منځ کرښه رڼه او روښانه نه ده.

هر دولت چې په سیمه کې دکورنیو بنسټونودجوړښت له کمزورتیا سره مخ وي دګاونډیانو دلنډمهاله سیاستونوښکار کېږي.وسله وال حرکتونه چې سیمه ییز ملاتړ ونه لري، په یواځې سر نشي کولی دولتکمزوری او یا خلک له ستونزو سره مخ کړي.

په تېرو دریو لسیزو کې زموږ دسیمې تقریبا ټول هېوادونه دیوه سیمه ییز قوي نظام دنه شتون له امله چې په هغه کې ددولت او وګړو حقونه ځرګند تعریف شوي وي، زیانمن شوي دي. له همدې امله په تېرو دیارلسو کلونو کې په افغانستان کې د ثبات دنه شتون لامل زموږ په کورنیو چارو کې دبهرنیانو مستقیمې او غیر مستقیمې بهرنۍ لاسوهنې وې، چې اوس دا وضیعت دبدلون په حال کې دی. هماغسې چې شرایط په ملي کچه بدل شوي، په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې به په سیمه کې هم دځینو بدلونونو شاهدان اوسو. که دا حالت سم مدیریت شي نو عمومي توګه به دسیمې وضیعت مثبت لور ته مخه کړي.

**سیاسي ثبات او له نړۍ والې ټولنې سره زموږ اړیکې:**

په افغانستان کې دسیاسي ثبات دراوستو یو اړخ په عمومي توګه له نړۍ والې ټولنې او په ځانګړې توګه له امریکا او ناټو سره په اړیکو پورې تړلیدی. دتېرو دیارلس کلونو په اوږدو کې امریکا څو ځله دافغانستان په اړه پر خپله تګلاره بیا کتنه کړې ده. لومړی، دبن دپروسې دپیل پرمهال دافغانستان په اړه دامریکا پاملرنه ډېره محدوده او په ځانګړو برخو کې وه. دبن په کنفرانس کې یوازې امریکا د درې سوه ملیونو ډالرو ژمنه وکړه. دا هېواد حاضر نه و چې دایساف ځواکونه چې یوازې په پلازمینه کابل پورې محدود و دهېواد نورو سیمو ته ولېږدوي. امریکا دتروریزوم پر خلاف دمبارزې لپاره دیوه وړوکي پوځي ځواک دشتون پلوی وه. امریکا په افغانستان کې دامنیت راوستلو ته لیواله نه وه. دبېړنۍ لویې جرګې جوړېدل او دبن دپروسې بریالیتوب چې په پایله کې یې د۲۰۰۴ کال ټاکنې هم په بریالیتوب ترسره شوې، د دې لامل شوې چې امریکایان او اروپایان دافغانستان په اړه پر خپلو تګلارو له سره کتنه وکړي. په ۲۰۰۴ کال کی دبرلین کنفرانس ددې لید لوري دبدلون ځرګنده بېلګه ده.

په دې کنفرانس کې نړۍ والې ټولنېددریو کلونو لپاره د۸، ۲ ملیارده ډالرو مرستې او د لسو کلونو لپاره د۲۸، ٦ملیارده ډالرو مرستې دورکړې ژمنه وکړه. پرعراق دامریکا له لوري برید دافغانستان په اړه پاملرنه بیا کمه کړه. د۲۰۰۵ او ۲۰۰۸ کالو تر منځ امریکا او اروپا افغانستان ته ډېره لږه پاملرنه کوله. دولسمشر بوش ددورې دپای ته رسېدو او داوباما دواک تر لاسه کولو په دوران کې دځېړنوپر بنسټ پرېکړه وشوه چې امریکا او ناټو باید افغانستان ته یو ستر پوځي ځواک راولېږي. همدارنګه له افغانستان سره دامریکا په اقتصادي مرستو کې هم دپام وړ زیاتوالی راغی، خو په خواشینۍ سره چې  په دې پړاو کې دافغانستان دحکومت او نړۍ والې ټولنې تر منځ همغږي او دنظر یووالی موجود نه و. په پایله کې دافغانستان دولت او نړۍ واله ټولنه داوباما دواک په پیلېدو سره په افغانستان کې د ملي حاکمیت دټینګښت په اړه یوې اجماع ته ونه رسېدل، خو له امریکا سره دیوه اوږد مهاله ترون دلاسلیک په موخه په خبرو کې دامنیتی مسولیتونو دلېږد، له بریدونو نه دملکي وګړو دخوندي توب، دبګرام دزندان سپارلو، د امنیتی کمپینو او نورو مسایلو په اړه دامنیتی سند په چوکاټ کې دامریکا او افغانستان تر منځ په اړیکو کې بنسټیز بدلون رامنځته شو.

دامریکا او افغانستان تر منځ په اړیکوکې بدلون بنایي د افغانستان دملي حاکمیت منل دمهم ټکي په توګه یاد کړوچې دا منښته له حقوقي پلوه دامنیتي سند په متن کې راغلې ده. په دې توګه دافغانستان، امریکا، ناټو او اروپا تر منځ د اړیکو چاپیریال دیو ستر بدلون لپاره چمتو شوی دی. دا باید له پامه ونه غورځووچې په تېرو دیارلسو کلونوکې  په افغانستان کې دبهرنیو ځواکونو شتون دافغانستان دټاکل شوي حکومت دپرېکړې له مخې نه، بلکې دملګرو ملتونو دامنیت شورا دپرېکړې پر بنسټ و. دغه بدلون پهځرګنده توګه په امنیتي سند کې تثبیت شوی په لاسلیکولوسره به یې له نړۍ والی ټولنې سره داړیکو نوی پړاو پیل شي. دقضیی بل اړخ دادی چې له بنې حکومتولۍ او د اصلاحاتو له یوې عملي کړنلارې پرته نړې واله ټولنه نه شي کولای د هغو مرستو په اړه چې افغانستان ته یې په پام کې دي، د خپلو خلکو ته قناعت حاصل کړي، نو له همدې امله دبهرنیو مرستودوام په افغانستان کې دپرمختګ، اصلاحاتو او له اداري فساد سره په ټینګې مبارزې پورې تړاو لري. په ملي، سیمه ییزه او نړۍ واله کچه د ثبات د دریو اړخونو شتون باید دیوبل بنسټیز واقعیت په توګه ومنل شي. موږ هغه هېواد یو چې پنځه ملیونه کډوال مو په دوو ګاونډیو هېوادونوکې ژوند کوي او لږ تر لږه یو ملیون نور افغانان په خلیج او نورو هېوادونو کې استوګن دي. په عزت سره ددې کډوالو دبېرته راستنېدو او دافغانستان په اقتصادي، سیاسي او کلتوري اډانه کې دهغوی له ورګډېدلوپرته به په هیواد کې دسیاسي ثبات اوملي حاکمیت پروسه نیمګړې وي.

له همدې امله دکډوالو مسأله زموږ په هېواد کې دسیاسي ثبات دټینګښت څلورم اړخ دی. دا مسأله یوازې انساني محرومیت نه دی، بلکې په افغانستان کې د ثبات راوستلو په مخکې یو بنسټیز خنډ دی.

دکډوالو وضیعت له یوه لوري زموږ دحکومتولۍ دکمزورتیا نښه ده، ځکه چې په کوربه هېوادونو کې له هغوی سره سم چلند نه کېږي او له بله پلوه کډوال داړیکو لپاره تر ټولو ښه وسیله ده. ددغو کډوالو راستنېدل د سیمې په آبادۍ کې مرسته کولای شي. په همدې حال کې دداسې یو نظام دراوستلو پر سر د ټولو اړخونو موافقې ته اړتیا ده چې په هغه کې خلک له رامنځته شویو اړیکو او شبکو څخه دسوکالۍ لپاره کار واخلي، نه داچې دخلکو دځورونې لامل شي.

**د ځلورو سیمه ییزو قدرتونو چلند!**

په سیمه کې دویم ستر بدلون دافغانستان دسیاسي ثبات دراوستلو په اړه دسیمې د ځلورو ځواکمنو قدرتونو، ترکیې، چین، هندوستان اوروسیې تر منځ اجماع ده. دا ځواکمن هېوادونه دې پایلې ته رسېدلي چې په افغانستان کې دسیاسي ثبات نه شتون د اسیا د راتلونکو پنځه ویشتو کلونو پرمختګ چې په ستر اقتصادي ځواک بدلیدونکی دی له ګواښ سره مخ کوي. ددې ترڅنګ په افغانستان کې پرلپسې بې ثباتي به یوازې په دې هېواد کې پاتې نه شي، بلکې په سیمه کې به دپراخې بې ثباتۍ سبب شي. پر دې ټکي دسیمې دځلورو ځواکمنو هېوادونو پوهېدل به په افغانستان کې د دوامداره ثبات درامنځته کېدو لپاره ددغو هېوادونو تر منځ همغږۍ ته لاره برابره کړي.

**دایران او لویدیځې نړۍ اړیکې:**

دریم بنسټیز بدلون دایران، امریکا او اروپايي ټولنې تر منځ داړیکو نسبي ښه کېدل دي. په ایران کې دولسمشر په توګه دروحاني ټاکنه او له امریکا او اروپايي ټولنې سره پر ذروي پروګرام بریالیو خبرو اترو دایران او امریکا ترمنځ داړیکو ښه کېدو ته لاره پرانیستې ده. دلویدیزې نړۍ او په ځانګړې توګه امریکا او ایران تر منځ په اړیکو کې ښه والی به په سیمه کې دښې ملګرتیا او ښه نیت لپاره هم زمینه پیاوړې کړي. له همدې امله په سیمه کې وضیعت پر مثبت لوري دبدلېدو په حال کې دی، خو دا شرایط به په یواځې سراو د یوې عملي او هر اړخیزې کړنلارې له نشتوالي پرته، چې په سیمه کې ګډ سیاسي لید لوري ته لاره هواره کړي، بسنه ونه کړي. له دې پلوه راتلونکی لسیزه دښه نیت دچاپیریال درامنځته کولو، ګډې همکارۍ، ملګرتیااو ګټو له پلوه مهم فرصت دی.

**د پاکستان لید لوری:**

دبن له کنفرانس وروسته دپاکستان دولت دافغانستان دولت په رسمیت پېژندلی او له موږسره دیپلوماتیکي اړیکې لري. دنړۍ والو منل شویو اصولو له مخې باید ددواړو هېوادونوملي حاکمیت ته درناوی وشي، خو دمنل شویو اصولو پر خلاف دپاکستان په دولت کې ځینې ښکارهحلقې ددواړو

دولتونو ترمنځ اړیکو خرابولو، ترهګري، بنسټپالنې او نا امنۍته لمن وهي. دلومړي وزیر په توګه دنواز شریف ټاکنې داسې نښې رابرسېره کړي چې تر مخه یې پاکستاني سیاستوال دوو بسنټیزوپایلو ته رسیدلي: لومړۍ پایله داده چې بسنټ پالنه دیو جدي خطر په توګه دپاکستان نظام ګواښي. له همدې امله دپاکستان دودیزه تګلاره، چې افراطیان یې په دوو برخو (ښه) او (بد) وېشل، تر بیا کتنې لاندې ده. پاکستاني واکمنان له کلونو راهیسې په دې فکر کې و چې پاکستاني طالبان او دهغوی ملاتړې ډلې ډېرې بدې خو افغان طالبان او په هغوی پورې تړلې اوریکې ډلې ښې دي. داوسنیو پاکستاني واکمنو په لید لوري کې دیو مثبت بدلون څرک لیدل کېږیاو که دا درک او لید لوری دهغوی بنسټیزو تګلاروته لاره وموي، په ټوله سیمه کې به مثبت بدلون رامنځته شي او دسیمې د هېوادونو ثبات ته به لاره هواره کړي.

دویمه پایله داده، هغوی پوهېدلي چې په افغانستان کې دبنسټ پالنې پراختیا به په پاکستان کې ورته نظریه پیاوړې کړي. دې ګواښ پاکستاني سیاستوال خورا وېرولي دي او هیله ده چې د دې ستونزو سم درک به دوسله والو مخالفتونو او په ګاونډیو هېوادونو کې د جګړو په مخنیوی کې مرسته وکړي او دسیمې په کچه به سولې او ثبات ته لار هواره شي.

البته، تر دې دمه داسې نښې نښانې نه لیدل کېږي چې دپاکستان پوځي او استخباراتي ادارو به دا حقایق منلي وي، او دا به یې درک کړې وي چې دپاکستان په سیمه ییزو سیاستونو بیا کتنه دپاکستان ددولت دپایښت لپاره بنسټیز ټکی اوپه سیمه کې د سولې او ثبات په مانا دی. په داسې حال کې چې موږ دپاکستاني سیاستوالو دلید لوري دبدلون هرکلی کوواو هیله لرو چې دپاکستان دولت به دیو واحد دولت په توګه دمنظمو طرحو په وړاندې کولو سره دافغانستان له دولت سره په سیمه کې دسولې او ثبات دراوستو لپاره عملي مرسته او ملګرتیا پیل کړي او له هغو کړنو څخه به چې د دواړو هېوادونو تر منځ دشک او بد ګومانۍ سبب ګرځي، ډډه وکړي.

دافغانستان د سیاسي ثبا ت دټینګښت دڅلورو اړخونو په پام کې نیولو سره لاندې پایلو ته رسېږو:

۱- موږ پر دې ټینګار کوو چې ښه حکومتولي دثبات دټینګښت دڅلورو واړو خواوتر منځ داړیکو وسیله ګرځي.

پر حکومتولۍ باندې له سیاسي اجماع پرته دملت جوړونې او دولت جوړونې پروسه په سمه او چټکه توګه هماغسې چې لازمه ده نه شو پلې کولای. زموږ سیمه موږدداسې یو دولت په توګه چې دمشرتابه او مدیریت وړتیا ولري، جدي نه ګڼي او تر ټولو مهمه بیا داده چې دافغانانو، سیمې او نړۍ پانګه اچوونه دباور اوسیاسي ثبات دنشتوالي له امله نه شي تر لاسه کېدای. همدارنګه دهغه پنځه ملیونه کډوالو

بېرته راستنېدل له يوې مؤثرې تګلارې پرته چې د هغوی راتلونکی ډاډمن کړي، ناشونی کاردی. له همدې امله باید ټاکنې پر حکومتولۍ یوې ملي اجماع، او پر بنسټونو باندې موافقی ته لاره برابره کړي.

۲- ثبات پر دولت دملت باور تضمینوي. زموږ شخصي سیاستونه ددولت جوړونې پرهغې پروسه باندې دملت دباور د نه شتون پایله ده چې تر مخه یې سیاسي ثبات رامنځته کېدای شي. شخصي سیاستونو دېولنیزې بیمې ډول غوره کړی دی. د دې بیمې اړتیا هغه وخت راکمېږي چې خلک له دولت سره په زنځیري ډول ځان په اړیکه کې ویني. له همدې امله باید ددولت جوړونې پروسه دملت جوړونې له هغې سره یو ځای پر مخ ولاړه شي، چې دمتقابل باور فضا رامنځته شي او موږدشخصي سیاستونو پر ځای دملي او ټولمنلي سیاست پر لور مخ پر وړاندې ولاړ شو.

۳- زموږ کورنی سیاست دسیمې له سیاست څخه بیل نه دی او دسیمې ځواکمن قدرتونه زموږ په هېواد او سیمه کې د بې ثباتۍ لامل دي. موږ اړ یوو چې دسیمې بې ثباتي په سمه توګه درک کړو او نه یوازې داچې دسیمې دسیاست جوړوونکیواوسو، بلکې تر نورو وړاندې هم واوسو.

له نېکه مرغه، زموږ جیوپولیټیک موقعیت چې په تېرو دوه پېړیو کې زموږ د پرمختګ دمخنیوي سبب شوی په اوسنیو شرایطو کې زموږ لپاره پر فرصت تبدیلېدلای شي. په افغانستان کې له ثبات پرته دسیمې  اقتصادي ملګرتیا ناشونې ده او په اسیا کې بشپړ اقتصادي بدلون هم د افغانستان په ثبات پورې تړلی دی.

۴- دهغه ستر حقوقي پرمختګ له برکتهچې دملي حاکمیت د تثبیت په بڼه ترلاسه شوی، له امریکا، اروپا، جاپان، استرالیا او نورو پرمختللو سیمو سره باید خپلې اړیکي داسې جوړې کړو چې ورو ورو دامنیتي مسایلو پر ځای پر اقتصادي مسایلو راوڅرخي.

په راتلونکیو کلو کې باید زموږ د پالیسۍ بنسټیز ټکی دا وي چې دسیمه ییزې اقتصادي همکارۍ تر څنګ دسولې پرمختګ او ملي حاکمیت دټینګښت له مخې داسې پړاو ته ورسیږو چې زموږ په هېواد کې دبهرنیو ځواکونو شتون یوازې زموږ دملي امنیتي ځواکونو دروزنې او سمبالولو لپاره وي. زموږ فعاله سیمه ییزه او نړیواله ښکېلتیا دا باور پیاوړی کوي چې په افغانستان کی ثبات د ټولو په ګټه دی، نه په زیان او تاوان.

۵- د ثبات تر ټولو مهم اړخ چې دټولو، په ځانګړي توګه دځوان نسل لپاره دارزښت وړ دی اقتصاد دی. هغه دولت چېخپله عادي بودجه له خپلو کورنیو عوایدو نشي ترلاسه کولای، نابشپړ دولت بلل کیږي. هغه نظام چې له ځلویښتو څخه تر شپیته سلنې لوستو ځوانانو ته دکار کولو زمینه نشي

برابرولای، له پرلپسې بې ثباتۍ سره مخامخ کېږي. په دې برخه کی به د اړوندو مسایلو تفصيلي يادونه وکړو، خو اقتصادي اړخ ته پاملرنه او د داسې اقتصادي مشرتابه رامنځته کول، چې اقتصاد دسیاست، ټولنې او فرهنګ دیو هر اړخیز عنصر په توګه ووینې له بنسټیز ارزښت نه برخمن دی.

٦- افغانستان په بهرني خيرات ژوند نه شي کولای. زموږ هېواد له ګڼو ظرفيتونو او وړتياوو برخمن دی، خو داظرفيتونهباید د یوه ملي توليدي اقتصاد پر بنسټ دخلکو دهیلو دپوره کولو لپاره د دولت اقتصادي اساس جوړ کړي. زموږ دټولنې توقعاتد هغو ټولنو له توقعاتو سره ورته دي چې منځنۍطبقه يې دټولنې ډېره برخه جوړوي، خو موږ لا هاهم هغسې منځنۍطبقه نه لرو چې دوه توليدي نظام زېږنده وي. هغه منځنۍطبقه چې ددې دیارلسو کالو په موده کې رامنځته شوې ده، لامل يې توليدي اقتصاد نه، بلکې دنړیوالې ټولنې شتون دی. دنړیوالې ټولنې د رويې په بدلون سره زموږ د ټولنې او اقتصاد اړخونه هم بدلون مومي.

له همدې امله باید دکورنیو، سیمه ییزو او نړۍ والو اړخونو تر څنګ ثبات او اقتصادي اړخونوته هم پام وشي.لکه څومره چې زموږ سیاسي او امنيتي ثبات درې اړخيزفکر ته اړتيا لري، هماغومره مو اقتصادي حالت هم دپام وړ دی.

## پایله

پورتنیو مهمو ولسواکوارزښتونو ته په پام سره ویلای شو چې اوس د بدلون او دوام دطرحې لپاره یو بنسټ موجود دی، او اړ نه یو چې له صفر نه یې پیل کړو. په تېرو دیارلسو کلونو کې زموږلاسته راوړنې خورا مهمې دي، چې دهغو پر بنسټ کولای شودخپلې حکومتولۍ لومړیتوبونه وټاکواو له مهالوېش سره سم ځانګړې، واضح لیدلوري لرونکي طرحې پلې کړو.

دټولنو دپرمختګ تاریخ ښودلې ده چې هره ټولنه له بېلابېلو پړاوونوتېره شوې او خپلېتجربې یې دیو ځانګړي سیاسي نظام په چوکاټ کې ثبت کړې دي. دځینو ټولنوسیاستونه تر ډېره د هغو پېښو په وړاندې د غبرګونې او عکس العمل بڼه لري چې ورسره مخامخ شوې دي. په داسې ټولنو کې دسیاسیونو کلونه کلونه وخت پر دی لګېږي چې له ستونزوسره مقابله وکړي او هڅه یې دا وي چې مخکې تګ پر ځای، پر خپل ځای ودرېږي. خو تاریخ ښودلې چې کومه ټولنه پرمختګ نه کوي، هغهپر خپل ځای هم نشي درېدلای، بلکې شاتګ ته اړوځي. په ځینو افریقایي هېوادونو کې دا ډول بېلګې په څرګنده توګه لیدل کېدای شي.

په ځینو نورو ټولنو کې بیا سیاسیون د خپلې ټولنې لپاره د پرمختګ سالم لیدلوری لري. دا ډول ټولنې دپرمختګ پر لور روانی دي او دپام وړ لاسته راوړنې یې لرلې دي. راتلونکی ځانګړی تعریف نه لري. د تاریخ جبر هسې یوه وهمیه فرضیه ده.اصل حساب پر واقعیتونو او تاریخي او جغرافیایی شرایطوکېدای شي. د ټولنو تاریخ ثابته کړې چې وګړیو دا شرایط په خپله خوښه دځان په ګټه را اړولي دي. زموږ دسیاست بنسټیزه موخه به دا وي چې خپل راتلونکی لید لوری پیاوړی کړو. ټاکنې تر ټولو ښه فرصت دی چې له لارې یې خپل ریښتونی راتلونکی لید لوری وټاکو. ددې لپاره باید لاندې څو ټکي په پام کې وساتو.

۱- سیاسي ثبات په لوړتیا غوښتنې، تبعیض او منفي خبرو نه را منځته کېږي؛

۲- سیاسي ثبات د ټوپک په شپېلۍ نه راځي. د مشروع حکومت له لوري د ځانګړې اړتیا پر مهال د قوې کارونه باید وروستۍ وسیله وي، نه لومړۍ؛

۳- دخلکو ګډون فرع نه بلکې اصل دی. د ټولنې په بېلابېلو اقشارو کې له رامنځته شوي سیاسي شعور او درک څخه باید اغېزمنه ګټه واخیستل شي؛

۴- د حذف د سیاست پرځای باید د سیاسي ګډون سیاست خپل کړو. زموږ سیاسیون باید په دې برخه کې له ځوان نسل او په ځانګړې توګه له ورزشکارانو څخه الهام واخلي او له خپلو استعدادنو او

وړتیاو څخه د نړۍ وال باور د ترلاسه کولو لپاره کار واخلي. ګټې د ټولو شریکې دي او دا شریکې ګټې دا ایجابوي چې د اصولو له مخې د سیاسي راکړې ورکړې لپاره د منطق یوه فضا رامنځته کړو.

د دې بحث مهمه پایله داده چې په هېواد کې د سیاسي ثبات د راوستو لپاره زموږ اجماع باید پر اشخاصو متکي نه، بلکې د اشخاصو تر ارادې او غوښتنو لوړه وي. شخصیتونه د بنسټونو د رامنځته کولو وسیلې دي. زموږ تاریخي مسؤولیت دا دی چې له اوسنیو ځانګړو شرایطو څخه په استفادې سره، د تحول او تداوم پروسه داسې عیاره کړو چې ولسونه مو بیا بیا د سیاستوالو د لنډ فکریو، کینو او ځاني غوښتنو ښکار نه شي.

**پای**

ټاکنیزه نښه

۵

ټاکنیزه شمېره

# د تحول او تداوم ټیم

